# د وهابيت آئين

ليكوال: ايت الله جعفر سبحاني

ژباړه: انور شاهين خانخېل

بسم الله الرحمن الرحيم

# د مترجم څو خبرې

د پښتو متل دے: «چې رښتیا راځي نو دروغو به کلي وران کړي وي.» او دا متل په خاصه توګه په وهابي یا سلفي عقیدې او نظریې باندې ډېر صادق راځي ځکه چې د دغې نظریې منونکو له کلونو څخه نه بلکې له صدیو راهسې د توحید په نامه او بهانه باندې د پاکو، مخلصو او موحدو مسلمانانو له سرونو، مالونو او ناموسونو سره رنګ رنګ کانې وکړې او لګیا دي لا کوي یې.

هسې خو د دې نظریې نظریاتي باني ابو عباس احمد بن عبدالحلیم نومې کس ؤ چې په ابن تېمیه مشهور ؤ او په ۷۲۸ هجري قمري کال کښې وفات شو. هغۀ نۀ یوازې دا چې په موحدو او مخلصو مسلمانانو باندې یې د کفر، شرک او بدعت فتوې لګول شروع کړل بلکې د خداے پاک لیس کمثله شي ذات ته یې د انسان په شان تشبیه ورکړه او د هغه نورالسموات ولارض ذات لپاره د انسان په شان د پښو لاسونو او د بدن د نورو اندامونو قائل شو او همدا رنګ یې د خداے ګران رسول، حبیب خدا حضرت محمد مصطفی صلي الله علیه وآله وسلم ذات یې د عامه انسانانو په شان یو انسان وبالۀ او له رحلت او له دنیا نه له پرده کېدو نه پس د عامه انسانانو په شان په قبر کښې له خاورو سره خاورې او د هغه حضرت د قبر مبارک زیارت ته تلل یې شرک او کفر وګڼۀ. همدارنګ یې په اسلام کښې نور زیات بدعتونه شروع کړل چې په هم هغې ابتداء کښې د مسلمانو علماؤ له مخالفتونو سره مخامخ شو او ګمراه کوونکو عقائدو یې څه پراختیا و نۀ مونده. که څه هم له هغۀ نه پس د هغۀ شاګردانو په تېره بیا ابن قیم د هغۀ د عقائدو د خپرولو کوشش وکړ خو هغه هم پکښې کامیاب نۀ شو او دغه عقائد د تاریخ په تیارو کښې ورک شول. خو څو پېړۍ وروسته د نجد یو اوسېدونکي محمد بن عبدالوهاب نجدي د یولسمې پېړۍ په وروستۍ نیمائۍ کښې یو ځل بیا د ابن تېمیه د مړۀ شویو عقائدو د بیا راژندي کولو کوشش شروع کړ چې هغه هم په هغه وخت کښې د مسلمانو علماؤ او په تېره بیا د خپل پلار او ورو چې د خپلې زمانې ستر سني عالمان وو له مخالفت سره مخامخ شو او چې کومې سیمې ته به تلۀ شړل کېدو به بالاخره له دۀ سره د برطانیې د جاسوس مسټر همفرے له ملاقات او

په مسلمانانو کښې د يو نوي مذهب او نظريې جوړولو ته د هغۀ له هڅولو او د همدغه چېنل په ذريعې سره د آل سعود له نيکۀ او حاکم محمد بن سعود سره د ابن عبدالوهاب نجدي له لار تار جوړولو نه پس د برطانيې او ابن سعود د حکومتو په ملاتړ سره يې په ډاډه زړۀ د ابن تيميه له عقائدو نه هم د زيات ګمراه کوونکو عقائدو پرچار او عملي کول شروع کړل. او دغه شان د وهابيت د نوي مذهب بنياد کېښودے شو.

هغۀ او د هغۀ پېروکارو د مکې مکرمې، مدينې منورې او په بهر کښې د کربلاى معلى او نجف اشرف په شمول د مختلفو اسلامي سيمو په مسلمانانو باندې حملې وکړې د خداے د ګران رسول )ص( د پاکو اهلبېتو عليهم السلام،صحابه کرامو رضي الله عنهم او د نورو ديني بزرګانو د مزارونو او زيارتونو منهدمولو او ويجاړلو سره سره يې د بې شمېره بې ګناه مسلمانانو قتل عام وکړ، د هغوي مالونه ، حالونه او ناموسونه يې ولوټل او دغه سلسله يې جاري وساتله او ان تردې چې وهابيانو بالاخره د خداے د ګران رسول )ص( روضې مبارکې شهيدولو ته هم بډې راښکې چې دغه کار يې د دنيا د مسلمانانو له سخت ردعمل او احتجاجونو سره مخامخ شو چې ځينې مسلمان حکمرانان هم د عوامو د دباو په وجه سعودي واکمنان له دغه عظيم ظلم له عملي کولو نه لاس اخېستو ته مجبور کړل،خو البته دغه کار يې د خپلو عقائدو او اېجنډې برخه ګرځولې ده چې هر کله يې لاس بر شو نو عملي کوي به يې.

دلته پکار دي د وهابيت لخوا د يو روايت غلط تفسير او د دغې ډلې يو دروغو ته اشاره وکړم چې د دې کتاب ليکوال پرې تفصيلي بحث کړے دے. او دغه وهابيان يا سلفيان د مقدسو مزارونو او مقاماتو د ويجاړولو لپاره له دغه روايت نه زياته استفاده کوي او اکثر يې په دلائلو کښې راوړي او هغه دا چې:

«حَدَّثنا يَحيي بنُ يَحيي واَبوبَكْر بْنُ أبي شَيْبَةَ وزُهَيْرُ بْنُ حَرْب ( قال يَحيي أخْبَرَنا . وَقَالَ الآخَران ، حَدَّثَنا : وكيعٌ ) عَنْ سُفْيانَ عَنْ حَبِيبِ بْنِ أبي ثابت ، عَنْ اَبي وائل ، عَنْ أبي الهَيّاجِ الأسَديّ قالَ لي عَليُّ بْنُ أبي طالب ألا أبْعَثُكَ عَلي ما بَعَثَني عَلَيْه رَسُولُ الله ـ صلّي اللهُ عليهِ وآلِه ـ اَنْ لاتَدَعَ تِمْثالا الاّ طَمَسْتَهُ ولاَ قَبْراً مُشرفاً الاّ سَوَّيْتَهُ.»[1]

((مسلم په خپل صحيح کښې له دريوکسانو ((يحيى بن يحيى))، ((ابوبکر بن شيبه)) او ((زهير بن حرب)) نه نقلوي چې وکيع له سفيان او هغه له حبيب څخه او هغه هم له ابي وائل څخه او بالاخره ابو وائل له ابي الهيّاج څخه نقلوي چې علي بن ابي طالب ابي الهيّاج ته وويل: تا په يو داسې کار باندې ګمارم چې د خداے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم زۀ په هغه کار باندې ګمارلے وم، يو تصوير هم پرې نږدې مګر دا چې هغه ختم کړې، او نه يو اوچت قبر مګر دا چې هغه مساوي او برابر کړې.))

د کتاب ليکوال په دې حديث باندې په تفصيل سره بحث کړے دے چې يو پکښې د حديث د راويانو سند او د هغوي موثق والے دے او په دلائلو سره يې ثابته کړې ده چې د ))وکيع ( ( ، ))سفيان ثوري ( ( ، ))حبيب بن ابي ثابت ( ( او ))ابي وائل اسدي ( ( په شان کسان د سني حديث او رجال پېژاندو علماو له نظره د اعتماد وړ کسان نۀ دي او په حديثونو يې اعتماد نۀ شي کېدې. بل يې د دغه حديث اصل راوي ابي الهيّاج په باره کښې ويلي دي چې دغه کس د سني مذهب د احاديثو په ټولو کتابونو کښې په نظر نۀ راځي او فقط او فقط ترې دا يو حديث نقل شوے دے چې د حديث او رجال پېژاندو سني عالمانو له نظره داسې کس د احاديثو په راويانو کښې نۀ شامليږي او نۀ پرې اعتماد

---

[1] ـ صحيح مسلم، ۳ ټوک ، کتاب الجنائز، ٦١ مخ؛ سنن ترمذي، ۲ ټوک، ۲٥٦ مخ، باب ماجاء في تسوية القبر؛ سنن نسائي، ٤ ټوک باب تسوية القبر، ۸۸ مخ

کېدې شي. او نۀ په تاریخ کښې د دې نوم د یو کس څه ذکر شته چې له دې نه دا پته هم لګېږي چې دا یو خیالي او جعل کړے شوے کس دے او یوازې یې د قبرونو په باره کښې د خپلې عقیدې د ثابتولو لپاره جوړ کړے دے.
لیکوال بل ډېر په زړۀ پورې بحث د دغه حدیث د محتوا په باره کښې کړے دے او هغه دا که دغه حدیث او د دې ټول راویان د لږ ساعت لپاره د قبول وړ هم وګرځوو نو په دغه حدیث کښې چې د مُشرِفاً الاّ سَوّیْتَهُ کومه خبره شوې ده نو شرف او مشرف د هغو مکانونو لپاره راځي چې د چاپېره نورو مکانونو نه اوچت وي نۀ د هغو مکانونو لپاره چې د زمکې له سطحې نه اوچت وي. یا دا لفظ د کب د ملا یا د اوښ د کوب لپاره استعمالیږي. بل لفظ سَوّیْتَهُ دے چې له دې نه مراد هم هغه برابرول او سمول دي نه د زمکې له سطحې سره برابرول. نو له دې نه مراد دا هم کېدې شي چې هغه قبرونه چې د اوښ دکوب په شان دي هغه کوب یې پکار دي اوار کړې شي نه دا چې هغه ټول قبر له زمکې سره اوار کړې شي. که داسې وې نو بیا به دغه خبره داسې راغلې وه: «وَلا قبراً مشرِفاً الاّ سَویتَهُ بالأرْضِ» یعنې پکار دي هغه له زمکې سره یو شان کړې، په داسې حال کښې چې د «ارض» لفظ په حدیث کښې نۀ دے راغلے.
بله دا چې د اوښ د کوب په شان قبر جوړول د یهودو طریقه ده نو که دغه حدیث ومنلې شي هم نو زیات احتمال دا دے چې قبرونه د یهودو په شان نۀ وي چې د مسلمانانو او د یهودیانو په قبرونو کښې فرق پېدا شي.
بله دا چې که د دغه حدیث د حکم مطابق ټول قبرونه له زمکې سره برابر شي نو بیا خو د قبر څه وجود پاتې نۀ شو نو چې دا په مستندو مبارکو احادیثو کښې د قبرستانونو او قبرونو ته د تلو او ثوابونو ذکر دے نود هغو اهمیت خو بالکل له منځه ځي.
بله یوه پوښتنه دا پېدا کیږي چې په دغه حدیث کښې د امام علي )ع( په قول د خدا ے ګران رسول )ص( هغۀ ته دغه حکم ورکړے ؤ او هغۀ د مسلمانانو ټول قبرونه له زمکې سره یو شان کړي وو نو بیا د دریو نورو خلفاو په دور کښې ولې داسې قبرونه بیا جوړ شول چې د زمکې له سطحې نه اوچت وو؟ او ایا هغوي د خدا ے د ګران رسول )ص( په دغه طریقه عمل ونکړې شو او دا کار یې بیا د حضرت علي )ع( خلافت ته پرېښے ؤ؟ او د هغۀ له خلافت نه پس بیا دغه کار په زور او شور سره شروع شو چې تر ننه پورې جاري دے یعنې د دغه حدیث له مخې دغه کار بس د پېغمبر اکرم )ص( په زمانه کښې یو حضرت علي )ع( ته سپارلے شوے ؤ او فقط هغۀ په یوازې ځان ټول قبرونه له زمکې سره زمکه کړل. بل له هیڅ صحابي نه دا عمل نۀ دے نقل شوے او له پېغمبراکرم )ص( له رحلت نه پس صحابه کرامو )رض( بیا د پېغمبراکرم )ص( په دغه سنت باندې عمل پرېښود او په دویم ځل بیا حضرت علي )ع( په خپل دور کښې دې کار ته پام شو او بیا یې هم فقط ابي الهیّاج نومې یو غېر معروف کس ته وسپارۀ. حال دا چې د خدا ے د ګران رسول (ص) له زمانې نه پېړۍ پېړۍ مخکې یا د هغوي په زمانه کښې په مختلفو سیمو کښې د انبیاؤ او نورو دیني بزرګانو قبرونه موجود وو او له هغوي نه پس هم موجود وو او چرته هم په تاریخ او احادیثو کښې نشته چې هغوي دې هغه قبرونه وران او ویجاړ کړي او له زمکې سره یې یو شان کړي وي.
دا ټولې داسې خبرې دي چې له ټوقو او مسخرو نه علاوه بل څه نۀ دي او په غور کولو سره پرې یو بې علمه کس او یو ماشوم هم پوهیږي چې دا یو غټ دروغ او د خپلو غلطو عقائدو د ثابتولو لپاره یوه حربه ده. او غواړي چې په دا ډول جعلي روایتونو یا د قران شریف د مبارکو ایتونو په خودساخته تعبیرونو او تفسیرونو سره خپل ګمراه

کوونکي عقائد په خلقو کښې خپارهٔ کړي او په دې طريقې سره د مسلمانانو له سرونو، مالونو او ناموسونو سره لوبې وکړي.
زمونږ پختونخوا ته هم په اول ځل دغه عقائد د صوابۍ د پنج پير کلي يو ملا چې په سعودي کښې يې د وهابيت درس حاصل کړےؤ او په «پنجپير ملا» مشهورؤ راوړل او د سعودي عرب د آل سعود واکمنانو په مرستو سره يې د وهابي نظرياتو پرچار شروع کړ او چې چا به دغه عقائد قبول کړل نو هغهٔ ته به پنج پيرے ويل کېدل، او چې کله علماؤ او خلقو ته د اصلي حقيقت پته ولګېده چې دغه عقائد خپله د پنجپير ملا نه بلکې په اصل کښې د ابن عبدالوهاب نجدي عقائد دي نو بيا به دغو خلقو ته وهابي، نجدي او سلفي ويل کېدل. خو د دغو عقائدو قبلول او خپرول دومره اسان کار نهٔ ؤ او چې چا به قبول کړل نو د مسلمانانو علماؤ او مخلصو مسلمانو عوامو له سخت ردعمل او غبرګون سره به مخامخ کېدهٔ.
زما ښهٔ ياد دي چې مونږ لا واړهٔ وو چې په پښتنو کښې به چا بل چا ته ډېر سخت کنځل کول غوښتل نو ورته به يې ويل چې؛ ))وهابي (( يا ))د وهابي زويه (( يا ))د وهابي شک بچيه (( او کوم ملا به کهٔ داسې څه خبره وکړه چې د وهابيت بوي به ترې راتلهٔ نو له کلي نه او لږ تر لږه له جومات نه به يې شړلو. لکه زما يو دوست شهيد دانش علوي چې هغه هم بيا وهابيانو شهيد کړ ويل چې زمونږ په کلي شکور )تحصيل تنګي ( کښې يو ملا څه داسې خبرې کړې وې چې د وهابيت بوي ترې راتلهٔ نو وائي زما پلار چې د جمعيت العلماء اسلام د علاقې امير ؤ دغه ملا له کلي نه کډه په سر وشړهٔ. خو عجيبه دا ده چې اوس هم د دغه جمعيت او جماعت اسلامي اکثريت علماء او کارکنان وهابي نظريات لري خو له ځانه نهٔ دي خبر چې مونږ وهابيان شوي يو.
په مجموعي توګه زمونږ پښتانهٔ په غېر ارادي توګه خصوصاً هغه پښتانهٔ چې د ملايانو خولې ته ناست وي او په پټو سترګو يې تقليد کوي او خپله تحقيق نهٔ کوي لګيا دي وهابيان او سلفيان کېږي خو له ځانه نهٔ دي خبر. او د دې وجه دا ده چې اکثر سني مذهبي جماعتونه ،تنظيمونه، انجمنونه،ډلې او حتی د مدرسو او جوماتونو مشران له مذهبي، عقيدتي او مالي لحاظه له سعودي عرب سره د وابسته کېدو کوشش کوي او د پښتو متل دے چې «پيشو د خدا ے لپاره منږک نهٔ خوري» نو ځکه د سعودي حکومت هم د چا مرستې په مفتو کښې او د خدا ے لپاره نه کوي او خامخا پکښې خپل مفادات ګوري او غټ مفاد يې د مسلمانانو وهابي کول دي.
له بلې خوا اکثر زمونږ حکومتونه هم د وخت له سره د امريکې غلامان راروان دي او بغېر د امريکې له ملاتړه نهٔ په اقتدار کښې راتلې شي او نهٔ خپل اقتدار ته دوام ورکولې شي. او امريکه هم غواړي چې اول دې د پاکستان واکمنان او عوام سېکولر او لامذهبه وي خو که پکښې څه مذهب هم وي نو هغه دې د آل سعود مذهب وي ځکه چې امريکې ته هم هغه مذهب پکار دے او د هغې په ګټه دے چې پکښې د هر ډول باچا ، حاکم ،حکمران او ډکټېټر چې هغه په هره طريقه د خلقو په څټونو سور شوے وي ))اولی الامر ( ، ))خليفه (( او «اميرالمومنين» ګڼلے کېږي او حکم منل يې فرض وي. نو بس دغه واکمنان هم له امريکې نه مجبور وي چې له سعودي عرب سره مذهبي، سياسي او اقتصادي تعلقاتو ته تقويت ورکړي.او که په مستقيمه توګه د ابن عبدالوهاب نجدي تعليمات د درس په کتابونو کښې نهٔ ورکوي نو کم از کم د سني مذهب په نامه او د پردې شا ته د ابن تېميه د نوم او تعليماتو زيات پرچار کوي او بل طرف ته د سعودي حمکرانو په نغوتې سره اکثر سني علماء هم سپوټ کوي چې دغه تعليمات خوارهٔ کړي. لکه د پخواني فوځي ډکټېټر جنرل ضياء الحق چې ځان ته به يې اميرالمومنين ويل حکومت يې يو غټ مثال دے.)حال دا چې ځينې خلق وائي چې هغهٔ خپله له قادياني کورنۍ سره تعلق لرهٔ) او دا هم د هغهٔ دور ؤ چې

وهابیت او سلفیت پکښې زیاته پراختیا ومونده بلکې د حکومت په ملاتړ سره په افغانستان او پاکستان کښې زیاتې وهابي او حتی وسله والې ډلې جوړې شوې. او د سعودي عرب او نورو عربو واکمنانو په مالي مرستو سره د سني مذهب تر پردې لاندې بې شمېره وهابي مذهبي مدرسې او جوماتونه تاسیس شول او پکښې ترهه ګر او دهشتګرد وهابیان او سلفیان هم له عقیدتي لحاظه او هم له وسله ایز لحاظه تربیت شول. او په دلیل او منطق سره نه بلکې د وسلې په زور د مخالفو موحدو مسلمانانو د ختمولو او د مسلمانانو په تېره بیا د سني او شیعه مسلمانانو ترمېنځ د تفرقې، نفرتونو او جنګ جګړو یوه نۀ ختمېدونکې سلسله شروع شوه چې تر ننه پورې په ډېر شدت سره روانه ده. او اوس خو دغې ډلې خبره ځان وژونکو حملو ته رارسوله چې د سني او شیعه مسلمانانو قتل عام ثواب او جنت ته د تلو سبب بولي او د مسلمانانو ، جوماتونه،زیارتونه،امام باړې، حجرې، بازارونه، دوکانونه او د خلقو د راغونډېدو ځایونه ترې په امان کښې نۀ دي.

په مجموعي توګه د وهابیت او صهیونیت په نظریه کښې زیات مشترکات موجود دي. لکه صهیونېانو د دنیا خلق په دوو برخو وېشلي دي چې یو «یهودیان» او بل «غیریهودیان» دي. هغوي ته بې له ځانه نور ټول انسانان ګمراه، جاهلان، منحرفان او واجب القتل ښکاري او د هغوي د ختمولو او کمزوري کولو لپاره له هرې حربې نه کار اخېستل روا بولي. همدارنګ وهابیانو هم د دنیا خلق په دوو برخو وېشلي دي چې یو «وهابیان» او بل «غیر وهابیان» دي او دوي هم له ځانه بغېر نور ټول انسانان که هغه له هر دین او مذهب سره تعلق لري، مشرکان، کافران، بدعتیان او ګمراهان بولي او د هغوي سرونه، مالونه او ناموسونه مباح ګڼي او د قتل عام لپاره یې حتی له ځان وژونکو حملو نه هم ډډه نۀ کوي. او هره ورځ د لرې او برې پښتونخوا زمکې د بې ګناه خلقو په وینو سره رنګینې کوي. او کله کله خو د لښکر په شکل کښې په مختلفو ځایونو باندې حملې کوي او ټول پولیس، امنیتي ځواکونه او حتی فوځیان چې د دنیا په بهترینو فوځیانو کښې شامل دي په ظاهره بې بسه کړي دي او دا ښودنه کوي چې هیڅ علاج یې نه کیږي.حال دا چې فوځ خو لا پرېږده چې که د یو کلي تهاڼېدار وغواړي چې یو کلے له بدمعاشانو او وسلو نه پاک کړی نو په څو ورځو کښې دا کار کولې شي نو په داسې حال کښې چې په هر کلي کښې تهاڼې موجودې دي او د ملېشو او فوځ ملاتړونه ورته حاصل دي خو بیا یې هم څه علاج نۀ کیږي او بې شمېره کسان له ثبوتونو سره نیول کیږي او حتی چې اکثر د خپلو جرائمو اعترافونه هم کوي او وائي که مونږ پرېښودې شوو نو بیا به هم دغه دهشتګردانه کارونه چې هغوي یې روا او شرعي کارونه بولي ترسره کوو، خو بیا هم نۀ یوازې تر اوسه پورې یو کس ته هم سزا ورنکړې شوه بلکې څه په پټه او څه په ښکاره په مختلفو بهانو ازادولې شي.

نو بس له دې نه دا خبره په ډاګه کیږي چې زمونږ واکمنان او مختلفې ادارې هم د امریکې او سعودي وغېره له حکومتونو نه مجبوره دي او په دې باره کښې هیڅ خپلواکي او اختیار نۀ لري.

# سریزه

## د ((توحید)) او ((شرک)) په حقله د یو اسلامي علمي کانفرنس د جوړولو ضرورت

کعبه د توحید وړومبنی کور دی چې له حضرت نوح علیه السلام نه یې هم مخکښې بنیاد ایښودی شوی دی[1] او د حضرت نوح علیه السلام په طوفان کښې ورته زیان ورسېد او لږه موده پس حضرت ابراهیم خلیل الله (ع) د هغې په تعمیر او آبادولو باندې لاس پورې کړ[2] او د خدای پاک پرستش کوونکو ټولو خلقو، د ((الله)) عاشقانو او په هغه پاک ذات باندې زړهٔ بائیلونکو ته یې د دغه مرکز د زیارت کولو بلنه ورکړه[3]
خدای پاک خپل کور د موحدانو د راغونډېدو مرکز او د خدای د پرستش کوونکو لپاره د ((امن)) ځای وګرځوهٔ او هر چا ته پکار دي چې دغلته د خطرې او ناامنۍ احساس ونکړي[4]
خدای پاک د خپل کور زیارت د یو خدای د پرستش کوونکو د ژوند د پیاوړتیا او استحکام ذریعه وګرځوله، او یادونه یې وکړه چې د حج د مراسمو په جوړولو سره دغه مراسم د هغوی د انفرادي، اجتماعي، مادي او معنوي ژوند ضمانت ورکوونکي ګرځي. لکه چې فرمائي «جَعَلَ اللهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الحَرامَ قِياماً لِلنّاسِ» [5]
له دې مبارک ایت څخه د الهام په رڼا کښې امام جعفر صادق علیه السلام فرمائي: «لايَزالُ الدّينُ قائِماً ما قامَتِ الْكَعبَةُ».
د خدای پاک د کور او د دغه پاک ذات د حرم خصوصیتونه او ځانګړتیاوې له دې نه ډېرې زیاتې دي چې په دې سریزه کښې بیان شي، هغه څه چې لازمي دي پکار دي پام ورته وشي، د کعبې شریفې اوسنی حالت دا دی چې متولیان او منجوران یې ځانونه د حرمېنو شریفېنو خادمان ګڼي او د چارو په چلولو باندې یې ویاړ او فخر کوي.
مونږ د یاد کړې شویو خصوصیتنو ترمېنځ د دوو خبرو پوښتنه کوو:

---

[1] - ((اِنّ أَوّلَ بَيْت وُضِعَ لِلنّاسِ لَلّذي بِبَكّةَ مُباركاً وهُديً للعالمين)) (سورهٔ آل عمران: ۹۶ ایت)
[2] - «وَاِذْ يَرفَعُ ابراهيمُ القَواعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَاِسْماعيلُ» ( سورهٔ بقره: ۱۲۷ ایت)
[3] - « وَأَذِّنْ في النّاسِ بِالحَجّ »(سورهٔ حج : ۲۷ ایت)
[4] - «وَاِذْ جَعلْنَاالبَيْتَ مَثابةً لِلنّاسِ وَأمنا» (سورهٔ بقره: ۱۲۵ ایت او سورهٔ قصص: ۵۷ ایت
[5] -(سورهٔ مائده: ۹۷ ایت)

## ۱- آیا د حج او سني مراسم د «قِیاماً لِلنّاسِ» مصداق دي؟

آیا د کعبې او د هغې د زیارت چاپېره له دوو مېلیونو نه د زیاتو مسلمانانو غونډه، د هغوي د مادي او معنوي ژوند د مسائلو د حل کولو او د ژوند د پیاوړتیا سبب ده؟ او که داسې وي نو ووائئ چې ایا په یو کال کښې د حرمېنو شریفېنو متولیانو او خطیبانو په دغو سترو غونډو کښې اسلامي رغوونکي مسائل څېړلي دي او یو لړ لاښوونې یې بیان کړي دي؟

په **۱۳۵۲** هجري نمریز کال کښې مې د قران شریف د ماشومانو حافظانو له یوې ډلې سره د مفرده عمرې په غرض د خانه کعبې د زیارت شرف حاصل کړ. هلته زمونږ د شتون په دوران کښې د فلسطینیانو د ختمولو لپاره د لبنان په جنوب باندې د اسرائیلو د حملې خبر په ډله ایزو رسنیو (مېډیا) کښې منعکس کېدۀ. د جُمعې په ورځ د حرم شریف ترڅنګه د ((تحفیظ القرآن الکریم)) په ځاے کښې د قران مجید د قرائت په یوه مقابله کښې مو ګډون وکړ. د غونډې مشري د سعودي عرب د یو شخصیت په غاړه وه. مقابله ختمه شوه او لږ وخت پس د جُمعې اذان وویل شو او د حرم شریف خطیب منبر ته اوخت، له ځان سره مې وویل چې اوس به د ورځنۍ او تازه پېښې په اړه خبرې وکړي خو لږ وخت نۀ ؤ تېر چې زما ښۀ ګمان په بد یقین باندې بدل شو او خطیب صېب په جوماتونو او د جُمعې په نموځ کښې د ګډون د آدابو په حقله وینا وکړه او دا چې د پښو او خولې د پاکۍ او صفائۍ خیال وساتل شي او د ورځنۍ تازه پېښې په حقله یې یوه خبره هم له خولې نه ونۀ وېسته. د ((اخوان المسلین)) تنظیم یو مصري شخصیت نه مې چې زما څنګ ته ناست ؤ او د حادثې له بدوالي څخه یې په مکه معظمه کښې پناه اخېستې وه پوښتنه وکړه چې وروره ایا دا خطبه د اوس حال د تقاضې مطابق وه؟ هغه چې یو منصف سړے ؤ د افسوس څرګندونه وکړه او څه تفصیلي ځواب یې رانکړې شو.

د دغه شان مهم مرکز په شان مرکزونو کښې د جُمعې ټولې خطبې چې کړې شوي دي او کلي کړنلارې یې معلوم شوي دي په هغو کښې د نړۍ د سړې خورې امریکې او د هغې د نړۍ داستعماروونکو نورو انډیوالانو د استعمار او د هغوي د ضررونو په باره کښې حتی یوه خبره هم نۀ کیږي. خو هغه څه چې یې غواړي پکښې شیعه مسلمانانو ته د مجوسیانو د نسبت د ورکولو په حقله خبرې کیږي. ان تردې چې د ایران د اسلامي انقلاب له کامیابۍ نه پس دغلته د « جاءَ دورالمجوس!» په نامه یو کتاب ( او د شیعه مسلمانانو په خلاف داسې نور کتابونه ) خپرېږي او وېشل کیږي.

اوس دې حالاتو ته په پام سره ایا دا ویلې شو چې د نجد او ریاض واکمنان د الهي پاک حرم ساتونکي او په اسلامي نړۍ کښې د «قیاماً لِلنّاس . . . .» زمینه جوړوونکي دي؟!

## ۲- ایا الهي پاک حرم د امن ځاے دے؟

قران مجید مکه معظمه او د هغې ګېر چاپېره سیمه د الهي ((امن)) حرم معرفي کوي او فرمائي: «وَمَنْ دَخَلَهُ کانَ آمِناً»[۱] ((او هر کس چې دغلته داخل شو د الهي تشریع له نظر له هر ډول تیرې او حملې څخه په امان کښې دے.))

---

[۱] سورۀ ابراهیم : ۳۵ ایت

د مسلمانانو پلار حضرت ابرهيم خليل الله (عليه السلام) له خدا ے پاک څخه وغوښتل چې دا سيمه دې د امن ځا ے وګرځوي او وې ويل: ((ا ے خدايه! دا سيمه د ((امن)) ځا ے وګرځوې. ))
اوس پوښتنه دا ده چې ايا د حرمينو شريفينو اوسني متوليان د دې الهي تشريع ساتونکي دي؟
ايا واقعي د اسلامي طبقو مشران دغلته امنيت لري چې دغلته سياسي مسائل وڅيړي او د اسلامي ولسونو حقيقي نمائندګان چې دغلته راغونډ شوي دي د اسلامي دنيا له دردناکو حالاتو نه خبر کړي او ورته تګلاره وټيئ؟ يا دا چې په اسلامي مکاتبو کښې يوازې حنبليان د خبرو کولو حق ولري او د اسلام د لوړو تعليماتو ترمينځ يوازې د ابن تيميه، ابن قيم او په دې وروستيو وختونو کښې د ابن عبدالوهاب نجدي اوچ کړس نظريات بيان شي؟ او د سلګونو اجتماعي، سياسي، ثقافتي او کلتوري بحثونو ترمينځ يوازې د مړو قبرونو ته د نۀ تللو، د رسالت د آثارو د عزت او قدرونې د نۀ کولو او د الهي اولياء کرامو د تکريم او عزت او احترام نۀ کولو په حقله خبرې او بحثونه وشي او بې دفاع مخالف دې د تکفير په کوړو سره وټکولې شي او د هر ډول وهل ټکول او د کفر فتوې دې د هغۀ په برخه کړې؟!
ايا دا د «حرماً آمناً» معنا ده؟ دې حالاتو ته په پام سره که ووايو چې په کعبه باندې قبضه شوې ده نو غلط خبره به مو نۀ وي کړې؟
د وهابيت او سلفيت کلتور او تهذيب د اسلامي فرقو په کافر کولو، د مسلمانانو ترمينځ د تفرقې په اچولو، د اسلامي تعليماتو بدرنګه ښودلو، د رسالت او وحي د آثارو په ختمولو، د نړۍ له ټولو ظالمانو او جابرانو حتی د يزيد بن معاويه په شان کسانو سره په ساز باز کولو باندې ولاړ د ے. دوي چې کوم تبليغيان او ليکولان په اختيار کښې لري ټول ((عاظ السلاطين)) او ويرېدوونکي تنخواه خور نوکران دي چې بې له هغه څه نه چې استادانو ورته په غوږونو کښې اچولي دي بل څه نۀ وائي. کېدې شي لوستونکي دا خيال وکړي چې مونږ په دې صفاتو بيانولو سره له منطق نه لرې او بې دليله خبرې کوو، خو د نمونې په توګه د هغه کتاب يو جلد تاسو ته منعکس کوو چې په سعودي عرب کښې چاپ او خپور شو ے د ے. په دې کتاب کښې د هغه کس (يعنې يزيد بن معاويه) چې په کعبه باندې يې په منجنيقونو سره کاڼي وورول او درې ورځې يې د مدينې د خلقو سرونه، مالونه او ناموسونه د خپلو خونخوارو لښکريانو لپاره مباح وګرځول دفاع او د هغۀ مدح او ستائينه شوې ده.
دې اصل ته په پام سره دا ويلې شو چې په دغه هېواد کښې يو ډول مطلقه ازادي نشته او يو ډول په کامله توګه د ساډوبۍ حالت واکمن د ے. هغه کتابونه چې پکښې د اموي او عباسي ظالمو او جابرو واکمنانو ستائينه او صفتونه شوي دي په کامله توګه ازاد دي خو هغه کتابونه چې پکښې د خدا ے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم له پاکو اهلبيتو عليه السلام څخه دفاع کيږي او د هغوي فضائل پکښې بيان شوي دي منعې دي. نۀ يوازې دا ډول کتابونه بلکې د هر ډول کتاب ضروري دي چې دغه هېواد ته له داخلېدو نه مخکښې کنټرول شي او د اطلاعاتو او امنيت د وزارت لخوا تائيد شي او اجازه ورکړې شي.
په تېر(۱۴۰۴ هجري قمري) کال کښې د مدينې هوائي ډګر ته د ننوتو په وخت راسره لس ټوکه ((مصدر الوجود)) نومې کتاب ؤ چې د خدا ے پاک او خالق د شتون، توحيد او وحدانيت په حقله پکښې يو لړ دلائل ورکړې شوي دي. د دې کتاب چې خپله د دغه کتاب ليکونکے يم له وړلو نه زما مقصد د دې هېواد يو کلتوري خدمت ؤ. خو له بده مرغه دغه کتاب په هوائي ډګر کښې ونيو ے شو او حتی مسئول افسر د دغه کتاب له مطالعې نه پس وويل:

که څه هم دا کتاب ډېرخوږ او ګټور دے خو پکار دي د اطلاعاتو او امنيت وزارت ته واستولے شي او پکار دي له هغه ځاے څخه وصول شي. نو ايا د «بَلَداً آمِناً» معنا دا ده؟!

## ((شرک)) په سعودي عرب کښې تر ټولو زيات او ترټولو ارزان سامان

د شرک تور لګول او لويو لويو ديني عالمانو او بزرګانو ته مشرک ويل په دغه هېواد کښې يوه عامه او معمولي چاره ده.دغلته انسان د امربالمعروف له آمرانو سره په مخامخېدنه کښې له نور هر ډول الفاظو نه دا الفاظ زيات اوري د دوي په ډېبو کښې له شرک او د شرک د تور له لګولو نه بغېر بل يو څيز د خرڅولو لپاره نشته.

د دې سريزې د ليکلو په وخت د يو پاکستاني ليکوال ((الشيعه والتشيع)) نومې يو کتاب مې لاسته راغے چې په سعودي عرب کښې چاپ شوے دے. د دغه کتاب په شلم مخ باندې د اروابناد استاد شېخ محمد حسېن مظفري څو جملې نقل کړې شوي دي او د هغو معنا او تفسير يې د خپلې خوښې مطابق کړے دے. دلته هغه دواړه عبارتونه راوړوو چې څرګنده شي چې وهابي ليکولان څه ډول په ډېر سپين سترګي توب سره خلق ((شرک ته په بلنه)) باندې تورنوي.

اروابناد مظفري ليکي: ((تشيع له هغې ورځمبنې ورځې څخه چې د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم خلق د يو خداے او خپل رسالت په لور دعوت کړل شروع شو.)) بيا ليکي: ((له ابوالحسن (علي عليه السلام) څخه پېروۍ ته بلنه د خداے پاک د توحيد او د پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم رسالت ته له بلنې سره څنګ په څنګ مخ په وړاندې روانه وه.))

دغه پاکستاني ليکوال د ښاغلي مظفري په وېنا باندې په نيوکې سره ليکي: ((د مظفري د وينا مطابق پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم به علي (رض) په خپل نبوت او رسالت کښې شريک ګرځوۀ.))

که دغه ليکوال د خپلو نفساني خواهشاتو غلام نۀ وې او ځان يې په وهابيانو نۀ وې خرڅ کړے او که د شيعه مسلمانانو د عقائدو له الف با نه خبر وې نو د اسلامي دنيا په يوداسې لوے عالم او ليکوال باندې به يې داسې نيوکه نۀ کوله.

که داسې دعوت شرک ته دعوت يا په رسالت کښې شريک ګرځول وي نو له هر څه مخکښې قران مجيد دا کار کړے دے. ځکه چې قران مجيد له خداے پاک او رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم څخه اطاعت ته له بلنې نه علاوه له «اولی الاَمْر» څخه اطاعت ته هم خلق دعوت کړي دي او فرمائي:«أطيعُوا اللهَ وَأطيعُوا الرّسُولَ وَأولي الأمْرِ مِنْكُم» [1]

د دغه ليکوال په عقيده د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم توحيد ته د دعوت په ځاے خلق شرک او دوه والي ته رابللي دي. ځکه چې «اولی الامر» يې د خداے د اطاعت تر څنګه راوستے دے اوس که د اولی الامر هر ډول تفسير وکړو نو حضرت علي عليه السلام يې واضحه مصداق دے.

---

[1] سورۀ نساء ۵ ايت

مونږ ټول په دې ښهٔ پوهېږو چې په کومه ورځ د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د خپلو خپلوانو په دعوت کولو باندې وګمارلے شو او د «وأنذر عشيرتک الأقربين» مبارک ايت نازل شو نو هغوي خپلو خپلوانو ته بلنه ورکړه او په هغه غونډه (يوم الدار) کښې يې خپل نبوت اعلان کړ نو بيا يې زياته کړه: «فَأَيُّكم يُوازِرُني عَلي هَذا الأمْرِ عَلي أنْ يَكُونَ أخي وَوَصِيّي وَخَلِيفَتي فِيكُمْ» يعنې ((په تاسو کښې کوم يو به له ما سره په دې کار کښې مرسته وکړي چې په تاسو کښې زما ورور، وصي، ځا ے ناستے او خليفه وګرځي؟))
هغه وخت بې له حضرت علي علیه السلام نه بل څوک پانځ ځېد او د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم دوه ځل د دې پوښتنې په تکرارولو او بې له علي علیه السلام نه د بل چا نه د ځواب له نهٔ اورېدو نه پس وفرمايل: «اِنّ هذا أخي وَوَصِيّي وَخَليفَتي فِيكُمْ فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا» يعنې ((دې په تاسو کښې زما ورور، وصي، ځا ے ناستے او خليفه د ے، د دهٔ خبره اورئ او د دهٔ اطاعت کوئ))[1]
شيعه مسلمانان د دغه تاريخي حکم له مخې وائي چې په کومه ورځ د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په دې باندې مامور شو چې خلق توحيد او خپل رسالت ته راوبلي نو دا حکم يې هم ترلاسه کړ چې د حضرت علي علیه السلام خلافت او امامت ته يې هم دعوت کړي. او ((نبوت)) ته دعوت ((امامت)) ته له دعوت سره اخښل شو ے ؤ.
اوس ايا دا خبره صحيح ده چې شيعه مسلمانان په دې باندې تورن کړو چې وائي: ((د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په دې باندې مامور ؤ چې حضرت علي علیه السلام له خپل رسالت او نبوت سره شريک اعلان کړي؟!)) د هغو کتابونو آفت چې سني او په تېره بيا وهابي ليکوالان يې د شيعه عقائدو په باره کښې ليکي دوه ځيزونه دي:
۱- له شيعه کتابونو څخه د بې خبرۍ دا آفت په ټولو پېړيو کښې واکمن ؤ او اوس هم د ے او دليل يې هغه اموي او عباسي جهنمي قدرتونه وو چې اجازه يې نهٔ ورکوله چې شيعه مسلمانان خپل عقائد د سني مسلمانانو په علمي غونډو او محفلونو کښې بيان کړي چې تشيع هم د نورو مکتبونو په شان وپېژندل شي. ځکه چې په علمي او عبادي محفلونو او غونډو کښې بې له شيعه ؤ نه هر چا د وينا اجازه لرله ، مګر په ځينو خاصو وختونو کښې چې د دغو کتابونو د معرفي کولو لپاره کافي نهٔ وو.
۲- هغه يو انقلاب چې د تسنن په ټولنو او محافلو کښې د علم د زدکړې او ښوولو له نظره رامنځته شو او د ((المواقف)) او ((شرح مقاصد)) په شان د ژورو کتابونو او پخوانيو طريقو ځا ے په عقائدو او کلام کښې نورو طريقو او سطحي کتابونو ونيوهٔ او دا چاره د دې سبب شوه چې په يو اسلامي هېواد کښې څوک کس پېدا نهٔ شي چې په اتمه اسلامي پېړۍ کښې ليکل شويو د دغو ژورو کتابونو تدريس په غاړه واخلي.
دغه سطحي نظر کونه او غبر ژورې زدکړې دي چې د دې سبب کيږي چې د ((احسان الهي ظهير)) په شان ليکوالان ((خلافت ته دعوت)) او ((نبوت او رسالت ته دعوت)) ترمنځ څه فرق رانولي او د((يوې فرقې او تاريخ))

[1] د دې مبارک حديث چې د محدثينو ترمېنځ په «يوم الإنذار» و «بدء الدعوه» نومې حديث باندې مشهور د ے د شيعه سني د تاريخ او احاديثو په کتابونو کښې راغلي دي او طبري د خپل تاريخ په ۲ ټوک او ۲۳ مخ باندې راوړ ے د ے.

په اړه یو کتاب ولیکي او د سعودي د بې خرته او بې حسابه تېلو په پېسو باندې یې چاپ او خپور کړي خو دا چې د شیعه عقیدې له الف با نه نۀ وي خبر.

## پکار دي ژور فکر وکړو

د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له اولاد څخه حضرت امام جعفر صادق علیه السلام فرمائي: «اَلْعالِمُ بِزَمانِهِ لاتَهْجُمُ عَلَیْهِ اللَّوابِسُ» یعنې ((د خپلې زمانې له حالاتو نه یو باخبر او آګاه کس د ناوړو پېښو د حملو هدف نۀ شي ګرځېدې.))

همدلته دا خبره ځاے نیسي چې د وخت د هغو حالاتو او ترخو او افسوسناکو پېښو په اړه لږ غور او فکر وکړو او د اسلام اصلي دښمنان وپېژنو. همدا اوس له یوې پېړۍ نه زیات وخت کیږي چې د اسلام په خلاف فکري او عقیدتي جنګ شروع شوے دے، د ختیځ او لویدیځ (شرق او غرب) کېمپونه له خپلو مرستیالانو او انډیوالانو سره د اسلام په خلاف یو ځاے شوي دي اوداسې یوه هفته او میاشت به نۀ وي چې د اسلام او د هغۀ د تعلیماتو (او مقدساتو) په خلاف په مختلفو عنوانونو سره یو کتاب خپور نۀ شي.(حتی په دې وروستیو وختونو کښې د خداے د ګران رسول او رحمت اللعالمین صلی الله علیه و آله وسلم په خلاف فېلمونه او کارټونونه خپرېدو ته خبره رارسېدلې ده – مترجم)

ایا په داسې حالاتو کښې دا صحیح خبره ده چې یوازې په سعودي عرب کښې هر لږ وخت پس د شیعه مسلمانانو په خلاف یو کتاب ولیکل شي چې تۀ به وائې په اسلامي دنیا کښې د تشیع له مسائلو او د شیعه عقائدو له پېژندلو او د هغوي په عقائدو باندې له نیوکو نه بغېر نور مسائل وجود نۀ لري؟

کاش چې دغو کتابونو څه منطق او استدلال هم لرلې چې بیا خبر دے څه خبره نۀ وه. نو په داسې حالاتو کښې شیعه عالمان مجبور دي چې منطقي ځواب ورکړي او یا په بل صورت کښې دغه تورونه ومني چې له بده مرغه ټول شیعه ۀ او د هغوي عالمانو ته له کنځلو او حتی د امیرالمومنین حضرت علي علیه السلام په اړه له سپکاوي نه ډک دي. «الشیعه والتّشیّع» نومې کتاب چې مخکښې یې ذکر وشو د دا قماش لیکنو یوه څرګنده نمونه ده. د دې کتاب لیکوال د طبري، ابن کثیر او ابن خلدون په شان تاریخي کتابونو په استناد سره شیعه مذهب د عبدالله بن سبا یهودي جوړه کړې شوې ډله ګڼي، بیا په ((فجرالاسلام)) کتاب کښې د ((احمدي مصري)) خبرې راوړي او د خپل مطلب د بشپړتیا لپاره د ((دوزي)) ، ((ملّر)) او ((لهاوزن)) په شان د یهودي او مسیحي ختیځ پېژاندو له یوې ډلې نه مرسته اخلي خو د خپلو عقائدو په حقله د شیعه علماؤ وېناوې چې د علامه صدوق (وفات ۳۸۱ هجري) او علامه مفید (وفات ۴۱۳ هجري) په شان شخصیتونو لخوا لیکل شوي دي نه مني او وائي چې دا د شیعه ؤ تبلیغاتي کتابونه دي او د شیعه ؤ اصلي عقائد له دغو نه بل شان دي؟ او له دې نه لا بدتر دا چې په ((بحار)) یا ((انوار نعمانیه)) کتاب کښې د یو روایت وجود شیعه ؤ د عقیدې د دلیل په توګه وړاندې کوي. په داسې حال کښې چې ټول په دې پوهیږي چې د فریقېنو په احادیثو کښې ضعیف او دروغ حدیثونه وجود لري او د یو روایت نقلول تل د هغۀ په مضمون باندې د اعتقاد ننبه نۀ شي کېدې.

د « الشیعه والتشیّع » کتاب د لیکوال پام یو څو ټکو ته راړوم:

۱- ایا تاریخ طبري د صحیح والي او مضبوطی له نظره تر دې درجې پورې دےچې وويلې شو چې د دغه کتاب ټول محتويات او ليکنې صحيح او په ځاے دي؟ يا دا چې د طبري او د دۀ په شان د نورو په نقل شويو ليکنو کښې قضاوت کول او د هغو اسناد او دلائل څېړنې ته ضرورت لري؟ ځکه چې د هغۀ د تاريخ او تفسير په اسنادو کښې جعلي او دروغجن کسان ډېر دي چې اوس يې د تفصيل بيانولو مجال نشته.

د نمونې په توګه دا يادونه کوو چې د «الشيعه والتشيّع» نومې کتاب ليکوال ليکي: چې شيعه د يمن د يو يهودي نسله عبدالله بن سبا له افکارو څخه تاثير اخېستے دے چې د طبري په عقيده په ظاهره يې اسلام راوړے ؤ او د حضرت علي (رض) په لور يې د خلقو د دعوت په پرده کښې يهودي عقائد په مسلمانانو کښې خپارۀ کړل.

خو اوس دا کتل پکار دي چې ايا په دنيا کښې داسې يو سړے موجود هم دے که نه د افسانو او داستانونو يو جز دے؟ چې په اوس حال کښې په دې اړه بحث نۀ کوو. د ويلو وړ ده چې د طبري هغه سند چې دا مطلب يې د هغو له لارې نقل کړ دے په دا ډول دے:

«كَتَبَ الَيّ «السري» ، عن «شعيب» ، عن «سيف» ، عن «عطيه» ، عن «يزيد الفقعسي» كان عبدالله بن سباء يهودياً مِنْ أهْلِ صَنْعاء. .» اوس به لږ د همدې سند په باره کښې چې متن يې ابن کثيرشامي، او ابن خلدون مغربي د طبري په شان راوړے دے غور او فکر وکړو چې ايا د دغو کسانو وينا استناد ګڼلې شو؟

۱- السري: اوس که له دۀ نه مراد ((السري بن اسماعيل کوفي)) وي يا ((السري بن عاصم)) (وفات ۲۵۸ هجري) وي نو دواړه د خپل وخت سخت دروغجن او د تاريخ او حديثو جعلسازان دي.[۱]

۲- شعيب بن ابراهيم کوفي: مجهول او ګمنام دے.(يعنې يو فرضي کس دے)[۲]

۳- سيف بن عمر:د ثقه کسانو له خولې د دروغو روايتونو راوي دے.[۳]

۴- يزيد الفقسي: يو ګمنام او فرضي سړے دے چې د رجالو په کتابونو کښې يې ذکر شوے دے.

طبري د خپل تاريخ په ۳، ۴ او ۵ ټوکونو کښې له ۱۱ هجرۍ نه تر ۳۷ هجري کاله پورې (يعنې د وړومبي ، دويم او دريم خليفه ګانو په دوران کښې) د دغو پنځو تنو له لارې ۷۰۱ روايتونه نقل کړي دي او د دغه دور تاريخي نتايج يې اپوټه ښودلي دي. د دغه دور په حقله د دغو څو تنو روايتونه د طبري د تاريخ په ۳، ۴ او ۵ ټوکونو کښې څرګند دي او د پنځم ټوک په ختمېدو سره د دوي حديثونه هم ختمېږي. په دا ډول چې په نورو حوادثو کښې (بې په لسم ټوک کښې له يو حديث نه) له دغو پنځو تنو څخه هيڅ حديث نۀ دے نقل شوے. (يعنې دغه کسان بيا وروستوغيب شوي دي.)

نو ايا د ((السري)) او ((سيف بن عمر)) تاريخي معلومات يوازې د دغه دور په واقعاتو پورې منحصر وو؟ او هغه هم يوازې له مذهب سره د اړوندو واقعاتو په اړه؟

---

۱ ـ تهذيب التهذيب، ۳ ټوک،٤٦ مخ، تاريخ الخطيب، ۹ ټوک،۱۹۳ مخ ؛ ميزان الإعتدال، ۱ټوک، ۳۷ مخ؛ لسان الميزان ، ۳ ټوک ۱۳ مخ

۲ ـ ميزان الإعتدال، ۱ټوک، ٤٤۷ مخ؛ لسان الميزان ۳ ټوک ۱٤٥ مخ

۳ ـ ميزان الإعتدال، ۱ ټوک، ٤۳۸ مخ؛ تهذيب التهذيب، ٤ ټوک، ۲۹٥ مخ

ایا له دې نه بغېر څه بل څه دي چې له دې امله چې د دغه دور واقعات د مسلمانانو د عقائدو او نظریاتو بنیاد ګڼل کیږي نو د دغو حدیثونو له نقلولو څخه د دوي مقصد او هدف د دغه دور د تاریخي حقائقو تحریفول او اپوټه ښودل وو؟
هر څوک چې په دغو روایتونو کښې لږ غور او فکر وکړي نو دې ته به پام کیږي چې ټول د یو کس او یو فکر جوړ کړې شوي دي او د ټولو مضمونونه د یو مقصد او هدف په لټه کښې دي. دا ګمان نۀ کیږي چې دا مطلب به له طبري نه پټ پاتې وي. نو اوس په داسې صورت کښې څه ویل پکار دي؟ بس دا چې له خاصې مینې، بغض او غرض لټونو نه بغېر بل څه نۀ دي.
له بده مرغه دغه جوړ کړې شوے او جعلي روایت له طبري نه پس د «ابن عساکر»، «کامل ابن اثیر»، «البدایه والنهایه» او «تاریخ ابن خلدون» وغېره د تاریخ په کتابونو کښې خپور شوے دے چې ټولو بې له څه تحقیق نه د طبري پېروي کړې ده او دا ګمان یې کړے دے چې هر څه چې طبري نقل کړي دي همدغه حقیقت دے. په دا ډول وروستي تاریخ لیکونکي هم له دغو دروغو نه محفوظ نۀ دي پاتې شوي او یو په بل پسې یې دغه دروغونه د تاریخي روایتونو په توګه نقل کړي دي. البته د خوش قسمتۍ ځاے هم دے چې تاریخ طبري «مسند» دے او د مشخصو روایتونو سند. د دروغو او بې بنیاده روایتونو تشخیص په کامله توګه یوه ممکنه او کېدونکې چاره ده او لکه چې څنګه مو اشاره وکړه: هغه کسان چې د دغو روایتونو سند ورته رسیږي ارزښت او اعتبار نۀ لرونکي دي.
داسې کتاب چې مصادر او روایتونه یې دا ډول او راویان یې د «السري» په شان درغجن، جوړکړې شوي او جعلي کسان وي ایا د تحقیق په دې دور کښې څه ارزښت او مقام لري؟ او ایا دا خبره صحیح کېدې شي چې د یوې داسې لوې اسلامي طبقې کسان چې د اسلامي علومو خپروونکي، د رسالت د علومو لرونکي او له غاصب اسرائیل سره د جنګ په مېدان کښې حقیقي جهاد کوونکي دي، د داسې لیکنو او سراسر دروغو تاریخونو په استناد سره د یو یهودي او ګمنام کس لخوا د جوړې کړې شوې ډلې پېروکار کسان وبلو؟! (نن مونږ دغه حقیقت په ایران کښې د امام خمیني په مشرۍ د اسلامي انقلاب او په لبنان کښې د اسرائیلو په مقابل کښې د حزب الله کردار د نمونې په توګه وړاندې کولې شو. مترجم)

## میکیاولستي افکار

دغه بې خبره لیکوال د سوال او ځواب په جامه کښې په اشارې سره په امیرالمومنین علیه السلام باندې نیوکه او اعتراض کوي چې: ولې یې د معاویه په څنګته کولو کښې بیړه وکړه؟ او داسې نور ولې؟ ولې؟....[1]
دا نیوکه او اعتراض له یو بنیاد نه بل څه نۀ لري او هغه دا چې دا خیال کوي چې امام هم د عامو حاکمانو او واکمنانو په شان په الهي ذمه واریو باندې خپلو ذاتي مفاداتو ته ترجیح ورکوي او هدف د وسیلې توجیه کوونکے ګڼي، له دې امله داسې اعتراض د سوال په صورت کښې مطرح کوي.

---

[1] ـ الشیعه والتشیع ۱٤٤ مخ

که امام یو مېکیاولېستي کس ؤ نو دې خبرې ځاے لرلو چې د لیکوال په شان فکر وکړي او د خپلو یو لړ ذاتي مفادو په خاطر ظالمان او جابران د خلقو په مالونو او ځانونو باندې مسلط کړي.خو امام علي(ع) یو داسې انسان دے چې د مغیره بن شعبه په شان د یو نصیحت کوونکي کس په ځواب کښې یې وفرمایل:«وَما کُنْتُ مُتَّخِذَ الْمُضِلّینَ عَضُداً» [1]

دلته خبره رالنډوو او هیله لرو چې دا مختصر او لنډ وضاحت به تاسو د لیکوال د روحیاتو، د اسلام له اصولو څخه د هغهٔ د معلوماتو د اندازې او د تاریخ په نقلولو کښې د هغهٔ د غرض لټونې په لور لار ښوونه کړي. او دا زېرے درکوو چې ډېر زر به د دغه کتاب (الشیعه والتشیع) غانښ ماتوونکے ځواب د سترو علماؤ په ذریعې سره ورکړے شي. (چې وروسته د دغه کتاب او دغه شان نورو کتابونو په ځواب کښې ډېر غانښ ماتوونکي کتابونه ولیکلې شول. مترجم)

## د اسلامي کانفرنسونو، سېمنیارونو او جرګو د جوړولو ضرورت

د اختلاف وړ زیاترو مسائلو د اوارې لپاره د علمي او اسلامي کانفرنسونو جوړول چې پکښې مختلف افکار په علمي او منطقي شکل کښې وړاندې شي ډېر ګټور او موثر دي. په اوسنۍ زمانه کښې له توحید او شرک سره اړوند یو لړ مسائل د وهابیت او سلفیت د پلویانو او نورو اسلامي ډلو ترمېنځ د اختلاف وړ دي، ایا ښه به نهٔ وي چې د دغو دواړه قسمه ډلو د نزدېکت لپاره علمي سیمنارونه بلکې یوه لویه جرګه جوړه شي چې پکښې د اختلاف وړ مسائل وړاندې شي، په دې امید چې پکښې د مختلفو افکارو له څېړلو څخه د ټولو لپاره یو روښانه افق او کرکۍ خلاصه کړي. البته دغه جرګه یا ټولنه پکار دي په جدي صورت کښې جوړه شي او پکښې د داسې یو لړ شرائطو خیال وساتل شي:

۱- د اسلامي ډلو او مکاتبو هغو ټولو مفکرانو او عالمانو ته چې په حقه د خپل مذهب علمي او فکري استازي ګڼل کیږي بلنه ورکړې شي نه د هند، پاکستان او مصر وغېره غونډې تر ستم لاندې هېوادونو کښې د سعودي تنخوا خوارانو ته.

۲- په دغه جرګه کښې دې د څلورو واړو مذهبونو بزرګانو او د امامیه او زېدیه شیعه ؤ علمي او فکري شخصیتونو ته بلنه ورکړې شي او موتمر دې د یو پراخه اسلامي موتمر په صورت کښې راشي.

۳- د معقولو ازادیو احترام دې وساتل شي چې کسان پکښې په ازاده توګه له خپلو افکارو او نظریاتو څخه دفاع وکړي او د مسلمانو علماؤ په حقله په سعودي عرب کښې رائج د هر ډول سپکاوي او بد رد ویل ممنوع وګرځي.

۴- د موتمر غونډې دې د یو بېطرفه ډلې په ذریعې سره کنټرول او وچلولې شي او یا دې لږ تر لږ له ټولو ګډون کوونکو څخه یوه مخلوطه او ګډه کمېټې د غونډو په چلولو باندې څارنه وکړي.

۵- د نظر وړ مسائلو فهرست دې مخکښې په واضحه توګه د ګډون کوونکو په اختیار کښې ورکړې شي او هر کس دې یوه موضوع غوره کړي او د هغې په حقله دې بحث وکړي.

---

[1] ـ واقعه صفین ط مصر ۵۸ مخ د امام عبارت داسې دے: ولم یکن الله لیراني اتّخذ المضلّین عضداً

۶- ټول بحثونه دې بې له څه ورکوي بدلونه خپارهٔ شي او د علمي مرکزونو په اختیار کښې دې ورکړې شي چې دلچسپې لرونکي یې له نتائجو نه خبر شي.
د داسې یوې منصوبې او تجویز د عملي کېدو په صورت کښې بیا امید لرلے شو چې په یولړ مسائلو کښې څه تفاهم او روغه جوړه تر لاسه شي.

## د کتاب مقصد

په دې کتاب کښې له نورو اسلامي مذاهبو سره د وهابیانو د اختلاف وړ مسائلو کلیات عنوان کړې شوي دي او د کتاب او سنت له لارې مو د اسلام نظریه روښانه کړې ده. او دا یوازینے کتاب نهٔ دے چې په دې اړه مو لیکلے دے بلکې له دې مخکښې مو هم دوه نور کتابونه چې په هر یو کښې د دغو مسائلو شننه په یو ډول شوې ده او خپارهٔ کړي مو دي او دغه دواړه کتابونه په دا ډول دي:

۱- ((مفاهیم القرآن)): د وړومبي ټوک د ((توحید په عبادت کښې)) برخه (چې له **۳۷۸** نه تر **۵۲۸** مخونو پورې) د قران له نظره له توحید او شرک سره د متعلقو مسائلو په باره کښې ده. چې دغه کتاب د قم په علمیه حوزه کښې تدریس شوے او د علامه جعفر الهادي غوندې ستر او پوه عالم په فاضلانه قلم سره لیکل شوے دے او په ایران او بېروت کښې چاپ او خپور شوے دے.

۲-((توسل به ارواح مقدسه)): دا کتاب له مقدسو او سپېڅلو روحونو سره له توسل سره متعلق مسائلو سره اړوند دے چې وهابیان پکښې له هر نور ځاے نه زیاتې دوړې داړې الوزوي.

نو په دې بنیاد دا کتاب دریم کتاب دے چې د اسلامي ټولنې په خدمت کښې وړاندې کیږي. نو په ریاض او حرمېنو شریفېنو کښې له وهابیانو او د هغوي له لیکوالانو او په نورو هېوادونو کښې د هغوي له هغو پلویانو چې دریغ یې زمونږ د خبرو په اړه منفي وي غواړو چې په دې کتاب باندې دې منطقي نقد وکړي او د خپلو فرېب خوړنو او غولېدنو ضررونه دې نسبتاً کم کړي. اوکه نهٔ وي نو بیا دې مسلمانان په حرمېنو شریفینو کښې ازاد پرېږدي او د الهي امن په حرم کښې دې د خلقو له ازارولو او ورته له نقصان رسولو څخه لاس واخلي او د وهابیت او سلفیت تبلیغات دې چې له تفرقې او بې اتفاقۍ نه بغېر نور څه نتائج نه لري پرېږدي او اسلامي ټولنه دې مسلمانو سترو عالمانو او مفکرانو ته حواله کړي.

*****

جعفر سبحاني

قم، علمیه حوزه، دامام جعفر صادق علیه السلام موسسه

۲۲ وړوکے اختر، **۱۴۰۵** هجري قمري کال یا **۲۴** چنګابن **۱۳۶۴** هجري نمریز کال

# وړومبے باب

## د وهابيت مسلک د باني د ژوند حال

د وهابيت مسلک او نوے دين د ((شېخ عبدالوهاب)) له زوے ((شېخ محمد نجدي)) سره منسوب دے چې دا نسبت د هغهٔ د پلار له نوم ((عبدالوهاب)) نه اخېستے شوے دے او د ځينو عالمانو په قول دا چې دې مسلک ته خپله د شېخ محمد په نوم سره نسبت ورنکړے شو او ((محمديه)) ورته ونهٔ ويلې شول په دې وجه دي چې هسې نه د دې مذهب پېروکار د خداے د ګران رسول حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه و آله وسلم له سپېڅلي نوم مبارک سره د يو ډول شريکوالے پېدا کړي[1] او له دې نسبت نه ناوړه استفاده وکړي.

محمد بن عبدالوهاب په ۱۱۱۵ هجري قمري کال کښې د نجد سيمې په يو ښار «عُيَينَه» کښې سترګې پرانېستے، پلار يې د دغه ښار قاضي ؤ. شېخ له ماشومتوب څخه د تفسير، حديث او عقائدو د کتابونو له لوستلو سره ډېره دلچسپي لرله او حنبلي فقه يې له خپل پلار چې يو حنبلي عالم ؤ زده کړه. هغهٔ به د ځوانۍ له شروع څخه د نجد سيمې د خلقو زياتره مذهبي اعمال بد ګڼل. په يو سفر کښې چې د خانه کعبې د زيارت لپاره لاړ د مناسکو له ترسره کولو نه وروسته مدينې منورې ته لاړ. هلته يې د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له قبر مبارک سره نزدې له هغه حضرت سره د خلقو توسل او خداے پاک ته هغه وسيله کول ناخوښه وبلل. بيا دې نجد ته راستون شو او له هغه ځاے څخه بصرې ته لاړ په دې ارادې سره چې له بصرې نه به شام ته لاړ شي. يوه موده په بصره کښې پاتے شو او د خلقو له زياترو اعمالو سره يې په مخالفت لاس پورې کړ، خو د بصرې خلقو هغه له خپل ښار څخه وشړهٔ. د بصرې او زبېر ښارونو ترمېنځ په سفر کښې نزدې وه چې د ګرمۍ، تندې او پېاده تګ څخه هلاک شي، خو د زبېر سيمې يو سړي چې دې په عالمانه جامه کښې وليد نو د دهٔ د نجات کوشش يې وکړ،اوبهٔ يې ورته ورکړې او په مرکب يې کښېنوهٔ او زبېر ښار ته يې بوتهٔ. دهٔ غوښتل چې له زبېر څخه شام ته لاړ شي خو له دې امله چې د سفر کافي توښه او خرچ يې نهٔ لرهٔ احسا ښار ته لاړ او له هغه ځاے څخه بيا د نجد سيمې حريمله ښار ته لاړ. په دغه دوران کښې چې ۱۱۳۹ کال ؤ د پلار بدلي يې له عُيَينه نه حريمله ته شوې وه. شېخ له پلار سره شاګردي اختيار کړه اوله هغهٔ څخه يې يو شمېر کتابونه زده کړل او د نجد د خلقو له عقائدو سره په

[1] ـ دائرة المعارف فريد وجدي ، ج ۱۰ ، ص ۸۷۱ ، د المقتطف مجلې ، ج ۲۷ ، ص ۸۹۳ په نقل سره

مخالفت یې لاس پورې کړ چې په دې وجه د دۀ او د پلار ترمېنځ مخالفت او بحث او مباحثې شروع شوې، همدا رنګ د دۀ او د نجد د خلقو ترمېنځ سختې تنازعې رامنځته شوې او دې چارې څو کاله دوام وموند ان تردې چې په ۱۱۵۳ کال کښې یې پلار شېخ عبدالوهاب له دنیا سترګې پټې کړې.
شېخ محمد بن عبدالوهاب د پلار له وفات نه پس د خپلو عقائدو په څرګندولو او د خلقو له ځینو مذهبي عقائدو څخه په انکار لاس پورې کړ. د حریمله ښار یو شمېر کسانو یې پېروي شروع کړه او ورو ورو یې شهرت پېدا کړ. هغه له حریمله ښار نه عُیَینه ښار ته لاړ په دغو وختونو کښې د عیینې حاکم عثمان بن حمد ؤ. عثمان د دۀ ډېره قدرونه وکړه او اراده یې وکړه چې ملګرتیا او مرسته یې وکړي. شېخ یې هم په وړاندې د امیدوارۍ څرګندونه وکړه چې د نجد ټول خلق دې له عثمان بن حمد څخه اطاعت وکړي. د شېخ محمد بن عبدالوهاب د دعوت او د دۀ د کارونو خبر د احسا امیر ته ورسېد. هغۀ عثمان ته یو خط ولیکۀ او نتیجه یې دا شوه چې عثمان شېخ راوبلۀ او له هغۀ یې عذر وغوښت. شېخ محمد بن عبدالوهاب هغۀ ته وویل چې که له ما سره مرسته وکړې نو د ټول نجد مالک به شې ، خو عثمان ترې انکار وکړ او له عیینه ښار څخه یې وشړۀ. په ۱۱۲۰ کال کښې شېخ له دې وروسته چې له عیینه ښار څخه وشړلے شو د نجد مشهور ښار درعیه ته لاړ. په دغه دوران کښې په درعیه کښې محمد بن سعود ( د آل سعود نیکۀ ) امیر ؤ.شېخ د هغۀ ملاقات ته لاړ. امیر هغۀ ته د عزت له ورکولو نه علاوه هغۀ ته د خپلې مرستې او ښۀ سلوک زېرے ورکړ. شېخ هم هغۀ ته په ټول نجد سیمه باندې د غلبې زېرے ورکړ او په دا ډول د شېخ محمد بن عبدالوهاب او آل سعود ترمېنځ تعلق او ارتباط شروع شو.[1] په هغه وخت کښې چې شېخ محمد بن عبدالوهاب درعیه ته راغے او له محمد بن سعود سره یې موافقه وکړه د دغه ځاے خلقو په ډېره تنګسه او محتاجۍ کښې ژوند کوۀ.
آلوسي د ابن بشر نجدي له قوله نقلوي: « زۀ په اول ځل د درعیې د خلقو د تنګلاسۍ شاهد وم بیا مې د سعود په دور کښې دغه ښار ولید په داسې حال کښې چې خلق یې له زیات مال او دولت څخه برخور وو او وسلې یې په سیم او زر سره سینګار شوې وې، په اصیلو او قیمتي اسونو باندې به سوارۀ وو او قیمتي او له فخر ډکې جامې به یې اغوستې وې او د مال او ثروت ټول لوازم یې لرل په دا ډول چې ژبه یې د تفصیل له بیانولو څخه عاجزه ده. یوه ورځ د درعیې په یو بازار کښې د دې کتونکے وم چې ښځې یو طرف ته او سړي بل طرف ته وو په دغه بازار کښې سرۀ او سپین زر، وسلې، پسان، اسونه او قیمتي لباسونه، غوښې، غنم او نور قیمتي سامانونه دومره زیات وو چې ژبه یې نۀ شي بیانولې. تر کومې چې نظر کار کوۀ بازار لېدے شو او ما به د خرڅوونکو او اخېستونکو چغې اورېدې چې د شاتو د مچیو د بنګار په شان په فضا کښې تاوېدې چې یو به ویل خرڅ مې کړ او بل به ویل وامې خېست.»[2]
خو ابن بشر دا تفصیل نۀ دے بیان کړے چې دا دومره مال او دولت له کومه ځایه پېدا شوے ؤ. خو د تاریخ له سیاق نه معلومېږي چې د نجد د نورو ښارونو او قبائلو په مسلمانانو باندې (د هغۀ د عقائدو د نۀ منلو په جرم) د

---

[1] ـ یو عثماني لیکوال د خپل «تاریخ بغداد» په ۱۵۲ مخ کښې د شېخ محمد بن عبدالوهات او آل سعود رابطه په بل ډول لیکلې ده خو هغه څه چې دلته ولیکل شول ډېر صحیح ښکاري.
[2] ـ تاریخ ابن بشر نجدي .

حملو او د هغوي د مالونو له لوټلو او په غنیمت اخېستلو څخه ترلاسه شوے ؤ. او د جنګي غنیمتونو چې د دغه ټاټوبي له مسلمانانو څخه به یې نیوۀ په اړه د شېخ محمد بن عبدالوهاب طریقه دا وه چې هغه به یې په خپله خوښه خرچ کول او کله کله به یې د غنیمت ټول مالونه چې په جنګ کښې به ورته ترلاسه کېدل او مقدار به یې هم ډېر زیات ؤ یوازې به یې دوو یا دریو تنو ته وربخښئ او د غنیمت ټول مال به د شېخ په اختیار کښې ؤ او د نجد امیر به هم د هغۀ په اجازې سره برخه اخېسته.

د شېخ ابن عبدالوهاب د ژوند تر ټول کمزورے ټکے دا دے چې له هغو مسلمانانو سره به یې چې د دۀ د دروغو عقائدو پېروي یې نۀ کوله د «حربي کافرو» سلوک کوۀ او د هغوي د مال ، سر او ناموس لپاره د څه ارزښت قائل نۀ ؤ.

لنډه دا چې محمد بن عبدالوهاب نجدي به خلق توحید ته رابلل، خو هغه غلط توحید چې هغۀ به ویلو او هر چا چې به ومنلو نو وینه او مال به یې په امان کښې وو ګڼې د حربي کافرانو په شان به حلال اومباح وو. هغه جنګونه چې وهابیانو به په نجد او له دغه سیمې څخه بهر لکه په یمن، حجاز او د عراق او سوریې په خواوشا کښې کول په همدې بنیاد وو. په هر یو ښار باندې به یې چې په جنګ سره غلبه پېدا کوله هغه ښار به په دوي باندې حلال ؤ. که کولې به یې شول نو هغه ښار به یې په خپل تصرف او ملکیت کښې راوستۀ ګڼې د غنیمت هغه مال باندې به یې چې یې ترلاسه کړے ؤ بسنه کوله.[1]

هغه کسان چې د دۀ عقائد به یې منل او د دۀ دعوت به یې قبلوۀ نو لازمي وه چې ورسره بیعت وکړي او که څوک به یې مقابلې ته راپاڅېدل نو وژل کېدل به او مالونه به یې د غنیمت په توګه تقسیمېدل. د دغې طریقې له مخې مثلاً د احسا ښار د یو کلي چې «فصول» نومېدۀ درې سوه تنه یې ووژل او د هغوي مالونه حالونه یې ولوټل.[2]

ابن عبدالوهاب په ۱۲۰۲ کال کښې مړ شو.[3] له دۀ نه وروسته د دۀ پېروکارو هم د دۀ طریقې او روش ته دوام ورکړ. مثلاً په ۱۲۱۶ کال کښې امیر سعود وهابي د شلو زرو سورو جنګي کسانو یو لښکر سنبال کړ او په کربلا ښار باندې یې حمله وکړه. کربلا په دغو وختونو کښې ډېره مشهوره وه او ډېر عظمت یې لرۀ او ډېر ایراني، ترک او عرب زیارت کوونکي به ورته راتلل. سعود د ښار له محاصره کولو نه پس بالاخره ښار ته ننوت او د هغه ښار د اوسېدونکو او دفاع کوونکو سخت قتل عام یې وکړ. وهابي لښکر په کربلا کښې دومره رسوائي رامنځته کړه چې بیانول یې په ژبه نه راځي. پنځۀ زره کسان (ځینو دا شمېر تر شل زرو پورې هم لیکلے دے) یې قتل عام کړل. کله چې امیر سعود له جنګي کارونو نه فارغ شو نو د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قدرمن نمسي حضرت امام حسېن علیه السلام د زیارت قیمتي خزانو ته متوجه شو. دغه خزانې له قیمتي څیزونو او مالونو څخه ډکې وې. دۀ چې هلته څه موندل ټول یې لوټ کړل او له ځان سره یې یوړل.او کربلا له دې واقعې نه پس په داسې حالت کښې راغله چې شاعرانو به یې مرثیې وېلې.[4] وهابیانو به دغه شان له دولسو کالو نه تر زیاتې مودې پورې کله نا کله په کربلا ښار او د هغۀ په خواوشا سیمو او همدا رنګ په نجف ښار باندې حملې

---

[1] ـ جزیرة العرب في القرن العشرین ، ۳۴۱ مخ
[2] ـ تاریخ المملکة العربیة السعودیه ، ۱ ټوک ۵۱ مخ
[3] ـ د شېخ د پېدائش او وفات په تاریخ کښې له دې نه علاوه قولونه هم شته لکه: ۱۱۱۵ او ۱۲۰۶
[4] ـ تاریخ کربلا و حائر حسین (علیه السلام) ، ۱۷۴ـ۱۷۲ مخونه

کولې او لوټمار به یې کوۀ. د دغو حملو وړومبۍ مرحله هم هغه د ۱۲۱۶ کال ۀ چې تفصیل یې بیان شو. د شیعه لیکوالانو د لیکنې له مخې دغه حمله د غدیر خم د اختر په ورځ ترسره شوه.

اروابناد علامه سید محمد جواد عاملي د خپل «مفتاح الکرامه» غونډې ارزښتناک فقهي کتاب د اوم ټوک په اخیر کښې لیکي: «د کتاب دا برخه د ۱۲۲۵ کال د روژې د مبارکې میاشتې د نهمې نېټې له نیمې شپې نه پس د لیکوال په لاس ختمه شوه، په داسې حال کښې چې زړۀ مې په اندېښنه او تشویش کښې ۀ، ځکه چې عنېزه عرب چې وهابیان دي د نجف اشرف او د امام حسېن علیه السلام د زیارت خواو شا سیمې قبضه کړې دي، ټولې لارې یې تړلې دي او هغه زائران یې چې د شوقدر د میاشتې له پنځلسمې نه پس خپل وطن ته ستنېدل لوټ کړل او له هغوي څخه زیات کسان یې (چې زیاتره یې ایراني زائران وو) قتل عام کړل. ویل کیږي چې د وژل شویو شمېر یو نیم سل تنه ۀ البته ځینو له دې نه لږ کم یاد کړي دي[1]

هغه توحید چې شیخ محمدبن عبدالوهاب نجدي او د هغۀ پیروکارو به خلق ورته رابلل او هر کس چې به نه منۀ نو د هغۀ سر او مال به یې مباح ګڼۀ دا چې د ځینو ایتونو او احادیثو له ظاهر څخه به یې په پیروۍ سره د خدا ے لپاره جسم او بدن ثابتوۀ.او د هغه ذات لپاره به یې د بدن غړي او اندامونه ګڼل.

آلوسي په دې حقله لیکلي دي: «وهابیان له ابن تیمیه څخه په پیروۍ سره هغه حدیثونه چې د دنیا اسمان (وړومبي اسمان) ته د خدا ے پاک په راکوزېدو باندې دلالت کوي تصدیق کوي او وائي: «خدا ے له عرش څخه د دنیا اسمان ته راکوزیږي» او بندګانو ته وائي: «هَلْ مِنْ مُسْتَغْفِر» «ایا څوک استغفار کوونکي شته چې له خپلو ګناهونو څخه بخښنه وغواړي؟» او دوي همدا رنګ په دې باندې اقرار کوي چې د قیامت په ورځ به خدا ے د محشر مېدان ته راځي ځکه چې خپله یې فرمایلي دي: «وَجاءَ رَبُّکَ والْمَلَکَ صَفّاً صَفّاً» [2] او دغه خدا ے به خپل هر یو مخلوق ته هر ډول چې وغواړي نزدې کیږي لکه چې خپله یې فرمایلي دي: «وَنَحْنُ أقْرَبُ اِلَیْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرید»[3]

ابن تیمیه هم هغه ډول چې د هغۀ له کتاب «الرد علي الاخنائي» نه څرګنده ده د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له زیارت سره متعلق حدیثونه جعلي بللي دي او ویلي یې دي: «که څوک عقیده لري چې د هغه حضرت صلی الله علیه و آله وسلم وجود له وفات نه پس د هغۀ د ژوند د وجود په شان دے نو د یوې لوې غلطۍ مرتکب شوے دے» او داسې خبره بیا شیخ ابن عبدالوهاب نجدي او د هغۀ پیروکارو لا زیاته په سختۍ سره کړې ده. د وهابیانو باطل عقائد او خبرې د دې سبب شوې دي چې هغه کسان چې اسلام یې د دوي په نظرسره مطالعه کړے دے وائي چې اسلام یو اوچ کړس او جامد دین دے او د ټولو وختونو په کار نۀ راځي.

لوټروپ ستیوډرډ وائي: «وهابیان په تعصب کښې د افراط په لاره تلي دي او د دغو چارو په وجه یوه نکته چینه ډله راپاڅېدلې او د وهابیانو هغه نعره یې اوچته کړې ده چې د اسلام حقیقت او طبیعت د زمانې له تقاضو سره

---

[1] ـ مفتاح الکرامه، ۷ ټوک، ۶۵۳ مخ

[2] ـ سورۀ فجر: ۲۳ ایت

[3] ـ تاریخ نجد آلوسي، ۹۱ ـ ۹۰ مخونه او همدا رنګ په دې حقله دې « العقیدة الحمویه » رسالې ته چې ابن تیمیه لیکلې ده مراجعه وشي..

سمون نهٔ خوري او د ټولنې او معاشرې احوالو، ترقۍ او بدلونونو سره مطابقت نهٔ لري او د وخت له بدلېدو سره سازګار نهٔ دے.)) [1]

له هم هغه وخت نه چې ابن عبدالوهاب خپل عقائد څرګند او خلق يې د هغو منلو ته راوبلل نو ګڼ شمېر لوے لوے عالمانو يې په مخالفت لاس پورې کړ. وړومبني کسان چې په ډېرې سختۍ سره يې مخالفت ته راپاڅېدل د هغهٔ پلار عبدالوهاب او ورپسې يې ورور شېخ سليمان بن عبدالوهاب وو چې دواړه له حنبلي عالمانو څخه وو. شېخ سليمان د «الصواعق الإلهيه في الرد علي الوهابيه» عنوان لاندې يو کتاب وليکهٔ چې پکښې يې د خپل ورور عقائد په سختۍ سره رد کړل.

زيني دحلان وائي: (( د شېخ محمد پلار عبدالوهاب د علم له خاوندانو څخه يو صالح کس ؤ او ورور سليمان يې هم د علم له خاوندانو څخه ؤ. له هغه وخته چې شېخ محمد په مدينه کښې په درس زده کولو باندې بوخت ؤ شېخ عبدالوهاب او شېخ سليمان د دهٔ له خبرو او کارونو څخه په دې پوه شوي ووچې د دا ډول دعوې لري نو له دې امله به يې رټلو اوخلق به يې له دهٔ څخه خبردارول او ويرول.)) [2]

عباس محمود عقاد وائي:((د شېخ محمد بن عبدالوهات تر ټولو لوے مخالف د هغهٔ ورور شېخ سليمان دے چې د الصواعق الالهيه کتاب خاوند دے.)) عقاد همدا رنګ زياتوي: د شېخ محمد ورور شېخ سليمان چې د هغهٔ ډېر سخت مخالف ؤ له دې سره سره چې د خپل ورور عقائد به يې په سختۍ سره ردول ليکي: هغه چارې چې وهابيان يې د شرک او کفر سبب ګڼي او د مسلمانانو د سر او مال د مباح کېدو بهانه يې ګڼي د مسلمانانو د امامانو په وختونو کښې يې وجود لرهٔ خو د اسلام له يو امام څخه هم اورېدل شوي يا روايت شوي نهٔ دي چې د دا ډول اعمالو تر سره کوونکي يې کافران يا مرتدان ګڼلي وي او يا يې د هغوي په خلاف د جهاد حکم ورکړے وي او يا د مسلمانانو هېوادونه او سيمې لکه چې تهٔ يې وائې د کفر او شرک هېوادونه او سيمې ګڼلې وي)) [2]

په اخېر کښې پکار دي په دې خبره ځان پوه کړو چې ابن عبدالوهاب نجدي د وهابيانو د عقائدو موجد او وړومبے راوړوونکے نهٔ دے بلکې له هغهٔ نه پېړۍ پېړۍ مخکښې دغه عقائد په مختلفو شکلونو کښې د ابن تيميه او د هغهٔ د شاګرد ابن قيم په شان کسانو له خوا څرګند شوي وو خو د مذهب په شکل کښې نهٔ وو راغلي او زيات پلويان او حاميان يې نهٔ لرل. ابو عباس احمد بن عبدالحليم چې په ابن تېميه باندې مشهور ؤ له حنبلي علماؤ څخه دے چې په ۷۲۸ هجري قمري کال کښې وفات شو. په دې وجه چې هغهٔ به د اسلام د عامو فرقو د اعتقاداتو په خلاف عقائد څرګندول په متواتره توګه د نورو عالمانو له مخالفتونو سره مخامخ ؤ. کله چې ابن تېميه خپل عقائد څرګند کړل او په دې حقله يې يو شمېر کتابونه خپاره کړل نو د فساد له خپرېدو څخه د مخنيوي په خاطر د مسلمانو عالمانو په خاصه توګه د سني علماؤ له خوا دوو کارونو بڼه ونيوه:

الف- د هغهٔ په عقائدو او نظرياتو باندې په نيوکې او تنقيد کښې يو لړ کتابونه خپارهٔ شول چې ځينو ته پکښې اشاره کوو:

---

[1] ـ حاضر العالم الاسلامي ، ۱ ټوک، ۲٦٤ مخ

[2] ـ الاسلام في القرن العشرين ، ۱۳۷ ـ ۱۲٦ مخونه

۱ ـ « شفاء السقام في زيارة قبر خيرالانام » ليک: تقي الدين سبکي .
۲ ـ « الدرة المضيئة في الرد على ابن تيميه » ليک: تقي الدين سبکي.
۳ ـ « المقالة المرضيه » ، ليک: د مالکي مسلک قاضي القضات ، « تقي الدين أبوعبدالله اخنائي . »
٤ ـ « نجم المهتدي و رجم المقتدي » ، ليک: فخر بن معلم قرشي .
٥ ـ « دفع الشبهه » ، ليک: تقي الدين الحصني .
٦ ـ « التحفة المختاره في الرّد علي منکر الزياره » ، ليک: تاج الدين .

دا او داسې نور هغه ردونه دي چې د ابن تېميه په عقائدو باندې د اسلام د لويو لويو عالمانو لخوا ليکل شوي دي او د هغهٔ د نظرياتو چتې توب او بې بنيادي والے يې څرګند او په ډاګه کړے دے.

ب- د هغهٔ په دور کښې لوے لوے فتوا ورکوونکي مراجع د هغهٔ تفسيق او کله کله د هغهٔ تکفيرولو ته راپاڅېدل او د دهٔ بدعت رامنځته کونې يې خلقو ته په ډاګه کړې. کله چې د خداے د ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم د روضې مبارکې د زيارت په حقله د دهٔ عقائد د مصر قاضي القضات بدر بن جماعه ته وليکل شو نو هغهٔ د پاڼې په اخېر کښې وليکل: «د خداے د ګران رسول (ص) د روضې مبارکې زيارت کول فضيلت او سنت دے او ټول علماء پرې د نظر اتفاق لري. هغه کس چې د پېغمبراکرم صلى الله عليه و آله وسلم د روضې مبارکې زيارت حرام ګڼي پکار دي د علماؤ لخوا ورټلے او وغندلے شي او له دا ډول خبرو کولو څخه منعې کړې شي او کهٔ څه اثر پرې ونکړي نو پکار دي بندي کړې شي او خلقو ته دې په ګوته کړې شي چې د دهٔ پېروي ونکړي.»
نهٔ يوازې د شافعي فرقې قاضي القضات د دهٔ په حقله داسې فتوا ورکړه بلکې په مصر کښې د دريو نورو مذهبونو قاضي القضاتو هم په مختلفو طريقو سره د شافعي مذهب د قاضي القضات فتوا تائيده کړه. چې تفصيل يې د تقي الدين الحصني په «دفع الشبهه» نومې کتاب کښې کتلې شئ.
له دې څخه په تېرېدو خپله د هغهٔ د دور مشهور ليکوال علامه ذهبي چې د اتمي هجري پېړۍ له سترو ليکوالانو څخه دے او په تاريخ او رجال کښې يو شمېر ارزښتناک اثار لري د دوستانو په خط کښې چې ابن تېميه ته يې ليکلے دے هغه د فساد او ضلالت په خپرولو کښې د حجاج برابر بللے دے. دغه ليک د «تکملة السيف الصيقل» مولف د خپل کتاب په ۱۹۰ مخ کښې راوړے دے او اروابناد علامه اميني يې هم متن د «الغدير» کتاب په پنځم ټوک کښې له ۸۷ نه تر ۸۹ مخونو کښې نقل کړے دے. دلچسپې لرونکي يې هلته کتې شي.
د ابن تېميه شر او بدبختي په ۷۲۸ کال کښې د شام په بند کښې د هغهٔ په مرګ سره ختمه شوه او د هغهٔ مشهور شاګرد ابن قيم که څه هم د خپل استاد د افکارو په خپرولو او ترويجولو لاس پورې کړ خو په وروستو زمانو کښې د داسې افکارو او نظرياتو څه اثر نهٔ ؤ ان تردې چې د شېخ عبدالوهاب زوے د ابن تېميه د افکارو تر تاثير لاندې راغے او آل سعود په نجد سيمه کښې د خپلې باچائۍ د بنيادونو د مضبوطولو لپاره له هغهٔ څخه ملاتړ شروع کړ چې په نتيجه کښې يو ځل بيا د ابن تېميه موروثي عقائدو د نجد د ځينو خلقو په مازغو کښې غوټۍ وسپړېدې او په اوچو کړسو تعصباتو او له بده مرغه د «توحيد» په نامه يې «له مشرکانو او کافرانو سره جهاد» تر عنوان لاندې د مسلمانانو او موحدانو د وينو سېلاب روان کړ او په زرګونو بې ګناه مسلمان سړي، ښځې او ماشومان يې قتل عام کړل او يو ځل بيا يوه نوې فرقه د مسلمانانو په ټولنه کښې راڅرګنده شوه او د وخت

بدمرغي دومره زياته شوه چې حرمېن شريفېن د دغې ډلې په قبضه کښې راغلل او نجديان او وهابيان له برطانيې او د وخت له نورو سپر طاقتونو سره د ساز باز په اثر د عثماني امپراطورۍ د پاشل کېدو او د سپر طاقتونو تر مېنځ د عربي هېوادونو د تقسيم په بيناد په مکه معظمه او مدينه منوره او نورو اسلامي اثارو باندې قابض شول او د اسلامي اثارو او اصالتونو د نابودولو او د الهي ځايونو او پاکو او مقدسو قبرونو او مزارونو د وېجاړولو لپاره يې له حد نه زيات کوششونه وکړل.

په دې دوران کښې شيعه عالمانو د ابن عبدالوهاب نجدي په عقائدو او نظرياتو باندې په نيوکه کښې له سني عالمانو سره اوږه په اوږه زيات کوششونه وکړل او دواړو مسلمانو ډلو په ښه او غوره طريقه منطقي او علمي جهاد شروع کړ وړومبنے رد چې د سني علماؤ لخوا د ابن عبدالوهاب نجدي په عقائدو باندې وليکلے شو«الصواعق الالهيه في الرّد علي الوهابيه» نومې کتاب ؤ چې د ابن عبدالوهاب د ورور شېخ سلېمان په قلم سره ؤ. او وړومبنے کتاب چې د شيعه عالمانو لخوا د ابن عبدالوهاب د عقائدو په رد کښې وليکلے شو«منهج الرشاد» کتاب دے او ليکوال يې اروابناد علامه شېخ جعفر کاشف الغطاء دے چې په ۱۲۲۸ کال کښې وفات شو. هغۀ دا کتاب د هغې رسالې په ځواب کښې چې د آل سعود يو باچا عبدالعزيز بن سعود هغۀ ته لېږلې وه وليکۀ په دغه رساله کښې د ابن عبدالوهاب نجدي ټول عقائد راغونډ کړے شوي وو. دا کتاب په ۱۳۴۳ هجري قمري کال کښې په نجف اشرف ښار کښې چاپ شوے دے. له دغه شخصيت نه پس په سيمه کښې د وهابيت د حرکتونو په مناسبت سره زياتې علمي نيوکې وليکلې شوې او مهمه برخه يې چاپ شوې ده خو همدا اوس وهابي حرکتونه د هغه زيات مال او ثروت په اثر چې وهابيان يې د تېلو د خرڅولو له لارې تر لاسه کوي زيات شوي دي. او داسې کال او حتی مياشت به نۀ وي چې د دوي لخوا په اسلامي مقدساتو باندې يو ډول حمله نۀ وي شوې او هره ورځ په يوه طريقه اسلامي اثار له منځه نۀ وي تللي. هغه څيز چې د دوي حرکت يې چټکه کړے دے د پردې شا ته د هغوي د هغو مغربي اربابانو هم هغه اشارتونه دي چې له نړيوال کميونزم نه زيات د مسلمانانو له وحدت او يووالي نه ويرېږي او له دې نه علاوه نورې داسې څه چارې نۀ وينې چې د دين سازۍ او دين تراشۍ بازار ګرم کړي او د تېلو د پېسو يوه برخه چې د سعودي وهابي حکومت ته يې ادا کوي په دې طريقې سره تلافي کړي او بالاخره د مسلمانانو له وحدت او يووالي څخه په سختۍ سره مخنيوے وکړي.او هغوي د يو بل په تفسيقولو او تکفيرولو باندې مشغول وساتي.

مونږ په دې کتاب کښې کوشش کړے دے چې د وهابيانو، سلفيانو او تکفيري ډلې عقائد په دائره کښې راولو او د قلم په څوکه ترې د ابهاماتو پرده اوچته کړو او دا خبره په ډاګه کړو چې د نړۍ د ټولو مسلمانانو عقائد له کتاب او سنت څخه اخېستې شوي دي او د وهابيانو د فطرت خلاف اعمال او حرکات د قران مجيد او د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د سنتو په خلاف دي او په دې حقله به د بيان د لنډوالي خيال ساتو.

*****

# دويم باب

## وهابيان او د خدا ے د اولياو د قبرونو تعمير

له هغو مسائلو څخه چې وهابيان ورسره يو خاص حساسيت لري د الهي پېغمبرانو، اولياؤ او صالحانو د قبرونو تعميرول او په هغو باندې د زيارتي ودانيو او ګنبدونو وغېره جوړول دي. تر ټولو وړومبې دا مسئله ابن تېميه او دهغهٔ شاګرد ابن قيم وڅېړله او د دغه ډول ودانيو د جوړولو په حرام والي او د هغو د ويجاړولو او ورانولو په روا والي يې فتوې ورکړې.

ابن قيم په «زاد المعاد في هدى خير العباد» کتاب[1] کښې وائي:

«د هغو ودانيو ورانول چې په قبرونو باندې جوړې کړې شوي دي فرض دي او د هغو د ورانولو او ويجاړولو د قدرت او توان له لرلو نه پس د هغو باقي ساتل حتى د يوې ورځې لپاره هم جائز نهٔ دي.[2]

په ۱۳۴۴ هجري قمري کال کښې چې سعوديانو په مکه معظمه، مدينه منوره او د هغو په خواوشا سيمو باندې تسلط پېدا کړ نو په دې فکر کښې شول چې په جنت البقيع اديره کښې د خدا ے د ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم د پاک خاندان، صحابه کرامو او شهيدانو د مزارونو او قبرونو د ويجاړولو لپاره څه جواز ترلاسه کړي او د مدينې له علماؤ څخه د فتوې په اخېستو سره د هغو د ورانولو لار اواره کړي او د حجاز د خلقو عامه افکار چې هيڅ کله له دغو غېر اسلامي کارونو سره موافق نهٔ وو د دې کار لپاره تيار کړي. له دې امله يې د نجد قاضي القضات سليمان بن بليهد مدينې ته ولېږهٔ چې هغه د وهابيانو د نظر وړ مسائل د هغه ځا ے له علماو څخه ترلاسه کړي. نو ځکه هغهٔ استفتاء يا پوښتنې په دا ډول برابرې کړې چې ځواب يې خپله د وهابيانو د نظريې مطابق په هغو کښې ځا ے کړ ے ؤ او له دې لارې يې مفتيانو ته اعلان وکړ چې پکار دي ځواب يې د هغو ځوابونو مطابق چې په پوښتنو کښې راغلي دي برابر کړي او که داسې يې ونکړل نو په شرک باندې به تورن کړې شي او که توبه يې ونکړه نو قتل به شي. دغه پوښتنې او ځوابونه له مکې څخه د خپرېدونکې جريدې «ام القرا» د ۱۳۴۴ کال د وړوکي اختر په ګڼه کښې خپارهٔ شول.[3] د دې په خپرېدو سره په سني او شيعه مسلمانانو کښې يوه

---

[1] ـ زاد المعاد ، ٦٦١ مخ

[2] ـ «يَجِبُ هَدْمُ المَشاهِدِ الّتي بُنِيَتْ علي القُبور ، ولا يَجُوزُ إبقاءُها بَعد القُدْرَة علي هَدْمِها وإبْطالِها يوماً واحداً»

[3] ـ اروابناد آقا بزرګ تهراني د «الذريعه» کتاب د ۸ ټوک په ۲۲۱ مخ کښې ليکي: وهابيانو د ۱۳۴۳ کال د وړومبۍ خور په ۱۵ نېټه په حجاز باندې تسلط پېدا کړ او د ۱۳۴۳ کال د وړوکي اختر په اتمه نېټه يې په جنت البقيع اديره کښې د پاکو اهلبېټو امامانو او

غوغا راوچته شوه، ځکه چې ټول په دې باندې پوه شول چې د فتوې له حاصلولو وروسته که څه هم په رعب او ګوابښ سره حاصله شي د اسلام د قدرمنو او مقدسو شخصيتونو د قبرونو او مزارونو د ورانولو کار به شروع شي چې هم هغه شان وشول. د مدينې له پنځلسو عالمانو څخه د فتوې له ترلاسه کولو او په حجاز کښې د هغې له خپرولو نه پس د رسالت د کورنۍ د اثارو او مقدساتو د ويجاړولو کار د وړوکي اختر د مياشتې په اتمه نېټه شروع شو او دغه شان د خدا ے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د پاکو اهلبېتو عليهم السلام او قدرمنو صحابه کرامو رضي الله عنهم ټول مقدسات له منځه لړې کړې شول او د جنت البقيع د امامانو د حرم ارزښتناکه سرمايه ولوټلې شوه او د جنت البقيع هغه روحاني ماحول يې په يو بيابان باندې بدل کړ چې انسان يې په کتو سره ډېر غمجن کيږي.

اوس به د هغو پوښتنو يوه برخه وړاندې کړو چې دا خبره په ډاګه شي چې پوښتنې کوونکي څه ډول د سوالونو ځوابونه هم په هغو پوښتنو کښې ځا ے کړي دي. يعنې هدف نۀ يوازې استفتاء او د هغې ځواب نۀ ؤ بلکې مقصد يې د عوامو په وړاندې د رسالت د مقدسو اثارو د ورانولو لپاره د يو جواز وړاندې کول وو. که په رښتيا مقصد يې حقيقت پېژندنه او ځان پوهونه وه نو پکار نۀ وو چې د مسئلې پوښتنه کوونکے ځواب خپله په سوال کښې ځا ے کړي، بلکې له قرائنو څخه دا خبره ثابتيږي چې سوال او ځواب يې له مخکښې نه په کاغذ باندې برابر کړي وو او يوازې د دستخط اخېستو لپاره يې د مدينې علماؤ ته وړي وو. ځکه چې دا کېدې نۀ شي چې د مدينې د هغو مشهورو علماؤ چې کلونه کلونه خپله هغوي او د هغوي پلار نيکونه د نبوي آثارو او مقدساتو ساتونکي او مروجوونکي او د هغو د زيارت کوونکو خدمتګاران وو يک دم يې نظريه او فکر بدل شي او د مزارونو او مقدسو ځايونو په حرام والي او د هغو د ورانولو او ويجاړولو په روا والي باندې فتوا ورکړي!

سليمان بليهد په خپله پوښتنه کښې داسې وائي:

«ما قَوْلُ علماءِ المدينةِ المنوّرةِ زادَهُم اللهُ فَهْماً وعِلْماً في البناء عَلَي القُبُورِ واتّخاذها مَساجِدَ هلْ هوَ جائزٌ أوْ لا وإذا كانَ غيرَ جائز بَل مَمْنوعٌ منهيٌّ عنه نهياً شديداً فهل يَجِبُ هدَمُها و منعُ الصَلاةَ عنْدَها أَم لا . وَإذا كانَ البناء في مَسْبَلَة كالبقيع وهُو مانعٌ من الانتفاع بالمقدار المبنيّ عليه فهلْ هوَ غَصْبٌ يَجِبُ رَفْعُهُ لِما فيه مِنْ ظُلْمِ المُسْتَحِقّينَ ومَنْعِهِمُ استح قاقَهُم أمْ لا ؟»

«د مدينې منورې علماء چې خدا ے دې علم او پوهه نوره زياته کړي په قبرونو باندې د ودانيو د جوړولو او هغه د عبادت ځايونه ګرځولو په باره کښې څه وائي: ايا جائز دي يا نه؟ او که جائز نۀ وي ځکه چې په اسلام کښې سخت منعې کړې شوي دي، ايا د هغو ويجاړول او ورانول او د هغو په خوا کښې د نمونځونوکولو مخنيو ے ضروري او واجب د ے يا نه؟ او که د بقيع غوندې په يوې وقف شوې زمکه کښې چې د قبرونو د پاسه ودانۍ

---

صحابه کرامو مزارونه ويجاړ کړل، په داسې حال چې ام القرا جريدې د مزارونو د ورانولو په اړه استفتاء او د هغې ځواب د ۱۳۴۴ کال د وړوکي اختر په ۱۷ ګڼه کښې خپور کړ او د مدينې د علماؤ ځواب يې د روژې د مياشتې ۲۵ نېټه ټاکلې ده. نو پکار دي ووايو چې د وهابيانو تسلط او د مزارونو ويجاړول دواړه په ۱۳۴۴ کال کښې ترسره شوي دي. او اروابناد سيد محسن امين د وهابيانو د مکمل تسلط او د مزارونو د ويجاړولو کال ۱۳۴۴ هجري قمري بللے د ے. د» کشف الارتيات» کتاب له ۵۲ نه تر ۲۰ مخونو ته رجوع وکړئ.

جوړې شوي دي او د هغې د ځينو برخو د استفادې څخه جوړې شوې دي، ايا دا كار د وقف شوې زمكې د يو برخې غصب كول نهٔ دي؟ چې پكار دي زر تر زره رفع شي چې هغه ظلم چې په مستحق باندې شوے دے له منځه لاړ شي.؟»
د مدينې منورې علماؤ له رعب ، زور او ګواښ نه په ډک ماحول كښې د سليمان پوښتنې ته داسې ځواب وويلو:

«امّا البناءُ علَي القُبورِ وفَهَو ممنوعٌ اجماعاً لصحّة الأحاديث الواردة في مَنعه ولَهذا افْتي كثيرٌ من العلماء بِوجوب هدْمه مُسْتَندين بِحديث علي ـ رضِي الله عنه ـ إنه قال : لأبي الهَيّاج اَلا أبْعَثُکَ عَلي ما بعثَني عَليهِ رسولُ الله ـ صلّي الله عليه وآله وسلّم ـ اَن لا تَدَعْ تِمثالا الاّ طَمَسْتَه ولا قَبراً مُشرِفاً الاّ سَوّيْتَه.»
«په قبرونو باندې د ودانيو د جوړولو ممنوعيت اتفاقي دے د هغو حديثونو په ګواهۍ سره چې د هغو په ممنوعيت باندې دلالت كوي. له دې امله يوې ډلې يې په ورانولو او ويجاړولو باندې فتوا وركړې ده او په دې لړ كښې په هغه حديث سره چې ابي الهياج له حضرت علي (رض) څخه نقل كړے دے استناد لټوي. حضرت علي هغهٔ ته وويل چې زهٔ تا په يو داسې كار باندې ګمارم چې د خدا ے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم زهٔ د هغهٔ لپاره ګمارلے وم چې هيڅ يو تصوير به نهٔ وينې مګر دا چې هغه له منځه يوسې او هيڅ قبر به نهٔ وينې مګر دا چې هغه برابر او مساوي كړې.»
شيخ نجدي په هغو مقالو كښې چې د ام القرا مجلې د ۱۳۴۵ كال د څلورمې خور د مياشتې په ګڼه كښې يې خپرې كړې وائي: «په قبرونو باندې د ودانيو او ګنبدونو جوړول له پنځمې هجري پېړۍ نه معمول ګرځېدلے دے.»
دا هم د قبرونو د تعميرولو په اړه د وهابيانو د وېناؤ څو نمونې دي او دوي غالباً په خپلو ليكنو كښې په دوو دليلونو باندې تكيه كوي:
۱- د هغو په حرام والي باندې د مسلمانو علماؤ اتفاق
۲- له اميرالمومنين حضرت امام علي عليه السلام څخه د ابي الهياج حديث او د دې په شان ځينې نور روايتونه.
نو پكار دي دې ته پاملرنه وكړو چې اوس زمونږ بحث د قبرونو د تعمير، په هغو باندې د څپرونو، چتونو او ودانيو د جوړولو په حقله دے، البته د قبرونو زيارتونو ته د تلو په موضوع به يو بيل بحث ولرو.
د موضوع د لا زيات وضاحت لپاره به څو بحثونه وڅېړو:
* د قبر د پاسه د ودانۍ وغېره د جوړولو په باره كښې د قران مجيد نظر څه دے، ايا حكم يې د قران له نظره تر لاسه كولې شو؟
* ايا اسلامي امت په رښتيا سره د هغو په حرام والي باندې اتفاق لري، يا په ټولو اسلامي دورونو كښې قضيه د دې په اپوټه ده او خپله د پېغمبراكرم صلى الله عليه و آله وسلم او د هغوي د صحابه كرامو (رض) په دور كښې د قبرونو تعمير او په هغو باندې ودانيو او څپرونو جوړولو شتون لرلے دے؟
* د ابي الهياج له حديث نه چې وهابي ډله يې استعمالوي مراد څه دے؟
* د حضرت جابر، حضرت ام سلمه او حضرت ناعم رضي الله عنهم له حديثونو نه مراد څه دے؟

## ۱- د قبرونو د تعمير په باره کښې د قران مجيد نظريه

قران په خاصه توګه په دې موضوع باندې نيوکه او اعتراض نۀ دے کړے. خو په عين حال کښې د موضوع حکم له هغو کلياتو څخه چې په قران مجيد کښې راغلي دي استفاده کولې شو. اوس د دې برخې بيان ته پام وکړئ:

### الف- د اولياء الله د قبرونو تعمير او حفاظت د الهي شعائرو تعظيم دے؟

قران مجيد د الهي شعائرو تعظيم د زړونو د تقوا او په زړونو باندې د تقوا او پرهيزګارۍ تسلط ګڼي، لکه چې فرمائي: «وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللهِ فَاِنَّها مِنْ تَقْوَي الْقُلُوبِ» [۱] يعنې ((هر چا چې د الهي شعائرو تعظيم او تکريم وکړ نو هغه د زړونو د تقوا نښه ده.))

د الهي شعائرو له تعظيم او احترام نه مراد څه دے؟ ((شعائر)) د ((شعيره)) جمع او د ((علامت او نښې نښانې)) په معنا دے. په مبارک ايت کښې مراد د خدا ے پاک د موجوديت نښې نښانې نۀ دي،ځکه چې ټول عالم د هغۀ د موجودګۍ نښه ده او هيچا نۀ دي ويلي چې د هر هغه څيز چې په کائناتو کښې دے تعظيم او احترام د تقوا نښه ده. بلکې د هغۀ د دين نښې نښانې ترې مراد دے، لکه مفسران ايت مبارک داسې تفسيروي: ((مَعالِمَ دين الله))، ((د خدا ے پاک د دين نښې نښانې))[۲]

که په قران مجيد کښې صفا او مروه [۳] او هغه اوښ چې د حلالولو لپاره د منا په لور بوتلې شي[۴] له الهي شعائرو څخه ګڼل شوي دي نو په دې وجه دي چې دا د اسلام د مبين دين او د حضرت ابراهيم عليه السلام د آئين نښې نښانې دي. که مُزْدَلِفې ته « مَشْعَر » ويل کيږي په دې خاطر دي چې هغه د الهي دين نښه ده او هلته کښې وقوف او حصاربدل په دين باندې د عمل او د خدا ے پاک د اطاعت نښه ده.

که په مجموعي توګه د حج مناسکو ته ((شعائر)) ويل کيږي نو په دې خاطر دي چې دا ټول اعمال د توحيد او دين حنيف نښې نښانې دي.

لنډه دا چې هر هغه څيز چې د خدا ے پاک د دين شعائر او نښې نښانې وي د هغۀ تعظيم او قدرونه د خدا ے پاک درګاه ته د نزديکت ذريعه ده. په مسلمه توګه الهي انبياء او اولياء د الهي دين تر ټولو لوې او ځرګندې نښې نښانې دي چې د دين د تبليغ او په خلقو کښې د هغۀ د خپرولو ذريعې وې او دي. هيڅ يو منصف انسان له دې خبرې نه انکار نۀ شي کولې چې د پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم او د هغوي د پاکو اهلبيتو عليهم السلام مبارک وجودونه د اسلام له دلائلو او د دغه مقدس دين له نښو نښانو څخه دي او د هغوي د تعظيم او احترام يوه لار د هغوي د آثارو او قبرونو حفاظت او له ورانېدو، ورستېدو، او ختمېدو څخه د هغو ساتنه ده.

---

[۱] ـ سورۀ حج : ۳۲ ايت

[۲] ـ مجمع البيان، ٤ ټوک، ۸۳ مخ، چاپ صيدا .

[۳] ـ سورۀ بقره ۱۵۸ ايت : «انّ الصّفا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعائِر الله»

[۴] ـ سوره حج ۳٦ ايت: «وَالْبُدْنَ جَعَلْناها لَكُمْ مِنْ شَعائِرِ الله» ؛«او سورب اوښ مو له الهي شعائرو څخه وګرځوۀ»

په هر حال د دوو شیزونو په لیدو سره د خدا ے پاک د دوستانو او اولیاؤ د قبرونو حکم او تعظیم او تکریم روښانه د ے:

* د خدا ے پاک دوستان او اولیاء په خاصه توګه هغه کسان دي چې د دین د پراختیا او خپرولو په لار کښې یې ځانونه قربان کړي دي له الهي شعائرو او د خدا ے پاک د دین له نښو نښانو څخه دي.

* د خدا ےپاک د دوستانو او اولیاؤ د تعظیم یوه لار د هغوي د شهادت او وفات نه پس د هغوي د اثارو او مکتب له حفاظت نه علاوه د هغوي د قبرونو حفاظت او تعمیر هم د ے. له دې امله د دنیا د ټولو ملتونو ترمېنځ هغه ستر سیاسي او دیني شخصیتونه چې قبرونه یې د هغوي د مکتب او تګ لارې نښې دي په داسې سیمو کښې خاورو ته سپاري چې د تل لپاره محفوظ پاتې شي، ځکه چې له ورانېدو، ورستېدو او ختمېدو څخه د هغوي د قبرونو حفاظت د هغوي د وجود او بالاخره د هغوي د مکتب د حفاظت نښه ده.

د دې حقیقت د درک کولو لپاره ضروري ده چې د سورهٔ حج د **۳۲** مبارک ایت د مضمون په ژورتیا سره شننه او تجزیه وکړو. ځینې حاجیان د بیت الله په خوا کښې د حلالولو لپاره له خپل ځان سره له کوره یو اوښ راولي او د هغهٔ په غاړه کښې د یوې مخصوصې پټې په اچولو سره هغهٔ د خدا ے پاک په لاره کښې د قرباني کولو لپاره مخصوصوي او له نورو اوښانو څخه یې بیلوي. نو له دې امله چې دغه اوښ په یو ډول له خدا ے پاک سره وابسته د ے نو د هم دغه مبارک ایت د حکم مطابق په شعائر الله کښې شمېرل کیږي او هم د سورهٔ حج د**۲۳** مبارک ایت ﴿وَمَنْ يُعَظِّمِ شَعَائِرِ الله﴾ له مخې د دغه اوښ تعظیم او احترام پکا ر د ے. مثلاً نور نو په هغهٔ باندې سورلي نهٔ ده پکار او د حلالېدو تر وخته پورې یې د خوراک څښاک زیات خیال ساتل پکار دي. نو هر کله چې یو اوښ د خدا ے پاک د کور (بیت الله) په خوا کښې د حلالېدو لپاره د غوره کېدو په خاطر د شعائر الله برخه ګرځول کیږي او په مناسب ډول یې تعظیم،عزت او احترام فرض کیږي نو بیا ولې دې د خدا ے پاک هغه نازولي پېغمبران، اولیاء کرام، شهیدان، جانبازان، عالمان او پوهان چې د خپل ژوند له ابتداء څخه یې د خدا ے پاک د بندګۍ او عبودیت او د هغهٔ د دین او آئین د خدمت پټۍ په غاړو کښې اچولې او د خدا ے پاک او د هغهٔ د مخلوقاتو ترمېنځ د رابطې وسیله جوړ شوي دي او خلقو د هغوي د کوششونو او مجاهدو په رڼا کښې خدا ے پاک پېژندلے د ے د ((شعائرالله)) جز نهٔ وي؟ او هغوي دې ولې د خپل مقام او حېثیت په تناسب سره د هغوي په ژوند او هم له رحلت نه پس د تعظیم او احترام وړ ونهٔ ګرځي؟ او د خدا ے نازولي اولیاء کرام چې د خدا ے پاک د دین او آئین خپروونکي او حفاظت کوونکي دي او همدا رنګ هغه څهٔ چې له هغوي سره متعلق او اړوند دي ولې دې د شعائرالله جز نهٔ وي؟[1]

مونږ په دې حقله د وهابیانو او سلفیانو وجدان، قاضي او داور ګرځوو او ورنه پوښتنه کوو چې ایا د خدا ے پاک د انبیاؤ او رسولانو علیهم السلام په ((شعائرالله)) والي کښې څه شک شته؟ او ایا له هغوي سره د اړوندو او وابسته اثارو او شیزونو حفاظت او ساتنه د هغوي تعظیم او احترام کول نهٔ دي؟! او لنډه دا چې ایا د هغوي د

---

[1] - د هغو پاکانو د قبرونو ساتل او حفاظت کول د قران مجید د ایت له مخې له قرباؤ سره د مینې او مودت څرګندونه ده.

مزارونو جوړول او د مزارونو د احاطې پالنه او پاک ساتل د هغوي تعظيم او احترام دے او که د هغو ورانول، ويجاړول او په بيابان باندې د هغو بدلول يې تعظيم او احترام دے؟!

## ب- په قران مجيد کښې داهلبېتو عليهم السلام تعظيم او احترام

قران مجيد مونږ ته حکم راکوي چې د پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم له نزدې خپلوخپلوانو سره مينه وکړو لکه چې فرمائي: «قُلْ لا أَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْراً اِلاّ الْمَوَدّةَ فِي الْقُرْبى» [1] «(دوي ته) ووايه چې زهٔ د رسالت په دې کار باندې اجرت او مزدوري نهٔ غواړم بې له دې چې زما له نزدې خپلو خپلوانو سره مينه او مودت وکړئ.»

څرګنده خبره ده چې د دنيا د خلقو له نظره چې د دې مبارک ايت مخاطب دي د رسالت له کورنۍ سره د مينې د څرګندونې يوه لاره هم هغه د هغوي د قبرونو تعمير دے او دا تګلاره، طريقه او رسم د نړۍ د ټولو ملتونو ترمېنځ وجود لري او ټول دا کار د قبر له خاوند سره د مينې يو ډول څرګندونه ګڼي. او همدا وجه ده چې هغوي ستر سياسي او علمي شخصيتونه په کليساګانو او يا په مشهورو مقبرو کښې دفن کړي دي او د هغو په خواوشا کښې ګلونه او ونې بوټي کري.

## ج- د مزارونو جوړول او مخکيني امتونه

د قران مجيد له مبارکو ايتونو نه څرګنديږي چې د ايماندارو کسانو د مزارونو احترام له اسلام نه په مخکښې ملتونو کښې هم يوه رائجه چاره وه، لکه چې د اصحاب کهف په باره کښې راغلي دي چې کله د اصحاب کهف د حالت او حقيقت د هغه وخت خلقو ته څرګند شو او خلق د غار خولې ته راغلل نو د هغوي د مدفن په حقله هغوي دوه ډوله راې لرلې:

* «ابْنُوا عَلَيْهِمْ بُنْياناً». ((د هغوي په قبر باندې يوه وداني (زيارتګاه) جوړه کړئ.))

*«وَقالَ الّذِينَ غَلَبُوا عَلي أَمْرِهِمْ لَنَتّخِذَنّ عَلَيْهِمْ مَسْجِداً» ((يوې بلې ډلې چې په دې کار کښې کاميابه شوه وويل: د دوي د مدفن په ځاے باندې د جومات (د عبادت ځاے) جوړول غوره کوو.))

د ويلو ده چې قران مجيد دغه دواړه نظريې او راې نقلوي بې له دې چې نيوکه پرې وکړي. نو اوس دا ويلې شو چې که دغه دواړه نظريې او راې خلاف وې نو قران مجيد به پرې خا مخا تنقيد کوۀ او يا به يې د هغوي عمل د اعتراض او انتقاد په لهجې سره نقلوۀ. نو بس په هر حال دغه دواړه نظريې د دې خبرې بيانوونکې دي چې د خداے پاک د اولياؤ او صالحانو د ياد د نمانځنې او د احترام او تعظيم کولو يوه طريقه د هغوي د قبرونو او د دفن د ځايونو ابادول او دهغو حفاظت او ساتنه وه او ده.

دغو دريو مبارکو ايتونو ته په پام سره هيڅ کله د خداے پاک د اولياؤ او صالحانو د قبرونو او مزارونو جوړول او تعميرول يو حرام يا مکروه عمل نهٔ شو ګڼلې بلکې پکار دي هغه يو ډول د شعائر الله تعظيم او د پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم له قرباؤ سره د مينې او مودت يوه نښه او د هغوي د احترام او تعظيم ذريعه وبلو.

---

[1] ـ سورهٔ شورى: ۲۳ ايت

### د- د مخصوصو کورونو اوچتول

قران مجید د یو زیات ښکلي او عجیبه مثال په ورکولو سره چې پکښې د خدا ے پاک ((نُور)) په یو چراغدان سره چې پکښې دننه یو چراغ د ے تشبیه شو ے د ے او دغه لطیف او ژور مثال په «اللهُ نُور السّماوات وَالأرض» جملې سره شروع او په «وَاللهُ بِكُلِّ شَيء عَليمٌ» ختم شو ے د ے. قران مجید د دې مثال له وړاندې کولو نه پس چې خپله ځانته یو پراخه بحث لري فرمائي:

«فِي بُيُوت أذِنَ اللهُ اَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فيها اسْمُهُ يُسَبِّحُ لَهُ فيها بِالْغُدُوِّ والآصالِ رِجالٌ لا تُلْهيهِمْ تِجارَةٌ وَلا بَيْعٌ عَنْ ذِكر الله.» [1]

((دغه نور او مصباح) په داسې کورونو کښې د ے چې خدا ے اذن ورکړ ے د ے چې اوچتوالے دې پېدا کړې او د خدا ے نوم دې هلته واخېستل شي. هغه سړي چې تجارت او راکړه ورکړه يې د خدا ے له یاد نه نۀ منعې کوي، سهار او ماښام په دغو کورونو کښې د هغۀ تسبیح او ستائینه کوي.))

په دې مبارک ایت سره استدلال دې ته ضرورت لري چې له هر څه نه مخکښې دوه خبرې څرګندې شي:

* له بیوت (کورونو) نه مراد څه د ے؟

د ((بیوت)) لفظ په باره کښې یادونه کوو چې د نوموړي لفظ معنا او مفهوم په ((جوماتونو)) پورې منحصر نۀ د ے بلکې جوماتونه او د الهي انبیاؤ او اولیاؤ د کورونو په شان کورونه چې په ایت مبارک کښې یاد کړې شوي خصوصیات لري شامل دي او په جومات باندې د هغۀ د مفهوم په انحصار باندې څه دلیل وجود نۀ لري او د جوماتونو او د پېغمبرانو او صالحو کسانو چې د دنیا کارونه هغوي د اخېرت له کار نه نۀ منعې کوي د کورونو په شان ټول بیوت (کورونه) د خدا ے پاک د نور او د توحید، ستائېنې او تسبیح کولو مرکزونه دي، بلکې ویلې شو چې له ((بیوت)) نه مراد له جوماتونو نه علاوه ودانۍ دي ځکه چې بیت هغه چاپېریال ته وائي چې حتماً بام (چت) ولري او که کعبې شریفې ته ((بیت الله)) ویل کیږي نو په دې وجه چې چت لري. په داسې حال کښې چې مستحب دي چې جوماتونه چت ونۀ لري او هم دا اوس مسجدالحرام چت نۀ لري او قراني مبارک ایتونه د دې بیانوونکي دي چې ((بېت)) هغه ځا ے ته ویل کیږي چې چت ولري لکه چې فرمائي:

«لَولا أنْ يَكُونُ النّاس أُمّةً واحدةً لَجَعَلْنا لِمَنْ يَكْفُر بالرّحْمنِ لِبُيُوتِهِمْ سُقُفاً مِنْ فِضّة» [2]

((که داسې نۀ وې چې ټول خلق باید یوه ډله شي نو د هغو کسانو د کورونو چتونه به مو چې په رحمن خدا ے پاک سره کافران کیږي د سپینو زرو ګرځولي وو.))

په هر حال له ((بیوت)) نه مراد له جوماتونو نه بغېر نور ځایونه مراد دي او یا د جوماتونو په شمول کورونه دي.

** له ((یرفع)) څخه چې د ترفیع، یعنې لوړوالي او اوچتوالي په معنا دي مراد څه د ے؟

د ایت مبارک وضاحت دا د ے چې خدا ے پاک اذن ورکړ ے د ے چې دا کورونه دې رفعت ومومي او له رفعت او اوچتوالي نه مراد یا ظاهري رفعت او اوچتوالے او د بنیادونو او دیوالونو اوچتول او له غورزېدو څخه د هغو حفاظت کول دي، لکه چې قران مجید د دیوالونو په اوچتولو او ظاهري تعمیرولو کښې همدا لفظ استعمال

---

[1] ـ سورۀ نور: ۳۶ و ۳۷ ایتونه

[2] ـ سورۀ زخرف: ۳۳ ایت

کړے او فرمائي: «وَاِذْ یَرْفَعُ اِبْراهیمُ الْقَواعِدَ مِنَ الْبَیْتِ وَاِسْماعیلُ.»[1] ((اویاد کړه هغه وخت چې ابراهیم او د هغۀ زوے اسماعیل د بیت (کعبې) دیوالونه اوچت کړل.))

او یا ترې معنوي رفعت او اوچتوالے او باطني عظمت مراد دے او دا چې خدا ے پاک دغه ډول کورونو ته یوه خاصه ځانګړتیا ورکړې ده او د هغو مقام او حېثیت یې اوچت کړے دے.

که له ((رفعت)) نه مراد ظاهري وي نو په څرګنده دا ګواهي ورکوي چې د خدا ے پاک د انبیاؤ او او اولیاؤ کورونه چې د دغه ((بیوت)) حقیقي او واقعي مصداق دي په هر حال د تعمیر او ابادولو لائق دي. که هغوي د ژوند په حال کښې وي او که د وفات په حال کښې وي. که هم په خپلو کورونو کښې خاورو ته وسپارلې شي (لکه د خدا ے ګران رسول صلي الله علیه و آله وسلم او امام محمد تقي او امام حسن عسکري علیهم السلام چې د دفن ځا ے یې خپل کورونه دي) یا په نورو ځایونو کښې. په هر حال د دا ډول کورونه دې تعمیر او اباد کړې شي او له ورستېدو ، ورانېدو او خرابېدو څخه دې وساتل شي.

او که له ((رفعت)) نه مراد معنوي وي نو نتیجه یې دا ده چې خدا ے پاک اذن ورکړے دے چې د دا ډول کورونو تعظیم او احترام وشي او د دا ډول کورونو د احترام یوه نښه له ورانېدو او خرابېدوڅخه د هغو حفاظت او د هغو د پاک او پاکیزه ساتلو لپاره کوشش کول دي.

او دا ټول ظاهري او باطني رفعت او اوچتوالے د دې لپاره دے چې دا کورونه د هغو الهي کسانو دي چې ټول د خدا ے پاک د حکمونو اطاعت کوونکي وو او دي.

د دې او داسې نورو مبارکو ایتونو په شتون سره څه ډول کېدې شي چې وهابیان دې د رسالت د اثارو په ویجاړولو او د هغوي د کورونو په ورانولو باندې لاس پورې کړي او د هغوي د شهادت دغه نوراني ځایونه چې ښځو او سړیو ورځ او شپه هلته کښې د خدا ے پاک ستائېنې او صفتونه بیان کړي دي او له خدا ے پاک سره د دغو کورونو او ځایونو د خاوندانو د وابستګۍ او تعلق په خاطر هلته راغونډ شوي او په راز و نیاز، دعا او عاجزۍ باندې بوخت شوي دي په ویرانیو او بیابانونو باندې بدل کړي او له دې لارې د رسالت له خاوند او د هغۀ له کورنۍ او اصحابانو سره د خپلې کینې او بغض څرګندونه وکړي؟! په دې اړه د لوستونکو پام یو مبارک حدیث ته رااړوو: انس بن مالک (رض) وائي:

((یوه ورځ د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د فِي بُیُوت أذِنَ اللهُ... مبارک ایت تلاوت کړ، دغه وخت یو سړے پاڅېد او پوښتنه یې وکړه چې له دې نه مراد کوم کورونه دي؟ د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم ورته وفرمایل: د پېغمبرانو کورونه، بیا وړومبے خلیفه پاڅېد او پوښتنه یې وکړه: آیا دغه کور (د حضرت علي او حضرت فاطمې بي بي علیهم السلام کور ته یې اشاره وکړه) له هغو کورونو څخه دے؟ پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم ورته وفرمایل: «نَعَمْ مِنْ أفاضِلِها» هو، دا له ټولو نه مهم او فضیلت لرونکے دے.))[2]

## ۲- اسلامي امت او د قبرونو او مزارونو جوړول

---

۱ ـ سورۀ بقره: ۱۲۷ ایت

۲ ـ درّالمنثور ، ۵ ټوک، ۵۰ مخ

کله چې اسلام په جزیرت العرب کښې خپور شو او د هغهٔ نُور د مېنځني ختیځ مهمه برخه ورو ورو په خپل بر کښې ونیوه نو په هغو ورځو کښې د هغو پېغمبرانو مزارونو چې د دفن ځاے یې معلوم ؤ چتونه، څپرونه بلکې گنبدونه او بارگاه گانې یې لرلې چې ځینې لا تر اوسه هم په هغه شکل کښې باقي پاتې دي. په مکه مکرمه کښې د حضرت اسماعیل علیه السلام او د هغهٔ د مور بي بي هاجرې علیها السلام قبرونه په حِجر کښې راغلي دي، د دانیال پېغمبر علیه السلام مزار د ایران په شوش ښار کښې، د حضرت هود، حضرت صالح، حضرت یونس او حضرت ذوالکفل علیهم السلام مزارونه په عراق کښې دي او د حضرت ابراهیم، د هغهٔ د زوے حضرت اسحق او همدا رنگ د حضرت یعقوب او د هغهٔ د زوے حضرت یوسف علیهم السلام قبرونه چې ټول حضرت موسی علیه السلام له مصر نه بیت المقدس چې اوس د صهیونېستانو په قبضه کښې دے راوړل. دغه ټول علامتونه او نښې نښانې لري. همدا رنگ د بي بي حوا علیها السلام قبر په جده کښې دے چې آثار یې د سعودیانو له تسلط نه مخکښې ختم شوي دي. او دا چې دغې سیمې ته جده وائي ځکه چې هلته کښې د بي بي حوا علیها السلام د قبر موجودگي ده، اوس که دا نسبت صحیح وي یا نه.خو کله چې مسلمانانو دغه سیمه فتح کړه نو هیڅکله د دغو اثارو په لیدو سره ناراضه نهٔ شول او د هغو د ورانولو حکم یې جاري نهٔ کړ.

که په رښتیا د قبرونو جوړول او جنازې په چت لرونکو مقبرو کښې ښخول د اسلام له نظره حرام وې نو مسلمانانو به له هر څه نه زیات دا خبره په ځان باندې لازمه گڼله چې دغه مقبرې چې اردن او عراق ترې ډک دے ورانې کړې او په ټولو دورونو کښې د هغو له بیا جوړولو څخه سخت مخنیوے وکړي، په داسې حال کښې چې نهٔ یوازې دغه مقبرې یې ورانې نهٔ کړې بلکې د څوارلسو سوو کلونو په موده کښې یې د تېرو پېغمبرانو علیهم السلام د آثارو د تعمیر او حفاظت لپاره کوششونه وکړل. هغوي په خداے ورکړې شوي عقل سره د پېغمبرانو د آثارو ساتنه او حفاظت د هغوي یو ډول احترام او تعظیم گڼلے او په دې کار سره یې ځانونه د نېکو او صالحو کسانو په قطار کښې راوستي دي.

ابن تیمیه په «الصراط المستقیم» کتاب کښې وائي: «د بیت المقدس د فتحې په وخت د پېغمبرانو مزارونه موجود وو خو ورونه یې تر څلورمې هجري پېړۍ پورې تړلې شوي وو.»[1] که په رښتیا په قبرونو باندې عمارت جوړول حرام عمل وې نو پکار دي چې ورانول یې یو فرض کار وې او د هغو ورونه تړل د هغو د باقي پرېښودو جواز نهٔ وې او دا کار په ټولو مسلمانانو باندې واجب شوے وې چې په بېلچو او گېنترو سره یې د هغو چتونه او بنیادونه نړولې وې او هغه یې په کامله توگه ویجاړ کړې وې.

لنډه دا چې د دغې مودې په دوران کښې د اسلام د عالمانو او مشرانو د سترگو په وړاندې د دغو مزارونو او گنبدونو شتون خپله د اسلام په مقدس دین کښې د هغو د جائز کېدو یو غټ جواز دے.

## اسلامي آثار د دین د اصالت نښه ده

---

[1] - کشف الارتیاب ، ۳۸٤ مخ

د نبوت د آثارو په تېره بیا د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د آثارو لکه د هغه حضرت ، د هغهٔ د بیبیانو، اولاد، اصحابو او دوستانو د قبرونو او د هغو کورونو چې پکښې یې ژوند کړے دے او جوماتونو چې پکښې یې نمونځونه کړي دي ساتنه او حفاظت، ډېر ارزښت او فائده لري چې همدا اوس ورته اشاره کوو:
مونږ ټول په دې پوهېږو چې نن د حضرت عیسی علیه السلام له پېدائش نه د شلو پېړیو له تېرېدو نه پس د هغهٔ، د هغهٔ د مور بي بي مریم علیها السلام، د هغهٔ د کتاب انجیل، د هغهٔ د یارانو او حواریانو وجود په مغربي دنیا کښې یوه تاریخي افسانه ګرځېدلې ده چې د ختیځ پېژاندو او مستشرقینو یوه ډله د دغه اسماني انسان په وجود کښې چې نوم یې عیسي علیه السلام او مور یې بي بي مریم علیها السلام او کتاب یې انجیل دے شک کړے دے او هغه د لېلا مجنون د افسانې په شان یوه افسانه ګڼي او داسې فکر کوي چې دا د ذهن او افکارو پېداوار دے. اخېر داسې ولې وشول؟ دا ځکه چې له حضرت عیسی علیه السلام سره متعلق یو حقیقي لمس او محسوس کېدونکے اثر د خلقو په لاسو کښې نشته. مثلاً په مشخصه توګه هغه ځا ے چې هغه پکښې وزېږېد او هغه کور چې پکښې یې ژوند وکړ او هغه ځا ے چې د عیسائیانو په عقیده پکښې خاورو ته وسپارلے شو معلوم او څرګند نهٔ دي. اسماني کتاب یې د تحریف ښکار شو ے دے او دغه څلور انجیلونه چې د هر یو په اخېر کښې د حضرت عیسی علیه السلام د قتل او دفن ذکر راغلے دے په مسلمه توګه له هغهٔ سره اړوند نهٔ دي او د هغهٔ د شهیدولو او دفن کولو ذکر ښهٔ په ډاګه د دې خبرې ګواهي ورکوي چې له دنیا نه د هغهٔ له پرده کېدو (اسمان ته له خېژولو) نه پس لیکل شوي دي. له دې امله زیاترو محققانو او څېړونکو هغه د دویمې عیسوي پېړۍ له ادبي آثارو څخه ګڼلي دي، خو که له هغهٔ سره اړوند ټول خصوصیات او اثار محفوظ پاتې شوي وې نو په څرګنده توګه به یې د هغهٔ په اصالت باندې ګواهي ورکوله او د دغو خیالي افسانو جوړوونکو او شک کوونکو لپاره به د شک او شبې ځا ے نهٔ وې پاتے شوے.
خو مسلمانان په هسکې غړۍ سره د نړۍ خلقو ته وائي: اے خلقو! د تېرو څوارلس سوو کالو نه مخکښې په حجاز وطن کښې د انساني معاشرې او ټولنې د اصلاح او لار ښوونې لپاره یو سړے راپاڅېد او په دې لار کښې یې لویه کامیابي ترلاسه کړه، د ژوند ټول خصوصیتونه یې بې له دې چې د شک او شبې لږه نقطه پکښې موجوده وي محفوظ دي، حتی هغه کور مبارک چې پکښې زېږېدلے دے معلوم دے او د حرا غار او غرهٔ هغه مبارکه سیمه ده چې ورباندې وحي نازلېده، دغه د هغهٔ جومات مبارک دے چې پکښې یې نمونځ کوهٔ، دغه یې کور مبارک دے چې پکښې یې ژوند کوهٔ او دغه یې قبر مبارک دے چې پکې خاورو ته وسپارلے شو. دغه د هغهٔ د پاک اولاد، بیبیانو او خپلوانو کورونه دي او دغه یې د اولاد، اوصیاؤ، خلفیه ګانو او بیبیانو قبرونه او مزارونه دي او داسې نور.........
نو اوس که دغه ټول اثار وران ویجاړ او ختم کړو نو په اصل کښې مو د هغه هستۍ د اصالت او بنیاد نښې نښانې نابودې کړې دي او د اسلام د دښمنانو لپاره مو لاره اواره کړې ده. نو په دې بنیاد د رسالت او عصمت د پاکې کورنۍ د آثارو ورانول او ویجاړول له دې نه علاوه چې یو ډول د هغوي د حرمت سپکاوے، توهین او ورته بې پامي ده، د اسلام له اصالت او بنیاد او د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د رسالت د بنیاد او اصالت له مظاهرو او نښو نښانو سره مقابله او مبارزه ده..

د اسلام مبین دین یو ابدي او همېشنے دین او آئین دے او د قیامت تر ورځې به د ټول انسانیت دین وي. هغه نسلونه چې له زرګونو کلونو وروسته به راځي پکار دي چې دغه اصالت او بنیاد باندې ایمان راوړونکي او ورباندې اعتراف کوونکي وي. نو ځکه د دې مقصد د پوره کولو لپاره پکار دي په متواتره توګه د رسالت د خاوند د ټولو آثارو او نښو نښانو ساتنه او حفاظت وکړو او په دې طریقې سره په راتلونکو زمانو کښې د دین د باقي پاتې کېدو په لار کښې ګام واخلو او داسې څه کار ونکړو چې د خداے د ګران رسول حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه و آله وسلم نبوت هم د حضرت عیسی علیه السلام له برخلیک سره مخامخ شي.

د خداے پاک شکر دے چې مسلمانانو تر دومره اندازې پورې د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د آثارو د حفاظت لپاره هلې ځلې کړې دي چې د هغه حضرت د ژوند په خاصه توګه د هغۀ د رسالت د دوران ټول خصوصیات یې په ډېرې پاملرنې سره ضبط او محفوظ ساتلي دي، ان تر دې چې د هغه حضرت د ګوتې د ګوتمې او غمي مبارک، د پېزار مبارک، د مسواک مبارک، د تورې مبارکې، د زغرې مبارکې، د نېزې مبارکې، د مرکب مبارک او د غلام پورې خصوصیات یې بیان کړي دي ، او حتی هغه کویان چې اوبۀ یې ترې څښلي دي، هغه زمکې چې یې وقف کړې دي ، بلکې له دې نه هم لا زیات اوچت دا چې په لاره باندې د تللو او د ډوډۍ د خوړلو کېفیت او هغه خوراک چې یې خوښولو او د ږیرې مبارکې خصوصیات او د خضابو کېفیت یې هم یاداشت کړے دے او لا تر اوسه د دغو اثارو یوه برخه باقي پاتې ده.[1]

د اسلام تاریخ ته په مراجعه کولو او اسلامي هېوادونو ته په سفرونو او پکښې ګرځېدو سره په یقین سره په دې خبرې باندې پوهېدې شو چې د بزرګانو د قبرونو جوړول، تعمیرول، او له ورانېدو او ورستېدو څخه د هغو ساتل او حفاظت کول د مسلمانانو سیرت ؤ او دے او هم دا اوس په ټولو اسلامي ملکونو او سیمو کښې د پېغمبرانو ، د الهي اولیاؤ ، صالحانو او نېکو بندګانو روضې د مزارونو په شکل کښې موجودې دي او د هغوي د قبرونو، مزارونو او آثارو د حفاظت او ساتنې لپاره چې غالباً اسلامي لرغوني آثار دي د اوقافو وزارتونه او کمېټۍ موجودې دي چې د هغو موقوفاتو درامد د هغو په حفاظت او ساتنه باندې خرچ کېږي.

په نجد کښې د وهابي ډلې له پېدائش نه مخکښې او په حرمېنو شریفېنو او د حجاز په نورو سیمو باندې د دغو وهابیانو له تسلط او قبضې نه مخکښې د الهي اولیاؤ او بزرګانو ټول قبرونه او مزارونه معمور، اباد او د ټولو خلقو د توجه وړ وو او تر دغه وخته پورې د اسلام له سترو سترو علماؤ څخه هیڅ یو پرې اعتراض نۀ کوؤ. دا یوازې ایران نۀ دے چې پکښې د د خداے پاک د نازولو انبیاؤ، اولیاء کرامو او صالحانو روضې د مزارونو او زیارتګاؤ په شکل کښې جوړ شوي دي بلکې په ټولو اسلامي ملکونو او سیمو په تېره بیا په مصر، سوریې، عراق، تیونس، مراکش، هند، پاکستان، افغانستان او داسې نورو هېوادونو کښې د اولیاء کرامو ټول قبرونه د مزارونواو زیارتګاهو په صورت کښې اباد او ودان دي او ډلې ډلې ګڼ شمېر مسلمانان یې، فاتحې، دعاګانو او قران لوستلو ته راځي او دغه ټول عمارتونه خپل خادمان، منجوران او څوکیداران لري او یوه ډله کسان یې د

---

[1] ـ طبقات ابن سعد، ۱ ټوک ، ۵۳۰ ـ ۳۶۰ مخونه، د دې کتاب په دغو مخونو کښې د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د ژوند دخصوصیاتو په حقله په تفصیل سره په زړۀ پورې ذکر راغلے دے.

دربارونو د صفائۍ او پاکۍ خيال ساتي. «او پکښې مخير کسان خېراتونه کوي، لنګرونه ورکوي او مسافران او اوږي خلق پکښې مړيږي.»
په دومره زيات والي او پراختيا سره او هغه هم په ټولو اسلامي هېوادونو کښې څه رنګ د قبرونو او مزارونو جوړول او تعميرول يو حرام فعل وګڼو، په داسې حال کښې چې دې روش او طريقې د اسلام له ابتدائي دور نه تر ننه پورې وجود لرلے او لري يې او دې روش ته د عالمانو او پوهانو په اصطلاح «د مسلمانانو سيرت» ويل کيږي چې سلسله يې د پېغمبراکرم صلى الله عليه و آله وسلم زمانې ته رسيږي د داسې يو سيرت شتون بې له دې چې څه اعتراض پرې شوے وي يا وشي د هغو د مرغوبيت او محبوبيت د جائزوالي ننبه ده.
دا چاره د «ضرورت» له نظره تر دې حده ده چې يو وهابي ليکوال پرې هم اعتراف کوي او د ځواب ورکولو په تکل کښې کيږي او وائي:
هذا أمرٌ عَمّ البلادَ وطَبّقَ الأرْضَ شرقاً وغرباً بحيث لا بلدةَ منْ بِلاد الاسلامِ إلاّ فيها قُبورٌ ومشاهدٌ بَلْ مساجدُ الْمُسْلمينَ غالباً لاتَخْلُو عَن قبر ومشهد ولايَسَعُ عقلُ عاقلِ اَنّ هذا مُنَكرٌ يَبلُغ اِلي ما ذكرتَ مِنَ الشّناعَةِ ويَسْكُتُ علماءُ اَلإسْلامِ.[1] «دې چارې ټوله نړۍ او ختيځ او لويديځ په ګرفت کښې اخېستے دے. په دا ډول چې په اسلامي نړۍ کښې داسې يوه سيمه نشته چې هلته قبر، مزار او د شهيدانو روضه نۀ وي، حتى د مسلمانانو جوماتونه هم له قبرونو نه خالي نۀ دي او عقل دا خبره نۀ مني چې داسې يو کار به حرام وي او د اسلام علماء دې د دغه کار په وړاندې خاموش وي.»
ډېر د حېرانتيا ځاے دے چې دغه وهابي ليکوال د داسې يو څرګند اعتراف باوجود له ضد او زېل نه لاس نۀ اخلي او وائي:
«د يوې چارې رواج او د عالمانو خاموشي د هغې چارې په جائز کېدو باندې دليل نۀ دے او که يوه ډله خلق په ځينو وختونو کښې د مصلحتونو په خاطر خوله بنده وساتي نو په يقين سره يوه بله ډله خلق چې د حالاتو له نظره فرق کوي حقيقت څرګندوي.»
د دې خبرې ځواب ښۀ څرګند دے، ځکه چې د اوو پېړيو ټولو عالمانو خولې تړلې وې او هيڅ خبره يې په دې حقله نۀ ده کړې. ايا ټولو په دې موده کښې له مصلحتونو نه کار اخېستې ؤ. ولې دويم خليفه د بيت المقدس د فتحې په وخت د پېغمبرانو قبرونه او مزارونه وران او ويجاړ نۀ کړل؟ ايا هغۀ هم د وخت له مشرکانو سره ساز باز لرۀ؟
د مديني له علماؤ سره منسوب ځواب هم عجيبه دے، هغوي وائي:
«أمّا البِناءُ علي القُبُورِ فَهُوَ مَمَنْوعٌ اِجْماعاً لِصحّة الأحاديثِ الواردَةِ في مَنْعِها وَلهذا اَفْتي كثيرٌ مِنَ العُلَماءِ بِوجُوبِ هَدْمه.»
«په قبرونو باندې عمارت او وداني جوړول د علماؤ په اتفاق سره منعې دي، د هغو صحيح احاديثو په وجه چې راغلي دي. له دې امله زياترو عالمانو د هغو په ورانولو باندې فتوا ورکړې ده.»

---

[1] ـ تطهير الاعتقاد ، ۱۷ مخ ، طبع مصر ، د کشف الارتياب په نقل سره

دوي څه رنګ په قبرونو باندې د عمارت د جوړولو په حراموالي باندې د اتفاق دعوا کولې شي، په داسې صورت کښې چې د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د کورنۍ کسانو او مسلمانانو پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په هغه کوټه کښې چې د هغۀ بي بي حضرت عائشې (رض) پکښې ژوند کوۀ دفن کړ او بیا وروسته مسلمانانو وړومبے او دویم خلیفه هم د تبرک په خاطر په هم هغه حجره او کوټه کښې د هغه حضرت په خوا کښې ښخ کړل. هغه وخت اصحابو او مسلمانانو د بي بي حجره په منځ نیمه کړه او پکښې یې مینځ کښې یو دیوال ووهۀ چې په نیمې برخې کښې هغې بي بي ژوند کوۀ. او بله نیمه برخه د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم او شیخینو له قبرونو سره مخصوصه شوه. له دې امله چې ترمینځ دیوال یې لنډ ؤ د عبد الله بن زبیر (رض) په زمانه کښې یې اوچتوالے نور لوړ کړے شو، او له دې وروسته په هره زمانه کښې د هغه هر وخت د خاص معیار مطابق هغه کور چې د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم پکښې دفن دے تعمیر یا بیا اباد کړے شوے دے او د بني امیه او بني عباسو په دورونو کښې د پیمغبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم روضې ته خاصه پام لرنه شوې ده. او هره زمانه کښې په یو خاص معیار سره یې بیا رغونه شوے ده. تر ټولو وروستے عمارت چې د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په روضې مبارکې باندې اوس هم باقي پاتے دے د سلطان عبدالحمید باچا جوړ کړے شوے دے چې جوړول یې له ۱۲۷۹ کال څخه شروع شول او څلورکلونه پرې ولګیدل.د تاریخ په اوږدو او په اسلامي دورونو کښې د سمهودي تر زمانې پورې د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د روضې مبارکې د تعمیرولو او بیا رغونې تفصیلي تاریخ د سمهودي په ((وفاء الوفا)) کتاب کښې لوستې شئ.[1] او د سمهودي له دور نه پس یې تفصیل د مدینې منورې له تاریخ سره په اړوندو کتابونو کښې ترلاسه کولې شئ.

## ۳- د ابي الهیاج حدیث

نو اوس خبره دې ته راورسیده چې د وهابیانو د مطلب او نظر وړ حدیث په ژورتیا سره وڅیړو.

له صحیح مسلم څخه په سند سره د حدیث متن:

«حَدَّثنا يَحيي بنُ يَحيي وأَبوبَكْر بْنُ أبي شَيْبَةَ وزُهَيْرُ بْنُ حَرْب ( قال يَحيي أخْبَرَنا . وَقَالَ الآخَرانِ ، حَدَّثَنا : وَكيعٌ ) عَنْ سُفْيانَ عَنْ حَبيبِ بْنِ أبي ثابت ، عَنْ اَبي وائل ، عَنْ أبي الهَيّاجِ الْأَسَديّ قالَ لي عَليُّ بْنُ أبي طالب ألا أبْعَثُكَ عَلي ما بَعَثَنِي عَلَيْهِ رَسُولُ الله.صلّي اللهُ عليهِ وآلِه. اَنْ لاتَدَعَ تِمْثالا الاّ طَمَسْتَهُ وَلا قَبْراً مُشرِفاً الاّ سَوَّيْتَهُ.»[2]

((مسلم په خپل صحیح کښې له دریوکسانو ((یحیی بن یحیی))، ((ابوبکر بن شیبه)) او ((زهیر بن حرب)) نه نقلوي چې وکیع له سفیان او هغه له حبیب څخه او هغه هم له ابي وائل څخه او بالاخره ابو وائل له ابي الهیّاج څخه نقلوي چې علي بن ابي طالب ابي الهیّاج ته وویل: تا په یو داسې کار ګمارم چې د خداے ګران رسول صلی الله

---

[1] ـ وفاء الوفا، ۳۹۰ـ۳۸۳ مخونه

[2] ـ صحیح مسلم، ۳ ټوک ، کتاب الجنائز، ٦١ مخ؛ سنن ترمذي، ۲ ټوک، ۲۵٦ مخ، باب ماجاء في تسویة القبر؛ سنن نسائي، ٤ ټوک باب تسویة القبر، ۸۸ مخ

عليه و آله وسلم زۀ په هغه کار ګمارلے وم، يو تصوير هم پرې نږدې مګر دا چې هغه ختم کړې، او نه يو اوچت قبر مګر دا چې هغه مساوي او برابر کړې.»

وهابيانو له دې حديث نه استفاده کړې ده بې له دې نه چې د دغه حديث په سند او دلالت کښې څه غور او فکر وکړي.

### د حديث په باره کښې زمونږ نظريه

هر کله چې يو کس وغواړي د خداے پاک له احکامو څخه په يو حکم باندې په يو حديث سره استدلال وکړي نو پکار دي هغه حديث دوه شرطونه ولري:

١- پکار دي حديث صحيح سند ولري، مطلب دا چې په هره طبقه کښې د حديث راويان هغه کسان وي چې د هغوي په قول باندې اعتماد کېدې شي.

٢- په مقصد باندې د حديث دلالت روښانه وي، يعنې د حديث الفاظ او جملې په ښۀ توګه زمونږ په مقصد باندې دلالت وکړي. په دا ډول چې که چرې همدغه حديث له ژبې سره د يو اشنا او د هغۀ له خصوصيتونو څخه د يو باخبر کس لاس کښې ورکړې شي نو چې هم هغه څه چې مونږ ترې مطلب اخلو هغه پرې هم هغسې پوه شي.

له بده مرغه دا حديث له دواړه نظره د نيوکې او اعتراض وړ دے. په تېره بيا دا چې د «دلالت» له نظره چې د هغوي له مقصد سره هيڅ تعلق نۀ لري.

خو د سند له نظره د هغو کسانو چې دغه حديث يې روايت کړے دے په موثق والي باندې د حديث پېژاندو عالمانو او پوهانو اتفاق نشته، ځکه چې د هغۀ په سند کښې د «وکيع»، «سفيان ثوري»، «حبيب بن ابي ثابت» او «ابي وائل اسدي» په شان کسان په نظر راځي. په داسې حال کښې چې د حافظ ابن حجر عسقلاني په شان حديث پېژاندي په «تهذيب التهذيب» کتاب کښې په دغو کسانو باندې انتقاد او نيوکه کړې ده، په دا ډول چې انسان په کامله توګه د ذکر شوي حديث او د دغې ډلې د نورو حديثونو په صحيح والي کښې شک او شبه کوي.

مثلاً:

* د وکيع په باره کښې له امام احمد بن حنبل څخه نقلوي چې: «إنّه اَخطَأ في خَمْسِ مأَةِ حَديث»[1] «هغه په پنځۀ سوو حديثونو کښې غلطي کړې ده.» او همدا رنګ د وکيع په باره کښې له محمد بن نصر مروزي نه نقلوي چې: «كانَ يَحْدُثُ بِالْمَعْني ولَمْ يَكُن مِنْ أهْلِ اللّسان»[2] «د حديث نقل به يې په معنا کوۀ (د حديث متن او الفاظ به يې نقلول) په داسې حال کښې چې عربي ژبې نۀ ؤ (چې په حديث کښې د هغۀ بدلونونه بې اشکاله وي).»

* د سفيان ثوري په حقله له ابن مبارک نه نقلوي: «حَدّثَ سفيانُ بحديث فَجِئْتُهُ وهوَ يُدَلّسُهُ فَلَمّا رآني إسْتَحْيي»[3] « سفيان يو حديث بيانولو، ناڅاپه ور ورسېدم او و مې ليدل چې په حديث کښې تدليس کوي، کله چې يې زۀ وليدلم نو خېځل او شرمنده شو.»

---

[1] ـ تهذيب التهذيب، ١١ ټوک ، ١٢٥ مخ

[2] ـ مصدر سابق، ١١ټوک ، ١٣٠ مخ

[3] ـ تهذيب التهذيب، ٤ ټوک ، ١١٥ مخ

په هر حدیث کښې ((تدلیس)) چې په هره معنا تفسیر شي د دې بیانوونکے دے چې د حدیث په راوي کښې د عدالت، رښتینولی او حقیقت پسندۍ ملکه موجوده نۀ ده او غېر واقعي خبره واقعي ښئ.
((یحیی قطان)) په ترجمه کښې له هغۀ نه نقلوي چې سفیان کوشش وکړ چې یو غېر ثقه سړے په ما باندې ثقه سړے ومني خو بالاخره وې نکړې شول.[1]
* د (( حبیب بن ابي ثابت )) په حقله له (( ابي حبان )) نه نقلوي چې:
«کانَ مُدَلِّساً» ((هغۀ به حدیث تدلیسوۀ)) او له قطان نه نقلوي چې: «لا یُتابَعُ عَلَیْهِ ولیسَت مَحْفُوظَةً»
((د هغۀ (حبیب بن ابي ثابت) له حدیث څخه پیروي نۀ شي کېدې او حدیثونه یې مضبوط نۀ دي.))[2]
* د ((ابي وائل)) په باره کښې وائي: هغه له نواصبو او له امیرالمومنین امام علي علیه السلام نه له منحرفانو څخه ؤ.[3]
د پام وړ خبره دا ده چې د حدیث راوي ((ابي الهیاج)) د صحاح سته په شپږو واړو صحاحو کښې یوازې یو حدیث نقل کړے دے او هغه هم دغه حدیث دے. نو داسې کس چې له نبوي علوموڅخه یې یوازې یوحدیث په برخه رسېدلے وي دا خبره ثابتوي چې هغه د حدیث خاوند نۀ ؤ. نو په داسې صورت کښې به د هغۀ په ضبط شوي حدیث باندې اعتماد ګران شي.
نو هر کله چې د حدیث سند له داسې ډول اشکالاتو سره مخامخ دے هیڅ یو فقیه نۀ شي کولې په داسې یو سند سره فتوا ورکړي. البته د حدیث دلالت د هغۀ له سند نه کم نۀ دے ځکه چې په حدیث کښې د استشهاد مورد دا جمله ده: «ولا قبراً مُشرفاً الاّ سَوَّیْتَه» نو پکار دي چې د دې دواړو الفاظو یعنې ((مُشرفاً)) او ((سَوَّیْتَه))
الف- مُشرفاً: د (( مشرف )) لفظ په لغت کښې د لوړ او اوچت په معنا راغلے دے. او ویلې یې دي: «المُشرِفُ مِنَ الأماکِنِ:العالي والمُطِلُّ عَلي غَیْرِهِ» ((مشرف اوچت مکان په خواو شا مکانونو باندې مسلط مکان ته ویل کیږي.))[4]
د قاموس خاوند چې د الفاظو په معاني کښې زیات اصالت لري وائي: «الشَّرَف (محرکةً) العُلُوّ ومِنَ البَعیرِ سَنامُهُ»
((شرف (د راء په حرکت سره) یعنې اوچت، او د اوښ د کوب برخې ته وائي.))
نو په دې بنیاد دا لفظ ((مشرف)) مطلق اوچتوالي او په خاصه توګه هغه اوچتوالي ته چې د اوښ د کوب په شکل وي ویل کیږي. نو قرائنو ته په مراجعه کولو سره پکار دي وکتې شي مراد ترې کوم ډول اوچتوالے دے؟
* ب: سَوَّیْتَه: د ((سَوَّیْتَه)) اصطلاح په لغت کښې مساوي کول، برابرول او د یو څیز د کږلېچونو نېغمول دي.
«سویّ الشَيْءَ؛ جَعَلَهُ سَوِیّاً یُقالُ: سویتُ المُعْوَجَ فَما اسْتَوي ، صَنَعَهُ مُسْتَوِیاً»
سوي الشيء: هغه نېغ کړه. عرب وائي: غوښتل مې چې کوږ نېغ کړم، ونۀ شو . او په بله معنا بې عېبه جوړ کړې شوي څیز ته هم ویل کیږي.

---

[1] ـ مصدر سابق ، ۱۱ ټوک ، ۲۱۸ مخ
[2] ـ مصدر سابق، ۳ ټوک، ۱۷۹ مخ
[3] ـ شرح حدیدي ، ۹ ټوک، ص مخ
[4] ـ المنجد ماده شرف .

او په قران مجید کښې فرمائي: «اَلّذي خَلَقَ فَسَوّي»[1] ((هغه خدا ے چې يې خلق کړ او تکميل يې کړ.))
نو بس د مفرداتو له معنو څخه له خبرېدو نه پس پکار دي وکتې شي چې د حديث مراد څه د ے؟
په دې حديث کښې دوه احتماله وجود لري، پکار دي د مفرداتو معنو او نورو قرائنو ته په پام سره له هغو څخه يوه غوره کړو:
۱- مراد ترې دا د ے چې هغه حضرت ابوالهياج ته حکم ورکړ چې اوچت قبرونه وران ويجاړ کړه او هغه له زمکې سره يو شان کړه:
دا احتمال چې ((وهابيان)) ورپورې نښتي دي له څو زاويو څخه مردود د ے
* د تسويه لفظ د ورانولو او ويجاړولو په معنا نۀ د ے راغلے او که مراد ترې دا وې نو پکار دي چې داسې ويل شوې وې: «وَلا قبراً مشرفاً اِلاّ سَويتَهُ بالأرْضِ» يعنې پکار دي هغه له زمکې سره يو شان کړې، په داسې حال کښې چې د ((ارض)) لفظ په حديث کښې نۀ د ے راغلے.
** که له زمکې سره د قبرونو يو شان کول ترې مراد وې نو ولې هيڅ مسلمان عالم د دې مطابق فتوا نۀ ده ورکړې؟ نو پکار دي ووايو چې له زمکې سره د قبر برابرول د اسلامي سنت په خلاف خبره ده او د اسلام سنت دا د ے چې قبر دې له زمکې نه يو مقدار اوچت وي او د اسلام ټولو فقيهانو له زمکې نه د يو لوېشت په اوچتوالي د قبر د جوړولو په مستحب والي باندې فتوا ورکړې ده. په «الفقه علي المذاهب الأربعه» کتاب کښې چې د سني مذهب د څلورو واړو مشهورو امامانو د فتوو مطابق د ے داسې راغلي دي: «وَيَنْدُبُ اِرتِفاعُ الْتُراب فَوْقَ الْقَبْرِ بِقَدْرِ شِبْر.»[2] ((مستحب دي چې د قبر خاوره له زمکې نه د يو لوېشت په اندازه وي.)) دې مطلب ته په پام سره پکار دي دا حديث په يو بل ډول چې همدا اوس يې بيانوو تفسير شي.
۲- له ((قبر مساوي کړه)) نه مراد دا د ے چې د قبر پاس برخه صفا کړه او په يوه سطح، يو شان او په يوه اندازه يې کړه، يعنې هغه قبرونه بايد برابر کړې شي چې د کب د ملا په شان يا د د سنام (د اوښ د کوب) په شان جوړ کړې شوي وي.
په دې صورت کښې حديث په دې باندې ناظر د ے چې پکار دي د قبر پاس برخه صافه او برابر کړې شي نه د کب د شا يا د اوښ د کوب په شان چې د ځينو سني ورونړو ترمېنځ د داسې قبرونو جوړول رواج دي او د تسنن له څلورم مشهور امام، شافعي نه بغير ټولو د اوښ د کوب په شان د قبر د جوړولو فتوا ورکړې ده.[3] نو په داسې صورت کښې دا حديث د شيعه عالمانو د فتوې تائيدونکے د ے چې وائي د قبر سطح پکار دي له زمکې نه په اوچتوالي کښې د زمکې په شان يو شان او صافه وي.
عجيبه ټکے دا د ے چې مسلم په خپل صحيح کښې دا حديث او نور حديثونه چې اوس يې نقلوو، د «باب الأمر بتسوية القبر» تر عنوان لاندې او همدا رنګ ترمذي او نسائي دواړو په خپلو صحاحو کښې هم دا حديث تر ذکر

---

[1] ـ سورۀ اعلی: ۲ایت

[2] ـ الفقه علي المذاهب الاربعه، ۱ ټوک، ۴۲۰ مخ

[3] -الفقه علي المذاهب الاربعه، ۱ ټوک، ۴۲۰ مخ و يجعل کسنام البعير و قال الشافعي جعل التراب مستوياً مسطحاً أفضل من تسنيمه .نو په دې بنياد د حديث په دې مضمون باندې له اسلامي مذاهبو څخه دوو مذاهبو عمل کړے د ے. ۱- شافعي، ۲- شيعه.

شوي عنوان لاندې راوستے دے. او له دې عنوان نه مراد دا دے چې د قبر سطح پکار دي يو شان او اواره وي . او که مراد ترې دا وې چې اوچت قبرونه له زمکې سره يو شان کړئ نو ضروري وه چې د باب عنوان يې په يو بل ډول ليکلے وې چې: «الأمر بتخريبِ القُبُور و هدمها» اتفاقاً د عربو په ژبه کښې که د ((تسويه)) نسبت د قبر په شان څيز ته ورکړے شي نو مراد ترې دا وي چې خپله دې هغه څيز اوار او مساوي کړې شي نه دا چې له بل څيز لکه زمکې سره دې مساوي او برابر کړې شي. يو بل حديث مسلم په خپل صحيح کښې راوستے دے چې مضمون يې هم هغه دے چې موتائيد کړ لکه ليکي: «كُنّا مَعَ فضالةَ بن عُبَيْد بأرْضِ الرُّومِ بِرَوْدَس فَتَوفّي صاحِبٌ لَنا فَأمَرَ فَضالَةُ بنُ عُبَيد بِقَبْرِه فَسُوّيَ ثُمّ قالَ سَمعْتُ رَسُولَ الله يأمُرُ بِتَسْوِيتها.» [1] ((راوي وائي: له فضاله سره په روم وطن کښې وو، زمونږ د سفر يو مل او ملګرے وفات شو نو فضاله حکم ورکړ چې قبر يې مساوي کړئ او وې ويل چې د خدا ے له ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم نه مې واورېدل چې حکم يې ورکړ چې قبرونه اوار او مساوي کړئ.))

اوس د روايت د پوهېدو کنجي د ((تسويه)) لفظ د معنې تر لاسه کول دي او دې کښې درې احتماله وجود لري چې پکار دي قرائنو ته په پام سره پکښې يو احتمال غوره کړې شي:

۱- د قبر د پاسه د عمارت ورانول: چې دا احتمال غلط او باطل دے ځکه چې په مدينه کښې هغه وخت قبرونو عمارتونه او ګنبدونه نۀ لرل.

۲- د قبر سطح له زمکې سره برابرول: دا نظر د دې پربکنده سنت په خلاف دے چې پکښې راغلي دي چې قبر د زمکې له سطحې نه يو لوېشت اوچت جوړول مستحب دي.

۳- د قبر سطح اوارول او يو شان کول او هغه د کب د ملا او د اوښ د کوب له شکل نه راوېستل: چې دا معنا متعينه ده چې د وهابيانو له استدلال سره هيڅ ربط او تعلق نۀ لري.[2]

د صحيح مسلم شارح ((نووي)) د دې حديث تفسير په دا ډول کوي: ((سنت دا دے چې قبر پکار دي له زمکې نه زيات اوچت نۀ وي او د اوښ د کوب په شان جوړ نۀ کړې شي بلکې له زمکې نه د يو لوېشت په اندازه او اوار پکار دے.))[3]

دا جمله ښودنه کوي چې د صحيح مسلم د شرحې ليکوال د ((تسويه)) له لفظ نه هم هغه معنا مراد اخېستے دے چې مونږ يې ذکر وکړو. يعنې امام علي عليه السلام سپاربنتنه او نصيحت وکړ چې د قبرونو سطح دې د کب د ملا او د اوښ د کوب له شکل نه ووېستې شي او سطح دې اواره او برابره وساتلې شي، نه دا چې له زمکې سره يې زمکه کړي او يا دې د قبرونو د پاسه د مزارونو عمارتونه او ودانۍ ورانې او ويجاړې کړې شي.

دا خبره د ويلو ده چې يوازې مونږ نۀ يوچې دا حديث داسې تفسيروو بلکې ابن حجر قسطلاني په «ارشاد الساري في شرح صحيح البخاري» کتاب کښې هم حديث په دا ډول تفسير کړے دے. هغه وائي:

---

[1] ـ صحيح مسلم ، ۳ ټوک ، کتاب جنائز ، ٦١ مخ

[2] -دا احتمال هم شته چې په دې وجه چې د اوښ د کوب په شان قبرونه جوړول د يهودو له قبرونو سره مشابهت لري نو امام علي (ع) به ځکه د دغه مشابهت په وجه د قبرونو له دغه حالت نه د راوېستلو حکم کړے وي.(مترجم)

[3] ـ «نّ السُنّةَ اَن القَبر لا يُرفَعُ عَنِ الأرضِ رَفْعاً كثيراً ولايُسنّمُ بَلْ يُرفَع نَحوَ شبر ويُسَطّحْ »

«په قبر جوړولو کښې سنت دا دے چې سطح دې اواره وساتل شي او مونږ ته پکار نۀ دي چې په دې خاطر چې د قبر اوار ساتل د رافضيانو طريقه ده ترک کړو. دا چې وايو چې د قبر د سطحې برابر ساتل سنت دے د ابي الهياج له حديث سره مخالفت نۀ لري، ځکه چې مراد ترې له زمکې سره د قبر برابرول نۀ دي بلکې مراد ترې دا دے چې له زمکې نۀ په عېن اوچتوالي کښې دې د قبر سطح اواره او برابره شي.» «لم يُرِد تَسوِيتَه بالأرضِ وإنَما اَرادَ تَسطِيحَهُ ، جَمعاً بِينَ الأخبار . . . .»

له دې نه په تېرېدو که چرې ابي الهياج ته د حضرت امام علي عليه السلام له سپارښتنې نه مراد دا ؤ چې د قبرونو د پاڅه دې جوړې ودانۍ او عمارتونه وران او ويجاړ کړي نو بيا ولې يې په خپله زمانه کښې هغه عمارتونه او ګنبدونه چې د اسلامي حکومت په قلمرو کښې د الهي انبياؤ عليهم السلام په قبرونو باندې موجود وو وران نکړل؟ هغه خو په هغو ورځو کښې اسلامي زمکو باندې مطلق واکمن ؤ او د هغۀ د سترګو تر وړاندې د فلسطين، سوريې، مصر، عراق ، ايران او يمن هېوادونه له دا ډول ودانيو څخه ډک وو چې د پېغمبرانو عليهم السلام په قبرونو باندې يې شتون لرۀ؟!

له دغو ټولو خبرو نه تېرېږو او فرض به کړو چې امام علي عليه السلام«ابي الهياج» ته حکم ورکړے دے چې ټول اوچت قبرونه له زمکې سره برابر کړي، خو حديث هيڅکله په دې باندې ګواه نۀ دے چې بايد هغه ودانۍ او عمارتونه چې په قبرونو باندې موجود دي وران او ويجاړ کړې شي. ځکه چې په حديث کښې راغلي دي چې امام وفرمايل: «. . . ولاقبراً مُشرفاً الاّ سَوّيتَه» او وې نۀ فرمايل چې: «ولابناءً ولا قبةً الاّ سوّيتهما» په داسې حال کښې چې زمونږ خبره د قبر په باره کښې نۀ ده بلکې زمونږ بحث د هغو عمارتونو، ودانيو او ګنبدونو په حقله دے چې د قبر د پاسه جوړ کړې شوي دي او خلق د هغو تر سيوري لاندې، د قران مجيد په تلاوت، دعاګانو او نمونځونو باندې بوخت دي. چرته دا ويل شوي دي چې د قبرونو چاپېره هغه ودانۍ، عمارتونه او آثار چې زيارت کوونکي ته د قران مجيد د تلاوت، دعاګانو او نورو عبادتونو اساني ورکوي او خلق له ګرمۍ او يخنۍ نه په حفاظت کښې ساتي، وران او ويجاړ کړي.

دوه نور احتمالات:

۱- کېدې شي چې دا حديث او د دې په شان نور حديثونه د پخوانيو ملتونو د قبرونو په حقله وي چې خلقو د خپلو صالحانو او اولياؤ قبرونه قبله ګرځولي وو او د هغو او ورسره په څنګ کښې د تصويرونو په لور به يې نمونځ کوۀ او د هغې اصلي قبلې څخه به يې چې خدا ے پاک د هغوي لپاره مقرر کړې وه مخ ګرځوۀ. نو په داسې صورت کښې حديث له هغو قبرونو سره چې هيڅکله مسلمانان د نمونځ او سجدې لپاره د هغو په وړاندې نۀ دي ولاړ نۀ مربوطيږي. څرګنده خبره ده چې که مسلمانان د صالحانو او بزرګانو زيارتونو ته ورځي او د خدا ے پاک عبادت د هغو پاکو او مطهرو بدنونو او د هغوي د دفن د پاکو ځايونو په خوا کښې ادا کوي د هغه شرف په خاطر دي چې دغو ځايونو د هغوي د دفن کېدو په وجه پېدا کړےدے. چې په دې حقله به هم بحث وکړو.

۲- له «صوره» نه مراد د بتانو شکلونه او له «قبر» نه مراد د مشرکانو قبرونه وو چې د هغوي د پسماندګانو او نورو خلقو د پام وړ ګرځېدلي وو.

## په قبرونو باندې د ودانيو اوعمارتونو د جوړولو په حقله د څلورو واړو مذهبونو د علماؤ فتوا

«يُكرَه أنْ يُبنيَ عَلَي القَبْرِ بَيْتٌ أو قُبةٌ أو مَدرَسةٌ أو مَسجِدٌ...» [1] ((مکروه دي چې د قبر د پاسه کور، ګنبد، مدرسه يا جومات جوړ کړي شي......))

په هغه اتفاق سره چې دغه څلور واړه امامان د قبر د پاسه د ودانۍ له جوړولو څخه ((کراهت)) لري، څنګه کېدې شي چې د نجد ملا او قاضي د هغو په ((حراموالي)) باندې اصرارکوي، په داسې حال کښې چې دغه کراهت هم څه صحيح او پرېکنده مدرک او ثبوت نۀ لري. په خاصه توګه که هغه وداني او عمارت د پېغمبرانو، اولياؤ او صالحانو د قبرونو د زيارت کوونکو لپاره د عبادت کولو او د قران مجيد د تلاوت کولو زمينه رامنځته کړي.

## ۴- د جابر ام سلمه او ناعم په احاديثو سره استدلال

د جابر (رض) حديث:

د جابر (رض) حديث د وهابيانو يو بل مدرک او ثبوت دے چې د قبرونو په حراموالي کښې ورباندې استدلال لټوي. دا حديث د سنيانو ورونړو په صحاحو او سننو کښې په مختلفو شکلونو سره نقل شوے دے او د هغۀ په ټولو اسنادو کښې د جريح او ابي الزبير نومونه راغلي دي. د دې په اړه تحقيق له دې سره تړاو لري چې د حديث ټول صورتونه د هغوي په اسناد سره نقل کړو او بيا په استدلال باندې د هغۀ د صلاحيت د بنياد په باره کښې خپل نظر وړاندې کړو.

د صحاحو او سننو د حديث مختلف صورتونه:

مسلم په خپل صحيح کښې د «النهي عن تجصيص القبر والبناء عليه» په باب کښې د جابر (رض) حديث په دريو طريقو او په دوو متنونو سره نقلوي:

۱ ـ حَدَّثَنا أبوبَكْرُ بْنُ أبي شَيبة، حَدَّثَنا حَفْصُ بْنُ غياث، عَنْ ابنِ جُريج، عن أبي الزُّبَيْر، عَنْ جابِر؛ قال: «نَهي رَسُولُ اللهِ ـ صلّي اللهُ عليه [وآله] وسلّم ـ أنْ يُجَصَّصَ الْقَبْرُ. وَأنْ يُقْعَدَ عَلَيْهِ. وَأنْ يُبْني عَلَيْه»

((د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قبرونو چونا او ګچ کول او دا چې په هغو باندې کښېني او يا پرې عمارتونه جوړ کړي منعې کړل.))

۲ ـ حَدَّثَني هارُونُ بْنُ عَبْدِالله، حَدَّثَنا حَجّاجُ بْنُ مُحَمّد. وَحَدَّثَني مُحَمَّدُ بْنُ رافِع، حَدَّثَنا عَبْدُالرَّزّاقِ. جَميعاً، عَنْ ابْنِ جُرَيْج. قال أخبرني أبُو الزُّبَيْرِ: أنَّهُ سَمِعَ جابِرُ بْنُ عَبْدِاللهِ يَقُولُ: سَمِعْتُ النَّبِيّ. بِمِثْلِه.»

په دې برخه کښې متن يو دے خو د دويم حديث طريقه له وړومبي سره لږ اختلاف لري.

۳ ـ وحَدَّثَنا يَحْيَي بْنُ يَحْيي، أخْبَرَنا اِسْماعِيلُ بْنُ عُلَيّة عَنْ أيُّوب، عَنْ أبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جابِرٍ قالَ: «نَهي عَنْ تَقْصِيصِ الْقُبُورِ.» ((د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قبرونو له ګچکارۍ او چونې کولو څخه خلق منعې کړي دي. [1]

---

[1] ـ الفقه علي المذاهب الاربعه، ۱ ټوک ، ٤۲۱ مخ

«كراهية تجصيص القبور والكتابة عليها» سنن ترمذي د يو سند لرونكو احاديثو په باب كښې نقلوي:
٤ ـ حَدَّثَنا عَبْدُالرَّحْمنِ بْنُ الْأَسْوَد ، أَبُو عَمْرو الْبُصْرِيُّ، حَدَّثَنا مُحَمَّدُ بْنُ رَبِيعَةَ، عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ أَبي الزُّبَيْرِ، عَنْ جابِرٍ قالَ: «نَهي النَّبِيُّ ـ صلّي الله عليه [وآله ]وسلّم ـ أَنْ تُجَصَّصَ الْقُبُورُ وَأَنْ يُكْتَبَ عَلَيْها وَأَنْ يُبْني عَلَيْها وَأَنْ تُوطَأ» ((د خدا ے گران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قبرونو له گچکارۍ څخه له دې امله چې په هغو باندې ليكل وشي او وداني پرې جوړه شي او په هغو باندې تگ راتگ وكړي خلق منعې كړي دي.))
ترمذي بيا له حسن بصري او شافعي نه نقلوي چې دغو دواړو په قبرونو باندې د گلكارۍ او خټو لوټو د كار اجازه وركړې ده.[2]
((ابن ماجه)) په خپل سنن كښې د «ما جاء في النهي عن البناء علي القبور وتجصيصها والكتابة عليها» په باب كښې حديث په دوو متنونو او دوو سندونو سره نقل كړے دے:
٥ ـ حَدَّثَنا أَزْهَرُ بْنُ مخروانَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ زِياد ، قالَ: حَدَّثَنا عَبْدُالْوارِثِ، عَنْ أَيُوبَ، عَنْ أَبي الزُّبَيْرِ، عَنْ جابِرٍ، قالَ: «نَهي رَسُولُ الله ـ صلّي الله عليه [وآله ]وسلّم ـ عَنْ تَجْصِيصِ الْقُبُورِ.»
٦ ـ حَدَّثَنا عَبْدُاللّه بْنُ سَعيد ، قالَ: حَدَثَنا حَفْصُ بْنُ غياث، عَنْ ابنِ جُرَيجٍ، عَنْ سُلَيْمانَ بْنَ مُوسي، عَنْ جابِرٍ، قالَ: «نَهي رَسُولُ اللهِ ـ صلّي الله عليه [وآله ]وسلّم ـ أَنْ يُكْتَبَ عَلَي الْقَبْرِ شَيءٌ.» [3]
د يو سند حديث شارح له حاكم څخه د هغۀ له نقولو نه پس وائي: حديث صحيح دے خو د عمل قابل نۀ دے.ځكه چې د اسلام بزرگانو او مشرانو له مشرقه تر مغربه د قبرونو د پاسه ليكل كړي دي او دا هغه څيز دے چې راتلونكو له تېرو كسانو څخه اخېستے دے.
نسائي په خپل صحيح كښې په «البناء علي القبر» باب كښې حديث په دوو سندونو او دوو متنونو سره نقل كړے دے.
٧ ـ أَخْبَرَنا يُوسُفُ بْنُ سَعيد قالَ حَدَّثَنا حَجّاجُ عَنْ ابْنِ جُرَيج قالَ أَخْبَرَني أَبُوالزُّبَيْر أَنَّهُ سَمِعَ جابِراً يَقُولَ: «نَهي رَسُولُ اللهِ ـ صلّي الله عليه [وآله] وسلّم ـ عَنْ تَقْصِيصِ الْقُبُورِ أَوْ يُبْني عَلَيْها أَوْ يَجْلسَ عَلَيها أَحَدٌ.»
٨ ـ أَخْبَرَنا عُمْرانُ بْنُ مُوسي قالَ: حَدَّثَنا عَبْدُالْوارِث قالَ: حَدَّثَنا أَيُوبُ، عَنْ أَبي الزُّبَيْرِ، عَنْ جابِرٍ، قالَ : « نَهي رَسُولُ اللهِ ـ صلّي الله عليه [وآله] وسلّم ـ عَنْ تَجْصِيصِ الْقُبُورِ.» [4]
٩ ـ حَدَّثَنا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَل ، حَدَّثَنا عَبْدُالرَّزّاق ، اَخْبَرَنا ابنُ جُرِيج ، أَخْبَرَني أَبُوالزُّبَيْرِ أَنّه سَمِعَ جابِراً يَقُولُ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللّهَ ـ صلّي الله عليه [وآله ]وسلّم ـ نَهي أَنْ يُقْعَدَ عَلَي الْقَبْرِ وَاَنْ يُجَصَّصَ وَيُبْني عَلَيْه . [5]
١٠ ـ حَدَّثَنا مُسَدَّد وَعُثْمانُ بنُ أَبي شَيْبَة قالا: حَدَّثَنا حَفْصُ بْنُ غياث، عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنْ سُلَيْمانِ بْنُ مُوسي، وَعَنْ أَبي الزُّبَيْرِ، عَنْ جابِرٍ بهذا الْحَدِيث. قالَ أَبُو داوُد: قال عثمان: «أَوْيُزادُ عَلَيْهِ وَزادَ سُلَيْمان بن مُوسي، أَوْ اَنْ يُكْتَبَ

---

[1] ـ صحيح مسلم كتاب الجنائز ، ۳ ټوک، ٦٢ مخ
[2] ـ سنن ترمذي تحقيق عبدالرحمان محمد عثمان، ۲ ټوک ، ۲۰۸ مخ، ط مكتبة سلفيه .
[3] ـ سنن ابن ماجه، ١ ټوک، كتاب الجنائز، ٤٧٣ مخ
[4] ـ سنن نسائي، ٤ ټوک، ٨٧ و ٨٨ مخونه د حافظ جلال الدين سيوطي له شرحې سره.
[5] ـ سنن ابي داود ، ۳ ټوک، ٢١٦ مخ

عَلَيْهِ . .» ابو داوود وائي پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم په قبر باندې له ليکلو او څه زياتولو څخه نهي کړېده.

امام احمد بن حنبل په خپل مسند کښې د جابر حديث داسې نقل کړے دے:

۱۱ ـ عَنْ عَبْدِ الرَّزّاقِ، عَنْ ابن جُرَيج، أخْبَرني أبُوا الزُّبَيْرِ أنّهُ سَمِعَ جابِر بْنُ عَبْدِالله يَقُولُ: سَمِعْتُ النَّبِيّ ـ صلّي الله عليه [وآله ]وسلّم ـ «يَنْهي أنْ يُقْعَدَ الرّجُلُ عَلَي الْقَبْرِ وَأن يُجَصّصَ أو يُبْنَي عَلَيْه.»[۱]

دا د حديث مختلف صورتونه دي چې په مختلفو اسنادو او متنونو سره نقل شوي دي. اوس پکار دي وګورو چې ايا په دې حديث سره کولې شو استدلال او احتجاج وکړو يا نه؟

## د حديث اشکلات

د جابر حديث له يو شمېر اشکلاتو سره مخامخ دے چې هغه د استدلال او احتجاج له صلاحيت څخه غورزوي:

الف- د حديث په ټولو اسنادو کښې ابن جريج [۲] اوابو الزبير[۳] يا دواړه راغلي دي او يا له هغوي څخه يو. که د دغو دواړو کسانو حالت ځرګند شي نو نور ضرورت نشته چې د باقي نورو افرادو په سند کښې بحث او خبرې اترې وشي. که څه هم يو شمېر راويان مجاهيل اويا ضعيف دي.

ابن حجر په تهذيب التهذيب کښې د ابن جريج په حقله دا جملې د رجال له عالمانو څخه نقلوي:

* يحيی بن سيعد وائي: ((که ابن جريج د کتاب له مخې حديث نقل نۀ کړي نو اعتماد پرې نۀ شي کېدې.))

* احمد بن حنبل ويلي دي: ((چې که ابن جريج ووائي: «قال فلان و فلان وأُخْبِرْتُ جاء بمناكير» ((که ووائي چې فلاني او فلاني داسې وويل، نو منکر احاديث نقلوي.))

*مالک ليکي: ((ابن جريج د حديثونو په نقلولو کښې د هغه کس په شان دے چې د شپې په وخت په تياره کښې خشاک جمع کړي.((نو په قطعي توګه به په لاس باندې لړم او مار چيچي.))

* نقل شوي دي چې دارقطني وويل: «تَجَنّبْ تَدلِيسَ ابن جَريج فاِنّهُ قبيحُ التّدليسِ لا يُدَلِّسُ الاّ فيما سمعه من مجروح» . ((د ابن جريج له تدليس (يعنې غېر حقيقي، حقيقي ښودل) څخه ډډه وکړئ، ځکه چې په ډېره خرابه توګه تدليس کوي. هرکله چې له يو ضعيف کس څخه حديث واوري نو داسې ښودنه کوي چې له ثقه کس څخه يې حديث اورېدلے دے.))

* او له ابن حبان څخه نقلوي چې: ((ابن جريج په حديث کښې تدليس کوي.))[۴]

ايا د رجال د علم د عالمانو او پوهانو په دغو قضاوتونو او داوريو سره د داسې کس په حديث باندې تکيه او اعتماد کولې شو او د مسلمانانو د قطعي سيرت په وړاندې چې په دوامداره توګه يې د الهي اولياء کرامو د قبرونو تعمير کوۀ او د هغو احترام او حفاظت به يې کوۀ د داسې يو راوي په نقل باندې اعتماد کولې شو؟

---

[۱] مسند احمد، ۳ ټوک، ۲۹۵ و ۳۳۲ مخونه، او په ۳۹۹ مخ کښې يې له جابر څخه په مرسله توګه نقل کړے دے.

[۲] ـ عبدالملک بن عبدالعزيز بن جريج اموي.

[۳] ـ محمد بن مسلم اسدي.

[۴] ـ تهذيب التهذيب، ٦ ټوک، ۴۰۲ و ۵۰٦ مخونه ط دارالمعارف النظاميّه تأليف شهاب الدين ابي الفضل احمد.

ابن حجر همدا رنګ د ابوالزبیر په حقله د رجالو له عالمانو څخه دا ډول جملې نقلوي:
* د احمد بن حنبل له زوی احمد څخه او هغه له ایوب څخه نقلوي چې: ((هغهٔ به دې تضعیف او کمزوری کوهٔ.))
* له شعبه نه نقلوي چې ((هغه په صحیح توګه خپل لمونځ نهٔ شو ادا کولی.))
بیا له هغهٔ نه نقلوي: ((زهٔ په مکه کښې وم یو سړی ابوالزبیر ته راغی، له هغهٔ څخه یې د یو څیز په حقله پوښتنه وکړه، ناڅاپه یې په هغهٔ سړي بادې دروغ وتړل، ورته مې وویل: په یو مسلمان سړي باندې تور تړې؟ وې ویل: هغهٔ زهٔ ناراضه کړم، ورته مې وویل: ایا هر چا چې تهٔ ناراضه او خفه کړې نو دروغ به ورباندې تړې؟ بس نور به زهٔ له تا نه حدیث نقل نهٔ کړم.))
* همدا رنګ له شعبه نه مې پوښتنه وکړه: ((ولې دې له ابوالزبیرڅخه د حدیث نقلول پرېښودل؟ وې ویل: ومې لیدل چې هغه بدعمله دی.))
* له ابن ابي حاتم نه نقلوي: ((د هغهٔ له پلار نه مې پوښتنه وکړه: ابو الزبیر څه رنګ سړی دی؟ وې ویل: حدیثونه تري نقل کیږي خو په هغو باندې احتجاج نهٔ شي کېدې.))
* بیا هم له هغهٔ نه نقلوي: ((ما له ابوزرعه نه پوښتنه وکړه: حلق له ابوالزبیر څخه حدیثونه نقلوي ، تهٔ څه وائې؟ ایا د هغهٔ په حدیث سره احتجاج کېدې شي؟ وې ویل: یوازې د ثقه افرادو په حدیث سره استدلال کېدې شي. (دې ته اشاره ده چې هغه ثقه نهٔ دی.)
دا ؤ د ابن جریج او ابوالزبیر حال چې د نوموړي حدیث په ټولو سندونو کښې شتون لري، ایا په هغه حدیث سره چې دغه دواړه یې نقلوي استدلال کېدې شي؟ هغه هم په داسې صورت کښې چې هغه کسان چې په اسنادو کښې شتون لري، صحیح او ثقه کسان وي، په داسې حال کښې چې په دغو ځینو اسنادو کښې عبدالرحمن بن اسود وجود لري چې په دروغ ویلو باندې تورن دی.
په رښتیا هم ایا دا خبره روا ده چې په داسې یو حدیث سره چې سند یې په دا ډول وي د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د پاکې کورنۍ او د هغه حضرت د صحابه کرامو آثار وران او منهدم کړې شي او د دغو څوارلسو سوو کلونو په دوران کښې د مسلمانانو اعمال غلط او خطا وبلل شي؟
ب- حدیث د متن له نظره ډېر لړزان او مضطرب دی او دا اضطراب د دې بیانوونکی دی چې د خبر راویانو د هغهٔ د متن په ساتنه کښې کافي دقت نهٔ دی کړی. دا اضطراب په دا ډول دی چې د هغهٔ په نسبت د انسان اعتماد ختموي. مثلاً
د جابر حدیث په اوهٔ شکلونو کښې نقل شوی دی په داسې حال کښې چې د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم به په یو صورت بیان کړی وي.
۱- د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قبر له ګچکارۍ او په هغهٔ باندې له تکیه لګولو او ورباندې د ودانۍ له جوړولو نه نهي کړی ده. (وړومبی ، دویم او نهم حدیثونه)
۲- د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قبر له ګچکارۍ نه نهي کړې ده. (پنځم او اتم حدیثونه)
۴- د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قبرونو له ګچکارۍ ، په هغو باندې له لیکلو ، ورباندې د عمارتونو له جوړولو او ورباندې له ګرځېدلو څخه منعې کړې ده.
۴- د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په قبر باندې له لیکلو څخه منعې کړې ده. (شپږم حدیث)

۵- د خدا ے گران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په قبر باندې له ناستي، ورباندې گچکارۍ، ورباندې د عمارت له جوړولو او لیکلو څخه منعې کړې ده. (لسم حدیث)
۶- د خدا ے گران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په قبر باندې له گچکارۍ، ورباندې د ودانۍ له جوړولو څخه مخنوے کړے دے. (یولسم حدیث)
په حقیقت کښې له وړومبي صورت سره د دې صورت فرق په دې کښې دے چې په وړومبي صورت کښې قبر ته د تکیه لگولو څخه منعې شوې وه خو په دې کښې ورباندې له ناستي څخه منعې شوې ده.
۷- د خدا ے گران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په قبر باندې له ناستي، ورباندې له گچکارۍ، ورباندې د خاورې زیاتول او ورباندې له لیکلو څخه منعې کړې ده.
په اخیر صورت کښې له وړومبنیو دریو نه علاوه په قبر باندې د خاورو له زیاتولو او لیکلو څخه منعې هم زیاته کړې شوې دې.
له دغو نه علاوه کله کله د تعبیرونو ترمېنځ اختلافات او فرقونه وي، په وړومبي صورت کښې ((اعتماد او تکیه)) او په دریم صورت کښې ((وطء)) (پښې اېښودل او په لاره تلل) دي او په پنځم او شپږم صورت کښې ((قعود)) کښېناستېدل په مسلمه توگه تکیه او اعتماد له لارې تگ او کښېناستېدو نه بغېر دي.له داسې اضطراب سره په داسې حدیث باندې د یو فقیه اعتماد نهٔ شي کېدې.
ج- له دې حدیث څخه د سند د صحت په فرض اوله هغهٔ څخه د اغماضو له مخې له دې نه زیات دلالت نهٔ کوي چې د خدا ے گران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په قبر باندې له ودانۍ او عمارت څخه مخنیوے کړے دے خو له یو څیز څخه منعې د هغهٔ په حراموالي باندې دلیل نهٔ دے، ځکه چې منعې او نهي کله ((تحریم)) وي او کله ((کراهت)) وي او د خدا ے د گران رسول صلی الله علیه و آله وسلم او نورو پېشوایانو په مکالماتو کښې نهي او منعې زیاتره د کراهت لپاره استعمال شوې ده.
صحیح ده چې د ((نهي)) ابتدائي او اصطلاحاً حقیقي معنا هم هغه تحریم دے او تر څو چې قرینه په یوې بلې معنې باندې ترمېنځ نهٔ وي نو هیڅکله له هغه کراهت څخه استفاده نهٔ شي کېدې، خو علماؤ او پوهانو له دې حدیث څخه بې له کراهت نه بل څه مطلب نهٔ دے اخېستے. مثلاً ترمذي دغه حدیث په خپل صحیح کښې د «کراهیة تجصیص القبور و. . .» تر عنوان لاندې راوړے دے.
په کراهت باندې گواه هم هغه دے چې ((سند)) یې د سنن ابن ماجه شارح له حاکم نه نقلوي او وائي: هیڅ مسلمان په دغه نهي باندې عمل نهٔ دے کړے، یعنې هغه یې تحریمي نهي نهٔ ده گڼلې.په دې گواهۍ سره چې ټول مسلمانان په قبرونو باندې لیکل کوي.
په دې باندې یو بل گواه چې دا نهي کراهتي نهي ده د قبرونو د پاسه د عمارت او ودانۍ د جوړولو په جائزوالي باندې د اسلامي مذهبونو د علماؤ اتفاق دے مگر دا چې زمکه وقف نهٔ وي.

د صحیح مسلم شارح د حدیث په شرح کښې لیکي:

د قبرد خاوند په قبر باندې د عمارت جوړول مکروه دي او په وقف زمکه کښې حرام. شافعي د دې مطلب وضاحت کړے دے او حتی حدیث یې د «کراهة تجصیص القبر والبناء علیه» په عنوان سره راوړے دے (أمّا البناء فَانْ کانَ في مِلْک الْباني فمکْرُوهٌ وَاِنْ کان في مَقْبرة مَسَبّلَة فَحَرامٌ نَصّ[1] عَلَیْه الشّافعي والاْصْحاب)

خو دا ویلې شو چې د یو څیز مکروه والے د دې مخه نیونکے نۀ دے چې کله کله د یو لړ چارو په خاطر له هغۀ څخه کرکه او کراهت ونۀ شي. نو هر کله چې د قبراو په هغۀ باندې عمارت جوړول د اسلام د اصالت د اسلامي شعائرو د حفاظت او د قبر له خاوند سره چې خداے پاک ورسره مینه فرض او واجب کړې ده د مینې او مودت د څرګندونې سبب ګرځي او یا د اسلامي شعائرو د ساتنې سبب ګرځي او یا د دې سبب کیږي چې زیارت کوونکے په قبر باندې د ودانۍ تر سیورې لاندې د قران مجید په تلاوت او دعاګانو باندې لګیاشي. نو په قطعي توګه داسې ګڼې چې په قبرونو باندې د ودانۍ په وجه رامنځته کیږي نۀ یوازې کراهت او کرکه رفع کوي بلکې د دې سبب کیږي چې د اسلامي شعائرو په توګه مستحب هم دي.

د مکروه والي یا مستحب والي حکم د یو لړ عنوانونو په وسیله مختلف ګرځي، کله کله یو مکروه چې د یو عنوان په اضافه کېدو سره محبوب ګرځي او یا یوه مستحبه چاره د یو لړ عوارضو په خاطر ترجیح لرونکې ګڼل کیږي. ځکه چې د یو څیز مکروه والے او مستحب والے د مرجوحیت او یا محبوبیت د تقاضې کونې نه علاوه بل څه نۀ دي، خو دا مقتضیات په داسې صورت کښې موثر کیږي چې ځینې خنډونه د اقتضا او تاثیر مخه ونۀ نیسي او یا یې په اقتضا باندې غلبه ونکړي او دا مطالب هغو کسانو ته چې له اسلامي فقهې څخه خبر وي زیات روښانه او څرګند دي

## په دوو حدیثونو سره استدلال

اوس چې خبره دې ځاے ته راورسېده نو ښه دا ده چې نور هغه حدیثونه هم وڅېړو چې د وهابیانو ډله ترې استفاده کوي:

ابن ماجه په خپل سنن کښې داسې نقلوي:

۱ ـ حَدّثَنا مُحَمّدُ بْنُ یَحیي، حَدّثَنا مُحمّد بن عَبْدُاللہ الرقاشي، حَدّثَنا وَهَب، حَدّثَنا عَبْدالرَحْمنُ بنُ یَزیدَ بنِ جابِر، عَنِ الْقاسِمِ بْنِ مُخَیَمرة، عَن اَبي سَعید: «اِنَ النّبِيّ ـ صلّي الله علیه [وآله] وسلّم ـ نَهي اَنْ یُبْني عَلَي القَبْرِ.»[2]

((د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په قبر باندې د عمارت او ودانۍ له جوړولو څخه نهي کړې ده.))

احمد بن حنبل په خپل مسند کښې یو حدیث په دوو سندونو سره نقلوي:

۲ ـ حَدّثَنا حَسَنٌ، حَدّثَنا اِبن لَهیعة، حَدّثَنا بُریدُ بْنُ اَبي حَبیب، عَنْ ناعِمِ مُولي اُمّ سَلَمة، عَنْ اُمّ سَلَمَة قالَتْ: «نهي رَسُولُ الله (صلّي الله علیه وآله) اَنْ یُبْني عَليَ الْقَبْر اَوْ یُجَصّصَ.»[3]

---

[1] ـ صحیح مسلم، ۳ ټوک، ۶۲ مخ، چاپ مصر، مکتبه محمدعلي صبیح.

[2] ـ سنن ابن ماجه، ۱ ټوک، ۴۷۴ مخ

[3] ـ مسند احمد، ۶ ټوک، ۲۹۹ مخ

«د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم خلق منعې کړل په قبر باندې د ودانۍ له جوړولو او وربانديې د ختېو لوټېو کار له کولو څخه.»

۳ ـ عَلِيّ بْنُ اسحاق، حَدّثَنا عَبْدُالله بْنُ لَهْيِعة، حَدّثَني بريد بْنُ اَبي حَبيب، عَن ناعمْ مُولي اُمّ سَلَمَة: «أنّ النّبِيّ ـ صلّي الله عليه [وآله] وسلّم ـ نَهي اَنْ يُجَصّصَ قَبْرٌ اَوْ يُبْني عَلَيْهِ اَوْ يُجْلَسَ.»[1]

د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په قبر باندې له ګلکارۍ، وربانديې د عمارت له جوړولو او یا وربانديې له کښېناستېدو نه نهي کړې ده.

د روایت په ضعیف والي کښې همدا خبره کافي ده چې یو راوي یې «وهب» دے. هغه په کامله توګه مجهول او نامعلوم کس دے او دا چې له وهب نه مراد څوک دے؟ په میزان الاعتدال کتاب کښې اولس «وهب» نومونه اخېستل شوي دي او معلومه نۀ ده چې دغه کوم یو وهب دے او له هغوي څخه زیاتره د وهب نومې کسان د خپلې زمانې دجعلي حدیثوونو جوړوونکي او دروغجن وو.[2]

د حدیث دویم او دریم آفت د عبدالله بن لهیعه شتون دے. ذهبي د هغۀ په باره کښې لیکي:

«ابن معین ویلي دي چې هغه ضعیف دے او په روایت سره یې استدلال نۀ شي کېدې، او یحیی بن سعید هغه ناڅه ګڼلے دے.»[3]

دلته په اسنادو کښې له مناقشې څخه تېرېږو او د یو بل ټکي یادونه کوو او هغه دا چې:

د اسلامي سیرت ټولو لیکوالانو، مورخانو او محدثانو نقل کړي دي چې د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم جنازه مبارکه د هغه حضرت د اصحابو په اجازې سره د هغۀ د مېرمن بي بي عائشې (رض) په کور او کوټه کښې خاور ته وسپارلې شوه او اصحابانو د هغه حضرت د دفن د ځا ے په غوره کولو کښې له یو حدیث نه استفاده کړې چې وړومبي خلیفه له پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم نه نقل کړے دے، او هغه حدیث په دا ډول دے چې هر پېغمبر چې په کوم ځا ے کښې هم رحلت وکړي پکار دي هم په هغه ځا ے کښې خاورو ته وسپارلے شي.[4]

اوس پوښتنه دا ده چې که د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په قبر باندې له عمارت او ودانۍ څخه نهي کړې ده نو څه ډول کېدې شي چې هغه حضرت د یو چت د لاندې په کوټه کښې دفن کړي او قبر یې داسې جوړ کړې شي چې یو عمارت او وداني وګرځي؟ د ځینو جامدو او اوچو کړسو وهابیانو لیکوالانو دا خبره ډېره خندوونکې ده چې وائي: هغه څه چې حرام دي په قبر باندې د ودانۍ او عمارت جوړول دي نه تر چت او ودانۍ لاندې د مړي ښخول، او د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د یوې ودانۍ لاندې (په کوټه کښې) خاورو ته وسپارلے شو نه دا چې وربانديې یې وداني او عمارت جوړ کړ.[5]

---

[1] مسند احمد ، ٦ ټوک ، ۲۹۹ مخ

[2] ـ میزان الاعتدال، ۳ ټوک، ۳۵۵ ـ ۳۵۰ مخونه

[3] ـ میزان الاعتدال، ۲ ټوک، ٤٧٦ مخ، د «عبدالله به لهیعه» په عنوان سره، اوتقریب التهذیب، ۱ ټوک، ٤٤٤ مخ ته مراجعه وکړئ.

[4] ـ مسند احمد ، ۱ ټوک، ۷ مخ، صحیح ترمذي، ۲ ټوک، ۱۳۹ مخ ؛ طبقات ابن سعد ، ۲ ټوک، ۷۱ مخ وغیره .

[5] ـ ریاض الجنّه، ۲۶۹ مخ لیک مقبل بن الهادي، چاپ کویت .

داسې يو تفسير د يو خارجي حقيقت (د ودانۍ تر لاندې د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د جنازې ښخول) له توجيه نه بل څه مقصد نهٔ لري او که وهابيان له داسې يو حقيقت سره مخامخ نهٔ وې نو د دواړو صورتونو د حراموالي حکم به يې کوهٔ.!
اوس له يو وهابي نه پوښتنه کوو:
ايا يوازې د مړي په قبر باندې د ودانۍ او عمارت د جوړولو او تيارولو اصل حرام دے او که يو کس له دې اصل سره مخالفت وکړي او يو عمارت او وداني يې جوړه کړه نو نور د هغې باقي ساتل حرام نهٔ دي؟ يا دا چې وداني د ((جوړولو)) او ((بقا)) له لحاظه حرامه ده؟
نو د وړومبي صورت (چې وداني جوړول حرام او د هغې باقي ساتل حرام نه وي) له مخې پوښتنه کوو: ولې د سعودي حکومت په قهر او زور سره د رسالت آثار او د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د کورنۍ او د هغه حضرت د اصحابانو او د هغو د اولادونو مزارونه، ګونبدونه او کورونه وران ويجاړ کړل په داسې حال کښې چې يوازې د عمارتونو جوړول حرام وو نه د هغو باقي ساتل. او له دې نه په تېرېدو سره دا فرض د ابن قيم او ابن تېميه په شان وهابيانو د فتوو په خلاف چاره ده. لکه ابن قيم وائي:
((د قبرونو د پاسه ودانۍ ورانول واجب دي او د هغو باقي ساتل د هغو د ورانولو د وس له لرلو نه پس يوه ورځ هم جائز نهٔ دي.))
په دې ((بيان)) او په هغه ((عمل)) سره هيڅکله صحيح نهٔ دي چې وهابيان د پوښتنې وړومبۍ برخه غوره کړي بلکې مجبوراً دويمه برخه يې ومني او ووائي: په قبر باندې وداني جوړول په دواړو حالتو (جوړولو او باقي ساتلو) کښې حرام دي.
نو دغه وخت دا پوښتنه رامنځته کيږي چې ولې مسلمانانو د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم جنازه مبارکه د چت تر لاندې دفن کړه؟ که څه هم په هغه باندې يې عمارت جوړ نکړ خو داسې کاريې وکړ چې د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم قبر مبارک عمارت او ودانۍ لرونکے وګرځي.د وهابيانو د تېښتې يوازېنۍ لار دا ده چې د مسلمانانود خارجي عمل د توجيه په خاطر ووائي: ((د هغې ودانۍ باقي ساتل حرام دي چې په قبر باندې جوړه کړې شوې وي او که د ودانۍ د جوړولو په وخت يې قبر په خوا کښې نهٔ وي د هغې باقي ساتل که څه هم په قبر باندې د ودانۍ په صورت کښې وي حرام نهٔ دي. او داسې يو فرق د يو خارجي حقيقت (د مسلمانانو عمل) له توجيه نه بغېر بل څه نهٔ دي.

## وهابيت د ((مکتب)) او ((د مسلمانانو د عمل)) د تناقض په کشمکش کښې

دا ټکے يوازېنے مورد نهٔ دے چې وهابيان يې د ((مکتب)) او ((د مسلمانانو د عمل)) د تناقض په کشمکش کښې راګېر کړي دي بلکې هغوي په نورو مواردو کښې په دغه کشمکش کښې لاس پښې وهي.
وهابيت د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د آثارو تبرک کول په سختۍ سره ممنوع ګڼي او تل وائي: کاڼي او لوټې د څه کار نهٔ دي. له بلې خوا مسلمانان په متواتره توګه د حجر اسود، په لمس کولو او

ښکلولو او د کعبې د پردې او د هغې د ورونو او دیوالونو په ښکلولو سره د تبرک په لټه کښې دي او کاڼي او لوټې ښکلوي چې د وهابیانو له نظره د څه کار او فائدې نهٔ دي.
دوي د پېغمبرانو او اولیاؤ د قبرونو په خوا کښې د جوماتونو جوړول حرام کړي دي، په داسې حال کښې چې په ټولو اسلامي هېوادونو کښې د اولیاؤ او شهیدانو د مزارونو په خوا کښې جوماتونه شتون لري، حتی د سیدالشهداء حضرت امیر حمزه (رض) د قبر په خوا کښې یو جومات ؤ چې د سعودي واکمنانو هغه جومات وران کړ او همدا اوس د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم روضه مبارکه هم د جومات په مېنځ کښې ده او مسلمانان د هغې چاپېره نمانځهٔ ته اودرېږي.

## د ((حقیقت پسندی)) په ځاے ((دلیل جوړونه))

وهابیانو په جنت البقیع کښې د امامانو د مزارونو او ګنبدونو د ورانولو او ویجاړولو لپاره په دلیل جوړونو لاس پورې کړے دے او اصطلاحاً یوه بله بهانه یې لاسته راوړې ده او هغه دا چې: د بقیع زمکه وقف ده او پکار دي چې له دې زمکې څخه د وقف کوونکي د مقاصدو مطابق له زیاتې نه زیاته استفاده وشي او پکار دي د استفادې د لارې هر خنډ دې له منځه لرې کړې شي، او د رسالت د خاندان د قبرونو د پاسه ودانۍ د دغې زمکې له یوې برخې څخه د استفادې خنډ دي، ځکه چې فرضاً دا چې دفن په انګڼ او حرم کښې امکان ولري خو د چاپېره دیوالونو او ستنو تر لاندې داسې کار ممکن نهٔ وي نو پکار دي داسې ودانۍ له منځه لاړې شي چې د بقیع په ټوله زمکه کښې د وقف کوونکي مقاصد عملي وګرځي.
په دې کښې شک نشته چې داسې یو استدلال له مخکښې فېصلې کولو نه علاوه بل څه نهٔ دي، وهابي قاضي غواړي چې په هره طریقه او هر قیمت وي خو چې د رسالت د خاندان آثار او مقدسات له منځه یوسي او داسې یو هدف ته د رسېدو لپاره د دلیل جوړولو په لټه کښې شوې دے او د بقیع د زمکې د وقف والي مسئله یې رامنځته کړې ده، ځکه چې د جنت البقیع د زمکې د وقف کېدو فکر له یو ګمانه زیات څه نهٔ دي. دا ځکه چې:
د جنت البقیع د زمکې وقف کېدنه د تاریخ او حدیث په هېڅ یو کتاب کښې ذکر شوې نهٔ ده چې سړے په هغې باندې تکیه وکړي بلکې دا احتمال شته چې بقیع یوه شاړه زمکه وه او د مدینې خلقو به خپل مړي دغلته ښخول نو په داسې صورت کښې به دغه زمکه له اولیه مباحاتو څخه وي او پکښې د هر ډول تصرف جائز ګرځي.
په تېرو زمانو کښې چې په شاړو او خوشیو زمکو باندې د ملکیت پېدا کولو حرص او لالچ په خلقو کښې کم ؤ او د ابادونې او ودانولو توان او طاقت یې نهٔ لرۀ او همدارنګ د ښارونو په لور د کلیوالو خلقو راماتېدل نهٔ وو شروع شوي او د ((زمکې)) په نامه مسئله، د ((جائېداد لرونکو)) کسانو مسئله او د زمکو د اخېستلو او خرڅولو او انتقالولو اداري وجود نهٔ ؤ، زیاترو زمکو خاوند او مالک نهٔ لرۀ او اکثر زمکې په خپل وړومبني شکل کښې موجودې وې او اصطلاحاً په شاړو او بنجرو زمکو کښې حسابېدې. په دغو وختونو کښې به د هر ښار، د ښار د یوې برخې ، د یو کلي او یوې بانډې خلقو به د خپلو مړیو د ښخولو لپاره د زمکې یوه ټوټه مختص کوله، یا که یو کس به په یو ځاےکښې د خپل مړي په ښخولو کښې وړاندې قدم واخېست نو نورو به د هغهٔ په تقلید کښې

خپل مړي په هغه ځاے کښې ښخول او هغه ځاے به يې خپله اديره وګرځوله نه دا چې اول به يو کس هغه زمکه په خپله نامه انتقال کړه او بيا به يې د مړيو د ښخولو لپاره وقف کړه.
نو څرګنده خبره ده چې د جنت البقيع زمکه هم له دې قانون څخه مستثنی نۀ وه. په حجاز او مدينې کښې زمکې دومره قيمتي نۀ وې. او د مديې په خواوشا کښې د شاړو او بنجرو زمکو په شتون سره هيڅ يو عاقل د خپل استعمال او د کر کروندې زمکه د مړيو د ښخولو لپاره نۀ وقف کوي. په داسې سيمه کښې چې پکښې شاړې زمکې زياتې او زرخېزې او د کر کروندې زمکې کمې وي په قطعې توګه خلق د اديرې لپاره له شاړو زمکو چې له اوليه مباحاتو څخه دي استفاده کوي.
تاريخ هم دا حقيقت تائيدوي او ثابتوي يې: سمهودي په «وفاء الوفا» کتاب کښې ليکي:
« وړومبنے کس چې په بقيع کښې دفن شو عثمان بن مظعون (رض) اصحابي ؤ. کله چې د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم زوے ابراهيم عليه السلام رحلت وکړ نو د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم په حکم د عثمان اصحابي په خوا کښې دفن کړے شو. له دغه وخت نه خلق دې ته مايل شول چې خپل مړي په «بقيع» کښې ښخ کړي په دې وجه يې جاړې بوټې لرې کړل او هرې قبيلې د اديرې يوه برخه د خپلو مړيو د ښخولو لپاره مقرره کړه.» بيا ليکي:
«د بقيع په زمکه کښې د «غرقد» نومې ونه وه چې کله يې عثمان بن مظعون هلته ښخ کړ نو هغه ونه يې پرې کړه.»[1] عرقد هم هغه بياباني ونه ده چې د مدينې په بيابانونو کښې له ورايه لېدل کيږي.
له دې عبارت نه ښۀ په څرګنده دا حقيقت په ډاګه کيږي چې د بقيع زمکه شاړه او بنجره زمکه وه چې هلته د يو اصحابي د ښخېدو په وجه هر چا د خپلې قبيلې لپاره د زمکې يوه ټوټه ونيوه او په تاريخ کښې د بقيع د زمکې د وقف کېدو يا له هغې نه د څه ګټې اوچتولو څه ذکر نۀ دے راغلے بلکې له تاريخ نه دا څرګنديږي چې د بقيع د زمکې هغه برخه چې پکښې د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د کورنۍ کسان دفن شوي دي په هغه ځاے کښې د عقيل بن ابي طالب (ع) کور ؤ او د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم له اهلبېتو عليه السلام څخه د دغو څلورو پاکو امامانو جسدونه په هغه کور کښې چې له بني هاشمو سره يې تعلق لرۀ دفن شوي دي.
سمهودي ليکي: «عباس بن عبدالمطلب عليه السلام د بني هاشمو په مقبره کښې چې د عقيل بن ابي طالب عليه السلام کور ؤ د فاطمه بنت اسد عليهاالسلام د قبر په خوا کښې خاورو ته وسپارلے شو.»[2]
او همدا رنګ له سعيد بن جبېر نه نقلوي چې: «هغۀ د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د زوے ابراهيم عليه السلام قبر په هغه کور کښې چې د محمد بن زېد بن علي عليه السلام ؤ ليدلے دے.»
بيا نقلوي چې: «د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د سعد بن معاذ (رض) مړے د بقيع په خوا کښې د ابن افلح په کور کښې چې عمارت او ګنبد يې لرۀ خاورو ته وسپارۀ.»

---

[1] ـ وفاء الوفا ، ۲ ټوک ، ۸٤ مخ
[2] ـ وفاء الوفا ، ۲ ټوک ، ۹۲ مخ

دا تولي جملې د دې ټکي بیانوونکې دي چې د بقیع زمکه وقف یا اباده زمکه نۀ وه او د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د پاکو اهلبېتو علیهم السلام جنازې د دغه خاندان د خپل ملکیت په کورونو کښې دفن شوي دي.

نو په داسې حالت کښې ایا دا کار صحیح دے چې د رسالت د خاندان مقدس آثار د وقف د لارې د خنډ کېدو په بهانه له خاورو سره خاورې کړې شي؟

اوس که فرض کړو چې د بقیع زمکه وقف وه نو ایا د هغې د وقف د کیفیت او څه رنګوالي څه اثر او ثبوت په لاسو کښې شته؟ کېدې شي چې وقف کوونکي د سترو شخصیتونو د قبرونود پاسه د ودانیو او عمارتونو د جوړولو اجازت ورکړے وي ځکه چې څه ثبوت نۀ لرو او پکار دي د مومن یو کار په صحیح والي باندې واخلو او هغه خامخا په خلاف ورزۍ باندې تورن نکړو. نو څرګنده خبره ده چې په داسې صورت کښې هم د مزارونو، عمارتونو او ګنبدونو د ورانولو ویجاړولو حرام والے او د شرعې په خلاف عمل څرګند او په ډاګه کیږي.

قاضي بن بلیهد او د هغۀ همفکره کسان په دې ښه پوهېدل چې د وقف والي فکر یو ډول دلیل لټونه او استدلال تراشي ده او که داسې یو دلیل یې نۀ وي پېدا کړے نو بیا یې هم د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم دخاندان اثار ورانول، ځکه چې دغه وړومبنے ځل نۀ ؤ چې دغې ډلې د دغې پاکې کورنۍ اثار وران او ویجاړ کړي دي بلکې په ۱۲۲۱ کال کښې چې کله دغه ډله په وړومبي ځل په مدینه منوره باندې مسلطه شوه نو د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د خاندان آثار یې وران او ویجاړ کړل خو د عثماني ځواکونو په ذریعه له حجاز څخه د دغې وهابي ډلې له شړلو نه پس دغه پاک او مقدس ځایونه بیا جوړ او اباد کړې شول.

*****

# دریم باب

## د صالحانو او نېکانو د قبرونو ترڅنګه د جومات جوړول

سوال: آیا د نېکو او صالحو کسانو د قبرونو ترڅنګه یا د قبر د پاسه د جومات جوړول جائز دي که نه؟ او د جائز کېدو په صورت کښې د هغه حدیث مضمون څه دے چې د یهودو او نصاراؤ د عمل په اړه د خدا ے له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم څخه نقل شوے دے؟ په حدیث کښې راغلي دي چې د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په دغو دواړو ډلو باندې په دې وجه چې د خپلو پېغمبرانو قبرونه یې د عبادت ځایونه ګرځولي دي لعنت وکړ. اوس پوښتنه دا ده چې ایا د اولیاء کرامو د قبرونو ترڅنګه جومات جوړول د هغه څه په شان نهٔ دي چې په دې روایت کښې راغلي دي؟!

ځواب: د الهي اولیاؤ او نېکانو د قبرونو ترڅنګه د جوماتونو جوړول اسلامي کلي اصولو ته په پام سره تر ټولو ډېره لږه منعې هم نهٔ لري، ځکه چې د جومات د جوړولو هدف او مقصد د خدا ے پاک د نازولي او محبوب د مدفن په څنګ کښې د خدا ے پاک له پرستش او عبادت نه بغېرچې د هغه ځا ے د تبرک سبب ګرځېدلے دے بل څه نهٔ دي.

په بله معنا په دې اړه د جومات د جوړولو هدف او مقصد دا دے چې د خدا ے پاک د نازولو اولیاؤ زیارت کوونکي له زیارت نه مخکښې یا وروسته خپل عبادي فرائض هغه ځا ے کښې ترسره کړي. له دې امله چې (حتی د وهابیانو له نظره هم) د قبرونو د زیارت اصل حرام نهٔ دے او نهٔ له زیارت نه مخکښې یا وروستو د نمانځه ادا کول حرام دي. نو څه امکان نهٔ لري چې د اولیاء کرامو د قبرونو تر څنګه د خدا ے پاک د پرستش او د الهي فرائضو د ترسره کولو لپاره د جومات جوړول حرام وي.

د اصحاب کهف واقعې ته په پام سره دا استنباط کیږي چې دا کار په تېرو شریعتونو کښې یو ښه عمل او سنت ؤ او قران مجید بې له دې چې د دغه کار غندنه وکړي دغه کار نقل کړے دے.کله چې د اصحاب کهف واقعه درې سوه نهٔ کال پس د هغه وخت خلقو ته څرګنده شوه نو خلق د هغوي د قدرونې د څه رنګوالي په حقله په دوو ډلو تقسیم شول:

۱- يوې ډلې خلقو وويل: پکار دي د دوي په قبر باندې يو عمارت او وداني جوړه کړو (چې د دغو شخصيتونو له قدرونې سره سره د دوي ياد او خاطره، نوم او نښان او آثار يې ژوندي وساتو) قران مجيد دغه نظر ته په دې جملې سره اشاره کوي او فرمائي: «وَقالُوا ابْنُوا عَلَيْهِمْ بُنْياناً» ((د دوي په قبر باندې يو عمارت جوړ کړئ.))
۲- بلې ډلې وويل: د دوي په قبر باندې (يعنې د غار په خوله کښې) پکاردي يو جومات جوړ کړو (او له دې لارې تبرک حاصل کړو.)) مفسران د نظر اتفاق لري [1] چې وړومبنے تجويز له مشرکانو سره او دويم تجويز له موحدانو او خدا ے پرستو سره متعلق ؤ. ځکه چې قران مجيد د دې قول په نقلولو سره داسې فرمائي:
وَقالَ الذّينَ غَلَبُوا عَلي أمرِهِمْ ، لَنَتّخِذَنّ عَلَيهِمْ مَسْجِداً . [2] ((هغې ډلې چې په وړومبۍ ډلې باندې کامبابه شوې وه وويل چې د دوي په مدفن باندې يو جومات جوړ کړو.))
تاريخ وائي چې د اصحاب کهف د ظاهرېدو دور په شرک باندې د توحيد د کاميابۍ دور ؤ نور نو د مشرکانو واکمنانو او د هغو د اولادونو چې خلق به يې بت پرستۍ ته رابلل هيڅ نښه نښانه نۀ وه نو په طبيعي توګه غالباً دغه کاميابه ډله خلق به هم هغه موحدان وو ، په تېره بيا دا چې د هغوي د تجويز متن د خدا ے پاک د عبادت او پرستش لپاره د جومات د جوړولو موضوع وه او دا چاره خپله په دې باندې ګواه ده چې تجويز وړاندې کوونکي موحدان او نمونځګزاري کسان وو.
که د الهي اولياؤ د قبرونو د پاسه يا ورسره په خوا کښې د جوماتونو جوړول شرک وي نو ولې د هغه وخت موحدانو داسې تجويز ورکړ او قران مجيد ولې بې له دې چې په هغوي باندې نيوکه وکړي د هغوي ماجرا نقل کړه؟! ايا له خاموشۍ سره د قران مجيد نقلول د هغه کار په جائز کېدو باندې ګواهي نۀ ده؟ دا هيڅکله صحيح خبره نۀ ده چې خدا ے پاک دې د يوې ډلې لخوا د شرک يوه نښه نقل کړي بې له دې چې اشارتاً يا په واضحه توګه پرې نيوکه او تنقيد وکړي او دا استدلال هم هغه ((تقرير)) دے چې د ديني اصولو په علم کښې ورباندې بحث شوے دے. دا چاره د نړۍ د موحدانو ترمېنځ د يو ډول متواتر سيرت ښودنه کوي او د قبر د خاوند يو ډول احترام يا تبرک ګڼل کيږي.
ښه دا وه چې وهابيانو په نوموړي حديث باندې له استدلال نه مخکښې مسئله قران مجيد ته وړاندې کړې وې او بيا يې حديثونه وړاندې کول.

## د اوليا کرامو د روضو په خوا کښې د جومات د جوړولو په حرام والي باندې د وهابيانو دلائل

دغې ډلې ((د صالحانو د قبرونو ترڅنګه د جومات د جوړولو د تحريم)) لپاره په څو حديثونو سره استدلا ل کړے دے چې دلته د هغو ټولو څېړنه کوو:
بخاري د خپل صحيح په «يكْرَهُ من إتّخاذِ المَساجِدِ عَلَي الْقُبُورِ» باب کښې دوه حديثونه نقلوي:

[1] ـ کشاف ، مجمع البيان ، غرائب القرآن نيشابوري ، جلالين او الميزان تفسيرونو ته مراجعه وکړئ .
[2] ـ صحيح بخاري ، ۲ ټوک ، کتاب الجنائز ، ۱۱۱ مخ ، دارمطالع .

١ ـ «لَمّا ماتَ الْحَسَنُ بْنُ الْحَسَنِ بْنِ عَليٍّ رضيَ اللهُ عَنْه ضَرَبَتِ امْرَأَتُهُ الْقُبَّةَ عَلي قَبْرِهِ سَنَةً ثُمَّ رَفَعَتْ فَسَمِعُوا صائحاً يَقُولُ اَلاهَلْ وَجَدُوا مافَقَدُوا فَأَجابَهُ الآخَرُ بَلْ يَئِسُوا فَانْقَلَبُوا.»
((كله چې حسن بن حسن بن علي وفات شو نو مېرمن يې په قبر باندې يوه خېمه ښخه کړه او يو کال پس يې لرې کړه، خلقو واورېدل چې يو سړے چغې وهي چې ايا هغه څه چې يې ورک کړي وو پېدا يې کړل، يو بل کس ځواب ورکړ چې نه نااميده شول او حالت يې بدل کړ.))

٢ ـ «لَعَنَ اللهُ الْيَهُودَ وَالنّصاري إتّخَذُوا قُبورَ أنْبيائِهِمْ مَسْجِداً قالَتْ ( عائشة ) وَلَولا ذلک لأبْرَزُوا قَبْرَهُ غَيْرَ أنّي أخْشي أن يُتّخَذَ مَسْجِداً»
(( خدا ے دې په يهودو او نصاراؤ باندې لعنت وکړي چې د خپلو پېغمبرانو قبرونه يې د سجدې ځا ے ګرځولے دے (عائشې) وويل: که دا ويره نۀ وه چې د پېغمبراکرم قبر به د سجدې ځا ے وګرځي نو مسلمانانو به د هغۀ قبر ښکاره کړے وې او د هغۀ چاپېره به يې څه ديوال ( نۀ ګرځوۀ ) بغېر له دې چې دا ويره لرم چې هغه د سجدې ځا ے شي.))
مسلم په خپل صحيح کښې دويم حديث په لږ فرق سره نقل کړے دے نو ځکه له هغو دواړو څخه د يو په نقلولو باندې بسنه کوو:

٣ ـ «. . . ألا وَانّ مَنْ کانَ قَبْلَکُمْ کانُوا يَتّخِذُونَ قُبورَ اَنْبيائِهِمْ وَصالِحِيهِمْ مَسجِداً . اَلافَلا تَتّخِذُوا الْقُبُورَ مَساجِدَ . انّي أنْهاکُمْ عَنْ ذلکَ.»[1]
((آګاه وسئ له تاسو مخکښې کسانو به د خپلو پېغمبرانو او صالحانو قبرونه مسجدونه ګرځول ، هيڅکله قبرونه مسجدونه ونګرځوئ، زۀ تاسو له دې نه منعې کوم.))

٤ ـ «إنّ أُمّ حَبِيبَةَ وَأُمّ سَلَمَةَ ذَکَرَتا کَنيسَةً رَأيْنَها بِالْحَبَشَةِ فيها تَصاويرٌ لِرَسُولِ الله ـ صلّي الله عليه [وآله ]وسلّم ـ فَقالَ رَسُولُ الله إنّ أُولئِکَ إذا کانَ فِيهِمُ الرّجُلُ الصّالِحُ ، فَماتَ بَنَوا عَلي قَبْرِهِ مَسْجِداً وَصَوّروا فِيهِ تِلْکَ الصُّوَرَ أُولئِکَ شِرارُ الْخَلْقِ عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيامَة»[2]
((د پېغمبر بيبيانو) ام حبيبې او ام سلمې (رض) وويل: په حبشه کښې يې ( چې له يوې ډلې کسانو سره يې هلته هجرت کړې ؤ) د خدا ے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم يو شمېر تصويرونه وليدل. د خدا ے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم وفرمايل: دوي هغه خلق دي چې هر کله به له دوي څخه يو صالح کس وفات کېده نو د هغۀ په قبر باندې به يې جومات جوړوۀ او د هغوي د شکلونو تصويرونه به يې جوړول، دوي به د قيامت په ورځ د خدا ے په نزد تر ټولو بد خلق وي.))
نسائي په خپل سنن کښې د «التغليظ في اتخاذ السرُج علي القبورِ» نومې باب کښې له ابن عباس نه نقلوي:

---

[1] ـ صحيح مسلم، ٢ ټوک ، ٦٨ مخ
[2] ـ صحيح مسلم، کتاب المساجد ، ٢ ټوک ، ٦٦ مخ

«لَعَنَ رَسُولُ اللهِ ـ صلّي الله عليه [وآله] وسلّم ـ زائِراتِ القُبُورِ وَالْمُتَّخِذِينَ عَلَيْها الْمَساجِدَ وَالسُرُجَ»[1]
((د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په هغو ښځو باندې چې د قبرونو زيارت کوي او په هغو کسانو باندې چې هغه يې مسجدونه ګرځولي دي او څراغونه پرې بلوي لعنت وکړ.))
ابن تيميه چې د دا ډول عقائد بنياد ايښودونکے دے او محمد بن عبدالوهاب نجدي چې تل به يې د هغهٔ له پاتې شوي پخلي نه استفاده کوله ياد شوي حديثونه به يې داسې تفسيروهٔ چې: هيڅکله جائز نهٔ دي چې د يو صالح کس په قبر يا يې خواو شا کښې جومات جوړ کړې شي.
ابن تيميه بيا ليکي:
((زمونږ علماؤ ويلي دي چې هيڅکله جائز نه دي چې په قبر باندې جومات جوړ کړے شي.))[2]

## د حديثونو په مضمون کښې تحقيق

اوس پکار دي چې د حديثونو په متنونو کښې لږ غوراو فکر وکړو او د هغو صحيح مضمون لاسته راوړو او له يو اصل څخه غفلت ونکړو او هغه دا چې: هم هغه شان چې په يو ايت سره د بل ايت ابهام لرې کولې شو او په بله معنا يو ايت په بل ايت سره تفسيرولې شو همدا رنګ په يو حديث سره بل حديث تفسيرولې او ابهام يې لرې کولې شو.
يوه ډله وهابيان د يو حديث په ظاهر پورې نښتي دي او له هغهٔ څخه يې داسې مطلب اخېستے دے چې د اولياؤ په قبرونو باندې يا ورسره خوا کښې د هر ډول جومات جوړونه حرام او منعې دي. په داسې حال کښې چې که هغوي ټول حديثونه په خپلو کښې څېړلې وې نو د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د دې لعن په مقصد به پوه شوي وو. دا ډله له دې امله چې د اجتهاد ور يې خپلې مخې ته تړلے دے نو ځکه د ډېرو احاديثو په پوهه کښې په خطا لاره ځي.
روايت هغه وخت صحيح وي چې اسناد يې صحيح او راويان يې ثقه او د اعتماد وړ وي، ګني د استدلال قابل به نهٔ وي او له دې امله چې د دغو حديثونو د اسنادو بحث به د خبرې د اوږدېد او د وخت د ضائع کېدو سبب شي يوازې به د هغو د مضمون په حقله خبرې وکړو:

## د يهودو او نصاراؤ د عمل په حقله زمونږ نظر

د روايتونو له مقصد څخه خبرېدل له دې سره تړاؤ لري چې د پېغمبرانو د قبرونو په خوا کښې د يهودو او نصاراؤ د عمل په څه رنګوالي باندې پوه شو، ځکه چې د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم مونږ له هغه عمل څخه چې هغوي به کوهٔ منعې کوي. که په ايمان سره د هغوي د کار حدود څرګند شي نو په اسلام کښې به هم د حرمت د حدودو پته ولګي

---

[1] ـ سنن نسائي، ۳ ټوک، ۷۷ مخ، ط مصر، مصطفي الحلبي.
[2] ـ «قال علمائنا لايجوز بناء المسجد علي القبور». زيارة القبور، ۱۰۶ مخ

په تېرو احادیثو کښې داسې قرائن شته چې دا ګواهي ورکوي چې هغو خلقو د خپلو پېغمبرانو قبرونه قبله ګرځولي وو او حقیقي قبلې نه به یې مخ ګرځوۀ. بلکې له دې هم بالاتر دا چې د پېغمبرانو د قبرونو په خوا کښې به یې په ځاے د دې چې د خداے پرستش وکړي د خپلو پېغمبرانو پرستش کوۀ او یا به یې په پرستش او عبادت کښې هغوي له خداے پاک سره شریکول.

که د حدیثونو متن دا وي چې «د هغوي قبرونه خپله قبله ونګرځوو» او یا «په عبادت کښې هغوي له خداے پاک سره شریک ونګرځوو» وغېره... نو هیڅکله په دغو حدیثونو سره د نېکانو، صالحانو او پاکانو په قبرونو باندې یا ورسره په خوا کښې د جوماتونو په جوړولو باندې استدلال نۀ شو کولې، ځکه چې د دغو پاکانو زیارت کوونکي د هغوي قبرونه خپله قبله نۀ ګرځوي او نۀ د هغوي پرستش او عبادت کوي بلکې زیارت کوونکي یې د یو واحد خداے پرستش کوي او د نمانځۀ په وخت د خانه کعبې لور ته اودرېږي او د خداے پاک د نازولو د روضو په خوا کښې د جوماتو جوړولو مقصد له هغو مکاناتو څخه تبرک حاصلول دي.

نو په دې بنیاد مهمه خبره دا ده چې دا معلومه شي چې له دې څخه چې «د هغوي قبرونه مسجدونه یا د سجدې ځایونه ونګرځووو» د روایتونو هدف او مقصد هم هغه دے چې وویل شو.

## په تېرو روایتونو کښې قرائن:

۱- د صحیح مسلم روایت (څلورم روایت) د نورو روایتونو روښانوونکے دے، ځکه چې کله د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم دواړو مېرمنو هغه حضرت ته عرض وکړ چې: «د حبشې په ګرجو کښې یې د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم تصویرونه ولیدل» نو د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم وفرمایل: «هغوي هغه کسان دي چې هر کله به یې یو نېک او صالح کس مړ شونو د هغۀ په قبر باندې به یې یو جومات جوړوۀ او د هغۀ یو تصویر به یې په جومات کښې لګوۀ.» [1]

د نېکانو او صالحانو د قبرونو په خوا کښې د هغوي د تصویرونو مقصد دا ؤ چې د هغوي تصویرونو او قبرونو ته سجده وکړي، په دا شان چې قبراو تصویر به د هغوي قبله ګرځېده بلکې قبراو تصویر به یو بت ؤ چې سجده به یې ورته کوله. د بت پرستش له دې نه بغېر بل څه نۀ دي چې بت خپلې مخې ته کېږدي او د هغۀ په مخکښې عاجزي او تعظیم وکړي.

۱- هغه احتمال چې مو په دې حدیث کښې ورکړ د عیسائیانو عمل ته په پام سره چې تل یې انسان پرستیۍ ته ګروهنه لرلې او لري یې او تل د تصویرونو او مجسمو پرستش کوي. ډېره د پام وړ خبره ده او د داسې یو قوي احتمال په شتون سره هیڅکله دغه حدیث د اولیاء کرامو په قبرونو باندې یا په خوا کښې یې د جوماتونو د جوړولو چې له داسې کارونو څخه خالي دي په حراموالي باندې استدلال نۀ شو کولې.

---

[1] ـ «إنّ أُولئکَ إذ کانَ فیهِمْ الرّجُلُ الصّالِحُ فَماتَ، بَنَوا عَلي قَبْرِهِ مَسْجِداً وصَوّروا فیه تِلْک الصُّوَرَ...»

۲- احمد بن حنبل په مسند کښې او امام مالک په موطا کښې له حديث سره دا هم زياتوي چې د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم له نهي کولو نه پس وفرمايل: «أللّهُمّ لا تَجْعَلْ قَبْري وَثَناً يُعْبَدُ» [۱] ((اے خدايه! زما قبر هغه بت چې يې عبادت کيږي و نۀ ګرځوې.))

دا جمله د دې بيانوونکې ده چې هغوي به له هغه قبر سره او هغه تصوير سره چې د هغۀ په خوا کښې ؤ د بت په شان عمل کوۀ او د يو نېک سړي قبر يا د هغۀ تصوير به يې قبله ګرځوله او حتی د بت په شان به يې د هغو پرستش کوۀ.

۳- د بي بي عائشې (رض) په حديث (دويم حديث) کښې لږ غور دغه پاس حقيقت نور هم واضحه کوي. هغه له پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم نه د حديث له نقلولو نه پس داسې وائي:

((که دا ويره نۀ وې چې د پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم قبر به مسجد (د سجدې ځاے) وګرځي نو مسلمانانو به د هغۀ قبر ښکاره کړے ؤ (يعنې چاپېره به يې ترې ديوال نۀ جوړوۀ) بغېر له دې چې دا ويره وې (چې که ښکاره شي) نو قبر به يې مسجد وګرځي.))

اوس پکار دي دا وکتې شي چې له قبر نه چاپېره ديوال له کوم څيز نه مخنيوے کوي؟ په مسلمه توګه ديوال له دې څخه مخنيوے کوي چې خلق د قبر په لور نمونځ وکړي او د بت په شان د هغۀ پرستش وکړي او يا لږ تر لږه يې قبله وګرځوي. خو د قبر په خوا کښې بې له دې چې د قبر پرستش وکړې شي يا قبله وګرځولې شي نمونځ ادا کول امکان لري، که چاپېره ديوال ولري يا نه، قبر ښکاره وي يا پټ ، ځکه چې څوارلس سوه کاله وشول چې مسلمانان په مدينه منوره کښې د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د قبر مبارک په خوا کښې په نبوي جومات کښې د کعبې شريفې په لور نمونځونه کوي او د خداے عبادت په ځاے راوړي او د قبر ديوالونه د دې کار منعې کوونکي شوي نۀ دي.

لنډه دا چې د حديث وروستۍ برخه چې د بي بي عائشې (رض) کلام دے د حديث مضمون نور هم ښکاره کوي، ځکه چې ام المومنين وائي په دې خاطر چې د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم قبر مسجد (د سجدې ځاے) ونګرځي هغه يې د خلقو له سترګو نه پټ کړ او چاپېره يې ترې ديوال وواهۀ. اوس کتل پکار دي چې دغه ديوال د څه څيز مخنيوونکے کيږي؟

ديوال کولې شي له دوو څيزونو څخه مخنوے وکړي:

الف: نۀ پرېږدي چې قبر د بت په شکل کښې راشي او خلق يې مخې ته اودريږي او د هغۀ پرستش وکړي، ځکه چې هر کله يې نۀ ويني نو ورسره د بت په شان عمل نۀ شي کولے.

ب: قبر خپله قبله نۀ شي ګرځولے، ځکه چې قبله ګرځول له کتو سره تعلق لري او هغه نۀ شي کولې چې په کعبه باندې يې قياس کړې چې په ټولو حالاتو کښې قبله ده، که وليدې شي او کۀ و نۀ ليدې شي، ځکه چې کعبه يوه نړيواله قبله ده چې په ټولو حالاتو کښې د مسلمانانو قبله ده، ليدل کېدل او نۀ ليدل کېدل پرې څه اثر نۀ کوي خو په جومات کښې د حاضرو کسانو لپاره د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د قبر مبارک قبله ګرځول به له هغو کسانو سره تعلق ولري چې د هغۀ په جومات کښې نمونځونه کوي. نو داسې يو انحراف د قبر په

---

[۱] ـ مسند احمد، ۳ ټوک، ۲۴۸ مخ او په موطأ کتاب کښې هم نقل شوے دے.

څرګند او ظاهر صورت کښې د عملي کېدو زيات امکان لري او د هغۀ پټوالے او د سترګو په وړاندې نۀ شتون له دې امله چې سترګې قبر ته متوجه نۀ دي هغۀ ته د سجدې کولو که هغه د قبلې په صورت کښې هم وي ، فکر ډېر کم ذهن ته راځي، له دې امله ام المومنين وائي چې که د هغۀ قبر د مسجد ګرځېدو ( يعنې ورته د سجدې کولو ) احتمال نۀ وې نو قبر مبارک به يې څرګند پرېښے ؤ. ځکه چې داسې يو انحراف د قبر د څرګندېدو په صورت کښې زيات او د پټ ساتلو په صورت کښې کم امکان لري.

۴- د صحيح بخاري او صحيح مسلم زياترو شارحانو په دغه ډول چې مو بيان کړ تفسير کړے دے:

قسطلاني په ((ارشادلساري)) کښې وائي:

((يهوديانو او نصاراؤ به د خپلو وفات شويو کسانو د ياد د تازه ساتلو لپاره د خپلو نېکانو کسانو تصويرونه د هغوي د قبرونو په خوا کښې لګول او د هغوي د قبرونو تر څنګ به يې د خدا ے پاک پرستش او عبادت کوۀ خو د هغوي اولاد جانشينان په شيطاني وسوسو کښې ګرفتار شول او د هغوي د قبرونو تر څنګه يې د تصويرونو پرستش کوۀ.))

بيا له (( تفسير بېضاوي )) څخه نقلوي:

«لمّا كانَت اليهودُ والنّصاري يَسْجُدُونَ لقُبور الْأنْبياء تَعْظيماً لشَأنهمْ وَيَجْعَلُونَها قبلَةً يَتوجّهُونَ في الصّلاة نَحْوَها وَاتّخَذُوها أوثاناً ، مُنعَ الْمُسْلمُونَ في مثْلِ ذلكَ فَأمّا مَنِ اتّخَذَ مَسْجِداً في جَوارِ صالحٍ وَقَصَدَ التّبرُّكَ بِالْقُرْبِ منْهُ لا للتّعْظيمِ وَلا للتّوَجُّه الَيْهَ فَلايَدْخُلُ في الْوَعيد الْمَذكُور.» [1]

((له دې امله چې يهودو او نصاراؤ د خپلو پېغمبرانو قبرونه د تعظيم لپاره قبله وګرځوله او د نمونځ په وخت کښې به يې هغو ته مخ کوۀ. او قبرونوبه د هغوي لپاره د بت شکل پېدا کوۀ. د دې لپاره مسلمانان له دې کار څخه منعې کړې شول. خو که څوک د يو صالح او نېک کس د قبر په خوا کښې د تبرک په توګه جومات جوړ کړي ، نه د هغوي د پرستش لپاره او نۀ د نمانځۀ په وخت کښې هغۀ ته د متوجه کېدو او مخ کولو په خاطر، نو هيڅکله په دغو روايتونو کښې نۀ شامليږي.))

هغه وائي: ((نهي په دې صورت کښې تعلق پېدا کوي چې قبر په داسې حالت کښې راشي چې څنګه د اهل کتابو ترمېنځ رائج دي او د دې په غېر صورت کښې هيڅ اشکال نۀ لري.))

دا نۀ يوازې قسطلاني دے چې د بخاري په شرح کښې د نظر وړ حديثونه داسې تفسيروي بلکې د نسائي شرحه ليکونکے علامه سندي هم په همداسې مضمون سره خبرې کړې دي چې ځېنې پکښې دلته راوړو:

«إتّخَذُوا قُبُورَ أنْبيائِهمْ مَساجدَ» ؛ أي قبلةً للصّلاةِ وَيُصَلُّونَ اِليها أو بَنُوا مَساجدَ عليها يُصَلُّونَ فيها ولعلّ وجهَ الكراهَةِ أنّهُ قَدْ يُفضي الي عِبادَة نَفْسِ القَبْر. [2]

د هغۀ د وېنا مقصد دا دے چې په قبر باندې د جومات جوړول حرام او احياناً مکروه دي. که قبر قبله وګرځولې شي نو حرام دي او د دې نه په غېر صورت کښې مکروه دي، ځکه چې کېدې شي د قبر د خاوند د عبادت کولو سبب وګرځي.

---

[1] ـ ارشاد الساري في شرح صحيح البخاري، و ابن حجرد فتح الباري په، ۳ ټوک، ۲۰۸۸ مخ کښې دا نظريه تائيدوي .

[2] ـ سنن نسائي، ۲ ټوک ، ٤١ مخ ، مطبعه ازهر .

بیا وائي:

«يُحَذِّرُ أُمّتَهُ أنْ يَصْنَعُوا بِقَبْرِه ما صَنعَ الْيَهودُ والنّصاري بِقُبور أنْبيائِهِم مِنْ إتّخاذِهِم تِلْکَ الْقُبورَ مَساجِدَ إمّا بِالسُّجُودِ اِلَيْها تَعْظِيماً لَها أوْ بِجَعْلِها قِبْلَةً يَتَوَجّهُونَ في الصّلاةِ اِلَيْها» [1]

(( هغهٔ خپل امت له دې څخه چې له قبر سره هم هغه شان عمل وکړي چې یهودو او نصاراؤ به د خپلو پېغمبرانو له قبرونو سره کوهٔ منعې کړې دې، ځکه چې هغوي به د تعظیم په خاطر د هغوي قبرونو ته سجده کوله او یا به یې هغه خپله قبله ګرځوله.))

د صحیح مسلم شارح په دې حقله وائي: ((که د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم خپل قبراو نور قبرونه د مسجد په توګه غوره کولو نه خلق منعې کړي دي نو په دې خاطر دي چې هسې نه مسلمانان د هغهٔ په تعظیم کښې مبالغه وکړي اوکار کفر ته ورسي، نو له دې امله چې کله مسلمانان مجبور شول چې د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم جومات پراخه کړي او د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د بیبیانو حجرې او کوټې او د بي بي عائشې (رض) کوټه چې د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د دفن ځا ے د ے د جومات په منېځ کښې راولي نو له قبر نه چاپېره یې یو دیوال وواهۀ چې هسې نه د هغه حضرت قبر ښکاره نشي او مسلمانان يې قبر ته سجده وکړي او د بي بي عائشې (رض) دا وینا چې (لَوْلا ذلِکَ لأبْرَزُوا قَبْرَه غيرَ أنّه خُشِيَ اَنْ يُتّخَذَ مَسْجِداً) په دې باندې ناظره ده.

یو بل شارح وائي: ((د بي بي عائشې (رض) دا خبره له هغه وخت سره تعلق لري چې جومات لا پراختیا نهٔ وه موندلې، له پراختیا او پکښې د هغې د کوټې له شاملېدو نه پس یې هغه کوټه په مثلث شکل کښې راوسته چې څوک ونکړې شي قبر ته نمونځ وکړي.)) بیا وائي: د نصاراؤ او یهودو ډلې به د هغوي د قبرونو پرستش کوهٔ یا به یې هغوي د خدا ےپاک په عبادت کښې شریکول.))

په دې قرائنو او د حدیث د شرح کوونکو په پوهې سره نهٔ شو کولې چې له نوموړي حدیث څخه بې له دې څه بل مطلب واخلو او څه نورې نورې فتوې جاري کړو.

کولې شو له دغو ټولو قرائنو څخه تېر شو او مشکل په یو بل ډول حل کړو، یعنې ووایو:

الف- د حدیث مقصد هغه ځا ے د ے چې جومات د قبر د پاسه جوړ کړې شي او دا مطلب د اولیاء کرامو له قبرونو سره تعلق نهٔ لري. ځکه چې په ټولو مزارونو کښې جوماتونه د پاکو امامانو او اولیاء کرامو د قبرونو ترڅنګه جوړ کړې شوي دي په داسې ډول چې جومات له حرم څخه جدا وي.

په بله معنا په مزارونو کښې یو حرم لرو او بل جومات. حرم د زیارت د دعا او سلام او توسل ویلو لپاره او د هغهٔ تر څنګه جومات د خدا ے پاک د عبادت او ستائېنې لپاره د ے. نو په داسې صورت کښې دغه مقدس ځایونه د حدیث له مفهوم څخه ((په دې فرض سره چې د احادیثو مفهوم هم هغه وي چې وهابیان یې وائي) بهر دي.

او بله دا چې څه رنګ کېدې شي چې جومات جوړول دې د قبر تر څنګه حرام یا مکروه وي په داسې حال کښې چې نبوي جومات د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د روضې مبارکې تر څنګه ګرځېدلے د ے؟!

---

[1] ـ سنن نسائي، ۲ ټوک ، ٤١ مخ

که د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم اصحابان د اسمان د ستورو په شان وي چې پکار دي اقتداء یې وشي نو بیا ولې په دې کار کښې د هغوي پېروي ونکړو؟ هغوي جومات ته دومره پراختیا ورکړې ده چې د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم او دواړو خلیفه ګانو قبرونه د جومات ترمېنځه راغلي دي. که د الهي نازولو اولیاؤ د روضو تر څنګه د جومات جوړول ناروا کار وي نو بیا ولې د هغه وخت مسلمانانو د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم جومات له هرې خوا نه پراخه کړو؟ په دا ډول چې روضه مبارکه یې د جومات په مېنځ کښې راغله، په داسې حال کښې چې نبوي جومات د هغه حضرت په زمانه کښې د قبر مبارک د ځا ے په ختیځه برخه کښې شتون لرۀ او د پراختیا له کبله د قبر مبارک لویدیځه برخه هم د جومات جز وګرځېد.

ایا له «سلف» څخه چې وهابیان تل په خپل سلفي والي باندې فخر کوي د پېروی معنا دا ده چې یوازې په یوه چاره کښې له هغوي څخه پېروي وکړو او په نورو چارو کښېورباندې سترګې پټې کړو؟

له دې بیان څخه دا څرګندیږي چې د ابن قیم دا خبره چې وائي: «په اسلام کښې قبر او جومات د یو بل ترڅنګه نۀ شي جمع کېدې.» تر کومه حده بې بنیاده او د اصحابانو او مسلمانانو د سیرت په خلاف ده.

ب- له دغو روایتونو څخه له دې نه زیاته استفاده ونشوه چې د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم او د اولیاء الله په قبرونو باندې یا یې په خوا کښې د جوماتونو له جوړولو څخه نهي کړې ده، خو هیڅ پرېکنده دلیل پرې وجود نۀ لري چې دا خبره ثابته کړي چې دغه یوه «تحریمي نهي» نۀ ده بلکې احتمال لري چې «تنزیهي نهي» او اصطلاحاً «کراهتي نهي» وي، هماغه ډول چې بخاري احادیث پدې باندې حمل کړي دي او د بحث عنوان یې داسې راوړے دے: «باب یکره من اتّخاذ المساجد علي القبور.» [1]

د نهي په تنزیهي والي باندې بل ګواه دا دے چې دا مطلب په «زائرات القبور» یعنې هغو ښځو باندې چې د قبرونو زیارت کوي له لعن سره راغلے دے.[2] په مسلمه توګه د ښځې لپاره د قبر زیارت د یو لړ عوارضو په خاطر مکروه دے نه حرام.

که د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په دغې ډلې باندې لعن وائي نو لعن یې په حراموالي باندې ګواه نۀ دے ځکه چې په زیاترو روایتونو کښې د مکروهو کارونو په کوونکو باندې هم لعن ویل شوے دے او له لعن نه مراد د کراهت شدت او د خدا ے پاک له رحمت نه لرې والے دے. په روایتونو کښې په هغو کسانو باندې هم چې یوازې په سفر ځي، یوازې اودۀ کیږي او یوازې خوراک کوي هم لعن شوے دے.

په اخېر کښې به د یو بل ټکي یادونه هم وکړو چې د صالحو کسانو په قبرونو باندې د جومات جوړول د اسلام په ابتدائي دور کښې یوه رائجه چاره وه.

سمهودي وائي: «کله چې د حضرت علي علیه السلام مور بي بي فاطمه بنت اسد وفات شوه نو د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم حکم وکړ چې هغه د یو جومات په ځا ے کښې چې نن سبا ورته «مسجد فاطمه» وائي دفن کړئ. د دوي مراد دا دے چې د فاطمه بنت اسد د قبر ځا ے بیا وروسته د جومات په شکل کښې

---

[1] ـ صحیح بخاري، ۲ ټوک ، ۱۱۱ مخ

[2] ـ سنن نسائي، ۳ ټوک، ۷۷ مخ، ط مصر .

راغي.)) هغه بيا وائي: ((مصعب بن عميراو عبدالله بن جحش د هغه جومات ترلاندې چې د حضرت حمزه د قبر د پاسه جوړ شوی ؤ خاورو ته وسپارلې شول.))[1]
همدا رنګ وائي: ((په دويمه هجري قمري پيړۍ کښې د حضرت حمزه په قبر باندې جومات موجود ؤ.[2]
دغه جومات د وهابيانو تر تسلط پورې هم هغه شان په خپل ځای موجود ؤ چې هغوي بيا د دغو چټي دلائلو له مخې وران کړ.

*****

# څلورم باب

## د مومنانو د قبرونو زيارت د ((قران مجيد)) او ((سنت)) له نظره

د اسلام عالمانو او فقيهانو د قران مجيد له مبارکو ايتونو او له مبارکو حديثونو څخه په پيروۍ سره د قبرونو په تېره بيا د پېغمبرانو، اولياکرامو او صالحانو د قبرونو زيارت کول تجويز کړي دي او د دې لپاره د فضيلت او کرامت قائل شوي دي. په دې مېنځومان کښې وهابي ډله د قبرونو د زيارت اصل (په ظاهره توګه) حرام نۀ ګڼي خو د اولياء کرامو د قبرونو د زيارت لپاره سفر کول حرام او ممنوع اعلانوي.
اوس مونږ د زيارت له اصل څخه له فارغېدو نه پس ((د اولياؤ د قبرونو د زيارت لپاره د سفر)) مسئله څېړو:
دا خبره څرګنده ده چې د قبرونو زيارت زيات اخلاقي او تربيتي اثرات لري. او دلته په يوې کوټلې توګه ورته اشاره کوو.
د ارام د دغې وادۍ مشاهده چې د غني، فقير، توانمن او ځواکمن په شمول د ټولو کسانو د ژوند ډيوه پکښې مړه شوې او اوسېدونکي يې په درې ټکړو لباس سره تر خاورو لاندې په ارام پراتۀ دي زړۀ او روح لړزوي او په ډېره زياته توګه د انسان لالچ او طمعه کموي. که انسان د عبرت سترګې ولري نو له دغې لارې څخه زيات عبرت اخلي او له ځان سره داسې وائي: شپېتۀ يا اويا کاله عارضي ژوند چې خاتمه يې د خرواړونو خاورو تر لاندې پټېدل، ورستېدل، محو کېدل او نابودېدل دي دومره ارزښت او قيمت نۀ لري چې انسان دې د هغۀ د مال او مقام په حاصلولو کښې دومره زياتې هلې ځلې وکړي او په خپلو او پرديو باندې دې ظلم او ستم روا وګڼي.
د خاموشو وجودونو د دغې وادۍ مشاهده چې تر ټولو سخت زړونه نرموي او تر ټولو کاڼۀ غوږونه اورېدونکي کوي او تر ټولو کم ليدونکو سترګو ته نظر ورکوي، د دې سبب کيږي چې انسان د خپل ژوند په پروګرام کښې بيا کتنه وکړي او د پاک خالق او د هغۀ د مخلوق په وړاندې د خپلې سختې ذمه وارۍ او انفرادي او اجتماعي

---

[1] ـ وفاء الوفا، ۳ ټوک، ۸۹۷ مخ، تحقيق محمد محيي الدين
[2] ـ وفاء الوفا، ۳ ټوک، ۹۳۶ـ ۹۲۲ مخونه

دندو په اړه غور او فکر وکړي او خپلې خودسرۍ کمې کړي. د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د فرمان مطابق: ((د قبرونو زیارت د اخرت د سرای یاد راوړونکی دی))[1]
د قبرونو د زیارت صحیح والی او مضبوط والی په دومره اندازه روښانه او څرګند دی چې د دلیلونو وړاندې کولو ته حاجت نۀ لري، خو بیا هم ځینې دلائل د ډېر وروستو باور کوونکو لپاره وړاندې کوو:

## قران مجید او د قبرونو زیارت

خدای پاک په قران مجید کښې پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم ته حکم ورکوي چې هیڅکله د منافق په جنازه باندې نمونځ ونکړې او نۀ د هغۀ د قبر په خوا کښې اودرېږې. لکه چې فرمائي:
«وَلاتُصَلِّ عَلي أَحَد مِنْهُمْ مّاتَ اَبَداً وَلاتَقُمْ عَلي قَبْرِه اِنّهُمْ كَفَرُوا بِاللهِ وَرَسُولِه وَماتُوا وَهُمْ فاسِقُونَ» [2]
(( له دوي (منافقانو) څخه د یو کس لپاره هم چې مړ شي هیڅکله نمونځ ونکړې او په قبر باندې یې (د مغفرت غوښتلو لپاره) و نۀ درېږې، دوي له خدای او د هغۀ له پېغمبر څخه کفر اختیارکړ او په داسې حال کښې چې فاسقان او بدکار وو مړۀ شوي دي.))
په دې مبارک ایت کښې د منافق د شخصیت د ختمولو او د دغې ډلې د غړیو د غوړونو د تاوولو لپاره خپل ګران رسول (ص) ته حکم ورکوي چې:
۱- له منافقانو څخه د هیڅ یو کس په جنازه باندې نمونځ ونکړې.
۲- په قبر باندې یې ونۀ درېږې. دا حقیقت یې د ((وَلاتَقُمْ عَلي قَبْرِه)) په جملې سره بیان کړی دی.
د دې حکم چې فرمائي: د منافق په باره کښې دا دوه کارونه مۀ ترسره کوه، مفهوم یې دا دی چې دا کار د غیر منافق په باره کښې ښۀ او غوره دی.
اوس پکار دي دا وګورو چې له «وَلا تَقُمْ عَلي قَبْرِه» نه مراد څه دی؟ ایا مراد ترې یوازې د دفن په وخت په قبر باندې اودرېدل دي چې د منافق په باره کښې جائز نۀ دي او د مومن په باره کښې لازم او غوره کار دی؟ یا مراد ترې هم د دفن وخت او هم نور وختونه دي؟
ځینو مفسرانو ایت مبارک د دفن له وخت سره متعلق ګڼلی دی او د بیضاوي په شان ځینو نورو مفسرینو ورته په یوې وسیع نظرۍ سره کتلي دي او ایت مبارک داسې تفسیروي: «ولا تَقُمْ عَلي قَبْرِه لِلدّفْنِ أولِزِیارَة.»[3]
د ایت مبارک په مفهوم کښې په غورکولو سره دا خبر واضحه کیږي چې مراد ترې یوه پراخه معنا ده چې هم پکښې د دفن وخت او هم له هغۀ نه په پس وختونو کښې په قبر باندې اودرېدل مراد دی.ځکه چې د ایت مبارک مضمون په دوو جملو باندې مشتمل دی او هغه جملې په دا ډول دي:

---

[1] ـ سنن ابن ماجه، ۱ ټوک، «باب ماجاء في زيارة القبور» ، ۱۱۳ مخ
[2] ـ سورۀ توبه : ۸٤ ایت
[3] ـ تفسیر بیضاوي، ۳ ټوک، ۷۷ مخ

الف ـ «لاتُصَلِّ عَلي اَحَدٍ مِنْهُمْ ماتَ اَبَداً» د «اَحَد» لفظ د نهي په سياق کښې راغلے دے او د افرادو د استغراق لپاره مفيد دے او د «اَبداً» لفظ د زماني د استغراق لپاره مفيد دے او د جملې معنا دا شوه چې ((له منافقانو څخه د هيڅ کس لپاره او په هيڅ يو وخت کښې نمونځ ونکړې.))

دغو دوو لفظونو ته په پام سره په روښانه توګه په دې پوهېدې شو چې له جملې نه مراد خاص په مړي باندې د جنازې نمونځ نهٔ دے، ځکه چې د جنازې نمونځ په مړي باندې يوازې يو ځل له ښخوولو نه مخکښې ادا کيږي او بيا نهٔ تکراريږي. نو که مراد ترې په خاصه توګه د جنازې نمونځ وې نو د ((ابدا)) لفظ راوړلو ضرورت نهٔ ؤ او دا تصور چې دا لفظ د ((افرادي استغراق)) د افاديت لپاره دے په کامله توګه بې ربطه دے، ځکه چې د «لاتُصَلِّ عَلي اَحَدٍ» جمله د داسې شمول او استحباب لپاره مفيده ده او نوره لازمي نهٔ ده چې بيا بيان کړې شي.

له دې نه په تېرېدو سره ((ابدا)) لفظ په عربي لغت کښې د ((زماني)) استغراق لپاره دے نه د ((افرادي))، لکه: « لا اَنْ تَنْكِحُوا أزْوٰاجَه مِنْ بَعْدِهِ اَبَداً.»[1]

نو په دې بنياد د وړومبۍ جملې مفهوم داسې دے چې: ((هيڅکله د يو نافق لپاره هم د رحمت او مغفرت غوښتنه مهٔ کوه هم د نمونځ په ادا کولو سره او هم بې له نمونځه))

ب ـ «لاتَقُمْ عَلي قَبْرِه»

د دې جملې مفهوم په مخکښنۍ جملې باندې د عطف په حکم سره داسې دے: «وَلَا تَقُمْ عَلي قَبْرِ اَحَدٍ مِنْهُم اَبَداً» ځکه چې هغه قيود چې په ((معطوف عليه)) کښې وجود لري په ((معطوف)) باندې هم وارديږي.

په داسې صورت کښې نهٔ شو ويلې چې له ((قيام)) نه مراد هم هغه د دفن په وخت قيام دے ځکه چې فرض دا دے چې د دفن په موقع قيام د هرکس لپاره بيا بيا نهٔ شي تکرارېدې، او د ((ابدا)) لفظ چې په دې جمله کښې هم تقدير دے د دې بيانوونکے دے چې دا عمل تکرارېدونکے دے او دا تصور چې دا لفظ د افرادو د استغراق لپاره دے ځواب يې په تېره جمله کښې ورکړے شوے دے، ځکه چې د ((احدا)) په شتون سره بيا افادېت ته ضرورت نشته.

په ((لا تصل)) او ((لا تقم)) الفاظو کښې دوو مضمونونو ته په پام سره ويلې شو چې خدا ے پاک خپل پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم په منافق باندې د هر ډول رحمت له غوښتلو که هغه د هغهٔ په جنازه باندې د نمانځهٔ له لارې وي او يا د مطلقې دعا او په قبر باندې د هر ډول اودرېدو له لارې وي، که هغه د دفن په وخت کښې وي يا له هغهٔ نه پس وي منعې کړے دے. او مفهوم يې دا دے چې دغه دواړه عملونه يعنې د رحمت غوښته او په قبر باندې قيام او وقوف د وفات شوي مومن لپاره په ټولو وختونو کښې جائز او غوره کار دے او له دغو اوقاتو څخه يو وخت د مومن په زيارت باندې چې کلونه وشول خاورو ته سپارلے شوے دے وقوف کول اوورباندې د قران مجيد تلاوت کول دي

## احاديث او د قبرونو زيارت

---

[1] ـ سورهٔ احزاب: ۵۳ ايت

له هغو احاديثو څخه چې صحاحو او سننو نقل کړي دي دا ثابتيږي چې د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په څرګنده توګه په عارضي توګه د قبرونو له زيارت کولو نه خلق منعې کړي وو او بيا يې اجازه ورکړه چې خلق دې د هغو زيارت ته ورځي.

کېدې شي په عارضي توګه د منعې کولو علت دا ؤ چې د هغو خلقو تېر مړي په غالبه توګه مشرکان او بت پرست وو او اسلام د شرک له دنيا سره د هغوي مينه او رشته ختمه کړې وه. کېدې شي د منعې کولو علت يو بل څيز وي او هغه دا چې د تازه او نويو مسلمان شويو کسانو يوې ډلې به د خپلو مړيو په قبرونو باندې د هم هغه جهالت د دور باطلې مرثيې او وير کوۀ چې د دغو مرثيو الفاظ او مفهوم له اسلامي ادابو نه بهر ؤ. خو د اسلام له پراختيا او د خلقو په زړونو کښې د ايمان د نيالګي له ټينګېدو نه پس دغه نهي او منعې واپس واخېستل شوه او د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د هغو فائدو په خاطر چې د قبرونو په زيارت کولو کښې موجودې دي، اجازه ورکړه چې خلق دې د قبرونو زيارت ته ورځي. د صحاحو ا و سننو ليکوالان په دې حقله دا سې نقلوي:

۱ ـ «زُورُوا القبورَ فإنها تُذكِّرُكم الآخِرَةَ . . .»[۱]

‹‹د قبرونو زيارت کوئ ، ځکه چې د هغو زيارت د اخېرت د سراې ياد راوړونکے دے.››

۲ ـ «كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيارَةِ الْقُبُورِ فَزُورُوا ، فَاِنّها تُزَهّدُ فِي الدُّنْيا وَتُذَكِّرُ الآخِرَةَ»[۲]

‹‹ما تاسو د قبرونو له زيارت کولو نه منعې کړي وئ، له اوس نه پس زيارت کوئ، ځکه چې د قبرونو زيارت تاسو د دنيا په نسبت بې اعتنا کوي او درته اخېرت درياد وي.››

له همدې کبله دي چې د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم به د خپلې مور بي بي زيارت ته تلو او خلقو ته به يې هم د قبرونو د زيارت کولو سپارښتنه کوله، ځکه چې د قبرونو زيارت کول د اخېرت يادراوړونکي دي.

۳ ـ «زارَ النّبيّ قَبْرَ اُمّهِ فَبَكي واَبْكي مَنْ حَولَه . . إستأْذَنْتُ رَبّي في اَنْ أزُورَ قَبرها ، فَاَذِنَ لِي ، فَزُورُوا الْقُبُورَ فَإنّها تُذكِّرُكُمُ الْمَوْتَ»[۳]

---

[۱] ـ ابن ماجه ، ۱ ټوک، «باب ماجاء في زيارة القبور»، ۱۱۳ مخ

[۲] ـ سنن ابن ماجه، باب «ماجاء في زيارة القبور»، ۱ ټوک، ۱۱٤ مخ چاپ هند ؛ صحيح ترمذي ابواب الجنائز، ۳ ټوک، ۲۷٤ مخ د ابن العربي المالکي له شرحې سره چاپ لبنان .

ترمذي له بريده څخه د حديث له نقلولو نه پس وائي: «حديثُ بريدة صحيحٌ والعَملُ علي هذا عند أهلِ العلم، لايرُون بزيارة القبورِ بأساً وَهو قولُ ابنِ المباركِ والشافعي واحمدَ واسحاق»

‹‹ د بريده حديث صحيح دے او د علم خاوندان پرې عمل کوي او د قبرونو د زيارت لپاره د څه منعې فکر نۀ کوي. او دغه نظريه د شافعې، ابن مبارک، احمد او اسحاق غوندې ډلې هم ده ›› په دې حقله همدا رنګ دغو مدارکو ته هم مراجعه کولې شئ

ـ صحيح مسلم، ۳ ټوک، باب «استئذان النّبي ربّه عزّوجلّ في زيارة قبر أمّه»، ٦٥ مخ

ـ صحيح ابوداود ، ۲ ټوک، کتاب الجنائز، باب «زيارة القبور»، ۱۹۵مخ

ـ صحيح مسلم، ٤ ټوک، کتاب الجنائز، باب «زيارة القبور»، ۷۳ مخ

[۳] ـ صحيح مسلم ، ۳ ټوک، باب « استئذان النّبي ربه عزوجل في زيارة قبرأمّه »، ٦٥ مخ، ابن ماجه، ۱ ټوک، ۱۱٤ مخ، هغه ټکے چې د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له خدا ےپاک څخه اجازه واخېسته چې د خپلې مور د قبر زيارت وکړي دا دے چې د

((د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د خپلې مور بي بي د قبر زیارت وکړ، د هغې د قبر په خوا کښې يې وژړل او او هغه کسان يې چې چاپېره ورسره وو هم وژړول، بیا يې وفرمایل: ما له خدا ے پاک نه اجازه واخېسته چې د مور د قبر زیارت وکړم ، تاسو هم د قبرونو زیارت کوئ، ځکه چې د هغو زیارت انسان ته مرګ را یادوي.))

**۴**- بي بي عائشه (رض) وائي:

«أنّ رَسُولَ الله رَخّصَ في زِيارَة الْقُبُورِ»[۱]
(( د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قبرونو د زیارت کولو اجازه ورکړه. ))
بي بي عائشه (رض) همدا رنګ وائي چې د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قبرونو د زیات کولو طریقه مونږ ته داسې رازده کړه:
«فَأمَرَني رَبّي آتي الْبَقيعَ فَأَسْتَغْفِرَلَهُمْ ، قُلْتُ كَيفَ أَقُولُ : يا رسول اللهَ، قالَ: قُولي: السلامُ علي أهل الدّيارِ مِنَ الْمُؤمنينَ والمُسْلمينَ يَرْحمُ الله المُسْتَقْدمينَ منّا وَالمُسْتأخِرينَ وإنّا إنْ شاءالله بِكُمْ لاحقونَ» [۲]
((زما رب ما ته حکم راکړ چې بقیع ته لاړ شم او پکښې د قبرونو د خاوندانو لپاره مغفرت وغواړم.(عائشې) وویل: ورته مې وویل: اے د خدا ے رسوله! څه رنګ ووایو؟ وې فرمایل: د دې دیار په خاوندانو باندې دې چې له مومنانو او مسلمانانو څخه دي سلام وي. خدا ے پاک دې په دغو کسانو باندې چې له مونږ نه مخکښې تلي دي او په هغو باندې چې په مونږ پسې راځي رحمت نازل کړي، او مونږ ډېر زر له تاسو سره یو ځا ے کېدونکي یو.))
**۷**- په مبارکو حدیثونو کښې راغلي دي چې د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم به په دا ډول جملو سره د قبرونو زیارت کوۀ:
«السّلامُ عَلَيْكُم دارَ قَوْمٍ مُؤمنينَ وإنّا وإيّاكُمْ مُتواعِدونَ غَداً ومُواكِلُونَ ، وانّا انْ شاءاللهُ بِكُم لاحِقُونَ ، أللّهمّ اغْفِر لِأَهْلِ بقيع الغَرْقَدِ»[۳]

په بل حدیث شریف کښې راغلي دي:

---

حدیث د راویانو په عقیده د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم مور بي بي ((مشرکه)) وه. په مسلمه توګه د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم مور بي بي د هغه حضرت د پلار نیکونو په شان د توحید خاونده وه او هغوي ټول په دین حنیف باندې وو نو ځکه د دې حدیث ټولې برخې له علمي اصولو سره سمون نۀ خوري . سنن ابن داود ، ۲ ټوک، کتاب الجنائز، ۱۹۵ مخ، چاپ مصر د الازهر د عالم شیخ احمد سعد په تعلیقاتو سره ؛ صحیح مسلم، ٤ ټوک، کتاب الجنائز، « زیارة قبر المشرک » باب ، ۷٤ مخ
[۱] ـ سنن ابن ماجه، ۱ ټوک، ۱۱٤ مخ
[۲] ـ سنن نسائي، ۳ ټوک، ۷٦ مخ او صحیح مسلم، ۳ ټوک، « ما یقال عند دخول القبور» باب، ٦٤ مخ
[۳] ـ سنن نسائي، ٤ ټوک، ۷۷ ـ ۷٦ مخونه

«السّلامُ عَلَيْكُمْ أهْلَ الدّيارِ مِنَ الْمُؤْمِنينَ وَالْمُسْلِمينَ وَإنّا اِنْ شاءالله بِكُمْ لاحِقونَ، اَنتُم لنا فَرَطٌ ونَحْنُ لَكُم تَبَعٌ أسْئَلُ الله الْعافِيَةَ لَنا ولَكُمْ»[1]

د ام المومنين په حديث كښې دا هم راغلي دي چې هر كله به د شپې وروستے پار راورسېد د خدا ے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم به جنت البقيع اديرې ته تلۀ او ويل به يې:

«السّلامُ عَلَيْكُمْ دارقَوْمِ مُؤْمِنينَ وَاَتاكُمْ ما تُوعَدُونَ، غَداً مُؤَجّلُونَ، وَاِنّا اِنْ شاءَاللهُ بِكُمْ لاحِقُونَ أللّهُمّ اغفِرْ لاِهْلِ بَقِيعِ الْغَرْقَدِ»[2]

له يو بل حديث مبارک نه دا څرګندېږي چې د خدا ے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم به په ډله ايزه توګه د قبرونو د زيارت له پاره تشريف وړۀ او ورسره كسانو ته به يې دا تعليم وركوۀ چې د قبرونو د خاوندانو زيارت څه ډول پكار د ے.

«كانَ رسولُ اللهَ يُعَلّمُهُمْ اذا خَرَجوا اِلَي الْمَقابِرِ فَكانَ قائلُهُمْ يَقُول: السّلامُ عَلَي أهلِ الدّيارِ (يا) السّلامُ عَلَيْكُمْ أهْلَ الدّيارِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُسْلِمينَ وإنّا إنْ شاءَاللهُ لاحِقُونَ أَسْئَلُ اللهَ لَنا وَلَكُم الْعافِيَةَ.»[3]

## ښځې او د قبرونو زيارت

يوازېنۍ مسئله چې باقي پاتې ده د ښځو د زيارت موضوع ده. په ځينو روايتونو كښې نقل شوي دي چې د خدا ے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم د ښځو له زيارت څخه نهي كړې ده. لكه:

«لَعَنَ رَسُولُ اللهِ زَوّاراتِ الْقُبُورِ» [4]

((د خدا ے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم په هغو ښځو باندې چې د قبرونو زيارت ته ځي لعنت كړ ے د ے.))

خو دا پاملرنه پكار ده چې د ښځو لپاره د زيارت په حراموالي باندې په دا ډول حديثونو باندې استدلال له څو لحاظه صحيح نۀ د ے.

۱- زياتره علماء دا نهي يوه كراهتي نهي بولي او د كراهت علت هغه خاص حالات دي چې په هغو وختونو باندې واكمن وو، چې د ((مفتاح الحاجه)) ليكوال په شان د حديثو يو شارح د سنن ابن ماجه په حديث باندې په خپله شرحه كښې ليكي:

«إخْتَلَفُوا في الْكَراهَةِ هَلْ هِيَ كِراهَةَ تَحْرِيم أوْ تَنْزيه ذَهَبَ الاْكْثَرُ اِلي الْجَوازِ اِذا آمَنَتْ بِالْفِتْنَة.»[5]

((عالمان د خدا ے د ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم د نهي په حقله دوه قوله دي چې ايا نهي تحريمي ده او كۀ كراهتي.خو اكثر علماء عقيده لري چې ښځه په داسې صورت كښې چې له فتنې څخه مطمئنه وي د قبر زيارت ته تلې شي.))

---

[1] - سنن نسائي، ٤ ټوک، ٧٧-٧٦ مخونه

[2] - صحيح مسلم، ٣ ټوک ، « ما يقال عند دخول القبور» باب، ٦٣ مخ

[3] -صحيح مسلم، ٣ ټوک، « ما يقال عن دخول القبور» باب، ١١ مخ

[4] -سنن ابن ماجه ، كتاب الجنائز، « ماجاء في النهي عن زيارة النساء القبور» باب، ١ ټوک، ٤٧٨ مخ، چاپ اول-مصر .

[5] -حواشي ابن ماجه، ١ ټوک، ١١٤ مخ ، چاپ هند .

۲- په تېرو حديثونو [۱] کښې مو ولوستل چې بي بي عائشې (رض) له رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم نه نقل کړي وو چې د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قبرونو زيارت ته تلل ازاد اعلان کړل.که ښځې له دغه حکم نه مستثنی وې نو ضروري وه چې يادونه يې کړې وې چې دا حکم يوازې د سړيو لپاره دے. په خاصه توګه چې د حديث بيانوونکې خپله ښځه ده نو په طبيعي توګه چې د مخاطبانو ترمېنځ به ښځې هم موجودې وې او هر مخاطب دا فکر کوي چې حکم او ذمه واري د هغۀ لپاره ده.

۳- په ځينو احاديثو کښې راغلي دي چې د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم بي بي عائشې (رض) ته د قبرونو د زيارت طريقه وروښودله [۲] او ام المومنين له پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم نه پس هم د قبرونو زيارت ته تله.

۴- ترمذي نقلوي چې کله د بي بي عائشې(رض) ورور (عبدالرحمن بن ابي بکر) په ((الحبشي)) کښې وفات شو نو د هغۀ جنازه يې مکې ته يوړه او هم هغلته يې خاورو ته وسپارۀ، کله چې يې خور ام المومنين له مدينې نه مکې ته راغله نو د خپل ورور د قبر زيارت ته ورغله او د هغۀ د قبر په خوا کښې يې د وير او ماتم دوه شعرونه وويل او وېنا يې وکړه. [۳]

د صحيح ترمذي شارح ((امام حافظ ابن العربي)) (پېدائش **۴۳۵** وفات **۵۴۳**) په صحيح ترمذي باندې په خپله تعليقه کښې ليکي: صحيح خبره دا ده چې د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم سړيو او ښځو ته اجازه ورکړه چې د قبرونو زيارت ته لاړ شي، که ځينې د ښځو زيارت مکروه ګڼي نو په قبر باندې د بې تابۍ او بې صبرۍ په وجه او يا د پوره ستر او پردې نۀ لرولو په وجه وو.

۵- صحيح بخاري له ((انس)) نه نقلوي چې ((د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم يوه ښځه وليده چې د خپل يو عزيز په قبر باندې ژړا کوي، ورته يې وفرمايل: تقوا خپله پېشه وګرځوه او صبر وکړه، هغې ښځې د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم و نۀ پېژندۀ، وې ويل: ما پرېږده، په هغه مصيبت چې زۀ ګرفتاره شوې يم تۀ نۀ يې شوے، بيا چې ورته چا وويل چې دا د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم ؤ نو د خپل عزيز قبر يې پرېښود او د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم کور ته ورغله او له هغه حضرت څخه يې معافي وغوښته چې تاسو مې و نۀ پېژندئ. د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم ورته وفرمايل: په مصيبت باندې صبر غوره دے.)) [۴]

که د قبر زيارت د ښځو لپاره حرام وې نو د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم به هغه له دې کار څخه منعې کړې وې. په داسې حال کښې چې هغه حضرت ورته يوازې د صبر کولو نصيحت وکړ او د قبر له زيارت نه پس د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم کور ته د ښځې د راتلو په وخت د هغه حضرت موضوع ((د مصيبت په وخت صبر او زغم)) وه نه ((د قبر زيارت)) ګڼې حکم به يې ورکړے ؤ چې بيا د خپل عزيز قبر ته لاړه نۀ شې.

---

[۱] - دريم نمبر حديث ته مراجعه وکړئ.
[۲] - اتم نمبر حديث ته مراجعه وکړئ.
[۳] ـ صحيح ترمذي ، ٤ ټوک، کتاب الجنائز ، « ماجاء في زيارة القبور » باب ۲۷۵ مخ
[۴] ۳ ـ صحيح بخاري، کتاب الجنائز ، «زيارة القبور» باب ۱۰۰ مخ؛ صحيح ابي داود ، ۲ ټوک، ۱۷۱ مخ.

۷- د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم قدرمنه لور بي بي فاطمه علیها السلام به د هرې جمعې په ورځ د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د ترهٔ حضرت حمزه علیه السلام د قبر زیارت لپاره تله او د هغهٔ د قبر په خوا کښې به یې نمونځ کوهٔ او ژړل به یې. [1]

قرطبي وائي: د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم هرې زیارت کوونکې ښځې باندې لعنت نهٔ د ے ویلې بلکې هغې زیارت کوونکې باندې یې لعنت کړ ے د ے چې په متواتره توګه د قبرونو زیارت ته روانه وي، په دې ګواه سره چې فرمائي. «زوارات القبور» او «زوار» د مبالغې صیغه ده. [2]

او کېدې شي د لعن کولو علت دا وي چې له حد نه زیات زیارت کول د خاوند د حق د ضائع کولو سبب او په کتو کښې د تبرج وسیله او همدا رنګ په چغو سورو سره د ښځو ژړل وي او که د ښځې په زیارت کولو کښې د دا ډول چارې نهٔ وي نو څه اشکال نهٔ لري، ځکه چې د مرګ یاد راوړنه له هغو چارو څخه ده چې سړي او ښځې دواړه ورته ضرورت لري.

۸- که د قبرونو زیارت په زیارت کوونکي کښې له دنیا څخه د ځنګته کېدو، د لالچ او حرص د کمېدو او د اخېرت د یاد راوړو سبب ګرځي نو دا د مړي لپاره یوه بله ګټه ده، یو داسې کس چې د منونو خاورو د لاندې اودهٔ وي او لاسونه یې له هر څیز او کار څخه لنډ شوي وي نو ځکه زیارت کول د سورهٔ فاتحې له تلاوت او هغهٔ ته د ثواب له هدیه کولو سره مل وي او دا یو تر ټولو ښه هدیه ده چې ژوند ے یې تر خاورو لاندې خپل عزیز ته وړاندې کولې شي.

ابن ماجه په خپل سنن کښې نقلوي چې د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم وفرمایل:

«اِقرَؤا یس عَلي مَوتاکُم » « په خپلو مړیو باندې سورهٔ یاسین تلاوت کړئ»

په داسې صورت کښې د ښځې او سړي ترمېنځ هیڅ فرق نشته چې د یو کار دې ناروا وي او د بل کار دې روا وي، مګر دا چې ښځې یو لړ خاص حالات ولري چې په تېرو مخونو کښې ورته اشاره وشوه

*****

---

[1] ـ مستدرک حاکم، ۱ ټوک، ۳۷۷ مخ، وفاء الوفاء ، ۲ ټوک، ۱۱۲ مخ.

[2] ـ ابوداود په سنن کښې، ۲ ټوک، ۱۹۶ مخ، زائرات نقل کړي دي.

# پنځم باب

## د مذهبي شخصيتونو د قبرونو د زيارت رغوونکي آثار

هغه قبرونه چې د نړۍ د خدا پرستانو په تېره بيا د مسلمانانو د پام وړدي، غالباً د هغې ډلې د دفن کېدو ځايونه دي چې په ټولنه کښې يې يو رسالت لرلے او هغه يې په يو غوره ډول ترسره کړے دے.

په دغه ډله کښې شامل دي:

۱- پېغمبران عليهم السلام او مذهبي مشران چې الهي رسالت يې په خپلو اوږو واخېست او د سر، مال او د خپلو عزيزانو په قربانولو او د غمونو او دردونو په زغملو سره يې د خلقو هدايت ته ملا وتړله.

۲- هغه ستر عالمان او پوهان چې د شمعې په شان يې ځانونه ويلې او وسوزول خو خپل ګېر چاپېره ماحول يې روښانه کړ او په تحقيقاتي محافلو کښې يې قوت لايموت په قبلولو سره د علم په نامه يوه ستره خزانه د انسان په اختيار کښې ورکړې ده او هغه يې له الهي کتاب، د طبيعت له کتاب او د خلقت له ژبې سره اشنا کړے دے او د ديني او طبيعي علومو بنياد يې اېښودے دے.

۳- هغه ډله کسان چې د معاشرې له مخ په زياتېدو ظلمونو، حق تلفيو، ناروا تبعيضونو او امتيازي سلوکونو څخه يې د صبر جام ډک شوے اود انساني حقوقو د حاصلولو او د اجتماعي عدالت د ټينګولو لپاره يې سرونه

په تلي کښې اېښې او د وخت له ظالمو او ځان منونکو ، ځان خوښوونکو او خودسرو واکمنانو مقابلې او مبارزې ته راپاڅېدلي او په خپلو وينو سره يې د ظالم او جابر واکمن ظلمونه له تولنې څخه وينځلي دي يعنې د اسلام د لارې شهيدان.

په تولنه کښې به هيڅ انقلاب او بدلون بې قيمته نۀ وي او د يو مقدس انقلاب قيمت چې غواړي د ظالمانو مانۍ راونړوي او د هغوي ناپاکې مرۍ خفه کړي. نو د حق د لارې د دغو شهيدانو وينه د هغو جنګياليو وينه ده چې غوښتل يې عدل، انصاف، ازادي او حريت هېواد ته بېرته راولي، همدغه ډله کسان دي چې خلق يې زيارت ته ځي او د شوق اوښکې د هغوي د قبرونو په خوا کښې تويوي او د هغوي د ارزښتناکو خدمتونو، سرښيندنو او قربانيو ياد تازه کوي او د قران مجيد د يو سورت په تلاوت کولو سره د هغو قدرمنو شهيدانو په روح باندې يې پېرزو کوي او د هغوي د سرښيدنو، قربانيو، انساني فضائلو او اخلاقي ارزښتنو په باره کښې په يو لړ شعرونو ويلو سره د هغوي خاطره او مکتب ژوندے ساتي او د مختلفو طبقو خلق د هغوي په لار باندې د تګ لپاره رابولي.

د دغو شخصيتونو زيارت کول د هغوي د سرښيدنو او قربانيو يو ډول مننه او قدرونه ده او معاصر نسل ته دا يادونه ده چې د هغه کس چې د حق او فضيلت لار يې غوره کړه او له عقيدې څخه د دفاع او دحريت او ازادۍ د پراختيا په لار کښې يې سر وبائېلۀ په دې دنيا يو اجر دا دے چې هيڅکله د خلقو له خاطرو او يادونو څخه نۀ هيرېږي او د وختونو تګ چې هر څيز له زړونو څخه پاک او ختموي د هغوي ياد او خاطره لا زياته ګرموي او لمبه کوي يې. نو بس څومره غوره دے هغه اوسنے نسل او راتلونکي نسلونه چې د هغوي لارې ته دوام ورکوي ځکه چې په خپلو سترګو يې د حق د لارې د هغو ځوانمردانو د قربانيو او سرښيدنو يو اجر ليدلے دے.

دغه ذکر شوې څېړنه مونږ د دغو سترو مذهبي شخصيتونو او د حق او حقيقت د لارې د سر ښيدونکو د ياد د نمانځنې له اهميت څخه خبروي.

د دې بيان له مخې پکار دي تل د دغو وفات شويو شخصيتونو د ياد نمانځنې لپاره د هغوي د ژوند د حال په شان کوشش وکړو او د هغوي د آثارو او يادګارونو حفاظت او ساتنه وکړو. د هغوي د ولادت او زوکړې په موقع جشن وکړو او د هغوي د وفات او شهادت په ورځ وير او ماتم اعلان کړو او د سترو سترو مجلسونو په جوړولو او د موثرو وېناګانو په کولو سره خلق په هغو ورځو کښې د هغوي د مکتب پېژندلو او په تولو وختونو کښې د هغو حفاظت او ساتنې ته دعوت کړو. د هغوي د دفن ځاے، قبر اوخاوره يې د احترام وړ وګڼو او د هغو په نسبت د هر ډول سپکاوي او اهانت نه ډډه وکړو. ځکه چې د هغوي د قبر او خاورې احترام د هغوي د مکتب او دعوت احترام دے او همدا رنګ د هغوي د قبر، او اثارو توهين او سپکاوے د هغوي د لارې او مکتب سپکاوے ګڼل کيږي.

په دې ورځو کښې کله چې يو انسان د جنت البقيع په اديره کښې قدم کيږدي او د اسلام د پېشوايانو عليهم السلام او د رسول اکرم صلى الله عليه و آله وسلم د صحابه کرامو (رض) روضې مبارکې ووينې چې د دومره هلو ځلو، سرښيندونو او محنتونو باوجود اوس له داسې سپکاوي او توهين سره مخامخې دي نو زړۀ يې سخت ولړزيږي او درديږي او د کانې په شان د سخت زړۀ لرونکو وهابيانو چې ځانونه د اسلام د مبين دين رائجوونکي او تېکداران بولي په دې ناوړه کار باندې سخت حېرانيږي، ځکه چې له يوې خوا (د خپلو مفاداتو لپاره) د اسلام

د دغه مشرانو او اصحابانو نومونه په منبرونو باندې په احترام سره اخلي او له بلې خوا چې کله د هغوي قبرونو ته رسي نو ډېر لږ احترام يې هم نۀ کوي او حتی که د هغوي د مدفن په خوا او شا کښې حېوانات د هغوي قبرونه په ګندګئ سره ککړوي نو بيا هم څه ويره او ترهه نۀ لري او د «شرک» او «مشرک» الفاظ يې خپله حربه ګرځولې ده او د الهي اولياؤ د هر ډول احترام او تعظيم د دغه عنوان د لاندې چخښې کوي او يو انسان د اولياء کرامو د ياد د نمانځنې په اړه دومره محدودوي او د هغۀ افکار، ژبه، غوږونه او سترګې دومره تړي چې د اولياء کرامو د خدمتونو د قدرونې په لور هر حرکت ته د شرک او کوونکي ته يې د مشرک نوم ورکوي او د خداے پاک د نازولو په حقله د هر ډول احترام او تعظيم په کولو سره دومره زېات ناراضه کيږي چې دا خبره ترې څرګنديږي چې په اصل کښې دوي د خداے پاک له نازولو سره دښمني او کينه لري.

## د پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم د قبر مبارک زيارت

دلته څو قراني او حديثي دلائل وړاندې کوو او له قدرمنو لوستونکو څخه غواړو چې په دې برخه کښې زيات غور او فکر وکړي:

### د قران مجيد ګواهي

قران مجيد ګناهګارو کسانو ته حکم ورکوي چې د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم ته ورشئ او له هغۀ څخه غوښته وکړئ چې له خداے پاک څخه د هغوي د مغفرت لپاره دعا وکړي. ځکه چې د دوي په باره کښې د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم دعا قبليږي لکه چې فرمائي:

«وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ جاءوک فَاسْتَغْفَرُوا الله وَاستَغْفَرَ لَهُمُ الرّسُولُ لَوَجَدُوا اللّهَ تَوّاباً رَحيماً»[1]

«که دوي هر کله په خپل نفس باندې ظلم وکړ نو ستا په خدمت کښې دې حاضر شي، هم دې خپله توبه وکړي او هم دې رسول د دوي لپاره د مغفرت غوښتنه وکړي نو خداے به توبه قبلوونکے او رحم کوونکے بيا مومي.»

که مونږ وو او يوازې همدا يومبارک ايت وې ، نو ويل به مو چې دا ايت له هغې ورځې سره تعلق لري چې د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د خلقو ترمېنځ په جسماني توګه موجود ؤ. خو له څو لحاظه له دې ايت څخه يو کلي حکم چې د دنيوي ژوند له وخت سره مخصوص نۀ دے استفاده کولې شو ، ځکه چې:

الف- د قران مجيد مبارک ايتونه د انبيا کرامو او اولياء عظامو بلکې د يو شمېر ډلو لپاره د برزخي ژوند قائل دي او هغوي په دغه برزخي دنيا کښې ليدونکي او اوريدونکي معرفي کوي چې د مبارکو ايتونو دا برخه به له سپېڅلو روحونو سره د توسل پېدا کولو او وسيله جوړولو د بحث په باره کښې وي.

ب- مبارک ايتونه او حديثونه په څرګنده دا ګواهي ورکوي چې فرښتې د خلقو پېغامونه خاتم الانبياء حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه و آله وسلم ته رسوي او دغه مبارک حديثونه په صحاحو کښې راغلي دي، لکه هغه حضرت په يو مبارک حديث کښې فرمائي:

---

[1] ـ نساء: ٦٤

«إنّ رَسُولَ اللهِ قالَ: ما مِنْ أَحَد يُسَلِّمُ عَلَيّ إلاّ رَدّ اللهُ عَلَيّ رُوحي حتي اَرُدّ عليه السّلامَ»[1]
((د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم وفرمایل: هیڅ داسې کس نشته چې په ما باندې سلام ووائي مګر دا چې خدا ے پاک د هغهٔ سلام زما روح ته ورسوي او زهٔ د هغهٔ ځواب ووایم.))
او همدا رنګ یې وفرمایل:

«صَلُّوا عَلَيّ فَاِنّ صَلاتَكُم يَبْلُغُني حَيْثُ كُنتُم»[2]
((په ما باندې درود ولېږئ ځکه چې ستاسو درود ما ته رارسي.))

ج- اسلامي معاشره له هم هغو وړومبنیو ورځو نه له دغه مبارک ایت څخه چې مخکښې ذکر شو په یوې پراخې او کلي معنا باندې چې د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم رحلت د دې منعې کوونکے نهٔ دے پوه شوې وه او د هغې په مطابق یې عمل کړے دے. او د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له رحلت نه پس د عربو یوه ډله کسان به په پاکو او په لانجو باندې په نهٔ ککړ شویو ذهنونو سره د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د روضې مبارکې زیارت ته راتلل او دغه مبارک ایت به یې لوستهٔ او د خدا ے له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم څخه به یې غوښتل چې د هغوي لپاره مغفرت وغواړي.
تقي الدین سبکي په ((شفاء السقام)) کتاب کښې او سمهودي په ((وفاءالوفا)) کتاب کښې یو شمېر نمونې راوړې دي:

سفیان بن عنبر چې له شافعي مشائخو څخه دے له عتبي نه نقلوي چې د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قبر مبارک په خوا کښې وم یو عرب راغے او وې ویل:

«السّلام عَلَيْكَ يا رَسُولَ الله سَمِعْتُ الله يقولُ: (وَلَوْ أَنّهُم إذْ ظَلَمُوا أنفُسَهُمْ جَاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللهَ وَاسْتَغفرَ لَهُمُ الرّسُولُ لَوَجَدوا الله توّاباً رحيماً) وَقَدْ جِئتُكَ مُسْتَغْفِراً مِنْ ذَنْبِي مُسْتَشْفِعاً بِكَ إلي رَبّي»
بیا یې وژړل او شعرونه یې وویل او مغفرت یې وغوښت او بیا د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم له حرم څخه لاړ شعرونه یې په دا ډول وو:

يا خَيْرَ مَن دُفِنتْ بالقاعِ اَعظُمُه　　فَطابَ مِنْ طِيبِهِنّ القاعُ والاكُمُ
نفسي الْفِداءُ بِقَبْرٍ أنْتَ ساكِنُه　　فيه الْعِفافُ وَفيه الْجُودُ والْكَرَمُ[3]

---

[1] ـ سنن ابي داود ، ج ۱ ، كتاب الحج ، باب زيارة القبور ٤٧٠ او ٤٧١ مخونه
[2] ـ التاج الجامع للاصول في احاديث الرسول (صلّي الله عليه وآله) تأليف شيخ منصور علي ناصف ، ۲ ټوک ، ۱۸۹مخ
[3] ـ وفاء الوفا ، ٤ ټوک، ۱۳٦۱مخ

«د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم له رحلت څخه درې ورځې تېرې وې چې یو عربي راغی او ځان یې د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په روضه مبارکه راوغورزوهٔ او د قبر خاورې یې په خپل سر باندې وشیندلې او وې ویل: «ای د خدای ګران رسوله! تا وفرمایل مونږ هم واورېدل، هغه څه چې تا له خدای څخه واخېستل مونږ له تا واخېستل، منجمله هغه څه چې د خدای پاک لخوا نازل شوي دي چې وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ جاءوک فَاسْتَغْفَرُوا الله وَاستَغْفَرَ لَهُمُ الرّسُولُ لَوَجَدُوا اللهَ تَوّاباً رَحیماً نو ما په خپل نفس باندې ظلم وکړ او راغلم چې زما لپاره د مغفرت دعا وکړې.»

دا اعمال د دې خبرې ګواهي ورکوي چې دغه مقام او مرتبه چې د دغه مبارک ایت په حکم سره د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم ته ورکړې شوې ده یوازې د هغه حضرت له دنیوي ژوند سره مخصوصه نهٔ ده بلکې په برزخي دنیا کښې هم د هغهٔ لپاره ثابته ده.

په مسلمه توګه مسلمانان هغه مبارک ایتونه چې د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د احترام او تعظیم په حقله نازل شوي دي یوازې د هغه حضرت له دنیوي ژوند سره مخصوص نهٔ ګڼي. لکه په یوې واقعې کښې لولو چې د امام حسن بن علي علیه السلام د جنازې د دفن په وخت ځینو د قبر په خوا کښې چغې سورې شروع کړې نو امام حسین علیه السلام فوراً د هغوي د غلي کولو لپاره د قران مجید دا مبارک ایت تلاوت کړ: «یا اَیُّها الَّذِینَ آمَنُوا لا تَرْفَعُوا أصْواتَکُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبي»[1] «ای د ایمان خاوندانو خپل اوازونه مو غلي کړئ او له پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم نه زیاتې په اوچت اواز خبرې مهٔ کوئ.»

هیڅ چا حتی امویانو هم نهٔ دي ویلي چې دا مبارک ایت یوازې د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له دنیوي ژوند سره تعلق لري. همدا اوس هم وهابي ډلې د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د روضې مبارکې مخې ته دا ایت په دیوال باندې لیکلی دی او په دې عمل سره غواړي دا ووائي چې پکار دي خپل اوازونه کم کړو او په اوچت اواز خبرې ونکړو. له دې لحاظه له دې مبارک ایت څخه یوه پراخه معنا اخېستې شو او هغه دا چې اوس هم مسلمانان کولې شي د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په خدمت کښې حاضر شي او له هغهٔ څخه وغواړي چې له خدای پاک څخه ورته د مغفرت غوښتنه وکړي او د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم زیارت د دې او داسې نورو مبارکو ایتونو له مفهوم نه بغېر بل مفهوم نهٔ لري. او دا مبارک ایت په دوو خبرو باندې دلالت کوي:

۱- د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له رحلت نه پس هم کولې شو چې د هغهٔ خدمت ته حاضر شو او ورته درخواست وکړو چې زمونږ په باره کښې له خدای پاک نه د مغفرت او بخښنې غوښتنه وکړي او دا هغه چاره ده چې وروسته به په دې اړه «د خدای پاک له اولیاؤ سره توسل» تر عنوان لاندې بحث وکړو.

۲- دا مبارک ایت د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د زیارت کولو په روا والي باندې ګواه دی، ځکه چې د «زیارت» حقیقت د «زیارت د خاوند» په خدمت کښې د زیارت کوونکي له حاضرېدو نه بغېر بل څه

---

[1] ـ حجرات: ۲ ایت

نۀ دي. که دا جائز وي چې د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قبر خوا ته ورشو او له هغۀ نه غوښتنه وکړو چې له خدا ے پاک څخه زمونږ د بخښنې لپاره دعا وغواړي نو په حقیقت کښې مو دوه کارونه ترسره کړل:

الف- له هغۀ څخه مو غوښتنه کړې ده چې زمونږ لپاره «له خدا ے پاک څخه د بخښنې دعا» وغواړي.
ب- د هغۀ په خدمت کښې حاضر شو او ورسره مو خبرې وکړې او حقیقي زیارت له دې نه بغېر بل څه نۀ د ے او غالباً د زیارت مضامینو له هم دغو مسائلو څخه تشکلیل موندلے د ے.
نو له دې امله دغه مبارک ایت په دواړو خبرو باندې ګواه د ے.

**یو بل ګواه:**

په مختلفو وختونو کښې له احکامو څخه په یو حکم باندې د مسلمانانو اتفاق او اجماع د هغۀ په صدق او ټینګتیا باندې یو تر ټولو څرګند ګواه د ے، د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قبر مبارک په زیارت باندې اتفاق د دې قاعدې یو روښانه مصداق د ے. د حدیثو، فقهې، اخلاقو او تاریخ کتابونو په تېره بیا د حج له مناسکو سره متعلق کتابونو ته په رجوع کولو سره د دې مطلب حقیقت لا څرګندیږي.
اروا ښاد علامه امیني له دوه څلوېښتو اسلامي سرچینو څخه د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د روضې مبارکې د زیارت استحباب نقل کړے د ے. هغه د خپل «الغدیر» کتاب د پنځم ټوک له ۱۰۲ نه تر ۱۲۹ مخونو پورې د هغو نصوص او کلمات په ډېرې پاملرنې سره نقل کړي دي. او له هغو کتابونو څخه چې مونږ ورته مراجعه کړې ده ځینې په دا ډول دي:

۱- «شفاء السقام ، في زیارة خیر الأنام» لیک: تقي الدین سبکي شافعي (وفات ۵۲ ): هغۀ په دې کتاب کښې د علماؤ ځینې نصوص او عبارات نقل کړي دي.
۲- «وفاء الوفاء» لیک سمهودي (وفات ۹۱۱ ): هغۀ په دغه کتاب کښې له علماؤ څخه یو لړ نصوص او کلمات نقل کړي دي چې ټول د موکده استحباب بیانوونکي دي.
۳ـ «الفقه علی المذاهب الأربعه» چې له څلورو واړو مذهبونو څخه د څلور تنو علماؤ په قلم سره د سني عقیدې د څلورو واړو امامانو د افکارو بیانوونکے د ے او ټول د هغوي له افکارو او نظریاتو څخه پېروي کوي.هغوي ټول په یوه خوله وائي:
«زيارة قبرِ النّبي أفْضَلُ الْمَنْدُوبات، ورَد فيها أحادِيثُ»[1]

## د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د زیارت په حقله حدیثونه

[1] ـ الفقه علي المذاهب الأربعه، ۱ ټوک، ۵۹۰مخ ، ٤ ټوک، ۱۳٤۰مخ

د سني محدثانو له لارې د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د زیارت په باره کښې حدیثونه دومره زیات دي چې مونږ په اسنادو او راویانو کښې له ژورې کتنې څخه بې نیازه کوي او د هرې سني فرقې سترو مشرانو او حافظانو هغه په خپلو کتابونو کښې نقل کړي دي او دا خبره د دې بیانوونکې ده چې د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قبر مبارک زیارت کول د هغوي ترمینځ له مسلماتو څخه دي. له اصلي اسلامي مدارکو څخه د دغو ټولو حدیثونو نقلول به د خبرې د اوږدېدو سبب شي نو ځکه له هغو څخه یو څو نمونې وړاندې کوو:

۱ ـ «عَن عَبْدِالله بن عُمَرَ: «مَنْ زارَ قَبْري وَجَبَتْ لَهُ شَفاعَتي.» «هر چا چې زما د قبر زیارت وکړ نو له شفاعت نه به مې نۀ بې برخې کیږي.»
نوموړے حدیث په «الفقه علی المذاهب الأربعه» کتاب، ۱ټوک، ۵۹۰ مخ کښې راغلے او د څلورو واړو سني مذهبونو عالمانو د هغو مطابق فتوې ورکړې دي.[1]
څرګنده ده چې داسې یو حدیث چې دویمې پیړۍ له نیمائۍ نه تر اوسه پورې عالمانو او حافظانو په خپلو کتابونو کښې ضبط کړے دے بې بنیاده نۀ شي کېدې.
او د مطلب د تکمیل لپاره تقي الدین علي بن عبدالکافي سبکي (وفات ۷۵۲ کال) «شفاء السقام»[2] نومې خپل ارزښتناک کتاب کښې د حدیث له لارې له ۱۱ نه تر ۱۳ مخونو پورې بحث او تحقیق کړے او د حدیث د طریقو صحت او ټینګوالے یې ثابت کړے دے.

۲ ـ «مَنْ جاءَني زائِراً (لاتَحْمِلُه) الاّ زِيارَتي كانَ حقاً عَلَيّ اَنْ اَكُونَ شَفيعاً يومَ الْقِيامَة»
«هر څوک چې د زیارت په نیت زما په لور راشي نو له ما سره ښائي چې د قیامت په ورځ د هغۀ شفاعت کوونکے شم.»
دا حدیث شپاړسو حافظانو او محدثانو په خپلو کتابونو کښې راوړے دے او تقي الدین سبکي (وفات ۷۵۲ کال) د «شفاء السقام» کتاب په ۱۳ مخ کښې د حدیث د طریقو په اړه بحث او خبرې اترې کړي دي. همدا رنګ «وفاء الوفاء» کتاب ته هم مراجعه وکړئ.

۳ ـ «مَنْ حَجَّ فَزارَ قَبْري بَعْدَ وَفاتي، كانَ كَمَنْ زارَني في حَياتي»
«هر څوک چې د خدا ے پاک د کور (بیت الله) او بیا زما د قبر زیارت وکړي نو په شان د هغه چا دے چې د ژوند په حال کښې یې له ما سره ملاقات کړے وي.»

[1] ـ د هغۀ د مدارکو د معلوماتو لپاره: «وفاء الوفا»، ٤ ټوک، ۱۳۳۶ مخ وګورئ
[2] یو ډېر غوره کتاب دے چې د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قبر مبارک د زیارت لپاره د سفر د حراموالي په باره کښې د «ابن تیمیه» د فتوو په رد کښې د سني عالمانو له خوا لیکل شوے

دا مبارک حدیث پنځویشتو تنو مشهورو محدثانو او حافظانو په خپلو کتابونو کښې نقل کړے دے او تقي الدین سبکي په خپل «شفاء السقام» کتاب کښې له ۱۲ نه تر ۱۷ مخونو پورې د حدیث د سند په حقله په تفصیل سره خبرې کړي دي. همدا رنګ «وفاءالوفاء» ۴ ټوک ۱۳۴۰ مخ ته مراجعه وکړئ.

٤ ـ «مَنْ حَجَّ الْبَيْتَ وَلَمْ يَزُرْني فَقَد جَفاني»

«هر چا چې د خدائے پاک د کور زیارت وکړ او زما زیارت يې ونکړ نو په ما باندې يې ظلم کړے دے.»

دا مبارک حدیث د نهو تنو حافظانو او مشائخو لخوا نقل شوے دے. د تفصیل لپاره د وفاء الوفاء کتاب څلورم ټوک ۱۳۴۲ مخ ته مراجعه وکړئ.

٥ ـ «مَنْ زارَ قَبْرِي (أو مَنْ زارَني) كُنْتُ لَهُ شَفيعاً»

«هر چا چې زما د قبر زیارت وکړ، زۀ به يې شفيع ګرځم.»

دا مبارک حدیث د دیارلسو تنو محدثانو او حافظانو په ذریعې سره نقل شوے دے. د تفصیل لپاره د وفاء الوفاء کتاب څلورم ټوک ۱۳۴۷ مخ ته مراجعه وکړئ.

٦ ـ «مَنْ زارَني بَعْدَ مَوْتي فَكَأَنّما زارَني في حَياتي.»

«هر چا چې زما له رحلت نه وروسته زما زیارت وکړ نو داسې دي لکه چې په ژوند يې زما زیارت کړے وي.»

دا له هغو ګڼ شمېر حدیثونو څخه څو نمونې وې چې د خدائے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم پکښې خلق د خپل مبارک قبر زیارت کولو ته دعوت کړي دي  او د الغدیر کتاب د څېړنې او تنبع له مخې د دغو حدیثونو شمېر ۲۲ ته رسیږي او سمهودي په خپل وفاء الوفا کتاب کښې د څلورم ټوک له ۱۳۳۸ نه تر ۱۳۴۲ مخونو کښې اولس روایتونه راغونډ کړي دي او د هغو په اسنادو کښې يې په کافي اندازه بحث کړے دے.

که د خدائے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم خلق د خپل قبر مبارک زیارت ته رابللي دي نو د هغو یو لړ مادي او معنوي فوائدو په خاطر دي چې د سترو اسلامي شخصیتونو په زیارتونو کښې پټ دي. خلق د خدائے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قبر مبارک د زیارت په سیوري کښې د اسلام د دین د خپرېدو له مرکز سره بلدیږي او له هغو پېښو څخه چې هلته رامنځته کیږي خبریږي او صحیح علوم او احادیث له هغه ځائے څخه حاصلوي او د نړۍ په مختلفو سیمو کښې يې خپروي.

## د قبرونو د زیارت لپاره د سفر په حراموالي کښې د وهابیانو دلائل

وهابیان په ظاهره د خدائے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د زیارت اصل تجویز کوي خو هیڅکله د قبرونو د زیارت لپاره سفر کول جائز نۀ ګڼي. محمد بن عبدالوهاب نجدي له «الهدية السنيّه» رسالو څخه په دویمه رساله کښې داسې لیکي:

«تُسَنُّنْ زيارَةُ النَّبِي إلاّ أنّه لايُشدُّ الرَّحلُ إلاّ لِزيارَةِ الْمَسْجِدِ والصَّلاةِ فيهِ»

«د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم زیارت کول مستحب دي خو مسجد «الحرام» ته له سفر نه بغېر بل خوا سفر او هلته نمونځ ادا کول جائز نهٔ دي.»
د زیارت د تحریم لپاره د هغوي مهم دلیل هغه حدیث دے چې په صحاح کښې نقل شوے دے او د حدیث راوي يې ابوهرېره دے چې وائي د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم وفرمایل:

«لاتُشّدُ الرِّحالُ إلاّ إلي ثلاثَة مساجد: مَسجدي هذا، وَمَسْجِد الحرامِ، ومسجِد الأقصي»
«د سفر پېټے نهٔ شي تړلے مګر د دریو جوماتونو لپاره زما د جومات «مسجد النبي»، مسجدالحرا او مسجدا لاقصی.»
د دې حدیث متن په یو بل ډول هم نقل شوے دے:

«إنّما يُسافَر إلي ثلاثة مَساجدَ، مَسْجِدِ الكعبة، ومسجدي، ومسجد ايليا».
همدا حدیث په دریم ډول سره هم نقل شوے دے:

«تُشَدُّ الرِّحالُ الِي ثَلاثة مَساجِدَ...»[1]
په دې کښې چې دا حدیث په صحاحو او سننو کښې راغلے دے هیڅ خبره نهٔ کوو او خبر دے په دې باندې هم شخړه نهٔ کوو چې راوي يې ابوهرېره دے خو تر ټولو مهمه خبره د حدیث په مفهوم باندې پوهه ده.
که فرض کړو چې د حدیث متن داسې دے، «لاتُشَدُّ الرِّحالُ الاّ الِي ثَلاثَة مَساجِدَ...» چې پکښې په مسلمه توګه «الاّ» د استثنا لفظ دے او «مستثنی منه» لازم لري چې په تقدیر کښې واخلو او قرائنو ته له مراجعې مخکښې کولې شو مستثی منه دوه ډوله په تقدیر کښې واخلو لکه:

۱ـ «لاتُشدُّ الِي مسجد مِنَ الْمَساجِدِ إلاّ ثلاثةُ مَساجِدَ...»

۲ـ «لاتُشَدُّ الِي مَكان مِنَ الأَمْكِنَة الاّ الِي ثلاثة مَساجِدَ...»
د حدیث د مفهوم د درک کولو لپاره ضروري ده چې له دغو دواړو تقدیرونو څخه یو غوره کړو.
نو هر کله چې د حدیث مفهوم اول فرض وي نو په داسې صورت کښې پکار دي وو ایو چې له جوماتونو څخه هیڅ یو بل جومات ته د سفر پېټے نهٔ شي تړلے کېدې مګر دغو دریو جوماتونو ته، نه دا چې «شد رحال» او د سفر پېټے تړل د هیڅ یو بل ځا ے لپاره که هغه جومات هم وي جائز نهٔ دي.
نو اوس هر کله چې یو کس د پېغمبرانو، امامانو او صالحو انسانانو د زیارت لپاره د سفر سامان تړي نو هیڅکله د حدیث په نهي کښې نهٔ شاملیږي، ځکه چې د بحث موضوع د جوماتونو لپاره د سفرد پېټې تړل دي او په ټولو

---

[1] ـ دا درې متنونه «مسلم» د خپل صحیح په، ٤ ټوک، کتاب حج، باب «لاتشدّ الرحال»، ١٢٦ مخ کښې نقل کړي دي همدارنګ ابي داود، ١ ټوک، کتاب الحج، ٤٦٩ مخ؛ سنن نسائي د سیوطي په شرح، ٢ ټوک، ٣٧ مخ، کښې هم راوړې دي.

جوماتونو کښې دغه نوموړي جوماتونه استثنا شوي دي نو ځکه د مقدسو زيارتونو لپاره د سفر د پېټي تړل د بحث له موضوع نه بهر دي او په نهي کښې نۀ شامليږي.
او که هرکله د حديث مضمون دويم فرض وي نو په داسې صورت کښې له دغو دريو ځايونو نه علاوه نور ټولو معنوي ځايونو ته سفر به ممنوع وي که هغه يوبل جومات ته وي يا يو بل ځا ے ته.
خو په قطعي قرائنو سره دا خبره څرګنده او ثابتوو چې د حديث مضمون او مفهوم هم هغه و ړومبے فرض دے:

الف- مستثنی ((درې واړه جوماتونه)) دي، له دې امله چې استثنا متصله استثنا ده نو د مستثنی منه په يقين سره به ((مساجد)) لفظ وي نه ((مکان)) [1]
ب- که مقصد د ټولو معنوي سفرونو منعې کول وي نو حصر به صحيح نه وي، ځکه چې د حج په اعمالو کښې انسان د ((عرفات))، ((مشعر)) او ((منا)) لپاره هم ((شد رحال)) کوي او د سفر پېټے تړي. نو که له دغو دريو جوماتونو نه علاوه بل مذهبي ځا ے ته سفر کول جائز نه وي نو بيا ولې دغو دريو ځايونو ته سفر جائز کيږي؟
ج- د خدا ے په لار کښې د جهاد، د علم او پوهې د زدکړې، صله رحم او د مور پلار د زيارت لپاره سفر کول له هغو سفرونو څخه دي چې په مبارکو ايتونو او روايتونو کښې ورباندې تاکيد شوے دے. لکه دا ايت مبارک چې فرمائي:
«فَلَوْلا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَة مِنْهُمْ طائِفَةٌ لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنْذِرُوا قَوْمَهُمْ اِذا رَجَعُوا اِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ»[2]
((ولې له هرې قبيلې څخه يوه ډله کوچ نۀ کوي چې دين زده کړي او له راستنېدو نه پس خپله قبيله وويروي کېدې شي چې هغوي وويريږي.))
سترو محققانو حديث په هغه ډول چې مو وويل تفسير کړے دے امام غزالي په ((احياءالعلوم)) کتاب کښې وائي:
((له سفر څخه دويم قسم دا دے چې د عبادت لپاره سفر وکړې شي، لکه د جهاد، حج او د پېغمبرانو، اصحابانو، تابعينو، او اولياؤ د قبرونو د زيارت لپاره سفرونه. د هر هغه چا زيارت چې د هغۀ په ژوند کښې د تبرک سبب کيږي د وفات په حال کښې هم د تبرک سبب وي او د دغو مقاصدو لپاره د ((شد رحال)) او د سفر د پيټې تړل اشکال نۀ لري او دا چاره له هغه حديث سره چې له دريو جوماتو نه بغېر د سفر پېټے تړل جائز نۀ ګڼي څه مخالفت نۀ لري. ځکه چې په هغه حديث کښې موضوع جوماتونه دي او دا چې نور جوماتونه د فضيلت له نظره په خپلو کښې سره يو شان دي نو ويل شوي دي چې د هغو لپاره سفر کول جائز نۀ دي او که له جوماتونو څخه تېر شو، نو د انبياؤ او اولياؤ زيارتونه فضيلت لري، که څه هم مختلفې درجې او مرتبې لري.))[3]

---

[1] ـ که څوک ووائي چې: «ما جائني الاّزيد» نو پکار دي ووايو چې مستثني منه، د انسان او د هغۀ مشابه لفظ دے، لکه قوم وغيره، نه د (( شي)) او ((موجود)) په نامه په يو بشبړه او پراخې معنې که هغه انسان وي يا بل څيز دي.
[2] ـ توبه: ۱۲۲ ايت
[3] ـ احياء العلوم، کتاب آداب السفر، ۲ ټوک، ۲٤۷ مخ ط ـ دارالمعروفه بيروت، او همدا رنګ الفتاوی الکبری، ۲ ټوک، ۲٤ مخ ته مراجعه وکړئ.

نو په دې بنیاد هغه څه چې منعې کړي شوي دي له نوموړو درې واړو جوماتونو نه بغېر بل جومات ته «شدّ رحال» د سفر پېټے تړل دي نه د زیارت یا نورو معنوي چارو لپاره د سفر د پېټي تړل دي.
د یو بل ټکي ذکر کول هم ضروري ګڼو او هغه دا چې وائي په دغه حدیث کښې د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم فرمایلي دي چې ((له دریو جوماتونو نه بغېر د سفر پېټے نۀ شي تړل کېدې)) نو مراد ترې دا نۀ دے چې ((شدّ رحال)) او د سفر پېټے تړل بغېر له دغو دریو جوماتونو نه بل جومات ته حرام دي بلکې مراد ترې دا دے چې نور جوماتونه د دغو درې واړو جوماتونو په شان ارزښت نۀ لري چې ورته د سفر پېټے وتړلے شي، د سفر تکلیفونه وزغملې شي او انسان د هغو لیدو او زیارت کولو ته لاړ شي، ځکه چې بغېر له دغو دریو جوماتونو نور ټول جوماتونه د فضیلت له نظره په خپلو کښې دومره زیات فرق نۀ لري. او د دنیا نور جامع جوماتونه، د چم ګاونډ جوماتونه او یا د قبیلو جوماتونه ټول د ثواب او مرتبې له لحاظه په خپلو کښې برابر دي. نو ځکه پکار نۀ دي چې انسان دې په نزدې سیمه کښې د یو جامع جومات په لرلو سره په یوې لرې سیمه کښې د یو جامع جومات د زیارت لپاره د سفر پېټے وتړي او زحمتونه او تکلیفونه وزغمي. ځکه چې له دغو دریو یاد شویو مقدسو جوماتونو نه بغېر چې د زیارت کول یې ډېر فضیلتونه لري د بل یو جومات لپاره لرې سفر کول او تکلیفونه زغمل د هغو درې واړو جوماتونو هومره اهمیت او فضیلت نه لري، نه دا چې ګنې که چا دا کار وکړو نو یو حرام کار یې انجام کړ او ګناه یې وکړه.
د پاس بیان شوي حقیقت یو ګواه دا دے چې د صحاحو او سننو لیکوالانو نقل کړي دي چې د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم او د هغه حضرت صحابه به د خالي په ورځ د ((قبا)) جومات ته تلل او په دغه جومات کښې به یې نمونځ ادا کوۀ. لکه صحیح بخاري نقل کړي دي:

«إنّ النّبِيّ کانَ یَأتي مَسْجِدَ قباءَ کُلّ سَبت ماشِیاً وَراکباً وإنّ ابْنَ عُمَر کانَ یفْعَلُ کَذلک»[1]
((د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم به د هر خالي په ورځ په خپلو پښو او په مرکبونو باندې د قبا جومات د زیارت لپاره تلل، او عبدالله بن عمر به هم داسې کول.))
نو اوس دا فکر پکار دے چې په یو جومات کښې د نمونځ ادا کولو لپاره مزل او سفر کول هغه هم له ډېر لرې ریاکارۍ نه بغېر څه ډول حرام او منعې کېدې شي؟ که نمونځ په جومات کښې ادا کول مستحب وي نو پکار دي د هغۀ مقدمه هم ځان ته هغه رنګ او خصوصیت غوره کړي.

*****

---

[1] ـ صحیح بخاري، ۲ ټوک، ۷٦ مخ؛ صحیح مسلم، بشرح النووي، ۹ټوک، ۱۷۱ ـ ۱٦۹ مخونه؛ سنن نسائي، بشرح سیوطي، ۲ ټوک، ۳۷ مخ

# شپږم باب

## د اولیاء کرامو د مزارونو ترڅنګ نمونځ او دعا کول

له هغو مسائلو څخه چې د وهابیانو په کتابونو کښې ورباندې بحث او خبرې اترې کیږي د اولیاء کرامو د قبرونو ترڅنګ د نمونځ د ادا کولو ، د دعا د غوښتلو او د هغوي په مقبرو کښې د ځراغونود بلولو مسئله ده. د وهابیت د مکتب باني په «زیارة القبور» رساله کښې لیکي:

«لم یَذکُر أحَدٌ منَ أئمة السّلَف اَنّ الصّلاةَ عنْدَ القُبُورِ وَفي مشاهدها مُستَحَبّةٌ ، ولا اَنّ الصّلاةَ والدُعاء هَناکَ أفضلُ ، بَلْ اتّفَقُوا کُلُّهُمَ عَلي اَنّ الصّلاةَ فَي الْمَساجِدِ وَالبُیُوتِ أفْضَلُ مِنْها عِنْد قُبُورِ الأولیاء وَالصّالِحینَ.»[1]

((له تېرو پېشوایانو څخه هیڅ یو کس نۀ دي ویلي چې د اولیاؤ د قبرونو ترڅنګه نمونځ ادا کول مستحب وي او نۀ یې دا ویلي دي چې په هغو ځایونو کښې نمونځ ادا کول له نورو ځایونو څخه افضل دي بلکې ټول په دې باندې د اتفاق نظر لري چې د اولیاؤ او صالحانو د قبرونو تر څنګه د نمونځونو له ادا کولو نه په جوماتونو او کورونو کښې د هغوادا کول افضل دي.))

د مدینې له علماؤ سره د منسوبې یوې پوښتنې په ځواب کښې راغلي دي:

«امّا التَوجُه إلي حُجرَةِ النّبِي ( صلّي الله علیه وآله ) عِندَ الدُعاءِ فَالأولي مَنعُهُ کَما هُوَ مَعْرُوفٌ مِنْ معتَبراتِ کُتب الْمذهبِ وَلأنّ أفْضَلَ الجهات ، جَهَةُ القِبْلَةِ»

---

[1] ـ «زیارة القبور» ، ۱۶۰ـ ۱۵۹ مخونه

«د دعا په وخت د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د قبر په لورد توجه او مخ کولو په حقله بهتره خبره یې منعې کول دي او په مشهورو معتبرو کتابونو کښې د د ې چارې ممنوعیت شوے دے او تر ټولو غوره طرف قبله ده.»[55]

دا مسئله د وخت په تېرېدو سره د «ممنوعیت» او منعې له مرحلې نه د «شرک» مرحلې ته رسېدلې ده او همدا اوس د وهابیانو او سلفیانو ترمېنځ داسې یوه چاره د شرک رنګ لري او د دې چارې انجاموونکے مشرک ګڼل کیږي.
پکاردي یادونه وکړو چې هر کله څوک د قبرونو ترڅنګه د قبر د خاوند لپاره نمونځ ادا کړي او د هغهٔ پرستش وکړي یا هغه خپله قبله وګرځوي نو بې له شکه به هغه مشرک وي، خو د زمکې په سر داسې څوک مسلمان نهٔ موندل کیږي چې د الهي پېغمبرانو او اولیاؤ د قبرونو تر څنګه داسې یو کار وکړي. څرګنده ده چې مسلمانان نهٔ د قبر د خاوند عبادت کوي او نهٔ هغه خپله قبله ګرځوي. نو په دې بنیاد د «شرک» اندېښنه له ګمانه زیات بل څه نهٔ دي. د اولیاء کرامو د قبرونو په خوا کښې د نمونځونو له ادا کولو او دعاګانو غوښتلو نه د مسلمانانو مقصد له هغه ځاے سره چې د خداے پاک یو نازولے پکښې دفن دے د تبرک حاصلولو فکر دے او مسلمانان دا کار په دې نیت سره کوي چې دغه ځاے د خداے پاک له نیازبینو څخه د یو نیازبین جسد مبارک د لرلو په وجه یو خاص شرافت لري نو په نتیجه کښې به یې عمل لا زیات ثواب ولري.
اوس ضروري دا ده چې په دې باره کښې بحث وکړو چې: ایا د زمکې په یوه ټوټه کښې د پاکانو او صالحانو د جسد مبارک د ښخېدو په وجه هغه ځاے یو خاص شرافت پېدا کوي یا نه؟ نو که داسې یو حکم له قران او سنت څخه ثابت شي نو پکار دي د دین د پېشوایانو او سپېڅلو هستیو په مزارونو کښې د نمونځ ادا کول او د دعا غوښتل فضیلت ولري نه دا چې منعې او حرام اعلان کړې شي. بلکې د نوور ځایونو په شان د نمونځ او دعا کول هلته روا او جائز وګرځي که څهٔ هم فضیلت ونلري.
اوس غواړو په دې برخه کښې خپل بحث په دې خبره باندې متمرکز کړو چې ایا د اولیاء کرامو مدفن او قبرونه خاص شراف او فضیلت لري او په دې خبره باندې له کتاب او سنت څخه څه ګواهي موجوده ده یا نه؟ د دې حقیقت د موندلو لپاره مخکښې بیان شویو ایتونو ته په پام سره په لاندې ټکو سره استفاده کولې شو.
۱- د اصحاب کهف د مدفن په باره کښې موحدې ډلې داسې نظر ورکړے دے چې:

«لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِمْ مَسْجِداً» [1]
«مونږ په دوي باندې یو جومات جوړول غوره کوو»
د هغوي د دفن کېدو په ځاے باندې له جومات جوړولو نه د هغوي مقصد بې له دې بل څه نهٔ ؤ چې خپل عبادي فرائض هلته ترسره کړي یعنې هلته نمونځونه ادا کړي او دعاګانې وکړي.[2] هغوي له دې تجویز څخه هم دا فکر او

---

[1] ـ کهف: ۲۱ ایت

[2] ـ زمخشري په «کشاف» کښې د نوموړي ایت په تفسیر کښې وائي: «يصلي فيه المسلمون ويتبرکون بمکانهم» ؛ نیشابوري په خپل تفسیر کښې د دغه ایت په باره کښې لیکي: «يصلي فيه المسلمون ويتبرکون بمکانهم.»

نیت لرۀ چې دا ځاے د خداے پاک د نازولو بنده ګانو د جسدونو په شتون سره یو خاص فضیلت لري او پکار دي د دغه ځاے له فضیلت څخه تبرک او د زیات ثواب حاصل کړو.
قران مجید داخبره د واحد خداے پرستش کوونکې ډلې له قوله نقل کړې ده او د دغې خبرې په وړاندې خاموشي اختیاروي، که دا کار خلاف، فضول او بې وجې وې نو هیڅکله به قران مجید د هغۀ په وړاندې خاموشي نۀ وه اختیار کړې او په یوې طریقې سره به یې هغه یو خطا کار ښودلے ۀ او له دې مسئلې څخه به په داسې خاموشۍ سره چې په طبیعي توګه د رضامندۍ ښنه ده نۀ تېرېدۀ.

۲- قران مجید حاجیانو ته حکم ورکوي چې په «مقام ابراهیم» یعنې په هغه ځاے کښې چې حضرت ابراهیم علیه السلام هلته اودرېدلے دے، نمونځ وکړي لکه چې فرمائي:

«اِتَّخَذُوا مِنْ مَقامِ اِبْراهیمَ مُصَلّیً.»[۱]
«مقامِ ابراهیم د ځان لپاره د نمونځ ځاے غوره کړئ.»
له دې مبارک ایت څخه څوک بې له دې نه بل مطلب نۀ اخلي چې له دې امله چې حضرت ابراهیم علیه السلام دغلته ولاړ ۀ او کېدې شي چې د خداے پاک پرستش یې کړے وي یا یې بل نېک او عبادي کار ترسره کړے وې نو دغه ځاے فضیلت او شرافت پیداکړے دے او د دغه ځاے د قدرونې په خاطر او د هغه شرافت په وجه چې لري یې خداے پاک حکم ورکوي چې مسلمانان دې په دغه ځاے کښې نمونځ ادا کړي او ترې نه دې تبرک حاصل کړي.
نو هر کله چې یو ځاے د حضرت ابراهیم علیه السلام د قیام په وجه شرافت او سپېڅلتیا حاصلوي نو ایا د حق د لارې د شهیدانو او فضیلت لرونکو شخصیتونو د جسدونو د دفن کېدو ځاے د شرافت او فضیلت سبب نۀ شي کېدې او هلته کښې نمونځ له لا زیات فضیلت او دعا له زیات استجابت نه برخورېدې نۀ شي؟
دا خبره صحیح ده چې دا مبارک ایت یوازې د حضرت ابراهیم علیه السلام په باره کښې نازل شوے خو ایا له دغه ایت څخه د یو کلي حکم په توګه استفاده نۀ شو کولې؟ (ځکه چې د قران مجید روش او طریقه کلیات بیانول دي او پکار دي چې په نورو جزیاتو کښې ترې استفاده وشي)
عباسي خلیفه منصور دوانیقي د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په جومات (مسجدالنبي) کښې د سني فقهې له یو امام مالک سره په بحث لګیا ۀ او له هغۀ نه یې پوښتنه وکړه چې ایا د دعا په وخت د قبلې په لور اودرېدل او دعا کول غوره دي او یا د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د روضې مبارکې په لور؟ ځواب یې ورکړ: ولې د خداے له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم څخه مخ اړوې، ځکه چې هغه ستا او ستا د پلار آدم علیه السلام وسیله دے بلکې د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قبر مبارک لور ته مخ کړه او هغه خپل شفیع وګرځوه او غوښتنه ترې وکړه چې په حق کښې دې شفاعت وکړي.[۲]

---

[۱] ـ بقره: ۱۲۵ ایت
[۲] ـ وفا الوفاء في اخبار دارالمصطفي، ٤ ټوک، ۱۳۷٦ مخ

له دي پوښتني او ځواب څخه دا ثابتيږي چي د خدا ے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د قبرمبارک په خوا کښي دعا غوښتل بې شکه او بې شبې خبره ده او د مديني له يو فقهي مشر سره د منصور بحث په يوې چارې باندې د بلي د برترۍ په باره کښي د ے.

۳- د معراج شريف روايت ته په مراجعه کولو سره په حقيقت باندې لا زيات پوهېدې شو، لکه دا روايت چې: د خدا ے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د «طيبه»، «طور سينا» او «بيت لحم» په شان ځايونو کښي نمونځ اداکړ. جبرائيل عليه السلام ورته عرض وکړ چې ا ے د خدا ے ګران رسوله صلی الله عليه و آله وسلم! پوهېږې چې دغه کوم ځا ے ؤ چې نمونځ دې پکښې اداکړ؟ دغه د عيسی عليه السلام د پيدائش ځا ے ؤ.[1]
له دې مبارک حديث نه دا خبره په ډاګه کيږي چې په داسې يو ځا ے کښې د نمونځ ادا کول چې د يو پيغمبر د بدن د لګېدو سره فضيلت لرونکے شو ے د ے او د داسې يو ځا ے تبرک حاصلول په هغه ځا ے کښې د حضرت عيسی عليه السلام له پيدائش نه بغير بل څه نۀ دي.
۴- «بي بي هاجره سلام الله عليها او اسماعيل عليه السلام د خدا ے په لار کښې د صبر او د پردېسۍ د زغملو په خاطر داسې مقام ته ورسېدل چې د صفا او مروه ترمېنځ د هغوي د قدمونو ځا ے د عبادت ځا ے شو»[2]
دا پورته وينا د ابن تيميه د شاګرد ابن قيم وينا ده! نو که واقعي د دغو دواړو د قدمونو ايښودو ځا ے د هغه صبر او زغم په خاطر چې د خدا ے په لار کښې يې ولرۀ دومره مبارک ګرځي چې مسلمانانو ته حکم ورکړے کيږي چې په دغه ځا ے کښې د خدا ے پاک عبادت کوئ او په شانداره طريقه سعي په ځا ے راوړئ نو بيا ولې د خدا ے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د دفن کېدو ځا ے چې د ټولنې د اصلاح په لار کښې يې تر ټولو زياتې سختۍ وزغملې او تر ټولو د لو ے استقامتونو ښودنه يې وکړه ( او اشرف الخلائق او اشرف الانبياء وګرځېد) متبرک نۀ وي او په هغه ځا ے کښې دې نمونځ او دعا خاص شرافت ونلري؟
۵- په رښتيا که د قبر تر څنګه نمونځ کول روا نۀ وي نو بيا ام المومنين څنګه يوه موده په خپله کوټه کښې چې د خدا ے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د د فن ځا ے د ے نمونځ کوۀ او د خدا ے پاک په عبادت به لګيا وه؟
له دې مخکښې مو يو حديث راوړۀ چې خدا ے پاک په يهودو او نصاراؤ باندې لعنت وکړ چې ولې يې د خپلو پيغمبرانو قبرونه مسجدونه (د سجدې او عبادت ځايونه) غوره کړي دي.»[3] او ومو ويل چې وهابيان په دې حديث سره د خدا ے پاک د نازولو اولياؤ د قبرونو تر څنګ د نمونځونو د ادا کولو په حراموالي باندې استدلال کوي. نو پکار دي دا خبره يو ځل بيا وکړو چې هغوي د پيغمبرانو قبرونو ته سجده کوله او د هغوي عبادت به يې کوۀ او يا به يې د هغوي قبرونه قبله ګرځوله چې دواړه خلاف عملونه دي. که د حديث معنا هم هغه وي چې وهابيان او سلفيان يې وائي، نو بيا ولې د حديث راوي بي بي عائشې (رض) تقريباً پنځوس کاله په هغه ځا ے

---

[1] ـ الخصائص الكبري تأليف عبدالرحمان السيوطي.
[2] ـ جلاء الافهام في الصلاة والسلام على خير الانام، تأليف ابن القيم، ۲۲۸ مخ
[3] ـ «لعن الله اليهود والنصاري اتّخذوا قبور أنبيائهم مساجد» (سنن نسائي، ٤ ټوک، ۹٦ مخ، چاپ بيروت).

کښې چې د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم پکښې دفن شوے ؤ نمونځونه ادا کړل او د خدا ے پاک پرستش يې وکړ؟

۲- که د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم مدفن څه خاص شرافت نۀ لري نو ولې شېخېنو (دواړو خليفه ګانو) اصرار کوۀ چې د هغوي جنازې دې په هغه ځا ے کښې خاورو ته وسپارلې شي؟ ولې امام حسن بن امام علي علیه السلام وصيت وکړ چې د هغۀ پاک بدن دې د خپل نيکۀ بزرګوار په خوا کښې خاورو ته وسپارلے شي او په داسې صورت کښې چې دښمنان يې هلته د ښخولو خنډ جوړ شول او هغه يې مجبوراً د جنت البقيع په اديره کښې خاورو ته وسپارۀ؟

او اخېر دا حديث د مسلمانانو له دې کار سره څه ارتباط لري چې د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د قبر مبارک ترڅنګه د خدا ے پاک لپاره نمونځ ادا کړي او مقصد يې د دغه ځا ے د فضيلت حاصلول وي؟!

د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم قدرمنه لور (حضرت فاطمه زهرا سلام الله علیها) چې د صحاحو د حديثونو په حکم سره ((د هغې رضامندي او خوشحالي د خدا ے او رسول رضامندي او خوشحالي ده او د هغې ناراضګي او قهر د خدا ے او رسول صلی الله علیه و آله وسلم ناراضګي او قهر د ے)) د هرې جُمعې په ورځ به د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د ترۀ حضرت حمزه علیه السلام د قبر زيارت ته تله او هلته به يې نمونځ ادا کوۀ او ژړا به يې کوله.

۷ ـ «کانت فاطمة (رضي الله عنها) تَزُورُ قَبْرَ عَمِّها حَمْزَةَ كُلّ جُمعَة فَتُصَلّي وَتَبْكي عِنْدَهُ»[۱]

د اسلام د بزرګانو او مسلمانانو له سيرت سره مل دغه دلائل چې هغوي به تل په هغو ځايونو کښې چې پکښې د خدا ے پاک نازولي او د حق او فضيلت د لارې جانبازان خاورو ته سپارلې شوي دي نمونځ ادا کوۀ او په دعا ګانو او رازونياز باندې به مشغول وو دا ښودنه کوي چې په دغو ځايونو کښې نمونځ او دعا لا زيات فضيلت او شرافت لري او مقصد يې بې له دې بل څه نۀ ؤ چې له شرافت نه ډک له دغه ځا ے څخه تبرک واخلي او په داسې يو ځا ے کښې خپل نېک عمل ترسره کړي چې د خدا ے پاک د توجه مرکزونه دي.

که فرض کړو چې د دغو ځايونو په شرافت او په دغو ځايونو کښې د نمونځ او دعا کولو په فضيلت باندې له قران او حديث څخه هيڅ دليل نۀ لرو نو اخېر ولې په دغو ځايونو کښې نمونځ کول منعې دي او ولې دغه ځايونه د اسلام د دې کلي قانون لاندې نۀ راځي چې وائي: ((د زمکې هره برخه د خدا ے د عبادت ځا ے د ے))[۲] او ولې مسلمانان د خدا ے پاک د نازولو د قبرونو ترڅنګه نمونځونه نۀ شي ادا کولې؟

په تېر بحث کښې مو د هغو حديثونو د هدف او مقصد يادونه وکړه چې وائي: ((يهودو او نصاراؤ د خپلو پېغمبرانو قبرونه مساجد (د سجدې او عبادت ځايونه) ګرځولي دي.)) او ومو ويل چې دغه حديثونه هيڅکله د

---

[۱] ـ سنن بيهقي ، ٤ ټوک، ۷۸۸ مخ، مستدرک حاکم ، ۱ټوک ، ۳۷۷ مخ

[۲] ـ «جعلت لي الأرض مسجداً وطَهُوراً» مسند احمد ، ۲ ټوک، ۲۲۲ مخ

اولیاء کرامو د قبرونو په خوا کښې د قبلې په لور خالص د خدا ے پاک لپاره د نمونځ له ادا کولو او په دغو ځایونو کښې له دعا غوښتلو او راز ونیاز کولو سره تعلق نۀ لري.

همدا رنګ د خدا ے پاک د نازولو په مقبرو، مزارونو او دربارونو کښې د شمعو، ډیوو او څراغونو بلول چې وهابیان یې په سختۍ سره منعې کوي څه دومره مهمه مسئله نۀ ده، ځکه چې په دې حقله د وهابیانو مدرک او دلیل هم هغه له نسائي څخه د حضرت ابن عباس (رض) حدیث دے چې نقلوي: ((دخدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په زیارت کوونکو ښځو باندې او په هغو کسانو باندې چې هغه ځایونه یې مسجدونه غوره کړي دي او څراغونه بلوي لعنت کړے دے.))[1] د دا ډول حدیثونه په داسې صورت کښې ناظر دي چې د څراغونو بلول د مال او دولت له ضائع کولو او د دنیا د ځینو قامونو د تقلید کولو نه بغېر بله څه نتیجه ونلري، خو که د څراغونو له بلولو نه مقصد د قران مجید او دعاګانو لوستل او د نمونځونو ادا کول او نور شرعي او روا کارونه وي نو بې له شکه به څه بدیت ونلري بلکې په دغو ځایونو کښې د څراغونو بلول به هغه هم د دغو مقدسو او سپېڅلو مقاصدو لپاره د قران مجید د مبارک ایت «تَعاوَنُوا عَلَي البِرِّ وَ التَّقْوي»[2] روښانه مصداق وي.

د ویلو وړ خبره ده چې د حدیث یو شمېر شرح لیکونکو د همدې حقیقت وضاحت کړے دے، لکه چې سندي د سنن نسائي په حاشیه کښې وائي:

«. . . والنّهيُ عَنْه لأنّهُ تَضْيِيعُ مال بِلانَفْع»[3]

((د څراغ له بلولو نه نهي کول په دې خاطر دي چې داسې یو کار د مال او دولت له ضائع کولو نه بغېر بل څه ګټه نۀ لري.))

*****

---

[1] ـ «لَعن رسُولُ اللهِ زائراتِ القُبورِ والمُتّخذينَ عَلَيْها المَسجِدَ والسُرُجَ» (نسائي، ۳ټوک، ۷۷ مخ چاپ مصر او ٤ ټوک، ۹۵ مخ، بیروت ؛ تیسیر الوصول الي جامعَ الأصول، ٤ ټوک، ۲۱۰ مخ

[2] ـ مائده : ۲۰ ایت

[3] ـ سنن نسائي ، ۳ ټوک، ۷۷ مخ ، چاپ مصر او ٤ ټوک، ۹۵ مخ، چاپ بیروت او دالجامع الصغیر په شرحې سره ، ۲ ټوک ، ۱۹۸مخ ته مراجعه وکړئ..

# اوم باب

## د خدا ے پاک د ولیانو وسیله کول

د خدا ے پاک د درگاه له نازولو کسانو سره توسل پېدا کول او د هغوي وسیله گرځول، له داسی مسایلو څخه دي چې د دنیا په مسلمانانو کښې پوره پوره رواج لري او له هغې ورځې چې اسلامي شریعت د خدا ے د گران رسول صلی الله علیه واله وسلم په ذریعې سره بیان شو نو د توسل جایزوالے او شرعي والے د هغه حضرت د مبارکو حدیثونو په وسیلې سره اعلان شو یوازې ابن تیمیه ؤ چې په اتمې پیړۍ کښې یې له دې یقیني او پوخ حکم څخه انکار وکړ او له هغهٔ نه دوه پیړۍ وروسته هم دا خبره محمد بن عبدالوهاب نوره هم گرمه کړه او د خدا ے تعالی له نازولو ولیانو سره یې توسل او د هغوي وسیله گرځول غیر شرعي او بدعت بلکې په ځینو عبارتونو کښې یې دا چاره د اولیاؤ کرامو «عبادت» وبالهٔ.

د عبادت د معنې او مفهوم په حقله به یو بیل بحث وکړو او په هغه کښې به د دې خبرې ذکر وکړو چې د خدا ے تعالي له نازلو او ولیانو سره توسل پېدا کول او هغوي خدا ے پاک ته وسیله گرځول، په یو صورت کښې عبادت او شرک حسابیږي او په بل صورت کښې غوره او سنتې عمل دے او د عبادت بویې هم پکښې نشته، خو له هر څه مخکښې باید په دې پوه شو چې د خدا ے پاک له اولیاؤ سره توسل او د هغوي وسیله گرځول په دوه صورتونو سره تر سره کیږي:

۱- د هغوي له ذات سره توسل پېدا کول او هغوي وسیله گرځول. لکه چې دا ووایو:

«أللّهُمَّ اِنّي أتَوسّلُ اِلیکَ بِنَبِیّکَ مُحمّد-صلّي الله علیه وآله وسلّم-أنْ تَقْضِيَ حاجَتي»

«خدایه پاکه! له تا سره توسل کوم ستا د پېغمبر محمد (صلّي الله علیه وآله وسلم) په وسیلې سره چې زما حاجتونه پوره کړې.»

۲ ـ د خدا ے پاک په درگاه کښې د هغوي د مقام او نزدېکت او د هغوي د حقوقو وسيله گرځول. لکه چې ووايو:

«أللّهُمّ اِنّي أتوسّلُ اِلَيکَ بِجاهِ مُحمّد ـ صلّي الله عليه وآله وسلّم ـ وَحرمتِهِ وحَقّهِ أنْ تَقْضِيَ حاجَتي»

«اےخدايه پاکه! د حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم د هغه مقام، درنښت او حق په وسيلې سره چې ستا په نزد يې لري چې زما حاجتونه پوره کړې»

د وهابيانو له نظره دا دواړه صورتونه منعې او باطل دي حال دا چې مبارک حديثونه او په تاريخ کښې د مسلمانانو سيرت د وهابيانو د نظريې په خلاف دي او د خدا ے تعالی له وليانو سره توسل په دواړو صورتونو کښې سم او جائز بلي.

وړومبې حديثونه راوړو او بيا ورپسې د مسلمانانو سيرت روښانه کوو نو د دې دوو دليلونو په بيانولو سره د بدعت او غېر شرعي والي مسئله په خپله په ډاگه او باطليږي خو دا خبره چې ايا د خدا ے پاک له اولياؤ سره توسل پېدا کول او هغوي وسيله گرځول د هغوي عبادت حسابيږي يا نه؟ دا خبره به «د عبادت د معنې» په برخې کښې راشي او په دې حقله به بحث وکړو. د ويلو ده چې هغه بحث د دې اصلي بحث له ژورو او حساسو ټکو نه ډک د ے.

## توسل او وسيله د حديثونو له نظره

د حديثو او تاريخ په کتابونو کښې ډېر زيات حديثونه او روايتونه راغلي دي چې د الهي اولياؤ له ذات سره او يا د هغوي له مقام سره د توسل پېدا کولو او د هغوي د وسيلې گرځولو په سموالي او صحيحوالي گواهي ورکوي خو اوس له هغو کڼ شمېر حديثونو څخه د هغو يوه وړه برخه بيانوو:

«إنّ رجُلا ضَريراً أتي إلي النّبي ـ صلّي الله عليه وآله وسلّم ـ فَقالَ أُدعُ اللهَ أنْ يعافِيَني فَقَال: إنْ شئتَ دَعَوْتُ وَانْ شئتَ صَبَرْتَ وَهُو خيرٌ. قالَ: فَادْعُهُ، فَأمَرَهُ أنْ يَتوضّأ فَيُحْسِنَ وضوءَهُ وَيُصَلّيَ رکْعَتينِ وَيَدْعُو بِهذَا الدُّعاء: أللّهُمّ إنّي أسْألُکَ، وَأتَوَجّهُ إلَيْکَ بَنَبِيّکَ مُحَمّد نَبِيّ الرّحمَة، يا مُحَمّدُ إنّي أتَوَجّهُ بِکَ إلي رَبّي في حاجَتي لِتَقْضِي، اَللّهُمّ شَفّعْهُ فِيّ. قالَ: ابنُ حنيف فَوَاللهِ ما تَفَرّقنا وَطالَ بِنا الحديثَ حَتّي دخَلَ عَلَيْنا کَأنْ لَمْ يَکُن بِهِ ضُرٌّ»

«يو ړوند کس پېغمبراکرم صلي الله عليه واله وسلم ته راغے او عرض يې وکړ: له خدا ےپاک څخه وغواړه چې ما ته دې عافيت او روغ صحت وبخښي، پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم وفرمايل که زړۀ دې غواړي چې دعا وکړم نو دعا به وکړم او که نه زړۀ د غواړي چې صبر وکړې نو دا ښه خبره ده. ړونده سړي وويل چې دعا وکړه. نو پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم هغه ته حکم وکړ چې اودس وکړه او په خپل اودس ته ښۀ ځېر شه (يعنې په دقت سره يې صحيح وکړه.) او دوه رکعته نمونځ ادا کړه او داسې دعا وکړه:

اے خدايه! زۀ له تا سوال کوم او ستا د پېغمبر حضرت محمدصلی الله عليه و آله وسلم چې د رحمت پېغمبر د ے، په وسيله تا ته متوجه کېږم او اے محمده! صلی الله عليه و آله وسلم زۀ د خپل حاجت په باره کښې ستا په

وسیله خدای پاک ته توجه کوم چې خدای پاک دې زما حاجتونه پوره کړي ای زما خدایه! زما په حقله د هغهٔ شفاعت او سپارښت قبول کړې. . .»

**د حدیث د سند بحث:**

د حدیث د سند او په دې کښې چې دا حدیث متفق علیه دی (یعنې شیعه او سنیانو دواړو نقل کړی دی) هیڅ شک نشته ان تردې چې د وهابیانو مشر ابن تیمیه هم د دې حدیث سند صحیح ګڼلی دی او ویلي یې دي چې: د ابو جعفر نوم چې د حدیث په سند کې راغلی دی له هغه نه مراد هماغه ابو جعفر خطمي دی او هغه هم ثقه او باوري دی.[1]

ښاغلي رفاعي، چې د وهابیانو د اوسنۍ زمانې لیکوال دی هڅه کړې ده چې د توسل حدیثونه له اعتباره وغورزوي هغه د دې حدیث په حقله وائې:

«لا شکّ إنّ هذا الْحَدِیثَ صَحِیحٌ وَمَشْهُورٌ وَقَدْ ثَبَتَ فیه بِلا شَکٍّ»[2]

«په دې کې هیڅ شک نشته چې دا حدیث صحیح او مشهور دی.»

همدارنګ رفاعي په خپل کتاب «التوصل» کښې وائي: چې دا حدیث نسائي، بیهقي، طبراني، ترمذي او حاکم په خپلو کتابونو کښې نقل کړی دی خو اخیرې دوو کسانو د اخیري جملې «وَشَفِّعْهُ فِيّ. . .» په ځای «اللّهم شفِّعْنِي فِیهِ. . .»[3] جمله لیکلې ده.

زیني دحلان په خپل کتاب «خلاصة الکلام» کښې داسې لیکي: چې دا حدیث بخاري (په خپل تاریخ کښې) او ابن ماجه او حاکم په خپلو کتابونو کښې په صحیح سندونو سره او جلال الدین سیوطي (په خپل جامع) کښې نقل کړی دی.

لیکوال، دا حدیث له لاندېنو سرچینو څخه نقل کړی دی:

۱ ـ سنن ابن ماجه ، ۱ ټوک ، ٤٤١ مخ، له داراحیاء الکتب العربیه عیسي البابي الحلبي خپرندویې او شرکاء ، په تحقیق د محمد فؤاد عبد الباقي، حدیث شمېره ۱۳۸۸۵ .

«ابن ماجه» له «ابو اسحاق» څخه نقلوي: چې «هذا حدیثٌ صحیحٌ»
بیا ورپسې زیاتوي چې:

---

[1] . په مسند احمد بن حنبل کتاب کښې د ابو جعفر نوم په خطمي سره توصیف شوی دی که څه هم په صحیح ابن ماجه کتاب کښې یوازې ابو جعفر نوم بیان شوی دی.

[2] . «التوصّل الي حقیقة التوسل»، ۱۵۸ مخ

[3] . هماغه سرچینه

دا حدیث ترمذي په خپل کتاب «ابواب الأدعیه» کښې نقل کړے دے او ویلي یې دي چې: «هَذاحدیثٌ حقُ صحیحٌ غریبٌ»

۲ ـ مسند احمد بن حنبل ٤ ټوک ، ۱۳۸ مخ، د عثمان بن حنیف له مسنده چې د بیروت د دار الصادرا موسسې دالمکتب الاسلامي خپرندویې چاپ دے نقل کړے دے.

هغهٔ دا حدیث له دریو لارو نقل کړے دے .

۳ ـ کتاب مستدرک حاکم ، ۱ ټوک ، ۳۱۳ مخ ، آفستې ، چاپ حیدرآباد .

او د حدیث له نقلولو نه پس داسې وائي :

«هذا حدیثٌ صحیحٌ علي شرطِ الشیخینِ ولَمْ یُخرِجاه»

«دا حدیث د شیخینو په شرط سره بالکل صحیح دے خو نهٔ یې دې نقل کړے.»

٤ ـ کتاب الجامع الصغیر، لیکوال سیوطي، چې له ترمذي او مستدرک حاکم یې نقلوي، ۵۹ مخ

۵ ـ کتاب تلخیص مستدرک ، لیکوال ذهبي چې په کال ۷٤۸ کې وفات شوے دے، چې د مستدرک په ترڅ کښې چاپ شوے دے

٦ ـ التاج، ۱ ټوک ، ۲۸٦ مخ ، دې کتاب له ابن ماجه نه بغیر د پنځو صحاحو حدیثونه راټول کړي دي نو بس له همدې امله د حدیث په سند کښې هیڅ ډول شک او شبهه نیشته.

که چرې دا حدیث یو داسې کس ته ورکړو چې هغه په عربي ژبې پوهیږي او د هغهٔ ذهن د وهابیانو د توسل په باب کښې له لانجو نه خالي وي او بیا له هغه پوښتنه وکړوچې پیغمبر اکرم صلی الله علیه واله وسلم په هغې دعا کښې، چې ړوند سړي ته یې وښودله، هغه ته یې څه حکم ورکړ او هغه ته یې د دعا په قبلیدو کښې، څنګه لارښوونه وکړه؟ نو خامخا به هغه کس، په ځواب کښې وائي: چې پیغمبر اکرم صلی الله علیه واله وسلم هغه ته ښودنه وکړه چې د رحمت پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم د ځان لپاره وسیله وګرځوي. او له هغه سره توسل وکړي او له پاک خدایه وغواړي، چې هغه د دهٔ حاجتونه قبول کړي او دا خبره له لاندینیو جملوڅخه ښهٔ معلومیږي:

الف: «أللّهُمّ إنّي أسْألُکَ وأتوجّهُ اِلَیْکَ بِنَبِیّکَ»

«پاکه خدایه ! له تا غواړم او تا ته پناه دروړم ستا د پیغمبر په وسیله»

د «نبیک» لفظ متعلق دے مخکښېنو دوو جملو سره ؛ «أسْألُکَ» او «أتَوَجّهُ اِلَیْکَ».

په اسانو ټکو کښې داسې وايو چې؛ هم د پېغمبر په وسيله له خدايه غوښتنه کوئ او سوال ترې کوئ او هم د هغهٔ په وسيله خداے پاک ته پناه وړئ او د «نبي» لفظ نه مراد ،په خپله نبي دے، نه دا چې د نبي دعا ، او دا سوچ او تصور چې د «بدعاء نَبيّک» ټکي څخه مراد د نبي دعا ده، د ظاهر په خلاف او بې دليله خبره ده او څوک چې د دعا لفظ مقدر او پټوي د هغه هيڅ علت نيشته مګر دا چې له وخته مخکښې فېصله کوونکے وي؛
ځکه چې هغه کس چې دا لفظ په تقدير کې نيسي نو هغه، شخصيتونو سره توسل صحيح نه ګڼي، نو لاس پښې وهي چې د «دعا» لفظ مقدر وښئ، چې د هغه د نظرياتو مخالف نه وي. چې په نتيجه کښې بې داسې وويلې شي چې مراد ترې د پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم دعا ده نه د هغهٔ پاک ذات، او د افرادو دعاګانې وسيله ګرځول هيڅ باک نهٔ لري.

ب: محمّد نَبِيِّ الرّحْمَه :
لپاره د دې چې څرګنده شي چې مراد ترې د پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم په خاطر له پاک خدايه سوال او غوښتنه کول ، او خداے ته د هغه په وسيلې سره توجه کول دي، د «نبيک» لفظ يې په «محمّد نبيّ الرّحْمه» جملې سره توصيف کړے دے، چې حقيقت ښه روښانوي او هدف نور هم څرګندوي.

ج: د «يا محمدُ اِنّي أتوجّه بِکَ الي رَبّي» جملې نه دا مطلب معلوميږي چې هغه کس حضرت محمد صلی الله عليه واله وسلم د خپلې دعا وسيله ګرځوي، نه دا چې د هغه دعا د خداے پاک درګاه کښې وسيله ګرځوي.

د: د «وشفّعه فِيّ» جملې مفهوم او مطلب دا دے چې: اے پاکه خدايه ! هغه يعنې پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم زما شفيع وګرځوې او زما په حقله د هغهٔ شفاعت قبول کړې.

په دې ټولو جملو کښې د هغه څه په حقله چې بحث او خبرې ورباندې کيږي هم هغه د پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم پاک ذات او د هغهٔ ستر شخصيت دے او د پېغمبر اکرم د دعا په حقله پکښې هډو خبره نيشته.
نو بس له دې بيان نه وروسته د وهابي ليکوال ښاغلي رفاعي پنځه واړه اعتراضونه چې په «التوصل الي حقيقة التوسل» کتاب کښې يې ذکر کړي دي ټول له منځه ځي، او مونږ د هغهٔ اعتراضونه او په تفصيل سره د هغوځوابونه په خپل کتاب «توسل» کې بيان کړي دي، دلچسپي لرونکي کولې شي د توسل کتاب ۱۵۳-۱۴۷ مخونو ته مراجعه وکړي.

## دويم حديث : د سوال کوونکو وسيله ګرځول

عطيه عوفي له ابو سعيد خدري (رض) نه نقلوي چې پيغمبر اکرم صلّي الله عليه وآله وسلم وفرمايل:

«څوک هم چې د نمانځۀ د ادا کولو لپاره له خپل کوره بهر لاړ شي او په دې حال کښې دا دعا چې (لاندې راغلې ده) ولولي، نو د خدا ے پاک رحمت به ورباندې وريږي او زر فرښتې به د هغه لپاره د مغفرت او بخښنې غوښتنه کوي.»[1]

«أللّهُمّ إنّي أسْأَلُکَ بِحَقّ السّائلينَ عَلَيْکَ وَأَسْأَلُکَ بحَقّ مَمْشايَ هذا فإني لَمْ اَخْرُج اَشَراً ولا بَطَراً ولا رياءً ولاسُمْعَةً وَخَرَجْتُ إتّقاءَ سَخَطِکَ وَابْتِغاءَ مَرْضاتِکَ فَأَسْئَلُکَ اَنْ تُعيذَني مِنَ النّارِ واَنْ تَغفِرَلي ذُنُوبِي إنّه لايَغْفِرُ الذّنُوبَ إلاّ أنْتَ. . .»

«پاکه خدايه! له تا سوال کوم ستا په درګاه کښې د سوال کوونکو په خاطر او د هغو ګامونو او قدمونو په خاطر چې ستا په لور يې اخلم، زۀ د سپک سپاتې، يا د نافرمانۍ، يا د ريا کارۍ او يا د شيطانۍ لپاره له کوره نه يم راوتلے زۀ ستا له قهر څخه د بچ کېدو او ستا د رضامندۍ د تر لاسه کولو لپاره له کوره راوتلے يم، له تا غواړم چې د دوزخ له اور نه مې وساتې او زما ګناهونه وبخښې ځکه چې ګناهونه له تا نه بغېر بل څوک نه شي بخښلې»
دا ذکر شوے مبارک حديث، له ډېرو روښانو حديثونو څخه دے چې په دې ګواهي ورکوي چې انسان له خدا ے پاک څخه د خپل حاجت د غوښتنې په وخت کولې شي د نېکو کسانو مقام، حق او شان خدا ے پاک ته وسيله وګرځوي او زمونږ په مقصد باندې د دې مبارک حديث دلالت روښانه دے او تفصيل ته ضرورت نۀ لري.

## دريم حديث: پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم وسيله ګرځول

حضرت آدم (عليه السلام) له ترکِ اولی نه پس،[2] د هغو کلماتو په رڼا کښې چې له خدا ے پاک څخه ورته رارسيدلي ؤ، توبه وکړه لکه په قرآن پاک کې فرمايي:

---

[1] . «أقبل الله بوجهه واستغفر له الف ملک» د «حافظ محمد بن ابي عبدالله بن ماجه قزويني» صحيح چې له شپږو صحاحو څخه يو صحيح دے: ۱ ټوک، د مسجد باب، ۲۶۱ او ۲۶۲ مخونه د مصر چاپ، او د «مسند امام احمد بن حنبل» ۳ ټوک، حديث۲۱ ته دې مراجعه وُشي.

[2] . هغه حکم چې په دې ايت «ولا تقربا هذه الشجرة» (بقره: ۳۵ايت) کې راغلے دے، مولوي حکم نه دے (مولوي يعنې دا چې که عمل دې پرې ونکړ نو سزا به درته ملاويږي) بلکې ارشادي حکم دے او په اصطلاح کښې ورته داسې حکم وائي چې په وعظ او نصيحت کښې شامليږي او د داسې حکم مخالفت کول د سزا سبب نه ګرځي بلکې د داسې حکم مخالفت نتيجه دا وي چې انسان د هغه عمل د تر سره کولو سره د هغه عمل له وضعي اثر سره مخامخ کيږي.
لکه که يو ډاکټر يو مريض ته ووائې چې د زکام په وخت کښې ترش څيزونه او خربوزه مه خوره، نو که هغه د ډاکټر دغه پرهېز ته پام لرنه ونکړي نو داسې نۀ ده چې ګنې ډاکټر به هغۀ ته سزا ورکوي يا دا چې د هغۀ دغه عمل دې د قيامت د ورځې د عذاب سبب وګرځي بلکې د هغه وضعي اثر دا دے چې د هغۀ بيماري ورسره زياتيږي په قران پاک کښې ځينې ايتونه ګواهي ورکوي چې دلته د خدا ے نهي ، نهې ارشادي ده چې. د هغۀ نتيجه يوازې دا ده چې حضرت ادم عليه السلام او بې بې حوا يې له بهشته وويستل اودا د دې عمل وضعي اثر ؤ. د سوره طه ۱۱۸ او ۱۱۹ ايتونو او د «تفسير صحيح آيات مشکله قرآن» کتاب لسم مطلب چې له ۷۳ مخ نه تر ۸۲ مخ پورې مراجعه وکړئ.

«فَتَلَقّي آدَمُ مِنْ رَبِّهِ كَلِمات فَتابَ عَلَيْه، انّهُ هُوَ التّوّابُ الرّحيم»[1]
«حضرت آدم عليه السّلام له خپل خدا ے څخه (په عاجزۍ او اطاعت سره) څه کلمات تر لاسه کړل او د هغو په وسيله يې توبه وکړه بې شکه چې هغه د توبې قبلوونکے د ے».
د مفسرانو او محدثانو يوې ډلې په دې ايت کښې راغليو ټکو په تفسير کښې د لانديني روايت په سند سره نظر ورکړے د ے چې متن ته يې په پام سره به روښانه شي.
طبراني په المعجم الصغير، حاکم نيشابوري په مستدرک صحاح کښې، ابو نعيم اصفهاني او همدا رنګ بيهقي په دلائل النبوّه کتاب کښې، ابن عساکر شامي په خپل تاريخ کښې ، سيوطي په الدرالمنثور کښې او آلوسي په روح المعاني کښې په سند سره[2] له حضرت عمر بن خطاب (رض) نه نقل کړې دي چې پېغمبر اکرم ( صلّي الله عليه وآله ) وفرمايل:
«لَمّا أذنبَ آدمُ الّذي أذْنَبَهُ رَفَعَ رأسَه إلي السّماء فقالَ أسألُکَ بِحَقّ محمد الاّ غفَرْتَ لي فَاوحَي الله الَيه: ومَنْ محمدُ؟ فقال تباركَ اسْمُکَ ، لمّا خَلَقْتَ رَفعتُ رأسي إلي عَرشکَ فاذا فيه مَكْتُوبٌ لا الهَ الاّ الله و محمدٌ رسولُ الله فقلتُ إنّه ليسَ أحَدٌ أعْظَمَ عِنْدکَ قَدْراً مِمّنْ جَعلْتَ اسْمَهُ مَعَ اسْمِکَ فَأوحي الَيه انّهُ آخرُ النّبيّينَ مِنْ ذُرّيّتِکَ وَلَوْ لا هُوَ لَما خَلَقْتُکَ»[3]
«کله چې له آدم څخه ګناه (ترک اولی) وشوه، نو سر يې اسمان ته اوچت کړ او وې ويل (خدايه پاکه!) له تا څخه د محمد صلی الله عليه واله په خاطر غوښتنه کوم چې ما وبخښې، خدا ے هغه ته وحي وکړه چې محمد څوک دی؟ نو ادم عليه السلام په ځواب کښې عرض وکړ: کله چې دې زۀ پيدا کړم نو سر مې عرش ته پورته کړ نو په هغه وخت مې وليدل چې په عرش ليکلي وو «له خدا ے نه سوا بل معبود نيشته او محمد د خدا ے پيغمبر د ے» نو له ځان سره مې وويل چې ستا په مخلوق کښې محمد له ټولو لوے او اوچت مخلوق د ے چې د هغۀ نوم دې د خپل نوم څنګ ته ذکر کړے د ے نو په دې وخت کښې راته وحي وشوه چې هغه ستا له زوزات څخه اخيري پېغمبر د ے او که هغه نه وې نو ته به مې هم نۀ وے پېدا کړے.»

نکتې:
۱ ـ په «قرآن مجيد» کښې د هر هغه څه په اړوند چې زمونږ تر مينځ يې رواج پېدا کړے د ے د «کلمات» لفظ په «ذاتونو او شخصيتونو» باندې اطلاق کيږي؛ لکه:

الف: «اَنّ اللهَ يُبَشّرُکَ بِيَحْيي مُصَدّقاً بِكَلَمَة مِنَ الله»[4]
«خدا ے پاک تا ته د يحيی چې د خدا ے لخوا د کلمې تصديق کوونکے د ے، زيرے درکوي»

---

[1] . د بقره سورت، ۳۷ ايت
[2] . مستدرک حاکم، ۲ ټوک ، ٦١ مخ؛ روح المعاني، ۱ ټوک ، ۲۱۷ مخ؛ الدر المنثور ، ۱ ټوک ، ۵۹ مخ چې له طبراني او ابو نعيم اصفهاني او بيهقي يې نقلوي.
[3] . د حديث متن له «الدر المنثور» څخه اخيستے شوے د ے او هغه حديث چې په مستدرک کښې نقل شوے د ے، دې متن سره لږ فرق لري، که څه هم د دواړو مفهوم يو د ے.
[4] . د آل عمران سورت : ۳۹ ايت

ب: «يا مَرْيَمُ اِنَّ اللهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِنْهُ اسْمُهُ الْمَسيحُ عيسَي بْنُ مَرْيَمَ.»[1]
«اے مریم، خدا ے په یوې کلمې سره چې نوم یې مسیح، عیسی د مریم زوے دے زیرے درکوي.»

ج: «اِنَّمَا الْمَسيحُ عيسَي بْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ اللهِ وكَلِمَتُهُ»[2]

«په تحقیق سره عیسی د مریم زوے، د خدا ے پېغمبر او د هغۀ کلمه ده.»

د: «قُلْ لَوْ كانَ الْبَحْرُ مداداً لِكَلمات رَبّي لَنَفِدَ الْبَحْرُ»[3]
«ووایه چې که دریابونه زما د خدا ے د کلمو لپاره سیاهي شي نو دریابونه به ختم شي. (خو زما د پاک خدا ے کلمې به ختمې نۀ شي)»

هـ: «وَالْبَحْرُ يَمُدُّهُ مِنْ بَعْدِه سَبْعَةُ اَبْحُرٍ مّانَفِدَتْ كَلِماتُ اللهُ»[4]
«او له یو دریاب سره که اووه دریابونه نور هم مرسته وکړي، نو د خدای کلمات به ختم نه شي.»

دې ته په پام سره، د بحث وړ مبارک ایت کښې د «کلمات» کوم لفظ چې راغلے دے، ویلې شو چې له کلماتو نه مراد هماغه محترم او درانۀ شخصیتونه (سپېڅلي ذاتونه) دي چې هغو سره متوسل شوي دي او په تېرحدیث کښې له هغو درنو او محترم شخصیتونو څخه یوازې د «محمدصلی الله علیه و آله وسلم» نوم راغلے دے په همدې وجه د شیعه ؤ په روایتونو کښې دا حقیقت په دوو صورتونو کښې نقل شوے دے. کله د «کلمات» ټکي تفسیر د «مقدسو ذاتونو په نومونو» شوے دے او کله هم د هغوي په «نوراني شخصیتونو» سره تفسیر شوے دے. لکه داسې:
«آدم علیه السلام یوشمېر نومونه ولیدل چې په عرش لیکلي شوي وو له هغوي سره یې توسل وکړ یعنې وسیله یې وګرځول ورته وویل شول چې دا د خدا ے تعالی د ستر او لوے مخلوق نومونه دي او هغه نومونه دا دي: محمد، علي، فاطمه، حسن او حسین علیهم السلام. حضرت آدم علیه السلام د خپلې توبې په وخت دوي سره توسل وکړ. یعنې دوي یې خدا ے پاک ته وسیله کړل»[5]
د شیعه ؤ له نورو حدیثونو نه هم دا معلومېږي چې حضرت ادم علیه السلام پنځه پاک نوراني شخصیتونه لیدلي دي. د دې روایتونو په حقله د لا زیاتو معلوماتو لپاره، تفسیر برهان ته مراجعه وکړئ.[6]

---

[1] . د آل عمران سورت : ٤٥ ایت
[2] . د نساء سورت : ١٧١ ایت
[3] . د کهف سورت : ١٠٩ ایت
[4] . د لقمان سورت : ٢٧ ایت
[5] . مجمع البیان ، ١ ټوک ، ٨٩ مخ، صیدا چاپ خانه ؛ تفسیر برهان، ١ ټوک ، ٨٨-٨٦ مخونه، ٢ ، ٥ ، ١١ ، ١٢ ، ١٤ ، ٢٧ حدیثونه
[6] . تفسیر برهان ، ١ ټوک ، ٨٧ مخ ١٣ ، ١٥ او ١٦ حدیثونه

۲ ـ د تاریخ او حدیثو کتابونو ته په مراجعې سره، روښانیږي چې د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په وسیله د ادم علیه السلام توسل، یوه مشهوره او د معمول په مطابق خبره وه؛ ځکه چې امام مالک (رح) د پیغمبر اکرم په حرم (مسجد نبوي) کښې خلیفه منصور دوانیقي ته وویل:

«هُوَ وسِیلَتُکَ ووسیلةُ أَبِیکَ آدَم»[1]
«هغه یعنې پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ستا وسیله او ستا د پلار ادم علیه السلام وسیله دے.»

مسلمانو شاعرانو دا حقیقت د نظم په صورت کښې هم راوړے دے او ویلي یې دي چې:

«بِه قَدْ أجابَ اللهُ آدَمَ إذْ دَعا — وَنَجي فِي بِطْنِ السَّفینَةِ نُوحٌ
قَوْمٌ بِهِمْ غُفِرَتْ خَطِیئَةُ آدَمَ — وَهُمُ الوَسیلَةُ والنُّجُومُ الطُّلَّعُ »[2]

« د هغهٔ (اخیري پیغمبر) په وسیلې خدا ے تعالی د حضرت ادم علیه السلام دعا قبوله کړه
او هم هغهٔ حضرت نوح علیه السلام ته په کشتۍ کښې دننه نجات ورکړ
د ادم علیه السلام ګناهونه د داسې کسانو په وسیله وبخښلې شول
چې د خدا ے پاک د درګاه او ځلیدونکي ستورو وسیله دي.»

## څلورم حدیث: د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم خپل ځان او تېر پیغمبران علیهم السلام وسیله ګرځول

«لمّا ماتَتْ فاطمَةُ بِنْتُ أسَد ، دَخلَ عَلَیْها رسولُ الله ـ صلّي الله علیه وآله وسلّم ـ فَجَلسَ عنْدَ رأسها ، فَقالَ رَحمَکَ اللهُ یا أُمِّي بَعْدَ أُمّي ثُمّ دَعا رَسُولُ الله ـ صلّي الله علیه وآله وسلّم ـ أُسامَةَ بْنَ زَیْد ، وَأبا أَیُّوبَ الأَنْصاري وَعُمَرَبْنَ الْخَطّاب وَغُلاماً اَسْوَدَ ، یَحْفرُونَ ، فَحَفرُوا قَبْرَها ، فَلَمّا بَلَغُوا اللّحْد ، حَفَرَ رَسُول الله بیده وَأخْرجَ تُرابَهُ، فَلَمّا فَرغَ دَخَلَ رسُولُ الله ـ صلّي الله علیه وآله وسلّم ـ فَاضْطَجَعَ فیه، ثُمّ قالَ: اللهُ الّذي یُحْیِي وَیُمِیتُ وَهوَ حَيٌّ لایَمُوتُ، إغفرْ لأِمِّي فاطِمَةَ بِنْتَ أسَد وَوَسّعْهُ عَلَیْها مَدْخَلَها بِحَقِّ نَبِیّک والأنبیاء الذّینَ مِنْ قَبْلي.»

---

[1] . سید احمد زیني دحلان د «الدرر السّنیه» کتاب په ۱۰ مخ کښې لیکي : قاضي عیاض دا قیصه په صحیح سند سره نقل کړې ده، همدا رنګ امام سبکي په خپل کتاب «شفاء السقام»، سمهودي په «خلاصه الوفاء» علامه قسطلاني په «المواهب اللدنیه» کښې ابن حجر په «الجوهرالمنظم » کښې داسې وائي: چې دا قیصه په سم او صحیح سند سره نقل شوې ده او علامه زرقاني د «مواهب» کتاب په شرحه کښې لیکي: ابن فهد دا خبره په ښه سند او قاضي عیاض په صحیح سند سره نقل کړې ده. او د منصور او امام مالک د خبرو اترو متن به، وروسته راشي.

[2] . کشف الارتیاب ، ۳۰۷ او ۳۰۸ مخونه

« کله چې فاطمه بنت اسد (رض) له دې دنیا سترګې پټې کړې، او د خدا ے ګران رسول ( صلّي الله علیه وآله وسلم ) خبر شو نو د هغې جنازې ته ورغے او کښېناست او وې فرمایل:اے زما له مور نه پس زما مورې! خدا ے پاک دې په تا باندې رحمت وکړي، بیا یې اسامه (رض) ، ابوایوب (رض) عمر بن خطاب (رض) او تور غلام (رض) راوغوښت چې یو قبر تیار کړي، کله چې قبر تیار شو، نو د خدا ے ګران پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم هم په خپلو لاسو سره خاورې راووېستې او بیا په خپله لحد ته ننوت او څملاست او داسې دعا یې وکړه:
اے هغه خدایه چې ژوندي کوي او مړۀ کوي او ژوندے دے او نۀ مري، زما مور فاطمه د اسد لور وبخښې او قبر یې پراخه کړې د خپل پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم په وسیله او د هغو پېغمبرانوعلیهم السلام په وسیله چې مخکښې له ما وو»

د «خلاصة الکلام» کتاب لیکوال وایې چې:

«دا حدیث طبراني په معجم کبیر کتاب کښې او په خپل اوسط کتاب کښې او همدا رنګ ابن حبان او حاکم هم نقل کړې دے او د دې حدیث سموالے یې تصدیق کړے دے.»

سید احمد زیني دحلان په «الدرر السنیة في الرّد علي الوهابیه » کتاب کې لیکي :

«مشهور محدث، ابن ابي شیبه دا حدیث له جابره نقل کړے دے او همدا رنګ ابن عبدالبر له عباس او ابو نعیم له انس (رض) نقل کړ ےدے. او دا ټول مطلبونه ښاغلي جلال الدین سیوطي په جامع کبیر کښې راوړي دي.»

لیکوال، دا حدیث په دې صورت له دوو کتابونو نقل کړې دے، چې په ځینو کښې دا دعا شته دے او ځینو کښې دا دعا ذکر شوې نۀ ده:

۱ ـ حلیة الاولیا «ابونعیم اصفهاني» ۳ ټوک ، ۱۲۱ مخ
۲ ـ وفاء الوفا «سمهودي» ۳ ټوک ، ۸۹۹ مخ

## پینځم حدیث: د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم له ذات سره توسل

د محدثانو یوې ډلې نقل کړې دي چې یو صحرا مېشته عرب د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم خدمت ته حاضر شو او خبرې یې شروع کړې او وې ویل:
«لَقَدْ أتَیناکَ وَما لَنا بَعِیرٌ یَئِطُ [۱] وَلا لَنا صَبِيٌّ یَغِطُ» [۲]

---

۱ . «یئط» له «اطیط» نه مشتق او اخېستے شوے دے چې د اوښ د اواز په معنا دے.
۲ . «یغط» له «غطیط) څخه دے چې د وړوکي ماشوم د اودۀ کېدو په وخت اواز ته وائي.

«ستا خدمت ته راغلي يوو په داسې حال کښې چې نه راسره اوښ شته چې شور جوړ کړي او نه راسره ماشوم شته چې چغې ووهي»

بيا يې دا شعرونه وويل:

اَتَيْنـاکَ وَالعَذْراءُ تُدمـي لِبانُها      وَقَدْ شُغِلَتْ أُمُّ الصَّبِيِّ عَنِ الطِّفْلِ

وَلاشَيءَ مِمّا يأكُلُ الناسُ عِندَنا      سَوَي الحَنْظَلِ العامي وَالعِلْهَزِ الفِسَلِ

وَلَيـسَ لنـا إلاّ اِلَيْـکَ فِـرارُنا      وَأينَ فِـرارُ النّاس إلاّ إلي الرُسُلِ

« ستا خوا ته راغلي يوو په داسې حال کښې، چې د اسونو له سينو نه وينې بهيږي او د ماشوم مور له خپل بچي نه منعې شوې ده.»

«مونږ سره څه نيشته چې خلق يې وخوري ، مګر هغه ترخه مرغونې چې خلق يې په اوچکلۍ او قحطۍ کښې خوري او له وينو زوو نه بد تره خوراک دے.»

«مونږ له دې نه بغېر چې تاسو ته پناه دروړو بله لاره نۀ لرو ، او د خلقو د پناه ځاے له پېغمبرانو نه بغېر بل کوم ځاے کيدې شي!»

فَقامَ رسولُ اللهَ يُجَرُّ رِدائُهُ حَتّي صَعَد المنْبَر ، فَرَفعَ يَديه: اَللّهُمّ اسْقنا غيثاً مُغيثاً . . . فَما رَدّ النّبيُ يَديْه حَتي اَلْقَتْ السّماءُ . . . ثَم قال: لله دَرُّ أبي طالِب لَوْ كانَ حيّاً لَقَرّتْ عيناهُ، مَنَ يُنشِدُنا قَولَهُ؟ فَقامَ عَلِيُّ بْنُ أبي طالِب، وَقالَ وكأنّکَ تُريدُ يا رَسُولَ اللهِ قَولَه:

وأبيضٌ يُسْتَسْقَي الغَمامُ بِوَجهِهِ      ثَمالُ اليَتامي ، عِصمةٌ لِلأرامِلِ

يَطُوفُ بِهِ الهُلاکُ مِنْ آلِ هاشِم      فَهُم عِندَهُ في نِعْمَة وَفَواضِلِ

«هغه سپين مخ چې د هغه په خاطر له رويه باران غوښتے شي او د يتيمانو د پناه ځاے او د کونډو ښځو لاس نيوونکے دے»

«د هاشم د زامنو ځينې کسان د هغه چاپيره تاويږي او له هم هغوي سره نعمت او بخښنه ده»

پيغمبر اکرم (صلّي الله عليه وآله ) وفرمايل: هو زما مراد هماغه دے چې دې وويل .

بيا حضرت علي عليه السلام د هغه قصيدې يوه برخه وويله او د خداے ګران پيغمبر صلى الله عليه و آله وسلم د منبر د پاسه د حضرت ابوطالب لپاره د بخښنې خواست وکړ له هغه نه پس د بني کنانه قبيلې يو کس پاڅيد څو بيته شعرونه يې وويل چې ځينې په دا ډول دي:

اے خدایه پاکه ستا لپاره حمد او ثنا ده د شکر گزارو بندگانو لخوا، مونږ ستا د پیغمبر په وسیله په بارانه سره ماړهٔ شو.
دې برخې لپاره ډیر سندونه او مدرکونه نقل شوی دي خو لیکوال دا حدیث له لاندیني مدارکو راوړے دے:

الف ـ «عمدة القاري في شرح صحيح البخاري»، ۷ ټوک ، ۳۱ مخ ، لیکوال بدرالدین محمود بن احمد العین، د وفات کال ۸۵۵ ، د چاپولو اداره المنیریه.

ب ـ «شرح نهج البلاغه ابن ابي الحدید» ، ۱٤ ټوک، ۸۰ مخ.

ج ـ «سیره حلبي» ۳ ټوک ، ۲٦۳ مخ.

د ـ «الحجّة علي الذاهب الي تكفير أبي طالب» لیکوال شمس الدین أبي علي فخار بن معد ، د وفات کال ٦۳۰، علوي د چاپ ځاے د نجف ښار، ۷۹ مخ

هـ ـ «سیره زیني دحلان» ،د سیره حلبي حاشیه ، وړومبے ټوک، ۸۱ مخ.

## شپیږم حدیث: د پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم له ذات سره توسل

سواد بن قارب په هغې قصیدې کښې چې په هغې کښې یې له رسول الله صلّي الله علیه وآله وسلم سره توسّل کړے دے، داسې ویلي دي:

وَاَشْهَدُ أنّ الله لاربّ غيرُه        وإنكَ مأمونٌ عَلي كُلِّ غائب

واِنّک اَدْني الْمُرسَلينَ وَسيلةً        إلي الله يابنَ الأكرمينَ الأطائبِ

فَمُرْنا بِما يأتيک يا خيرَ مُرسَل        وإنْ كانَ فيما فيه شَيْبُ الذّوائبِ

وكُنْ لي شفيعاً يَومَ لا ذُوشِفاعة        بِمُغْن فَتيلا عَنْ سوادِ بن قارب

«گواهي ورکوم چې بې له خدایه، بل رب نشته او ته په ټولو حسي غائبو باندې مامون یې»
«ته له نورو پیغمبرانو څخه د خداے پاک لوري ته له ټولو نږدې وسیله یې، اے د پاکیزه او بزرگوار کس زویه.»
«اے تر ټولو غوره رسوله، مونږ ته د هغهٔ څهٔ حکم راکړه چې کوم تاته رسیږي، که څه هم ستا په حکم باندې عمل کولو سره زمونږ د سر ویښته سپین شي،»

« زما شفيع وګرځه په هغه ورځ چې د شافعانو شفاعت د يوې خرما د غنچې هومره د سواد بن قارب لپاره ګټه نه رسوي.»[1]

ترې دې ځايه پورې مو د سنيانو ورونو د حديثو او تاريخ په کتابونو کښې د توسل او وسيلې ګرځولو په حقله راغلي حديثونه بيان کړل. بايد ووايو چې د شيعهؤ د امامانو عليهم السلام په حديثونو کښې، له مقدسو ذاتونو سره توسل او د هغوي وسيله ګرځول يو مسلم او روښانه حقيقت دے چې د هغو بزرګوارانو په دعاګانو کښې هم دا خبرې راغلي دي.

اوس زهٔ دا پوښتنه کوم چې مونږ د اسلام حکمونه له «ابن تيميه» او «محمد بن عبدالوهاب» څخه زده کړو او که د پيغمبر اکرم صلی الله عليه واله وسلم له پاکې کورنۍ او د هغهٔ له سپېڅليو زوزاتو څخه چې د حديث ثقلين په حکم ثقل اصغر او د قران هم سيال او هم سنګ کسان دي؟

اوس له دې ډيرو دعاګانو چې په «صحيفه علويه»[2] او يا د حضرت امام حسين بن علي عليه السلام د عرفې په دعا کښې او يا د امام زين العابدين عليه السلام په «صحيفه سجاديه» کتاب کښې راغلي دي، يوازې د يوې برخې په نقلولو بسنه کوو:

## اووم حديث: د شهيدانو سردار امام حسېن عليه السلام د عرفې په دعا کښې فرمائي:

«أللّهُمّ إنّا نَتوَجّهُ إلَيْکَ فِي هذه العَشيةِ الّتي فَرضْتَها وَعَظّمْتَها بِمُحَمّد نبيّکَ وَرسُولکَ وخيَرَتکَ منْ خَلْقک»[3]

«پاکه خدايه! په داسې وخت کښې چې تا هغه په ما باندې واجب کړ او زما لپاره دې عظيم وګرځوه زهٔ تا ته پاملرنه او توجه کوم او تا ته ستا د رسول او پيغمبر حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه و آله وسلم چې ستا تر ټولو غوره مخلوق دے قسم درکوم.»

## د «توسّل» يا وسيلې په حقله د مسلمانانو سيرت

د مسلمانانو سيرت د پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم په زمانه کښې او پس له هغه نه تل داسې ؤ چې مسلمانانو به د خدا ے پاک د اولياؤ له ذات او د هغوي له مقام او منزلت سره توسل پېدا کوهٔ او خدا ے پاک ته به يې وسيله ګرځول چې څو نمونې يې دلته وړاندې کوو:

۱ ـ «ابن اثير عزالدين علي بن محمد بن محمد بن عبدالکريم جزري، وفات ۶۳۰ کال په «اسد الغابه في معرفة الصحابه» کتاب کې ليکي:

---

[1] . زيني دحلان، الدرر السنيه، مخ ۲۹؛ التوصل الي حقيقة التوسّل ، ۳۰۰ مخ

[2] . صحيفه علويه، د اميرالمؤمنين علي عليه السلام دعاګانې دي چې ښاغلي «شيخ عبدالله سماهيجي» راغونډې کړې دي

[3] . د دعاګانو کتاب مفاتيح الجنان، دعای عرفه

په رماده کال کښې کله چې قحطي (وچ کالي) ډېره زیاته شوې وه، نو حضرت عمر(رض)، د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم ترۀ حضرت عباس د باران غوښتنې لپاره وسیله او واسطه ګرځولے ؤ، نو بیا باران اورېد او زمکې شنې شوې، نو حضرت عمر خلقو ته مخ کړ او وې ویل چې په خدا ے مې قسم چې: عباس زمونږه وسیله ده ځکه چې هغه له خدا ے پاک سره مقام لري.
نو دغه وخت د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم شاعر حضرت حسان بن ثابت د هغه په حقله شعرونه جوړ کړل او وې ویل:

سَال الأمامُ وَقَدْ تَتَابَع جَدْبُنا    فَسَقَي الْغَمامُ بِغُـرَّةِ العَبّاسِ
عَمُّ النّبيّ وصنوِ والدهِ الذي    وِرثَ النّبِيِّ بِذاکَ دُونَ النّاسِ
أحْيا الالٰهُ بِهِ الْبِلادَ فَأصْبَحَتْ    مُخْضَرّةَ الأجناب بَعْد الْيَأسِ

«هغه وخت چې قحطي او سخت اوچکلي په ټول ځا ے کښې خوره شوې وه نو خلیفه له خدایه د باران غوښتنه وکړه نو د حضرت عباس د دعا په وجه اسمان ټول خلق سیراب کړل.»
«حضرت عباس (رض) چې د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ترۀ دے او د هغه حضرت د پلار هم سنګ او سیال دے، مقام او شان یې له هغۀ نه په وراثت کښې اخیستے دے.»
«خدا ے پاک د هغه په وسیله زمکې ژوندۍ کړې هر یو ځا ے له نا امیدۍ نه پس شین او ګل ګلزار شو.»
کله چې د باران اوبۀ په ټول ځا ے کښې روانې شوې، نو خلقو د حضر عباس په بدن پورې لاسونه مسح کول او ورته یې ویل چې آفرین دې وي په تا باندې چې د دوو حرمینو ساقي یې.»[1]

د دغه تاریخي واقعې مطالعه کول چې یوه برخه یې په «صحیح بخاري» کښې هم راغلې ده، دا څرګندوي چې د «وسیلې»، یو مصداق له یومحترم ذات او د لوړ شان لرونکوکسانو سره توسل دے.چې په خپله په توسل کښې د نزدې والي د عظمت لرلو سبب دے، له دې نه روښانه تعبیر بل کوم کیدې شي چې وې ویل: «هذا والله الوسیلةُ اِلَي اللهِ والمکانُ مِنْه»

۲ ـ «قسطلاني، احمد بن محمد بن ابي بکر، چې له جلال الدین سیوطي سره په یوه زمانه کښې ؤ او د وفات کال یې (۹۲۳) دے د مصر چاپ په «المواهب اللدنیه بالمنح المحمدیه في السیرة النبویه» کتاب کښې لیکي:
«کله چې حضرت عمر (رض) د حضرت عباس علیه السلام په وسیله د باران غوښتنه وکړه وې ویل: اے خلقو! د خدا ے ګران پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم حضرت عباس علیه السلام ته د پلار په شان کتل، له هغه پیروي وکړئ او هغه د خدا ے پاک په درګاه کښې خپله وسیله وګرځوئ.»

---

[1]. (اسد الغابه»، ۳ ټوک ، ۱۱۱مخ، د مصر چاپ.

د حضرت عمر(رض) دا کار د هغو کسانو فکر، چې مطلقاً خدا ے پاک ته توسل او وسیله ګرځول یا له غېر پېغمبر سره توسل کول حرام ګڼي، باطلوي.[1]

۳ـ کله چې منصور د مدینې منورې له ستر مفتي مالک څخه وپوښتل چې: د دعا غوښتلو په وخت قبلې ته مخ کړم که د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم روضې مبارکې ته ؟
نو مالک ځواب ورکړ:
«ولې له هغه (پېغمبر) مخ اړوی؟ چې په قیامت کښې ستا وسیله او ستا د پلار حضرت آدم علیه السلام وسیله د ے، هغه ته مخ کړه او هغه د خپل ځان لپاره شفیع وګرځوه، او خدا ے تعالی د هغه شفاعت قبلوي. خدا ے تعالی فرمايي : که هغوي په خپلو نفسونو ظلم او زیاتې وکړي....»

٤ـ «ابن حجر» په «الصواعق المحرقه» کتاب کښې چې اروابناد قاضي نورالله هغه په «الصوارم المهرقه» نوم سره نقد کړے د ے، له امام شافعي (رح) څخه يې دوه لاندېني شعرونه نقل کړي دي:

آلُ النَّبِيِّ ذَريعَتي          هُمْ اِلَيْهِ وَسيلَتي
اَرْجُوا بِهم اُعطي غداً          بيدي اليَمينِ صَحيفَتي»[2]

«د پېغمبر اکرم کورنۍ د خدا ے پاک په درګاه کښې زما وسیله ده.»
«د هغوي په وسیلې سره هیله من یم چې د قیامت په ورځ به نامه اعمال راته په ښې لاس کښې راکړي.»
دغوشواهدو او کلماتوته په پام سره دا دعوا کولې شو چې پیغمبران علیهم السلام او لوړ مقام لرونکي شخصیتونه داسی وسیلې دي چې قران پاک د هغو په حقله امر کړے د ے: «یا أَیُّها الَّذِین آمنُوا اِتَّقُو اللهَ وَابْتَغُوا إِلَیْهِ الْوَسِیلَةَ»[3] څرګنده ده چې«وسیله» یوازې واجباتو تر سره کولو او له حراموځان ساتلو سره نه ده، بلکې سنتي عملونه، لکه له پېغمبرانو سره توسل پېدا کول هم له هغو عملونوڅخه دي او دا هم وسیله ده ایا کېدې شي چې ووایو دومره زیات دیني عالمان او پوهان د وسیلې په معنا او پوهېدو کښې په خطا دي؟ حال دا چې هغوي د حدیثونو ساتوونکي او حکم جاري کوونکي دي. هغه خلق چې څرګندو دلیلونو او شواهدو ته پام نه کوي او د هغو په توجیه کولو پسې دي هغه مخکښې فېصله کوونکي دي چې د خپلو مخکښې فیصله کولوپه خاطر له دغو ښو ښانو او دلیلونو څخه استفاده نه کوي.

---

[1] . المواهب، ټوک ۳، مخ۳۸۰ د مصر چاپ په «فتح الباري في شرح البخاري»، ۲ ټوک ، ٤۱ مخ د لبنان چاپ له ابن حجر عسقلاني او همدا رنګ د محمد بن عبدالباقي مالکي۱۱۲۲ـ۱۰۵۵ ) زرقاني په شرح المواهب (کښې هم راغلي دي.
[2] «صواعق المحرقه»، ۱۷۸ مخ، د قاهرې چاپ .
[3] . د مائده سورت : ۳۵ ایت

له دغوغلطو تعصباتو او غلطو فېصلو څخه د نمونې په توګه هغه مطلب راوړم چې ښاغلي بخاري په دې تاريخې پيښې کښې نقل کړے دے چې روښانه شي چې د تعصب پردې په دې اړه څومره تحريفونه او لانجې رامينځته کړې دي او مونږ د دې ځوابونه په توسل کښې په ۱۳۵-۱۴۰ مخونو کښې راوړې دی.

۵- بخاري په خپل کتاب «صحيح» کښې نقلوي چې:

«عمر بن خطاب به د قحطۍ او اوچکلۍ په کلونو کښې، له حضرت عباس بن عبدالمطلب سره متوسل کيدۀ او هغه به يې خداے پاک ته وسيله ګرځوۀ او ويل به يې چې: پروردګارا! مونږ به مخکښې هم ستا له ګران پېغمبر سره متوسل کېدو او هغه به مو درته وسيله ګرځوۀ او تا به خپل رحمت په مونږ باندې نازلوۀ، اوس د هغه پېغمبر له ګران ترۀ سره متوسل کيږو او له تا غواړو چې خپل رحمت په مونږ نازل کړې نو په داسې حال کښې به باران شورو کېدۀ او مونږ ټول به په اوبو باندې مړېدو.»

د تېر حديث په صحيحوالي او مضبوطوالي کښې هيڅ شک او شبه نشته.حتی رفاعي چې په مختلفو بهانو هم د توسل او وسيلې متواتر حديثونه ردوي هغه هم د دې حديث په سموالي يقين لري او وائي:

«دا حديث صحيح دے.خو که د حديث مفهوم له شخصيتونو سره د توسل په سموالي دليل وي، نو زۀ له هغو وړومبنيو کسانو څخه يم چې د حديث مفهوم يې تر لاسه کړې دے او په هغۀ باندې به عمل کوم.»

هغوجملو ته په پام سره چې خپله له دويم خليفه څخه له حضرت عباس سره د توسل په اړه نقل شوي دي او دا چې هغه په تيره بيا د خداے پاک قسم خوري چې: «هذاوالله الْوَسيلةُ إلي الله وَالْمَكانُ مِنْهُ»[1] دا څرګندوي چې په دې مورد کښې د توسل حقيقت، د خداے پاک په نزد د «حضرت عباس» ذات، شخص يا شخصيت او يا د هغۀ له مقام سره توسل دے.

شمس الدين ابوعبدالله محمد بن نعمان مالکي (وفات ۶۸۳ کال) هم په خپل کتاب «مصباح الظلام في المستغيثين بخير الأنام» کښې له حضرت عباس سره د دويم خليفه د توسل څرنګوالے په دا ډول نقلوي:

« أللّهُمّ إنا نَسْتقِيَک بِعَمّ نَبِيّکَ وَنَسْتَشفِعُ إلَيکَ بِشَيْبَتهِ فَسُقوا »

«پاکه خدايه! ستا د ګران پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم د ترۀ په وسيله له تا څخه د باران غوښتنه کوو او د هغۀ سپينه ږيره او په اسلام کښې د هغه مخينه ستا په درګاه کښې خپل شفيع جوړوو. دغه وخت د خداے پاک رحمت په ټول ځاے کښې اورېد»

هم دلته وو چې عباس بن عتبه دا شعرونه په دغه موقع ولوستل :

بِعَمّي سَقَي اللهُ الْحِجازَ وَأَهْلَه        عَشِيّةً يُسْتَسقي بِشَيْبَتهِ عُمَرُ »[2]

« زمونږ د ترۀ په برکت سره د حجاز او د حجاز خلق سيرابه شول هغه ماښام، چې دويم خليفه حضرت عمر (رض) د هغۀ مبارکه ږيره وسيله وګرځوله.»

---

[1]. اسدالغابه، ۳ مخ ، ۱۱۱ مخ

[2]. وفاء الوفا، ۳ ټوک ، ۳۷۵ مخ ، چې له « مصباح الظلام » يې نقل کړے دے.

او همدارنګ «حسان بن ثابت» هم په دې حقله دا شعرونه ويلي دي:

«فَسَقَي الغَمَامُ بِغُرَّةِ العبّاسِ»

«اوريځ د عباس د مخ د نورانيت په خاطر ځمکه سيرابه کړه.»

ابن حجر عسقلاني په خپل کتاب «فتح الباري في شرح صحيح البخاري» کښې وائې: حضرت عباس په خپلې دعا کښې داسې وويل:

«وَقَدْ تَوَجَّهَ الْقَوْمُ بي اِلَيکَ لِمَکاني مِنْ نَبِيّکَ» [1]

«خلقو ماته پناه راړه، ستا له ګران پيغمبر سره د خپلولۍ په خاطر»

لکه څرنګه مو وليدل، چې په دې کښې هيڅ شک نشته چې مقصد د حضرت عباس له مقام او شان سره توسل ؤ او پوهيږو چې له پخوا راهسې يې ويلي دي: «تَعْليقُ الحُکمِ بِالوصفِ مُشْعِرٌ بِالْعِلّيَةِ»

«حکم له يو صفت يا عنوان سره تړل، په دې باندې ګواه دے چې هغه صفت په هغه حکم کښې دخيل دے.» يعنې که قران پاک فرمايي: «وَعلي المُولُودِ لَهُ رِزقُهُنّ »[2] «د ښځو ژوند د چاروپوره کول له هغه کس سره تړلي دي چې د چا لپاره بچے راوړي» دا د حکم د علت د بيانولو په خاطر دي او په دې وجه چې ښځو د خاوندانو لپاره بچے رواړے دے نو پکار دي د هغوي د ژوند خرچه ورکړي او که چا ته ووايو: چې د عالم او پوهاند درناوے وکړي د هغۀ د علم او پوهې په وجه ده.

پس د همدې امله که دويم خليفه وائي چې: «اِنّا نَتَوَسّلُ اِلَيْکَ بِعَمّ نَبِيّکَ» غواړي چې له حضرت عباس عليه السلام سره د توسل علت بيان کړي چې په دومره کسانو کښې ولې يې هغه خداے پاک ته وسيله کړ لکه څنګه چې په خپله حضرت عباس وويل: « لِمَکاني مِنْ نَبِيّکَ»

د دغو ټولو اړخونو په پام کښې نيولو سره په پرېکنده او يقيني توګه ويلې شو چې د اسلام په وړومبيو وختونو کښې به مسلمانان له پاک لمنو او نېکو کسانو سره متوسل کيدل او هغوي به يې خداے پاک ته وسيله ګرځول.

## ٦ـ د پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم په غم کښې د صفيې بي بي (رض) شعرونه:

صفيه بي بي (رض) چې د عبدالمطلب لور او د پيغمبر اسلام صلی الله عليه و آله وسلم ترور وه، د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د رحلت په وخت، شعرونه ولوستل چې دوه شعرونه يې دا دي:

أَلا يا رَسُولَ اللهِ أنتَ رَجاؤُنا وکُنتَ بِنا بِرّاً ولَمْ تَکُ جافياً

[1] . فتح الباري، ٢ ټوک ، ٤١٣ مخ چاپخانه المعروفه ـ لبنان.

[2] . د بقره سورت ٢٣٣ ايت

وكُنتَ بِنا بِرّاً رَؤوفاً نَبِيّنا          لَيَبْكِ عَلَيْكَ الْقَوْمُ مَنْ كانَ باكياً[1]

«اے د خداے ګران رسوله صلی الله علیه و آله وسلم ، ته زمونږ هیله او امید وې، ته نیکو کاره کس وې او له چا سره دې جفا ونکړه

تا له مونږ سره خېر ښېګړې وکړې او په مونږ باندې مهربان وې. اے ګران پیغمبره زمونږ قوم په تاپسې ژاړي او اوښکې تویوي.»

دا شعرونه چې د پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم د صحابه ؤ په مخکښې لوستلي شوي دي او د تاریخ لیکوالانو او د سیرت لیکوالانو نقل کړي دي:

الف ـ له ارواګانو سره خبري اترې کول یعنې پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم ته یې د هغوي له وفات نه پس خطاب وکړ «ألا یا رسول الله. . .»، یو د معمول چاره وه، او د وهابیانو د تفکر په خلاف، دا ډول خطابات نه شرک دی او نه چټې او فضول کار دے.

ب ـ د دې جملې «أنتَ رجاؤُنا»[2] په حکم سره، پېغمبر اکرم د اسلامي ټولنې لپاره امید ؤ په هر ډول حالاتو کښې، حتی د هغوي له پرده کېدو او رحلت کولو نه پس هم د هغه رابطه له مونږ سره غوڅه شوې نه ده.

دلته ځینو هغو ارزښتناکو کتابونو او لېکنو ته چې د سني سترو عالمانو او مشرانو په لاس له پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم سره د توسل پېدا کولو په حقله لیکلې شوي دي اشاره کوم

د دې کتابونو په مطالعې سره به د اسلامي عالمانو او پوهانو په نزد دا مسئله روښانه شي او ورته به معلومه شي چې دا چاره د وهابیت د ګمانونو برخلاف ده او د توسل خبره خو په مسلمانانو کښې یوه رائجه خبره وه او ده.

۱ ـ ابن جوزي (د وفات کال ۵۹۷) چې د کتاب نوم یې «الوفاء في فضائل المصطفي» دے. په دغه کتاب کښې یو باب له «پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم سره توسل» ته مختص کړے شوے دے او بل باب یې «د هغهٔ له قبر څخه د شفاله غوښتنې» سره مختص کړے دے.

۲ ـ شمس الدین محمد بن نعمان مالکي (د وفات کال ٦٧٣) چې د کتاب نوم یې «مصباح الظلام في المستغیثین بخیرالأنام» دے په دغه کتاب کښې او سید نورالدین سمهودي په خپل کتاب «وفاءالوفا» کښې د «پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم سره توسل» په باب له هغهٔ نه ډیر څه نقل کړي دي.

۳ ـ ابن داود مالکي شاذلي په «البیان والاختصار» کتاب کښې د ستونزو او مشکلاتو په وخت کښې له پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم سره د عالمانو او نیکو کسانو توسل پېدا کونې په دغه کتاب کښې راغونډې کړې دي.

---

[1] . «ذخائر العقبی، في مناقب ذوي القربی» ۲۵۲ مخ ، لیکوال حافظ محب الدین احمد بن عبدالله طبري، زوکړه ٦۱۵ کال او وفات کال ٦۹٤ چاپ مکتبة القدس، قاهره مصراو «مجمع الزوائد» نهم ټوک، ۳٦ مخ ، دویم چاپ ـ لیکوال حافظ نورالدین علي بن ابي بکر هیثمي .

[2] . روښانه دې وي چې د «أنت رجاؤنا» جمله په دې کتاب کې «کنت رجاؤنا» په شکل کښې راغلې ده.

٤ ـ تقي الدين سبکي (د وفات کال ۷٥٦) د خپل کتاب «شفاء السقام» په ۱۳۳ ـ ۱۲۰، مخونو کښې د توسل مسئله په تفصيل سره څېړلې ده.

٥ ـ سيد نورالدين سمهودي (د وفات کال۹۱۱) د خپل مشهور کتاب «وفاء الوفا لاخبار دارالمصطفي» د ۲ټوک په ٤۱۹ ـ ٤۱۳ مخونو کښې د دې مسئلې په حقله بحث کړے او شواهد يې راوړي دي.

٦ ـ ابوالعباس قسطلاني ( د وفات کال ۹۳۲) په خپل کتاب «المواهب اللدّنيه».

۷ ـ ابو عبدالله زرقاني مصري مالکي (د وفات کال ۱۱۲۲) «شارح المواهب اللدّنيه» د شپږم ټوک کښې په ۳۱۷ مخ کښې.

۸ ـ خالدي بغدادي (د وفات کال ۱۲۹۹) د «صلح الاخوان» کتاب ليکوال هغه له دې پرته، د سيد محمود آلوسي بغدادي په ځواب کښې له پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم سره د توسل پېدا کولو او خداے پاک ته د هغهٔ د وسيلې ګرځولو په حقله يوه رساله ليکلې ده چې په ۱۳۰٦ کال کښې چاپ شوې ده.

۹ ـ عدوي حمزاوي (د وفات کال ۳۰۳).هغه د توسل په باره کې د «نز المطالب» کتاب ۱۹۸ مخ کښې راوړي دي.

۱۰ ـ عزامي شافعي قضاعي د «فرقان القرآن» کتاب ليکوال دے. دا کتاب د «الاسماء والصفات» د بيهقي کتاب په ۱٤۰ مخونو کښې چاپ شوے دے.
دغو کتابونو ته په مراجعې سره چې ځينوکتابونوپکښې په رښتيا د موضوع حق ادا کړے دے چې «صلح الاخوان» او «فرقان القرآن» د دغو ټولو په سر کښې دي، کولې شو چې له پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم سره د توسل په حقله د مسلمانانو سيرت په هرې زمانې کښې تر لاسه کړو او له دې لارې د ابن تيميه او د هغهٔ د مکتب منوونکو شاګردانو ناوړه او بې دليله خبرې په ډاګه کړو.
په اخېر کښې بيا د دې ټکي يادونه کوو چې قران پاک فرمايي:

«يا أَيُّهَاَ الَّذِينَ آمَنُوا اتقوا اللهَ وَابْتَغُوا اِلَيْهِ الْوَسيلَة ، وَجاهِدُوا في سَبِيلِهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُون»[۱]
«اے ايماندارو کسانو، پرهيزګاره ووسئ او د خداے پاک درګاه ته وسيله ولټوئ او د هغهٔ په لاره کښې جهاد وکړئ چې بريالي شئ.»

[۱] . د مائدې سورت، ۳٤ ايت

دا ایت په عمومي توګه فرمائي  چې وسیله ولټوئ او ترلاسه یې کړئ، خو وسیله څه ده؟ په خپله په دې مبارک ایت کښې نۀ ده بیان شوې چې وسیله څه ده. په دې کښې شک نشته چې په دیني واجباتو باندې عمل کول د بریالیتوب له اوزارو څخه دي خو وسیله په دې کښې محدوده نۀ ده بلکې د خدا ے پاک له اولیاؤ سره د توسل او خدا ے پاک ته د هغوي د وسیلې د ګرځولو مخینې ته په پام سره روښانیږي چې په خپله دا عمل هم د بریالیتوب له اوزارو څخه دے او دا مطلب منصور سره د امام مالک له خبرو اترو او هم دا رنګ د دویم خلیفه لخوا له حضرت عباس علیه السلام سره د توسل په وسیله د باران له غوښتنې څخه ډیر ښه معلومیږي.

*****

# اتم باب

## آیا د خدا ے پاک د اولیاؤ د ولادت او شهادت ورځې نمانځل بدعت د ے؟

وهابیان د خدا ے پاک د اولیاؤ او اسماني نازولیو هستیو علیهم السلام د ولادت او شهادت ورځې نمانځل او د هغوي د ولادت او وفات په ورځو کښې غونډې تر سره کول بدعت او حرام ګڼي لکه چې د خدا ے تعالی د ولیانو او د دیني بزرګانو سخت دښمنان دي.

د «انصار السنة المحمّدیه» انجمن مشر ښاغلے محمد حامد فقي د «الفتح المجید» کتاب په لمن لیک کښې لیکي:

«اَلذِکْرِیّاتُ الّتي مَلأَتِ الْبِلادَ بِاسْمِ الْأَوْلِیاءِ هِيَ نوعٌ مِنَ الْعِبادَةِ لَهُمْ وَتَعْظِیمِهِمْ.» [۱]

«د خدا ے تعالی د اولیاؤ د ولادت په ورځو کښې جشن تر سره کول یا د هغوي د وفات او شهادت ورځې نمانځل د هغوي عبادت او بندګي نۀ ده بلکې په حقیقت کښې د هغوي په حقله یو رنګ درناو ے حسابیږي.»

د وهابیانو د ټولو غلطیانو جرړه یو ټکے د ے او هغه دا چې: هغوي د شرک او توحید لپاره په تیره بیا د عبادت د مفهوم لپاره څه حد او پوله نه ده ټاکلې په همدې وجه د هر ډول نمانځلو ته د عبادت په سترګه ګوري.

لکه څرنګه تاسو ته پته ده چې هغوي په خپلو خبروکښې د «عبادت» او «تعظیم» ټکي له یو بل سره په څنګ کښې راوړي دي او دا سوچ کوي چې د دواړو ټکو معنا یوه ده.

مونږ غواړو په راتلونکې برخه کښې د عبادت د معنې تفصیل بیان کړو او دا خبره په ډاګه کړو چې د خدا ے پاک د نېکو بندګانو هر ډول درناو ے دې ټکي ته په پام سره چې هغوي د خدا ے پاک بندګان دي، هیڅکه د هغوي (نېکو بندګانو) عبادت نۀ شي ګڼل کېدې، له همدې امله دا بحث په عبادت کښې له شرک نه علاوه  له بل اړخه څېړو.

---

[۱] . فتح المجید کتاب، ۱۵٤ مخ

په دې کښې هيڅ شک نشته چې قران شريف تل ځينې انبياء او اولياء په فصيحو او بليغو جملو سره ستايلي دي.
قران پاک د حضرت زکريا عليه السلام او حضرت يحيي عليه السلام وغېره په حقله فرمائې:

«اِنَّهُم كانُوا يُسارِعُونَ فِي الْخَيْراتِ وَيَدْعُونَنا رَغَباً وَرَهَباً وكانُوا لَنا خاشِعينَ»[1]
«هغوي به د نېکو کارونو په حقله تلوار او بيړه کوله او په هيلې او ويرې سره به يې له مونږ څخه سوال کوۀ او زمونږ په مخکښې به خاشع او تسليم وو.»
خوکه اوس څوک په هغو مجلسونو او محفلونو کښې چې د هغو پېغمبرانو عليهم السلام په ياد کښې تر سره کيږي.هغوي د دې ايت په مضمون سره يا د دې په شان په نورو ايتونو سره وستائي او له دې لارې د هغوي درناوے وکړي. نو آيا د قران پاک له پيروۍ نه بغېر څه بل کار به يې کړے وي؟
خدا ے پاک د رسول الله صلى الله عليه واله وسلم د کورنۍ په حقله داسې فرمائي:

«وَيُطعِمُونَ الطَعامَ عَلي حُبِّه مِسْکِيناً وَيَتِيماً وَاَسِيراً»[2]
«او سره له دې چې خواړۀ ورباندې ګران دي، خو بيا هم هغه مسکينانو او يتيمانو او اسيرانو ته ورکوي.»
نو که اوس د حضرت علي عليه السلام منوونکي د هغه حضرت د ولادت په ورځ سره يو ځاے راټول شي او ووائې: چې علي عليه السلام هغه کس دے چې (هغۀ او کورنۍ يې) باوجود د دې چې درې ورځې يې روژه نيولې وه او خپله يې ډوډۍ ته ضرورت وۀ خو هغه يې يوه ورځ غريب کس ته بله ورځ يتيم کس ته او په دريمه ورځ قيدي کس ته ورکړه او دا ايت يې په شان کښې نازل شو نو ايا (په دې خبرې سره) يې د هغه حضرت عبادت کړے دے ؟

همدا رنګ که د پېغمبر اکرم صلى الله عليه وآله وسلم د ميلاد او زوکړې په ورځ هغه ايتونه چې خدا ے پاک پکښې پېغمبر اکرم صلى الله عليه و آله وسلم ستايلے دے په بله ژبه کښې ترجمه کړو يا د شعر په شکل کښې يې وليکو او په يو محفل کښې يې ووايو نو ايا دا به مو حرام کار کړے وي؟!
نو کوم کسان چې دا اعتراض کوي ايا هغوي د پېغمبر اکرم صلى الله عليه و آله وسلم او د خدا ے پاک د اولياؤ دښمنان نۀ دي چې «له بدعتونو سره د مقابلې» په بهانه د پېغمبر اکرم صلى الله عليه و آله وسلم او د خدا ے پاک د نورو اولياؤ او نازولو له درناوي کولو څخه خلق منعې کوي؟!
دلته پکار دي دا خبره وکړو چې د وهابيانو ډېر ډنډورچيان په دې خبره باندې ډېر زور راوړي او تکيه پرې کوي چې: له دې امله چې دا مجلسونه او محفلونه د مذهب په نوم تر سره کيږي او ورته د اسلاميت نسبت ورکولے شي نو پکار دي د اسلام د دين لخوا په خصوصي توګه يا په عمومي توګه تائيد شي او که تائيد نه شي نو «بدعت» او «حرام» کار دے.

---

[1] . سوره انبياء ۹۰ ايت
[2] . سورۀ دهر ۸ ايت

د دې خبرې ځواب ډېر روښانه او څرګند دے ځکه چې د قران شريف هغه ايتونه چې په مونږ باندې د پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم احترام او درناوے لازموي په دې اړه بس دي چې د دا ډول مجلسونه د اسماني کسانو د درناوې په عنوان تر سره کيږي، او بدعت هغه څيز ته ويل کيږي چې هغه قران پاک او يا د پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم سنتو په عمومي توګه يا په خصوصي توګه نۀ وي تائيد کړے.
د دا ډول مجلسونو چې د نړۍ تقريباً ټول خلق يې د خپلو بزرګانو په حقله تر سره کوي، مقصد يې يوازې د هغوي قدرونه او احترام دے او له يو موټي اوچ کړس مذهبي کسانو نه بغېر د نړۍ په ټولو مسلمانانو کښې يوه رائجه او د معمول چاره ده او که بدعت او يا نوے کار وې او د اسلام له اصولو سره سم نه وې نو ممکنه نه وه چې مسلمانان په مختلفو زمانو او مختلفو وختونو کښې د پېغمبر اکرم صلی الله عليه وآله وسلم د زوکړې چشن يعنې ميلاد تر سره کړي او د هغه پاک ذات په شعرونو، قصيدو او نعتونو سره وستائي او په هغو سره خپلو مجلسونو ته زينت او ښکلا ورکړي.

## له قران پاکه د ميلاداو شهادت د نمانځلو دليلونه

### وړومبے دليل:

قران پاک هغه کسان چې د پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم احترام او عزت کوي ستائي او په دې حقله فرمايي: «فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنزِلَ مَعَهُ أُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ»[1]
«هغه کسان چې په پېغمبر يې ايمان راوړۀ او هغۀ ته يې عزت ورکړ او د هغۀ مرسته يې وکړه او له هغه نور (قران پاک) څخه چې خدائے تعالی هغه ته استولے دے پيروي وکړه نو هغه کسان برياليي دي.»
په دې مبارک ايت کښې دا جملې راغلي دي: ۱ـ آمنوا به ۲ ـ عَزّروه ۳ ـ نصروه ٤ ـ واتّبعوا النّور . . . .
ايا څوک شته چې هغه دا ګومان وکړي چې دا جملې: آمنوا به، نصروه، واتّبعوا النور، د پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم زماني سره مخصوصې دي؟ نو هيڅکله ناممکنه خبره ده،نو بس هر کله چې د دې دريو جملو په حقله څوک داسې ګومان نۀ شي کولې نو يقيناً د «عزّروه» په حقله، چې د تعظيم او درناوي په معنا دے[2] هم څوک دا احتمال نۀ شي ورکولے چې دا به د پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم له زمانې سره خاص وي او دا ستر لارښود پکار ندي تل د احترام او تعظيم وړ وګرځي.
نو ايا د بعثت او د ولادت په ورځو کښې د هغوي په ياد کښې مجلسونه جوړول، د ويناؤ کول، د شعرونه او قصيدو او نعتونو ويل د «وعزّروه» جملې څرګند مصداق نۀ دے؟
ډېره د حېرانۍ خبره ده چې وهابيان د خپلو مشرانو او حاکمانو په مخکښې داسې تعظيم او داسې سرونه ټيټوي او د يو معمولي انسان داسې درناوے کوي چې د هغه يو سلم (۱%) هم د پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم يا د هغوي د منبر او محراب په حقله درناوے بدعت ګڼي او په نتيجه کښې د نړيوالو په مخکښې د اسلام د مبين

---

[1] . سوره اعراف: ۱۵۷ ايت
[2] . مفردات قران راغب کتاب، ماده «عزّر» ته رجوع وکړئ.

دین سپکاوے کوي او په دې طریقې سره دا همه ګیرۍ، نړیوال او له هر دور سره سمون خوړونکے دین یو اوچ کړس او له احساس او عاطفې نه تش یو دین معرفي کوي او هغه شریعت چې ډېر اسان او د بشر د فطرت او عواطفو سره سم دے او د خلقو په جذبولوکښې لوړ نظر لري هغه یو اوچ مذهب او د خپلو بزرګانو په تعظیم او درناوي باندې سترګې پټوونکے او د دنیا د خلقو د جذبولو وس نه لرونکے،دین معرفي کوي.

## دویم دلیل:

وهابیان او سلفیان چې د خداے پاک په لاره کښې شهید شویو کسانو لپاره د غم او ویر د مجلسونو د جوړولو مخالف دي، د حضرت یعقوب علیه السلام د قیصې په هکله څه وایي؟

که دغه لوړ رتبه پېغمبر نن د نجدیانو او د محمد بن عبدالوهاب د پېروکارو ترمېنځ موجود وې نو د هغه په هکله به یې څۀ ډول فېصله کوله؟

هغۀ به شپه او ورځ د یوسف علیه السلام په جدائې او فراق کښې ژړا کوله او له هر چا نه به یې د هغۀ په حقله پوښتنه کوله. هغۀ د خپل ګران زوے یوسف علیه السلام په جدائې کښې دومره ژړا وکړه چې په سترګو باندې معذور شو او د سترګو نور یې لاړ.[1]

د حضرت یعقوب علیه السلام بیماري او د نظر ختمیدل یې د یوسف علیه السلام د هېرېدو سبب ونه ګرځید، بلکې څومره هم به چې د ملاقات وخت نزدې کېدۀ نو هومره به یې د ګران او خوږ زوے مینه او عشق په زړه کښې زیاتیدۀ، د همدې امله یې د حضرت یوسف علیه السلام بوي له ډېر لرې بویوۀ.[2] او په ځاے د دې چې ستورے (یوسف) د نمر (یعقوب) په لټه کښې وې بلکې د هغه د یوسف علیه السلام په لټه کښې ؤ.

خو بیا هم داسې مینه او په دغه مینه کښې ژړا او ویر دې په ژوند کښې صحیح او عېن توحید وي خو پس له مرګه دې چې د انسان زړۀ ډېر سوزي او غمجن او ناارامه وي، جرم او شرک وي؟!

نو اوس که زمونږ د زمانې یعقوبان هر کال د خپلو یوسفانو د شهادت په ورځو کښې راټول شي او د هغوي د فضیلت او نیکو اخلاقو په حقله خبرې وکړي او د غم او خفګان په وجه لږې اوښکې توې کړي نو ایا په دې کار سره یې د خپلو زامنو عبادت کړے دے؟[3]

## دریم دلیل:

په دې کښې شک نشته چې له ذوی القربی سره مینه او مودت یوه اسلامي فریضه ده چې قران شریف په ډاګه او واضحه توګه مونږ دغې مېنې ته بللي یو خو که اوس څوک په دې اسلامي او مذهبي فریضې پس له څوارلسو

---

۱. «وَابْیَضّتْ عَیْناهُ مِنَ الْحُزْنِ»، سوره یوسف: ۸٤ ایت

۲. «اِنّي لاَجِدُ رِیحَ یُوسُفَ لَوْلا أنْ تُفَنّدُونِ»، سوره یوسف : ایت ۹٤

۳. له دې نه علاوه ډېر متواتر روایتونه د اهل بیتو علیهم السلام د مظلومو کسانو لپاره د عزادارۍ د تر سره کولو شته دي او اروابښاد علامه امیني د هغو روایتوو یوه برخه چې د اهل سنتو په کتابونو کې راغلي دي، په خپل کتاب «سیرتنا وسنّتنا» کې راټول کړي دي.

پېړیو عمل وکړي نو څه پکار دي چې وکړي؟ ایا له دې نه بغېر بله کومه لاره شته چې د هغوي د ولادت د خوشحالۍ په ورځو کښې خوشحاله شي او د هغوي د شهادت په ورځو کښې غمجن شي؟

او که دخپلې خوشحالۍ ځرګندونې لپاره یو مجلس جوړ کړي چې په هغه محفل کښې د هغوي د ژوند، تاریخ او د هغوي قربانۍ بیان کړي او یا د هغوي مظلومیت او له خپلو اصلي حقوقو څخه محرومیت بیان کړي نو ایا د ذوی القربی سره د مینې او مودت د ځرګندونې نه بغېر څه بل څه کار یې کړے دے ؟

او که داسې کس د خپلې زیاتې مینې د ځرګندونې لپاره د هغوي مزار ته لاړ شي او د هغوي مبارکو قبرونو ته حاضر شي او دا ډول مجلسونه د هغو پاکو هستیو د قبرونو تر څنګه تر سره کړي نو د نړۍ د عاقلانو او پوهانو په نظر کښې یې د مینې او مودت له ځرګندونې نه بغېر څه بل کار کړے دے؟! مګردا چې وهابیان وائي چې مینه او مودت پکار دي په سینو کښې پټ پاتې شي او هیڅوک هم د دې مینې او مودت د ځرګندونې حق نه لري.

د پېغمبر اکرم صلی الله علیه واله وسلم په زمانه کښې او پس له هغه حضرت نه چې د عقیدو، نظریاتو او فکرونو د بدلیدو زمانه وه. مختلف ملتونه او قومونه له خپلو مختلفو او ډول ډول ادابو او رسمونو سره اسلام ته راننوتل او د شهادتین د کلمې له ویلو سره د هغوي اسلام ته راننوتنه قبلېده. او هیڅکله د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم او له هغوي نه د پس رهبرانو او امامانو مقصد او اراده دا نه وه چې د ملتونو او مختلفو قومونو په ټولو ادابو، رسوماتو او کلتوري چارو باندې سېنسر ولګوي او بدلې یې کړي او په داسې شکل کښې یې راولي چې هډو له تېرو قالبونو سره هډو څه یوشانوالے و نۀ لري.

د خپلو مشرانو او بزرګانو عزت، احترام، د هغوي په یاد کښې مجلسونه تر سره کول، د هغوي قبرونو ته حاضرېدل او د هغوي له نښو نښانو سره مینه کول د نړۍ د ټولو ملتونو او قومونو معمول ؤ او دے. او همدا اوس هم د ختیځ او لویدیځ قومونه د خپلو وفات شویو کسانو د مومي بدنونو زیارت لپاره او د خپلو مشرانو او مرشدانو د دفن د ځایونو د زیارت لپاره په ګېنټو ګېنټو په قطار کښې ودرېږي ان تر دې چې د خپلو مړیو د قبرونو خوا و شا کښې له هغو سره د مینې ځرګندونه وکړي او له خپلو سترګو نه اوښکې اوبیوي. او دا کار یو ډول احترام چې د انسان په زړه کښې جرړه لري حسابیږي.

کله هم داسې نه دي شوي چې د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه واله وسلم دې وړومبې د خلقو عقیدې ځیړلې وي او د هغوي د ژوند د ادابو او رسوماتو د ځیړلو نه پس یې د هغوي اسلام قبول کړي وي.، بلکې شهادتین کلمې په ویلو به یې بسنه کوله او که دغه رسومات او اداب حرام یا د مشرانو عبادت وې نو پکار دي پېغمبر صلی الله علیه واله وسلم وړومبې له هغو عهد او بیعت اخستې چې دا کارونه به نه کوئ او بیا هله یې د هغوي اسلام قبلولې. حال دا چې خبره بالکل داسې نه وه.

## څلورم دلیل:

مونږ وینو چې حضرت عیسې علیه السلام له لوے خدایه اسماني خوراک (دسترخوان) غواړي او د هغه خوراک د نازلیدو ورځ د اختر ورځ معرفي کوي او فرمایي:

«رَبّنا أَنْزِلْ عَلَيْنا مائدَةً مَنَ السّماءِ تَكُونُ لَنا عيداً لاوّ◌َلِنا وَآخِرنا وَآيةً مِنْکَ وَارْزُقْنا وَاَنْتَ خَيْرُ الرّازِقِينَ. »[1]
«پروردګارا! مونږ لره له اسمانه يو دسترخوان (خوا ړهٔ) راوليږه چې زمونږ وړومبنيو او وروستنيو لپاره اختر او ستا له لوري يوه نخښه وي مونږ ته روزي راکړې ځکه چې ته بهترين روزي ورکوونکے يې.»
نو ايا د پېغمبر اکرم صلی الله عليه واله وسلم د وجود مبارک ارزښت له يو اسماني دسترخوان او خوراک څخه هم لږ دے چې حضرت عيسی عليه السلام د هغه د نازليدو ورځ ته د اختر او خوشحالۍ ورځ وويله (او نه فقط د هغې ورځې لپاره بلکې د راتلونکو نسلونو لپاره يې هم د اختر ورځ وبلله) که د هغې ورځې اختر ټاکل له دې لامله وي چې مايده اودسترخوان د خداے پاک ايت او نخښه ده نو ايا پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم (چې ټول کائنات يې له مخې پېدا دي) يوه لويه او عظيمه نخښه او ايت نه دے.
افسوس دې وي په هغو کسانو چې د اسماني دسترخوان او مائدې چې يوازې خېټه ډکوي د نازليدو په ورځ خوشحالي کولو ته تيار دي خو د قران پاک د نزول او د پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم دبعثت چې د تاريخ په اوږدو کښې د انسان تفکر ته تکامل بخښي له ورځې څخه په بې پروائۍ سره تېرېږي او که بل څوک په داسې يوه ورځ خوشحالي او جشن تر سره کوي نو بيا هغه ته بدعت وائې او حرام يې بلي.

## پينځم دليل

قران پاک فرمائي: «وَرَفَعْنا لَکَ ذِكْرَک»[2] «(اے رسولـه) ستا ذکر او ياد مو په نړۍ کښې اوچت کړ»
ايا د پيغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم د نېکمرغه ميلاد په ورځ د جشن جوړول د هغهٔ د نوم او ياد له اوچتولو نه بغېر بله کومه نتيجه لري؟ په دې حقله مونږ ولې د قران پاک پيروي نه کوو مګر قران پاک مونږ لره اسوه او نمونه نهٔ ده؟

*****

[1]. سوره مائده : ۱۱٤ ايت
[2]. سوره انشراح : ٤ ايت

# نهم باب

## د خدا ے پاک د اولیاء کرامو له اثارو څخه تبرک او شفا حاصلول

وهابیان او سلفیان د خدا ے پاک د اولیاؤ په اثارو سره تبرک حاصلول شرک ګڼي او څوک چې د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم منبر او محراب ښکل کړي مشرک یې بولي، که څه هم هغوي نۀ هغه پاکه هستي او نۀ دغه څیزونه خدا ے ګڼي بلکې له پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم سره مینه او مودت سبب جوړیږي چې له هغه سره اړوند څیزونه ښکل کړي شي. پکار دي له وهابیانو څخه پوښتنه وشي: چې د حضرت یوسف علیه السلام د قمیص په حقله څه وائي چې کله یې وویل: «اِذْهَبُوا بِقَمِيصي هذا فَأَلْقُوُه عَلي وَجْهِ أَبي يَأْتِ بَصِيراً»[1] «زما قمیص یوسئ او زما د پلار په سترګو یې ووهئ نود هغۀ د سترګو بینایي به بیرته راشي.»

حضرت یعقوب علیه السلام هم د یوسف علیه السلام قمیص په خپلو سترګو وواهۀ او سمدستي یې په هغه وخت کښې بینائي راغله لکه چې فرمائي: «فَلَمّا أَنْ جاءَ الْبَشيرُ أَلْقاهُ عَلي وَجْهِهِ فَارْتَدَّ بَصِيراً.»

که حضرت یعقوب علیه السلام داسې کار د نجدي ډلې او د «محمد بن عبدالوهاب» د منونکو په مخکښې کړے وې نو له هغه سره به یې څه کول؟ او د معصوم پېغمبر کار به یې څنګه توجیهوۀ (او اوس یې څنګه توجیهولے شي)؟

ښه نو اوس که یو مسلمان د سرور کائنات سردار انبیاء خاتم النبیین حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه و آله وسلم د مرقد او قبر مبارک خاورې په خپلو سترګو ووهي او همدارنګ دنورو پیشوایانو او اولیاء کرامو قبرونه په احترام سره ښکل کړي او یا له هغو څخه تبرک حاصل کړي او ترې شفا وغواړي او ووائي چې خدا ے پاک په دې خاورو کښې داسې اثر اچولے دے او په دې کار کښې د وخت له یعقوب څخه پیروي وکړي نو بیا ولې ورباندې لعنت وشي او ولې ورته کافر وویلې شي؟[2]

---

[1] . سوره یوسف: ۹۲ ایت

[2] . د پېغمبر اکرم صلی الله علیه واله وسلم له زمانې راهسې تر ننه پورې له وهابیانو او سلفیانو نه بغیر ټولو مسلمانانو به د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم له نښو نښانو څخه تبرک حاصلوۀ او حاصلوي یې او شیخ محمد طاهر مکي په پرېکنده او یقیني تاریخي

کوم کسان چې د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د ژوند له تاریخ نه خبر دې هغوي پوهیږي چې د هغه حضرت اصحاب به تل د پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د اودس له اوبو څخه د تبرک د حاصلولو لپاره له یو بل څخه مخکښې کېدل او په دې اړه بس دي چې دوو موردو ته اشاره وکړو چې له شپږو صحاحو څخه په دوو صحاحو یعنې صحیح بخاري او صحیح مسلم کښې راغلي دي ته لنډه کتنه وکړو.نو اوس دغو دوو نمونو ته اشاره کوو:

۱ ـ بخاري د «صلح حدیبیّه» په واقعه کښې لیکي: کله هم چې به پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم اودس کوۀ، نو د هغه حضرت اصحاب او ملګري به د اوبو د څاڅکو د حاصلولو لپاره له یو بل نه مخکښې کېدل.[۱]

۲ ـ او همدا رنګ « خاتم نبوت باب» کښې له سائب بن یزید څخه نقلوي چې وائي:
زۀ خپلې ترور د پېغمبر اکرم صلې الله علیه واله وسلم خدمت ته بوتلم او وې ویل چې زما د خور زوے بیمار او ناجوړه دے نو پېغمبر اکرم اودس وکړ او له خدا ے پاک څخه یې زما لپاره برکت وغوښت او کله یې چې وضو او اودس وکړ نو ما د هغۀ د وضو اوبه اوڅښلې.[۲]

۳ ـ هغه همدارنګ له «وهب بن عبدالله» څخه هم د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د صفتونو په باب کښې نقل کړي دي چې خلقو به د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم لاسونه په خپلو مخونو باندې راکښل او ما هم د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم لاس راونیوۀ او په خپل مخ مې راښکۀ او د هغه حضرت لاس له مشک او عنبر نه زیات له خوشبو نه ډک وو.[۳]

٤ ـ او همدا رنګ د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د صفتونو په باب کښې نقلوي چې پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د ابْطح په سیمه کښې په یوه خیمه کښې ناست ؤ چې بلال له خېمې څخه راووت او خلقو ته یې د نمانځه بلنه ورکړه او بیا بېرته خېمې ته ننوت او بیا یې د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم له اودس نه پاتې اوبه بهر راووېستې او خلق ورته راټول شول او اوبه یې واخېستې او له هغو څخه یې تبرک حاصل کړ[۴]

۵ ـ مسلم په خپل صحیح کښې له انس څخه نقلوي چې پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د خپل سر وېښتۀ تراشول او اصحاب ترې خواو شا ته راغونډ وو او د هر یو صحابي په لاس کښې یو یو وېښته ؤ.[۵]

---

دلیلونو سره دا خبره په یو کتاب کښې چې په ۱۳۸۵ نمریز کال کښې چاپ شوے دے، ثابته کړې ده او د کتاب نوم هم «تبرک الصحابه به آثار رسول الله (صلّي الله علیه وآله وسلم) » دے او دا کتاب په فارسي کښې هم ترجمه شوے دے.

[۱]. صحیح بخاري، ۳ ټوک ، ۲۵۵ مخ

[۲]. صحیح بخاري، ٤ ټوک ، ۲۲۷ مخ او صحیح مسلم د خاتم النبوت باب.

[۳]. صحیح بخاري، ٤ ټوک ، ۲۲٦ مخ

[۴]. صحیح بخاري، ٤ ټوک ، ۲۳۱ مخ

[۵]. صحیح مسلم، ٤ ټوک ، کتاب فضائل الصحابه.

دا له پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم سره د اصحابو د مینې او د هغۀ له اثارو څخه د تبرک حاصلولو څو نمونې دي د داسې ټولو نمونو راټولول یو بیل کتاب ته اړتیا لري تاسو کولې شئ چې د صحیح بخاري د جهاد کتاب وروستۍ برخې ته مراجعه وکړئ همدارنګ د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د «زرې، عصا، تورې، لوښو، مهر، ګوتې، ویښتو او کفن په بابونو کښې له دغو نښو نښانو څخه د تبرک له حاصلولو نه په ښۀ توګه خبر شئ.

دا حدیثونه د وهابیانو د کلتور د بې بنیادوالي څرګندونه کوي چې د پېغمبر اکرم صلی الله علیه واله وسلم له مبارک قبر سره د خلقو د تبرک مخنیوي کولو لپاره یې یو څو کسان نوکران کړي دي او د خلقو په وهلو ټکولو او د لانجې په رامینځته کولو سره مسلمانان له خپل ګران پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم سره له مینې کولو نه منعې کوي حال دا چې دا کار د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په وخت کښې کیدۀ بلکې د هغه حضرت په مخکښې کیدۀ او د خلقو د ژوند معمول ؤ.

د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له اثارو څخه د تبرک حاصلول او د هغه بزرګوار د قبر او منبر له ښکلولو نه د خلقو منعې کول د وهابیانو غټې نښې دي چې د سعودي وهابي حکومت د خلقو د منعې کولو لپاره ځینې خلق د امربالمعروف او نهي عن المنکر کوونکو په جامه کښې د هغه حضرت د قبر مبارک په خواوشا کښې مامور کړي دي او هغوي هم په ډېرقهر، بې رحمۍ او په ظلم سره د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم زواران له دې کاره منعې کوي او کله کله دومره ظلم وکړي چې خلق په وینو باندې رنګ کړي او کله کله د ښځو بې عزتي او بې احترامي وکړي. د هغوي د فکر جرړه او بنیاد دا دے چې د قبر او زیارت ښکلول د قبر د خاوند د عبادت په څیر دي لنډه دا چې « هر یو احترام عبادت دے!»

دا ناپوهه کسان چې د اسلام له تعلیماتو څخه ډېر لرې دي، د عبادت د سم او منطقي تعریف توان نه لرلو له امله د حیرانۍ او سرګردانۍ په دریاب کښې غرق شول او د مړي هر ډول احترام یې د هغه عبادت وګاڼۀ. مونږ به په راتلونکي باب کښې د عبادت لپاره دقیق حد او سرحد بیان کړو خو هغه څه چې اوس مهم دي په داسې حالاتو کښې د مسلمانانو سیرت دے چې په دې اړه به لنډه اشاره ورته وکړم که څه هم لیکنې او مطالب ډېر زیات دي یعنې دریاب به په کوزه کښې بندوم:

۱ ـ د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم قدرمنه لور د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم له وفات او د هغه حضرت له کفن او دفن نه پس د هغه حضرت د قبر مبارک څنګ ته ودریده او د قبر لږې خاورې یې راوخېستې او په خپل مخ یې واچولې او په ژړا شوه او دا دوه شعرونه یې ووایل:

ما ذا عَلَي مَنْ شَمّ تُربَة أحْمَدَا　　　أنْ لا يَشُمّ مَدْيَ الزّمانِ غَواليا

«د هغه کس به څه حال وي چې د احمد صلی الله علیه و آله وسلم د قبر خاورې بوي کړي او بیا چې تر څو ژوندے وي هغه ته به د ګران بیه مشک او عنبر د بویولو ضرروت نۀ وي»

صُبّتْ عَلَيّ مَصائِبُ لَوْ أنّها　　　صُبّتْ عَلَي الْأيّامِ صِرنَ لَيالِيا

«په ما باندې دومره غمونه راغلل چې که په ورځو باندې دومره غمونه راغلي وې نو ورځې په په تورو تيارو شپو باندې بدلې شوې وې.»[1]

۲ـ د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم يو جليل القدر صحابي حضرت بلال حبشي (رض) چې د ځينو وجوهاتو په بنياد يې مدينه منوره پريښې وه او د شام په خوا کښې يې د اسلامي هېواد د پولو ساتنه کوله په خوب کښې وليدل چې پېغمبر اکرم ورته وفرمايل چې بلاله دا څه بې وفائي ده، آيا زمونږ د زيارت کولو وخت نۀ دے راسېدلے؟ حضرت بلال حبشي (رض) ډير په خفګان سره له خوبه پاڅېد او په خپل مرکب باندې سپور شو او مدينې منورې ته روان شو کله چې د پېغبمر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم قبر مبارک ته ورسيد نو په ژړا انګولا سره يې خپل مخ د پيغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په قبر پورې ومښنۀ او ښکل يې کړ او کله چې امام حسن او حسين عليهم السلام وليدل نو دواړه يې ښکل کړل.[2]

۳ـ اميرالمومنين حضرت علي عليه السلام فرمائي: د پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم له دفن کېدو څخه درې ورځې تېرې شوې وې چې يو صحرائي عرب راغے او خپل ځان يې د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په قبر راوغورزوۀ او د هغه مبارک قبرمبارک خاورې يې په خپل سر واچولې او د هغه حضرت له قبر مبارک سره يې خبرې شروع کړې او وې ويل: اے د خداے خوږ پېغمبره، تا خبرې وکړې او مونږ واوريدې له خداے پاک نه دې حقيقتونه حاصل کړل او مونږ هغه حقائق له تا څخه تر لاسه کړل له هغو څيزونو څخه چې په تا نازل شول ځينې دا دي چې: «وَلَوْ أَنَّهم إِذْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُم»، اوس ما په خپل ځان باندې زياتے کړے دے، له خدايه مالره بخښنه وغواړه ناڅاپه يې يو اواز واريد چې: «ستا ګناهونه وبخښل شول!»
دا قيصه د تاريخ او سيرت ډېرو ليکوالانو بيان کړې ده له هغو کسانو ځينې دا دي «سمهودي په وفاء الوفا، ۲ ټوک، ۶۱۲ مخ او ښاغلي شيخ داود خالدي (د وفات کال يې ۱۲۹۹) په خپل کتاب صلح الاخوان او داسې نورو کسانو هم نقل کړې ده.

۴ـ حاکم په خپل مستدرک کښې نقلوي چې: مروان بن حکم جومات ته داخل شو او وې ليدل چې يو سړي خپل مخ په قبر ايښے دے هغه يې له څټ نه راونيوۀ او ورته يې وويل چې خبر يې چې دا څه کار کوې؟ هغه کس چې کله سر راپورته کړ نو پته ولګيده چې هغه کس حضرت ابو ايوب انصاري (رض) ؤ نو مروان بن حکم ته يې وويل: زۀ کاڼي ته نه يم راغلے بلکې زۀ پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم درګاه ته راغلے يم. اے مروانه! له پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم مې اوريدلي دي چې فرمايلي يې وو چې: کله چې د دين مشري د خداے

---

[1] . ډېرو ليکوالانو محققينو دا قيصه نقل کړې ده، لکه ښاغلي شبرواي د الإتحاف په ۹ مخ کښې او سمهودي په وفاء الوفا، د ۲ ټوک ٤٤ مخ کښې او خالدي په صلح الإخوان، ۵۷ مخ کښې او داسې نورو هم نقل کړې ده.
[2] . دا قيصه هم يوې ډلې ليکوالانو نقل کړې ده ، لکه سبکي په شفاء السقام کښې چې له تاريخ شام ابن عساکر يې نقل کړې ده او ابن اثير په اسد الغابه، ۱ټوک، ۲۸ مخ کښې نقل کړې ده.

پاک نېک بندګان په لاس کښې واخلي نو ورباندې ژړا مهٔ کوئ بلکې هله ژړا کوئ چې کله نا اهله کسان(یعنې ته او ستاسود امویانو کورنۍ) د دین مشري په لاس واخلي.[1]
د تاریخ دا برخه په ډاګه کوي چې د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم له مبارک قبر سره له تبرک کولو نه د منعې کولو جرړه کوم ځاے ده او دا خبره هم معلومېږي چې د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم قدرمنو اصحابو به تل د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم له سپڅلي قبر څخه تبرک حاصلوهٔ خو یوازې دا مروانیان وو چې خلق او بیا په تېره بیا د پېغمبر اکرم اصحاب به یې له دې جائز کاره منعې کول.
په دې حقله واقعات دومره ډېر دي چې د هغو بیانول د بحث د اوږدوالي سبب کېږي. مینه وال کولې شي چې د «تبرک الصحابه» کتاب نه علاوه یو بل ارزښمن کتاب «الغدیر»، ٥ ټوک، ١٥٦-١٤٦ مخونو ته مراجعه وکړي.
د دې باب په اخېر کښې ضروري ګڼم چې یو ټکے د لوستوونکو په خدمت کښې وړاندې کړم او هغه دا چې دا ټول تاریخي نقلونه او قیصې هیڅ کله دروغ او بې بنیاده نهٔ شي کېدې. که فرض کړو چې دا بې بنیاده او دروغ وي، خو بیا هم زمونږ دعوا او مقصد ثابتوي؛ ځکه چې که دا کارونه شرک، بدعت او حرام وي نو هیڅکله به یې دروغجنو نسبت اسلامي شخصیتونو ته نه ورکوهٔ ځکه چې دروغجن په داسې څیزونو کښې دروغ جوړوي چې ټولنه یې قبلوي ان تر دې چې خلق د دوي خبره ومني او یقین پرې وکړي، او هیڅ کله د هغه کار نسبت به یې نېکو کسانو ته نهٔ ورکوهٔ چې هغه کار یا شرک وي یا بدعت او یا حرام وي ځکه چې که دا کار وکړي نو په داسې صورت کښې ټولنه او خلق د هغوي خبره نه مني او د هغوي غشي خطا ځي او خپل پست مقصد ته نه رسي.

*****

[1] . مستدرک حاکم، ٤ ټوک ١٥ مخ

# لسم باب

## په عبادت او پرستش کښې توحید
## (یا د وهابیانو یوه حربه)

په هره زمانه کښې د پیغمبرانو د بلنې او دعوت مقصد، موخه او بنیاد یکتا پرستي او د یو خدای بندګي وه، یعنې دا چې ټول انسانان د یو خدای تعالی عبادت وکړي او د نورو له عبادت کولو نه لاس واخلي او ځانونه ترې وساتي.
یکتا پرستي او د دوه پرستۍ او شرک زنځیرونه ماتول د اسماني تعلیماتو له اساسي او بنیادي حکمونو څخه دي چې د ټولو پیغمبرانو د پروګرامونو په سر کښې راغلي دي، تهٔ به وائې چې ټول پېغمبران د یو هدف لپاره رالیږل شوي وي او هغه یو هدف په مطلقه توګه د یکتا پرستۍ او د یو خدای د پرستش او بندګۍ پیاوړي کول او له شرک سره مقابله کول او په خصوصي توګه په عبادت کښې له شرک سره مقابله ده.
قران پاک دا حقیقت په روښانه طریقه ذکر کړے دے او فرمائي:

۱ ـ «وَلَقَدْ بَعَثْنا في كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا اَنِ اعْبُدُوا اللّهَ واجْتَنِبُوا الطّاغُوتَ»[۱]
«مونږ په هر امت کښې پېغمبر وټاکهٔ چې د خدای تعالی عبادت وکړي او بې له خدایه د بل معبوله عبادت نه ځان وساتي.»

۲ ـ «وَما اَرْسَلْنا مِنْ قَبْلِکَ مِنْ رَسُولٍ اِلاّ نُوحِيَ اِلَيْهِ أَنَّهُ لا اِلهَ اِلاّ اَنَا فَاعْبُدُونِ»[۲]
«اے رسوله له تا مخکښې مو پېغمبر ونه لیږهٔ مګر دا چې هغهٔ ته مو وحي وکړه چې له ما نه بغېر بل معبود نشته او زما عبادت وکړئ.»
قران پاک، یکتا پرستي د ټولو اسماني شریعتونو ګډ او مشترک اصل معرفي کړے دے او فرمائي:

---

۱ - سورهٔ نحل ۳۶ایت
۲ . سورهٔ انبیاء: ۲۵ ایت

«قُلْ يا أَهْلَ الْكتابِ تَعالَوْا اِلي كَلِمَةٍ سَواء بَيْنَنا وَبَيْنَكُمْ ، أَلاّ نَعْبُدَ اِلاّ اللّهَ وَلاَ نُشْرِكَ بِهِ شَيْئاً»[1]
«وو ايه اے پېغمبره : اے اهل کتابو راشئ هغې کلمې ته چې زمونږ او ستاسو په مينځ کښې يو شان ده هغه قبوله کړئ او هغه دا چې بې له خدايه به د بل چا عبادت نۀ کوو او د هغه لپاره به بل شريک نه جوړوو.»

په عبادت کښې توحيد يو پوخ او يقيني اصل دے چې په مسلمانانو کښې يې هيڅوک مخالف نشته او د مسلمانانو ټولې فرقې په دې حقله يو نظر لري او که معتزله په افغالي توحيد کښې لږ شانتې اختلاف لري او يا اشاعره د صفاتو په توحيد کښې له معتزله سره اختلاف لري خو د مسلمانانو ټولې فرقې د دې اصل (په عبادت کښې توحيد) په حقله يو نظر لري.او يو مسلمان کس هم له دې اصل څخه انکار نۀ شي کولې او که څه اختلاف پکښې وي هم نو په مصداقونو کښې به وي په اصل کښې اختلاف نشته؛ يعنې د مسلمانانو يوه ډله ځينې کارونه عبادت ګڼي ، په داسې حال کښې چې د مسلمانانو نورې فرقې هغه احترام او تعظيم بلې په نورو ټکو کښې ويلى شو چې هر څه اختلاف چې دے په صغرى (په فرعي مسائلو) کښې دے او هغه دا چې ايا دا کار عبادت دے که نه؟ د بحث په کبرى يعنې اصل کښې اختلاف نشته او هغه اصل دا چې د غير خدا عبادت شرک او حرام دے.
نو هم دغه ځاے دے چې د «عبادت» معنا د لغت او قرآن پاک له نظره پوره پوره روښانه کړو ، نو هله به د دې اصل فرعي مسائل يعنې موردونه او مصداقونه په خپله روښانه شي.
په لا وضاحت سره به وو ايو چې په عبادت کښې توحيد يوه داسې مسئله نۀ ده چې يوه خاصه ډله يې خپل ځان ته منسوبه کړي بلکې ټول د يو خداے پرستش کوونکي په تيره بيا مسلمانان په دې حقله يو نظر لري. خو ټوله خبره او بحث د يو ډول عملونو په باره کښې دے چې يوه ډله هغو عملونو ته عبادت وائي او بله ډله ورته د عبادت په سترګه نه ګوري بلکې هغوي وائي چې دا کارونه له عبادت سره بالکل تعلق نه لري، له همدې امله په دې برخه کښې بايد په دې حقله خبرې اترې وکړو او د عبادت په منطقي توګه تعريف وکړو او د هغۀ حد او پولې مشخصې کړو او داسې فارمولا مخالفينو ته ورکړو چې د هغې په رڼا کښې د عبادت او نۀ عبادت ترمېنځ په فرق باندې پوه شي او له يو بل يې جدا کړي.

## عبادت او د هغۀ پوره تعريف

په عربي لغت کښې د «عبادت» ټکے، په فارسي ژبه کښې د «پرستش» برابر ټکے دے، لکه څرنګه چې د پرستش ټکي مفهوم مونږ ته روښانه او څرګند دے، همدارنګ د عبادت ټکي مفهوم هم پوره پوره روښانه دے که څه هم د يوې جملې په صورت کښې د هغۀ منطقي تعريف او تفسير نه شو وړاندې کولې.
په دې کښې هيڅ شک نشته چې د ځمکې او اسمان مفهوم زمونږ لپاره پوره پوره روښانه او واضح دے، په داسې حال کښې چې له مونږ څخه ډېر کسان نۀ شي کولې چې د ځمکې او اسمان پوره او منطقي تعريف بيان

[1]. سوره آل عمران: ٦٤ ايت

کړي او زياته تشريح يې وکړي، خو د پوره تعريف نه کولو مطلب دا نه دے چې کله مونږ د دې دوو څيزونو نومونه واورو نو زمونږ ذهن ته، د دې دوو څيزونو يعنې زمکې او اسمان شکل، نه راځي نه داسې نه ده.
د عبادت او پرستش ټکے هم د زمکې او اسمان د ټکي په شان دے چې زمونږ د هغه په حقيقي معنې پوهه يوو که څه هم خپل درک د هغه د منطقي تعريف په قالب کښې نۀ شو اچولې.
لکه څنګه د «عبادت» او «تعظيم» او يا «پرستش» او «نمانځلو» واقعي مصداقونه مونږ لره روښانه دي او د هر يو مصداق له بل مصداقه جدا کول يو ډېر اسان کار دے.
هغه زړۀ بائېلونکے عاشق چې د خپلې معشوقې د کلي يا د کور دروازه او ديوال ښکلوي او يا د معشوقې لباس او قميص خپلې سينې ته نزدې کوي او يا پس له مرګه، د خپلې معشوقې قبر او د قبر خاوري ښکلوي. په دنيا کښې يو قوم هم داسې نشته چې دې عاشق ته ووائي چې دا تۀ د معشوق عبادت کوې. د هغو کسانو عمل او کار چې د دنيا غټو او لوړو مشرانو مومياېي جسمونه چې په هغو ډېر ګران دي ليدلو لپاره ځي يا د هغو کسانو کورونو يا څيزونو ليدنې لپاره ځي او د هغو په احترام کې څو منټه خاموشي اختياروي او مراسم تر سره کوي، هيڅوک د دوي دې عمل ته عبادت او پرستش نه وائي که څه هم د هغوي د مينې څرګندوالے هماغه شان وي لکه چې د خدا ے عبادت کوونکي د خدا ے عبادت کوي بيا هم د هغو عبادت نه حسابيږي. د دې بحث په حقله يوازې هغه کسان فيصله او قضاوت کولې شي چې ضمير يې ويښ وي لپاره د دی چې «احترام او تعظيم» له «عبادت او پرستش» نه جدا کړي.

له همدې امله که غواړو د عبادت په منطقي صورت تعريف وکړو او وې جاجوو، نو د هغه درې ډوله تعريف کولې شو چې هغه درې تعريفونه يو هدف او مقصد لري خو له دې مخکښې هغه دوه تعريفونه راوړو چې وهابيان ورسره استدلال کوي:

الف- عبادت يعنې خضوع او سر ټيټونه
د لغت په کتابونو کې، د « عبادت » معنا « خضوع » او « ذلت څرګندونه» راغلي ده[1] خو داسې معنا د عبادت دقيقه، سمه او پشپړه معنا نشي بيانولې ځکه چې:

۱ ـ که عبادت د خضوع او تذلل سره په يو معنا وي نو بيا په دنيا کښې د هيڅ چا لپاره د توحيدلېبل او شناختي کارډ نه شو جوړولے او يو کس ته هم موحد يعنې د يو خدا ے منوونکے نۀ شو ويلے ځکه چې انسان په فطري توګه د نورو غټو او لوړو کسانو د مادي او معنوي کمال په مخکې خشوع او خضوع کوي لکه يو زده کوونکے او طالب علم د استاذ په مخکښې، زوې د مور او پلار په مخکښې، عاشق انسان د خپل معشوق او محبوب په مخکښې وغېره .....

---

[1] . په قران پاک کښې عبادت هم په ځينو موردونو کښې په دې معنا راغلے دے ؛لکه دا چې «وَتِلكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّها عَليّ أنْ عَبّدْتَ بَنِي اِسْرائِيلَ» (د شعراء سورت: ايت ۲۲) ؛ «ايا دا هم نعمت دے چې په ما دې احسان وکړ چې د بني اسراييل دې خوار او ذليل کړي دي ؟»

۲ ـ قران پاک زامنو ته دا حکم ورکوي چې د مور او پلار په مخکښې خپل لاسونه په ذلت سره ټيټ کړي په هغه ځاے کښې چې فرمايي
«وَاخْفَضْ لَهُما جُناحَ الذُّلِّ مِنَ الرّحْمَةِ وَقُلْ رَبِّ ارْحَمْهُما كَما رَبّياني صَغيراً»[۱]
«خپل لاسونه په ډيرې مينې سره د هغوي (مور او پلار) په مخکښې ټيټ کړئ او ووايئ چې: خدايا! په هغو باندې رحم وکړې هماغه شان چې په ماشوموالي کښې يې زما تربيت کړے ؤ (او په ما يې رحم کړی ؤ)»
که له خوارۍ او ذلت سره خضوع د سړي د عبادت نښه وې نو مطيع بچي بايد مشرک ګڼلې کيدې او عاق کيدونکي بچيان موحد منلې شوي وې.

ب ـ عبادت؛ نۀ ختميدونکې خضوع!
يو شمېر مفسران چې کله د لغت د خاوندانو په نيمګړې معنا او تفسير اګاه شول نو په دې پسې شول او د عبادت تعريف يې دا وکړ چې: «د کمال او لوړاوي په احساس سره نه ختميدونکې خضوع !»
داسې تفسير له وړومبي تفسير نه څه کم نه دے ځکه چې: خداے تعالی فرښتو ته حکم ورکړ چې حضرت ادم عليه السلام ته سجده وکړئ لکه وې فرمايل:

«وَاِذْ قُلْنا لِلْمَلائِكَةِ اسْجُدُوا لادَمَ فَسَجَدُوا الاّ اِبْليسَ»[۲]
«او ياد کړئ هغه وخت چې کله مو فرښتو ته وويل: چې ادم ته سجده وکړئ نو ټولو سجده وکړه خو يو ابليس سجده ونه کړه.»
د يو بل ځيز په مخکښې سجده د تذلل او د نه ختميدونکې خضوع د څرګندونې مصداق دے که داسې کار عبادت وې نو کومو فرښتو چې سجده وکړه او خبره يې ومنله نوهغوي ته به مشرک ووايو او شيطان ته به موحد ووايو.
د حضرت يعقوب عليه السلام زامن بلکې هغه په خپله سره د ګرانې ميرمن د يوسف عليه السلام د عظمت او لوړاوي په مخکښې په سجده شو لکه چې په قران پاک کې فرمايي:

«وَخَرُّوا لَهُ سُجّداً وَقالَ يا اَبَتِ هذا تأْويلُ رُؤْيايَ مِنْ قَبْلُ قَدْ جَعَلَها رَبّي حَقّاً.»[۳]
« ټول د حضرت يوسف عليه السلام په مخکښې په سجده پرېوتل او يوسف عليه السلام وويل: (دا ستاسو سجده او د يوولسو ورونړو سجده) د هغه خوب تعبير او تأويل دے چې مخکښې مې ليدلے ؤ.»
قران شريف د يوسف عليه السلام خوب چې په کوچنيوالي او ماشوموالې کې يې ليدلے ؤ نقلوي ان تر دې چې فرمايي:

«اِنّي رَأَيتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوكَباً وَالشّمْسَ وَالْقَمَرَ رأَيتُهُم لِي ساجِدِينَ»[۱]

---
۱. سوره اسراء : ايت ۲٤
۲. سوره بقره : ۳٤ ايت
۳. سوره يوسف : ۱۰۰ ايت

«یولس ستوري او سپوږمۍ او نمر مې ولیدل چې ما ته یې سجده کوله.»
ټول مسلمانان د خانه کعبې څنګ ته لګیدلي حجر الاسود د خپلو موحدو پیشوایانو په تیره بیا د حضرت محمد (صلّي الله علیه وآله) په پیروۍ کولو سره هغه کاڼې ښکلوي او وربانديې لاس راکاږي؛ بالکل همدغه کار بت پرست کسان له خپلو بتانو سره کوي خو بیا هم زمونږ دغه کار اصلي او حقیقي توحید دے او د هغوي کار شرک دے.

دې اصل ته په پام سره، پکار نۀ دي چې د عبادت حقیقت یوازې په عمل او تذلل او نه ختمیدونکې خضوع کښې ولټوو. که څه هم خضوع او تسلیم د عبادت له اصلي رکنونو څخه دي خو عبادت په دې عنصر کښې محدود او بس نه دے، بلکې دا خضوع او تذلل باید یوې خاصې عقیدې سره یو ځاے شي بلکې حقیقت دا دے چې که خضوع که هغه بې نهایت وي او که کم رنګ او کم وي باید له یوې خاصې عقیدې څخه سرچینه ولري نو هله ورته «عبادت» ویلې شي او په حقیقت کښې همدا عقیده ده چې عمل ته مو خدائي رنګ او د عبادت رنګ ورکوي که چرې عقیده سمه نه وي نو هغه عمل بیا عبادت نه دے.

د عبادت وړومبے تعریف:
عبادت هغه عملي یا لفظي یا زباني خضوع ده چې د خداے پاک په «الوهیت» باندې له عقیدې څخه سرچینه اخلي.
اوس دا وګورو چې «الوهیت» څه ته وایي؟ د بحث حساس او دقیق ټکے دا دے چې د الوهیت معنا په ډیرې ځیرتیا سره په لاس راوړو. الوهیت د خدائۍ په معنا دے او د اِله معنا یعني خداے. که په ځینو ځایونو کښې د «اله» ټکي معنا «معبود» بیان شوې ده نو د دې معنې مطلب دا دے چې اله ته معبود والے لازمي دے (یعني چې اله وي نو لازمي ده چې هغه به معبود هم وي) دا نه چې معبود، د اِله حقیقي معنا ده. بلکه دا چې حقیقي اِله او یا فرضي اِله په نړۍ کښې معبود ګرځېدلے او ورته عبادتونه شوي دي نو دا تصور شوے دے چې د اله معنا معبود ده. ګني په اصل کښې معبود والے د اله والي لپاره لازمي دے نه دا چې د هغه حقیقي معنا ده.
د دې مطلب روښانه ګواه چې د اله ټکي معنا خداے دے نه دا چې معبود معنا لري د توحید کلمه ده ؛ یعني لااله الاّ الله. که د «اِله» ټکے په دې جمله کښې د معبود په معنا وي نو دا کلمه به (نعوذ بالله) یوه دروغ جمله وي ځکه چې څرګنده ده چې له الله نه بغېر په زرګونو معبودان هم شته (لکه بتان وغېره). نو له دې اعتراض نه د بچ کېدو لپاره ځینو کسانو د بالحق ټکے په تقدیر کښې نیولے دے چې په دې وسیله له دغو دروغو څخه ځان وساتي نو په دې صورت کښې د دې جملې معنا دا کیږي چې: «لا معبود بالحق الاّ الله» خو د دې ټکي په تقدیرکښې نیول یو سخت کار دے.

---

[1]. سوره یوسف: ٤ ایت

زمونږ د دې تعریف په حقله روښانه ګواه، هغه مبارک ایتونه دي چې په دې اړه نازل شوي دي. د دغو ایتونو له څیړنې نه پس دا خبره په ډاګه کیږي چې عبادت هغه ګفتار یا عمل دے چې د خدا ے پاک په «الوهیت»[1] باندې له عقیدې څخه سرچینه ولري. او تر څو چې دا عقیده د یو څیز په حقله ونۀ لرلې شي نو د هغۀ تعظیم،د هغۀ په وړاندې خضوع او عاجزي د هغۀ عبادت نه حسابیږي، په دې دلیل سره چې قران پاک کله د خدای پاک د عبادت حکم ورکوي نو سمدستي ورپسې داسې فرمائې چې بې له هغه بل اله نشته لکه دا ایت:

«یا قَوْمِ اعْبُدُوا اللهَ مالَکُمْ مِنْ اِله غَیْرُهُ»[2]
«اے زما قومه! د خدا ے تعالی عبادت وکړئ، بې له هغه بل خدا ے نشته»
داسې ایتونه نهۀ (۹) ځل په قران پاک کښې راغلي دي او لوستوونکي کولې شي د اعراف سورت ۵۸،۵ او۷۳ ایتونو او د هود سورت، ۵، ٦۱ او ۸٤ ایتونو او د انبیاء سورت، ۲۵ ایت او د مؤمنون سورت، ۲۳ او ۳۲ ایتونو او د طه سورت، ۱٤ ایت ته مراجعه وکړي.
داسی تعبیرونه دا مطلب ثابتوي چې عبادت هغه خضوع او تذلل دے چې په خدا ے پاک باندې د الوهیت عقیدې څخه سرچینه اخلي خو که دا عقیده نه وي نو بیا هغه عبادت نه دے (بلکې تعظیم، درناوے او د چا د لوړ معنوي شان په وړاندې عاجزي د).
یوازې دا ایتونه نه دي چې زمونږ دا مطلب ثابتوي بلکې نور ایتونه هم شته چې په دې حقیقت ګواهي ورکوي لکه دا ایت:

«اِنَّهُمْ کانُوا اِذا قیلَ لَهُمْ لا اِلهَ اِلاّ اللهُ یَسْتَکْبِرُونَ»[3]
«هغوي هغه خلق دي چې ورته وویل شي چې بې له خدا ے تعالی نه بل خدا ے نشته نو هغوي کبر او غرور کوي.»
یعني دې خبرې ته هیڅ پام نه کوي؛ ځکه چې هغوي د نورو موجوداتو او څیزونو په الوهیت باندې عقیده لري.

«اَمْ لَهُمْ اِلهٌ غَیْرُ اللهِ سُبْحانَ اللهِ عَمّا یُشْرِکُونَ»[4]
«آیا د هغوي لپاره بې له خدایه بل الله شته، پاک دے خدا ے له هر هغه څه چې دوي ورسره شریک جوړوي»
په دې ایت کې د شرک معیار دا معرفي شوے دے چې انسان د بل څیز په الوهیت عقیده ولري.

---

[1] . د بتانو د خدا ے والي معنا دا نه ده چې دوي به د نړۍ او انسان خامخا خالقان ، پیداکوونکي، مدیران او مدبران وي بلکې خدا ے والے یوه پراخه معنا لري چې هم حقیقي خدا ے او هم فرضي خدایان پکښې شاملیږي کله هم چې یو څیز د خدا ے د کارونو مبدا وبالو او دا تصور او سوچ وکړو چې د خدا ے تعالی ځینی کارونه لکه شفاعت او مغفرت او بخښنه هغوي ته سپارلي شوي دي نو داسی ده لکه هغه مو خدایان ګڼلي وي خو یو داسې ورکوټے خدا ے چې د غټ خدا ے په مقابل کښې وي.

[2] . سوره اعراف: ۵۹ ایت

[3] . سوره صافات: ۳۵ ایت

[4] . سوره طور: ٤۳ ایت ، په دې اړه د سورۀ توبه، ۳٤، او د سورۀ نحل، ٦۳ ایتونو ته هم مراجعه وکړئ.

«الّذِينَ يَجْعَلُونَ مَعَ اللهِ الهاً آخَرَ فَسَوْفَ يَعْلَمونَ»[1]
«هغه کسان چې خدا ے پاک سره بل خدا ے شریکوي، نو ډیر زر به له خپلو عملونو له نتاېجو څخه خبر شي.»

«وَالّذِيْنَ لايَدْعُوْنَ مَعَ اللهِ الهاً آخَرَ»[2]
لاندیني ایتونه په دې ګواه دي چې د مشرکانو د بتانو بلنه د هغو (بتانو) د الوهیت عقیدی سره وه:

«وَاتّخَذُوا مِنْ دوُنِ اللهِ آلِهَةً لِيَكُونُوا لَهُمْ عِزّاً»[3]
« بې له خدایه، نور خدایان یې قبول کړي دي (په دې کار سره غواړي چې) د هغوي د عزت عامل به وګرځي!»

« أئِنّكُمْ لَتَشْهَدُونَ أَنّ مَعَ اللهِ الِهَةً أُخْرى »[4]
«آیا تاسو دا ګواهي ورکوئ چې بې له خدایه نور خدایان هم شته؟»

« وَاِذْ قالَ اِبْراهِيمُ لِأَبِيهِ آزَرَ أَتَتّخِذُ أَصْناماً آلِهَةً »[5]
« کله چې ابراهیم خپل پلار آزر ته وویل: آیا بتان خپل خدایان جوړوې؟»
هغو ایتونو ته په مراجعې سره چې د بت پرستانو د شرک خبره پکښې راغلې ده، دا حقیقت په ډېر ښه ډول څرګندیږي چې د بت پرستانو د شرک علت دا ؤ چې په خپلو معبودانو یې د الوهیت عقیده لرله او هغه معبودان چې د خدا ے پاک مخلوق وو د خدا ے په شان یې ګڼل او دا به یې ویل چې که څه هم دا مخلوق دي خو خدا ے پاک خپل ځیني کارونه دوي ته سپارلي دي (او دوي د هغو کارونو په ترسره کولو کښې خپلواکه دي) او هم له دې امله یې د هغو عبادت کوۀ. د هغوي د همدې الوهیت او د خدائی د عقیدې له کبله وو چې کله هم هغوي ته د یو خدا ے د منلو بلنه کیدا نو هغوي به انکار کوۀ او که بیا یې د هغۀ لپاره یو شریک ګرځولے او ورته یې بللې نو بیا یې ورباندې ایمان راوړۀ، لکه همدا خبره په لاندیني ایت کښې راغلې ده:

«ذلِكُمْ بِأنّهُ اِذا دُعِيَ اللهُ وَحْدَهُ كَفَرْتُمْ وَاِنْ يُشْرَكْ بِهِ تُؤْمِنواُ فَالْحُكْمُ للهِ الْعَلِيّ الْكَبِيرِ»[6]
«دا په دې خاطر دي چې کله یوازیني او واحد خدا ے پاک ته وبللې شي نو بیا ترې انکار کوي خو که بیا د هغۀ (خدا ے) لپاره یو شریک جوړ کړي نو بیا ورباندې ایمان راوړي خو یاد ولرئ چې حکومت یوازې د لوے او عظیم خدا ے د ے.»
اروا ښاد مرحوم آیة الله شیخ محمد جواد بلاغي په خپل ګران بیه تفسیر (آلاء الرحمان) کښې کله د عبادت په تفسیر لګیا کیږي نو د عبادت داسې تعریف کوي:

---

[1] . سوره حجر : ۹٦ ایت
[2] . سوره فرقان : ٦٨ ایت
[3] . سوره مریم : ۸۰ ایت
[4] . سوره انعام : ۱۹ ایت
[5] . سوره انعام : ۷٤ ایت
[6] . سوره غافر : ۱۲ ایت

«العِبادَةُ مايَرَونَهُ مُستَشعِراً بِالخُضُوع لِمَنْ يتّخِذُهُ الخاضِعُ الِهاً لِيُوفيه بِذلِکَ مايَراهُ لَه مِنْ حَقِّ الإمْتياز بِالْإلهِيّةِ»[1]
«عبادت هماغه عمل دے چې د هغه کس په مقابل کښې د انسان د خضوع ښودنه کوي چې هغه يې ځان لپاره الهٔ او خداے ټاکلے وي لپاره د دې چې د هغهٔ د الوهيت مقام درلودلو په وجه د هغهٔ د عظمت او لوړتيا حق ادا کړي.»

مرحوم بلاغي د عبادت په هکله خپل وجداني سوچ د په الفاظو کښې راوستے او بيان کړے دے او تېر شوي ايتونه پوره پوره ددې تعريف تائيدوونکي او په سموالي يې دلالت کوي.

بزرگوار استاذ اروا ښاد حضرت آيت الله العظمی امام خميني ـ رحمت الله عليه ـ هم په خپل ارزښتمن کتاب (کشف الأسرار) کښې همدغه نظر خوښ کړے دے او فرمائي:

عبادت په عربۍ کښې او پرستش په فارسۍ کښې، د دغو دواړو تعريف دا دے چې: «څوک په دې عنوان چې خداے دې وستايې که هغه د لوے خداے په عنوان وي او که هغه د وړوکي خداے په عنوان وي.»[2]
په دې تعريف باندې روښانه او څرګند ګواه د هغو ټولو ايتونو مطالعه کول دي چې کوم ايتونه شرک سره د مبارزې په حقله راغلي دي او ټولو مشرکو فرقو چې د څه شي په مقابل کښې هم خضوع او عبادت کوهٔ هغه ټول يې د ځان لپاره «اِله» (خدايان) ګڼل؛ که هغه لوے خداے وې او که هغه وړوکے خداے، حقيقي خداے وې او که مجازي خداے. او د خداے په عنوان سره به يې هغو ته سر ټيټوهٔ او تذلل به يې ورته کوهٔ.
او د دې تعريف کنجي دا ده چې ايتونو ته په مراجعي سره څرګنده کړو چې «اِله» د «خداے» په معنا دے نه دا چې د «معبود» په معنا دے او په خداے والي کښې دا بس دے چې د عبادت کوونکي په نظر کښې هغه د حقيقي خداے د ځينو کارونو او افعالونو بااختياره مالک شي که څه هم هغه پخپله مخلوق وي خو د خداے تعالی يو کار يا څو کارونه هغه ته سپارلي شوي وي لکه د جاهلو عربو د ځينو بتانو خبره هم داسی وه. (چې هغوي به ويل چې خداے تعالی خپل ځينې کارونه دوي ته سپارلي دي)

د عبادت دويم تعريف:
عبادت هغه کس ته خضوع کول دي چې کوم کس مونږ خپل «ربّ» بولو.
مونږ کولې شو چې کوم مطلب مونږ ته له «عبادت» ټکي څخه په ذهن کې راځي په بل قالب کې واچوو او ووايو چې: «عبادت، ګفتاري او يا عملي خضوع ده چې د انسان د ربوبيت له عقيدې سرچينه اخلي او د عبوديت ټکے د ربوبيت په مقابل کښې دے کله هم، چې يو انسان خپل ځان عبد (بنده) او غلام او بل کس خپل تکويني رب

---

[1] . تفسير الأ الرحمان، صيدا خپرندويه ، ۱ ټوک ، ۵۷ مخ
[2] . کشف الاسرار ، ۲۹ مخ

وګڼي خواه هغه د هغهٔ رب وي او که نه او په دې عقيدې سره د هغهٔ په مقابل کښې سر ټيټ کړي او خضوع وکړي نو دې عمل ته عبادت ويلې شي.
له هغو ايتونو چې اوس يې بيانوو، دا استفاده کولې شو چې عبادت د ربوبيت له قسمونو څخه دے، اوس ځينو ايتونو ته اشاره کوو:

«وَقالَ الْمَسِيحُ يا بَني اِسْرائيلَ اعْبُدُوا اللهَ رَبّي وَرَبَّكُمْ»[1]
«عيسی وويل اے بني اسرائيلو، د خداے تعالي عبادت وکړئ ځکه چې هغه زما او ستاسو رب دے.

«اِنَّ اللهَ رَبّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هذا صِراطٌ مُسْتَقيمٌ»[2]
«خداے پاک زما او د ستاسو څښتن دے، پس د هغهٔ عبادت وکړئ ځکه چې همدغه صراط مستقيم (نيغه لار) دے.»
دا مطلب په نورو ايتونو کښې هم ذکر شوے دے. په ځينو ايتونو کښې عبادت د خالقيت له قسمونو بيان شوے دے لکه چې فرمائي:

«ذلِكُمُ اللهُ رَبُّكُمْ لا اِلهَ اِلاّ هُوَ خالِقُ كُلِّ شَيء فَاعْبُدُوهُ»[3]
«همدغه الله ستاسو رب دے، بې له دهٔ بل معبود نشته هغه هر څه پېدا کړي دي نو بس د هغهٔ عبادت وکړئ.»

«ربّ» څه ته وايي؟
په عربي لغت کښې، رب هغه کس ته ويلې شي چې د څه څيز تدبير او مشري هغه ته وسپارلې شي او د هغه څيز تقدير د هغه کس لاس کښې وي نو بس که په عربي لغت کښې، د کور مالک ته يا د ماشوم دائي او د زمکې زميندار ته «ربّ» ويلې شي، نو په دې وجه ده چې د دغو څيزونو واک هغوي ته سپارلے شوے دے او د هغه قسمت د هغوي په لاسو کښې دے که مونږ خداے پاک خپل رب ګڼو نو په دې وجه دي چې زمونږ د هر څه قسمت او تقدير که هغه زمونږ وجود وي که ژوند او مرګ وي که رزق او روزي وي که قانون او شريعت وي او که مغفرت او بخشش وي د هغهٔ په واک او اختيار کښې دي، نو که اوس څوک دا سوچ وکړي چې زمونږ د ځينو چارو واک ،چې زمونږ تقدير سره تړلي دي د بل چا په لاس کښې دي لکه دا چې خداے زمونږ د ژوند او مرګ چاره يا رزق او روزي يا قانون ګزاري يا داسې نور څيزونه بل چا ته سپارلي دي؛ په دا ډوال چې هغه کس د دې چارې واک په خپلواکه توګه په لاس اخېستے دے، نو په داسې صورت کښې مو هغه خپل «رب» ټاکلے دے او که مونږ په همدې عقيدې سره هغه ته سر ټيټ کړو يا ورته خضوع وکړو نو په حقيقت کښې مو د هغهٔ عبادت کړی دے.
په نورو الفاظو کښې: عبادت او پرستش د بندګۍ له احساسه سرچينه اخلي او د بندګۍ حقيقت همدا دے چې انسان خپل ځان مملوک او د لوړ مقام څښتن د خپل وجود ، د خپل ژوند او مرګ، د خپلې روزۍ او رزق مالک

[1] . سوره مائده : ۷۲ ايت
[2] . سوره آل عمران : ۵۱ ايت
[3] . سوره انعام : ۱۰۲ ايت

وبلي یا لږ تر لږه د مغفرت مالک[۱] یا د شفاعت [۲] او یا د قوانینو او احکامو جوړولو مالک او واکمن[۳] وبلي، نو په داسې صورت کښې مو هغه خپل رب تصور کړے دے او هر یو کس چې دا ډول احساس له خپلې ژبې یا له خپل عمله څرګند کړي او خپله عقیده او احساس د عمل یا د ګفتار په صورت کښې بیان کړي، نو بې شکه چې د هغه عبادت یې کړے دے.

## د عبادت دریم تعریف

د عبادت دریم تعریف هم کېدې شي او خپل ذهني مفهوم د تعریف په قالب کښې واچوو او هغه دا دے چې:
عبادت داسې خضوع ته وائي چې د بل کس په مخکښې وشي او هغه کس یا خداے وبلو او یا د خداے پاک د کارونو مبدا وبلو او یا داسې فکر وکړو.
یو خوا په دې خبره کښې شک نشته چې هغه کارونه چې د نړۍ او جهان د پنځولو او خلقت سره تړلي دي لکه د جهان د چارو تدبیرول، د خلقو ژوندي کول او مړهٔ کول، انسانانو او نورو جاندارو ته روزي ورکول، د ګناهونو بخښل او معاف کول وغېره د خداے پاک لخوا دي. که د دې چارو په حقله د قران پاک د مبارکو ایتونو [۴] مطالعه وکړو نو وبه ووینو:
چې قران پاک په ډېر پخلي سره داسې کارونه د خدا تعالی لخوا بلي او د داسې کارونو بل کس ته له نسبت ورکولو څخه په کلکه مخ نیوے کوي.
بل خوا پوهیږو چې دا جهان او نړۍ یو منظم جهان دے او کوم کار هم چې په دې جهان کښې تر سره کیږي بې له سببه، چې هغه ټول سببونه خداے تعالی ته ګرځي، سر ته نه رسي.
او قران پاک په خپله په مختلفو موردونو کښې د دې کارونو علتونو ته چې بې له خداے بل څه دي خو دا علتونه هم د خداے په حکم سره کار کوي او علت جوړیږي مثلا قران پاک په ډېر پخلي سره دا بیانوي چې مرګ او ژوند د خداے تعالي په اختیار کښې دی لکه فرمائي:

«وَهُوَالّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ وَلَهُ اخْتِلافُ اللّيْلِ وَالنّهار »[۵]
«هغه دے چې ژوند ورکوي او مرګ ورکوي او شپه او ورځ د یو بل په ځاے راولي»

خو همدغه قران پاک په نورو ایتونو کښې فرښتې ممیت (سا اخستونکي) بلي او داسې فرمائي:

«حَتّي اِذا جاءَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ تَوَفّتْهُ رُسُلُنا»[۱]

---

۱ . «وَمَنْ يَغْفِرُ الذّنُوبَ اِلاّ اللّٰهُ» (سوره آل عمران : ۱۳۵ ایت)
۲ . «قُلْ لِلّٰهِ الشّفاعَةُ جَمِيعاً» (سوره زمر: ایت ٤٤)
۳ . «اِتّخَذُوا اَحْبارَهُمْ وَرُهْبانَهُمْ أَرْباباً مِنْ دُونِ اللّٰهِ» (سوره توبه : ۳۱ ایت )
۴ . سوره قصص : ۷۳ ایت ؛ سوره نمل : ٦٠-٦٤ ایتونه ؛ سوره زمر: ۵ او ٦ ایتونه
۵ . سوره مؤمنون : ۸۰ ایت

«کله چې د یو کس د مرګ وخت راشي نو زمونږ (لیږلي شوي کسان (فرښتې) له هغهٔ سا اخلي.»

له همدې امله د دې ټولو خبرو د راټولولو په حقله داسې وایو: «د دې مادي او غیر مادي طبیعي علتونو فاعلیت او سببیت لکه فرښتې د خدا ے په حکم او اجازې سره دي او خپلواک فاعل هماغه خدا ے تعالی د ے» او په نورو ټکو کښې به داسې ووایو: «چې دا دوه فاعلونه د یو بل څنګ او عرض کښې نهٔ دي بلکې د یو بل په اوږدو او طول کښې دي چې یو خپلواکه فاعل دي او بل فاعل باالتبع او دا د قران پاک له لوړو تعلیماتو څخه دي چې د خدا ے پاک د افعالو په حقله د قران پاک د ایتونو د مطالعې نه پس په لاس راځي. له همدې مله که یو کس د الله تعالی افعال له هغه جدا کړي او ووائي چې دا کارونه د نوراني کسانو لکه فرښتو یا اولیاؤ ته سپارلې شوي دي او په دې عنوان سره د هغوي مخې ته درناو ے وکړي نو بېشکه که په دې عقېدې سره د یو کس په مخکې خضوع وکړي نو یقینا چې د هغهٔ خضوع عبادت د ے او د هغهٔ عمل په عبادت کښې شرک حسابیږي.

په نورو ټکو کښې به داسې ووایو چې که انسان دا عقیده ولري چې الله تعالی د دې کارونو واک دغو پاکو کسانو ته سپارلے د ے او هغوي نور نو په خپلواک او خپلې مرضۍ سره دا کارونه تر سره کوي. نو په داسې صورت کښې هغوي د خدا ے تعالی ((مثل)) او ((نِدّ)) جوړ کړ او په دې کښې شک نشته چې داسې عقیده عین شرک او له هغوي څخه په دې عقیدې سره هره یوه غوښتنه او هغوي ته خضوع کول د هغوي عبادت او پرستش د ے لکه چې قران پاک داسې فرمائي:

«وَمِنَ النّاسِ مَنْ يَتّخِذُ مِنْ دُونِ اللهِ اَنْداداً يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللهِ»[2]

«او له خلقو څخه ځینې داسې دي چې د خدا ے په ځا ے د هغهٔ غوندې نور (شریکان) د عبادت لپاره ټاکي او له هغوي سره د خدا ے غوندې مینه کوي.»

هیڅ شے او موجود داسې نهٔ شي کېدې چې حتی په فکر او ذهن کښې هم د خدا ے تعالی «نِدّ»، «مثل» او شریک جوړ شي مګر دا چې په خپل کار او یا کارونوکښې خپلواک او تام الاختیار (مکمل اختیار لرونکي) وي خو له دې علاوه وي یعنې د الله تعالی په اذن او اجازې او حکم سره کار وکړي نو هغه نه یوازې دا چې د هغه نِدّ ، مثل او شریک نه د ے بلکې داسې مطیع او پیروکار د ے چې د هغه (الله تعالی) په حکم خپله وظیفه او فریضه ادا کوي.

د پېغمبراکرم د زمانې مشرکان، د هغو څیزونو یا کسانو په حقله چې یې نمانځل او عبادت یې کوهٔ په الهي چارو تر سره کولو کښې د یو ډول خپلواکۍ معتقد وو.

د جاهلیت په دور کښې د شرک ورکوټې عقیده، دا وه چې ځینو کسانو دا فکر کوهٔ چې د قانون او شریعت جوړولو حق یوازې پوهانو (دانشمندانو) او راهبانو (د عیسایانو ملایانو) ته حاصل د ے[3] او یا یې دا سوچ کوهٔ چې د شفاعت او مغفرت حق چې د خدا ے تعالی مخصوص حق د ے، د هغوي بتانو او خدایانو ته ورکړ ے شو ے

---

[1] .سوره انعام: ٦١ ایت

[2] . سوره بقره ١٦٥ ایت

[3] . سوره توبه: ٣١ ایت «اِتّخَذُوا اَحْبارَهُمْ وَرُهْبانَهُمْ اَرْباباً مِنْ دوُنِ اللهِ»

دے او هغوې په دې کار (شفاعت او مغفرت) کښې خپلواکه دي له همدې امله شفاعت سره مربوط او تړلي ایتونه په دې باندې پخلے کوي چې د الله تعالی له اذن او اجازې نه بغېر هیڅوک هم شفاعت نه شي کولې[1] که د هغوي عقیده دا وې چې د هغوي معبودان او خدایان د خداے تعالی په اذن او اجازې سره شفاعت کولې شي نو بیا په قران پاک کې د الله تعالی د اذن نه بغیر د شفاعت په نفي کولوباندې دومره زیات پخلے ضروري نه ؤ.
د یونان ځینې حکیمانو او پوهاندو د نړۍ د هر یو څیز لپاره بلکې هر یو قسم لپاره یو خداے ټاکلے ؤ او دا فکر او سوچ یې کوۀ چې د دې کار واک (چې خداے تعالي سره مخصوص دے) دوي ته سپارلے شوے دے (لکه د باران لپاره بیل خداے او زلزلې لپاره بیل خداے وغېره ....) د جاهلو عربو هغه ډله چې فرښتو او ګرځنده ستوري او په ځاے ولاړ ستوري یې منل او د هغو عبادت یې کوۀ په دې وجه وو چې هغوي داسوچ کوۀ چې د دې پنځوونکي جهان د چارو او انساني چارو واک هغو (فرښتو او ستورو) ته سپارلے شوے دے او خداے پاک په دغو چارو کښې هیڅ ډول کار نۀ لري او دغه فرښتې او ستوري په مستقله او خپلواکه توګه د دې نړۍ د چارو مالکان او خاوندان دي.[2] له دې امله د هر ډول خضوع او خشوع چې په دې عقیدې سره یو ځاے وي او پکې دا احساس موجود وي، هغه عبادت او پرستش دے او حرام دے.
د جاهلو عربو یوې بلې ډلې، په داسې حال کښې چې د لرګي او اوسپنې بتان یې خپل خالقان او پنځوونکې یا د جهان او انسان مدبران نۀ ګڼل خو هغوي یې د شفاعت په مقام کښې خپلواکه مالکان او خاوندان ګڼل او داسې به یې ویل چې:

«هؤُلاءِ شُفَعاؤُنا عِنْدَ اللهِ»
« دوي د خداے په درګاه کښې زمونږ شفیعان دي»[3]
د همدې باطل فکر په بنیاد چې هغوي یې د شفاعت په مقام کښې مالکان ګڼل نو د هغوي عبادت به یې کوۀ او د هغوي عبادت یې د خداے تعالی درګاه ته د تقرب او نزدېکت وسیله ګڼله او داسې به یې ویل:

«ما نَعْبُدُهُمْ اِلاّ لِیُقَرِّبُونا اِلَي اللهِ زُلْفي»[4]
«مونږ (د بتانو) عبادت ځکه کوو چې دا کار د خداے تعالی سره د نزدېکت وسیله ده»

لنده دا چې هر یو عمل چې له داسې احساساتو څخه سرچینه ولري نو دا د هغه کس عبادت ګڼلے شي او د هغۀ په وړاندې هر یو کار او عمل چې له داسې عقیدې یې سرچینه نه وي او انسان یې له داسې عقیدې د یو څیز او کس درناوے وکړي یا د هغۀ په وړاندې خضوع وکړي نو دا په عبادت کښې نه راځي: لکه دا چې عاشق معشوق ته په سجده پریوزي یا یو سپاهي خپل قوماندان ته په سجده پریوزي یا ښځه خپل خاوند ته په سجده پریوزي وغېره نو دا عبادت او پرستش نۀ دے که څه هم د اسلام په مبین دین کښې دا کار حرام دے ځکه چې د خداے تعالی د

[1] . سوره بقره : ۲۵۵ ایت ، «مَنْ ذَا الَّذي یَشْفَعُ عِنْدَهُ اِلاّ بِاِذْنِه»
[2] . ملل و نحل: ۲ ټوک ، ۲٤٤ مخ
[3] . سوره یونس: ۱۸ ایت
[4] . سوره زمر: ۳ ایت

اذن او اجازې نه سوا حتی د بل څیز یا کس په وړاندې د عبادت شکل او صورت هم نهٔ شي جوړولې مګر دا چې د الله تعالی په اذن سره وي. (لکه حضرت ادم علیه السلام ته د فرښتو سجده چې د الله تعالی په اذن او حکم سره وه)

**د بحث نتیجه**

تر دې ځاے پورې مو تاسو د عبادت له حقیقت سره تر یو حده پورې اشنا کړئ اوس لازمه ګڼم چې له دې بحثه نتیجه واخلوو او هغه دا چې که یو کس د بل انسان په مخکښې عاجزي،خضوع او تواضع وکړي خو نهٔ هغه خداے وګڼي او نهٔ یې رب وبولي او نهٔ یې د خداے پاک د کارونو مدبر بلکې د هغهٔ احترام او درناوې له دې امله کوي چې هغوي:

«عِبادٌ مُکْرَمُونَ لايَسْبِقُونَهُ بِالْقَولِ وَهُمْ بِأَمْرِهِ يَعْمَلُونَ»[1]

«د خداے تعالی نېک بندګان دي په خبرو کښې له الله تعالی څخه نهٔ مخکښې کیږي او د هغه په حکم باندې عمل کوي.»

نو یقیناً داسې کار یوازې د هغهٔ احترام او تعظیم دے او بل بل څه ورته نهٔ شو ویلې.

خداے تعالی په قران پاک کښې خپل بندګان په ځینو صفتونو سره ستایلي دي چې کله دا صفتونه په یو کس کښې وي نو د نورو انسانانو زړونه غواړي چې د هغوي احترام او درناوے وکړي لکه الله تعالی فرمائي:

«اِنّ اللهَ اصْطَفَي آدَمَ وَنُوحاً وَآلَ اِبْراهِيمَ وَآلَ عِمْرانَ عَلَي الْعالَمِينَ»[2]

«بېشکه چې خداے آدم او نوح او د ابراهیم اولاد اود عمران اولاد په عالمینو غوره کړي دي.»

خداے پاک د قران پاک په نص سره او په څرګنده توګه، حضرت ابراهیم علیه السلام د امامت مقام او د خلقو د مشرۍ لپاره وټاکهٔ چې داسې فرمایې:

«قالَ اِنّي جاعِلُکَ لِلنّاسِ اِماماً»[3]

«خداے وفرمایل: زهٔ تا د خلقو لپاره امام ګرځوم.»

خداے پاک حضرت نوح او حضرت ابراهیم او حضرت داود او حضرت سلیمان او حضرت موسي او حضرت مسیح علیهم السلام او حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه واله وسلم په ډېرو ښو صفتونو سره ستایلي دي

---

[1] . سوره انبیاء ۲۶ ایت

[2] . سوره آل عمران : ۳۳ ایت

[3] . سوره بقره ۱۲۴ ایت

چې په صفتونو کښې هر يو صفت د خلقو په زړونو کښې له دوي سره د مينې او محبت کولو سبب ګرځي دومره پورې چې خدا ے پاک له ځينو سره د مينې او محبت کول واجب ګرځولي دي.[1]

که انسانان دا بندګان په ژوندون کې يا له مرګ نه پس له دې نظره چې دوي د خدا ے پاک نېک او پاک بندګان دي د هغو درناوے او احترام وکړي بې له دې چې هغوي خدايان وګڼي يا بې له دې چې هغوي داسې وګڼي چې د خدا ے په کارونو کښې لاس وهنه کولې شي د هغو احترام وکړي نو دغه احترام کول په يو قوم کښې هم عبادت او شرک نه دے او احترام کونکي ته مشرک نۀ شي ويل کېدې.

لکه تاسو ټول خبر يئ مونږ د پېغمبراکرم صلی الله عليه واله په پيروی کښې د خانه کعبې له کوټې نه تاويږو چې که په ځېر يې وګورو نو يا م کاڼي دي او يا سيمټ دي خو مونږ يې طواف کوو د دوو غرونو ترمينځ چې صفا او مروه ده سعي کوو يعني هماغه کارونه کوو چې بت پالونکي د خپلو بتانو په حقله کوي خو بيا هم تر اوسه پورې د چا په ذهن کښې دا نه دي راغلي چې مونږ په دې عمل سره د کاڼو او خاورو عبادت کوو مونږ په ګاڼو يا خاورو کښې لږه غوندې ګټه او يا زيان هم نه ګورو خو که مونږ همدغه کارونه او عملونه له دې عقيدې سره وکړو چې دا کاڼي او غرونه خدايان دي او د خدا ے پاک په چارو کښې د لاسوهنې اختيار لري نو مونږ به هم په بت پرستو کښې راځو له همدې امله د پېغمبر يا د امام لاس ښکلول يا د استاذ لاس يا د مور او پلار لاس يا د قران پاک او ديني کتابونو ښکلول يا د حرم د پنجرو او جنګلو او د هر هغه څه ښکلول چې د خدا ے پاک له نېکو بندګانو سره تعلق لري يوازې د هغو تکريم او احترام او درناوے دے. خو په هغه صورت کښې عبادت دے چې مونږ هغو ته د الوهيت يا د ربوبيت درجه ورکړو.

د هيچا ذهن ته به دا خبره نه وي راغلې چې ادم عليه السلام ته د فرښتو سجده کول يا يوسف عليه السلام ته د هغۀ د پلار او(مېرنۍ) مور او ورونړو سجده چې په قران پاک کښې هم راغلې ده[2] ګڼې د ادم عليه السلام يا د يوسف عليه السلام عبادت ؤ. د دې خبرې راز دا دے چې سجده کوونکو ادم او يا يوسف عليهم السلام په حقله د خدا ے او ربوبيت عقيده نه لرله او هغه يې خپل خدايان نه ګڼل او نه يې د جهان مدبران ګڼل بلکې دا کار يوازې د هغوي احترام او درناوې حسابيږي نه د هغوي عبادت.

وهابيان کله چې دا ايتونه وګوري نو په دې ځواب کښې وائي: دا چې دا عملونه د دغو مسجودانو عبادت نۀ شي ګڼلې علت يې دا دے چې دا عملونه د خدا ے پاک په حکم سره تر سره شوي دي.

بايد داسې ووايو چې هغوي له يو ټکي څخه غافل دي او هغه دا چې که څه هم دا ټول عملونه حتی يوسف عليه السلام ته د خپلو ورونړو سجده د حضرت يعقوب عليه السلام په مخکښې د خداي په امر او حکم سره او د هغه په مرضۍ او رضا سره وه خو په اصل کښې د عمل حقيقت عبادت او پرستش نه ؤ له همدې امله خدا ے پاک دوي ته د دې کار حکم ورکړے ؤ ګڼې که عمل په خپل ځا ے کښې د مسجودانو (چا ته چې سجده شوی وه) عبادت وې نو خدا ے تعالی به هيڅکله د دې کار حکم نه ورکوۀ.

---

[1] . سوره شوري : ۲۳ ايت ، «لا اَسئَلُکُمْ عَلَيْهِ اَجْراً اِلاّ الْمَوَدّةَ فِي الْقُربي.»

[2] . سوره ـ بقره : ۳۴ ايت ؛ سوره يوسف : ۱۰۰ ايت

«قُلْ اِنّ اللهَ لا یَأمُرُ بِالْفَحْشاءِ أتَقُولُونَ عَلَي اللهِ ما لا تَعْلَمُونَ»[۱]
«ووایه: خدا ے د بد کار حکم نه کوي آیا تاسو په خدا ے پسې هغه څه وائئ (تړئ) چې پرې نه پوهیږئ.؟!»

لنډه دا چې حکم او فرمان دعمل حقیقت نه بدلوي باید د عمل ذات او حقیقت د خدا ے پاک حکم نه وړاندې عمل غیر عبادي وي نو هله بیا د داسې کار حکم کوي. او بالکل دا سوچ او فکر هم نه شو کولې چې هغه کار او عمل چې ذاتاً عبادت وي خو د خدا ے پاک په دې حکم سره چې دا کار د یو انسان لپاره وکړې شي، له عبادته او پرستشه خارج شي. ( نوپس کوم کار چې عبادت وي ذاتاً هغه تل په عبادت کښې راځي)
دا ځواب چې مونږ د په مکه مکرمه او مدینه منوره کښې د وهابیانو له ملایانو او مشرانو ډیر ځل اوربدلے دے د دې ښودنه کوي چې هغوې په قراني تعلیماتو کښې شاتګ کوي او د قراني معارفو په شننه کښې په ځاے ولاړ دي (جمود لري) عبادت او پرستش خپل ځان ته خاص مفهوم او ماهیت لري چې کله د امر (حکم) متعلق جوړیږي او کله د نهي متعلق جوړیږي یعنې که کله یو عمل او کار په خپل ذات کښې عبادت وي نو هله خدا ے پاک د هغه د کولو حکم کوي لکه نمونځ او روژه او کله کله له هغې کار منعي او نهي کوي لکه د دواړو اخترونو په ورځ روژه نیول حرام دي او خدا ے پاک مونږ له دې کاره منعي کوي پس هر کله چې ادم علیه السلام ته د فرښتو او حضرت یوسف علیه السلام ته د یعقوب علیه السلام او د زامنو سجده په خپله د ادم او یوسف علیهم السلام عبادت وې نو په دې باندې د خدا ے پاک له لوري امر کېدل دا کار له عبادته نه وېستهٔ(بلکې د خدا ے پاک له حکم نه پس به هم دا عبادت ګڼلے شو)

د لانجې د حل کېدو اساس
پکار دي پام وکړو چې د دې لانجې او مشکل حل اساس او بنیاد زمونږ او وهابیانو تر مینځ دا دے چې د عبادت د مفهوم په تحلیل او شننه کښې توپیر او فرق دے تر څو چې د عبادت منطقي تعریف نه وي شوے او له انصاف لرونکو کسانو سره یوې موافقې ته ونرسو نو دا خبره او مشکل نه حل کیږي او دا خبره نتیجې ته نرسیږي له همدې امله محقق کس په دې برخه کښې په هغه څه باندې چې بیان مو کړل فکر وکړي او وې څیړي او د لغت د ډیرو تعریفونو چې اکثراً د عبادت ټکي د اجمالي معنا ښودنه کوي۔نه دا چې حقیقي شننه کوي۔ ورسره ونه غولیږي او په دې برخه کښې که د قران پاک په ایتونو کښې غور او فکر وشي نو دا ډېر غوره کار دے. او ښه لارښوؤنه ده.
خو افسوس چې د وهابیانو ټول لیکوالان او د لیکوالانو یوه بله ډله د هغو د عقایدو په ردولو کښې په ځاے د دې چې ټول زور په دې ټکي باندې ولګوي ټول اهمیت یې نورو او فرعي مسئلوته ورکړے دے.
لنډه دا چې وهابیان وائي: ډېر هغه عملونه چې تاسو یې د پیغمبر اکرم صلی الله علیه واله وسلم په حقله تر سره کوئ د پیغمبراکرم او یا د معصوم امام عبادت دے او د دې کار لازمه په عبادت کښې شرک دے نو بس د عبادت په صحیح تفسیر او تعریف سره هغوي لاس تشي کړو.

---

[۱] . سوره اعراف : ۲۸ ایت

اوس د مقصود او مراد روښانه کولو لپاره د هغو کارونو او عملونو بېلګې بیانوو چې وهابیان هغهٔ ته د مړي عبادت کول وائي او دا یادونه کوو چې دا ټول کارونه د نورو معمولي کارونو په شان په دوو صورتونو تر سره کېږي چې په یو صورت کښې هغه عبادت ګڼلے شي او په بل صورت کښې بالکل عبادت سره رابطه هم نه لري.

۱ ـ د خدا ے له ګران رسول (ص) او نېکو بندګانو څخه د شفاعت غوښتنه.
۲ ـ د خدا ے پاک له اولیاؤ نه شفا غوښتنه.
۳ ـ له دیني لارښوونکو او مشرانو څخه د حاجت غوښتنه.
٤ ـ د قبر د څښتن تعظیم او تکریم کول.
٥ ـ د خدا ے له ګران رسول (ص) او د هغوي له اهلبېتو څخه له معصومو امامانو نه مرسته او مدد غوښتل

هغوي داسې وائي: شفاعت د دې ایت په حکم سره: «قُلْ لِلّٰهِ الشَّفَاعَةُ جَمِیعاً» د خدا ے پاک کار د ے، هماغه شان لکه چې شفا ورکول هم د خدا ے کار د ے؛ لکه چې خدا ے پاک فرمائي: «وَاِذَا مَرَضْتُ فَهُوَ یَشْفِینِ». او هغه چې د خدا ے پاک کار د ے له خدا ے نه بغېر له بل چا غوښتل د غېر خدا ے عبادت ګڼلے شي.

د خدا ے پاک فعل څه شے د ے؟
د دې پوښتنې په ځواب کښې باید ووایو: چې د شفاعت هر ډول حق او ناروغه ته شفا ورکول، چې فاعل په دې کار کښې مستقل او خپلواکه وي(نه دا چې دا حق یې له بل ځا ے نه تر لاسه کړ ے وي او په دې کار کښې بل چا ته اړمن وي) نو داسې فعل، الهي فعل او کار د ے او له خدا ے پاک نه بغېر له بل چا نه د داسې کار غوښتنه داسې ده لکه چې په هغه کس باندې د الوهیت او ربوبیت او خدائۍ عقیده ولرې او په نتیجه کښې دا د هغهٔ عبادت حسابېږي.
خو که له چا نه د شفاعت یا شفا غوښتنه له دې عقیدې سره نه وي بلکې هغه یو داسې فاعل وګڼلے شي چې په داسې حال کښې چې د خدا ے پاک بنده د ے او په خپل کار کښې له ځان نه پاس بل طاقت سره تړلے د ے او د هغه په مشیت او مرضۍ سره کارونه کوي نو په داسې حال کښې دغه عقیده د هغه کس د خدائۍ له عقیدې سره نه ده او غوښتنه یې هم د خدائۍ د کار غوښتنه نه ده.
بالکل همدغه خبره بې له خدایه له بل چا نه د حاجت او یا د مرستې په غوښتنې کښې هم جاري ده او د حاجت غوښتنه دوه ډوله ده؛ په هغو دوو کښې یو عبادت ګڼلے شي او بل صورت یې له عبادت سره تعلق نه لري.
دا بیان او خبره نه یوازې دا چې د عبادت او غیر عبادت تر مینځ خصوصاً په دې عملونو کښې، فرق لري بلکه یوه کلي او بشپړه قاعده ده چې توحید او شرک په ټولو فاعلونو او موثراتو کښې جدا کوي.
په «اېنټي بیوټېک دارو» باندې دا عقیده لرل چې د جراثیمو په ختمولو کښې او د تبې په ختمولو کښې دغه «اېنټي بیوټېک» اثر لري دوه صورتونه لري که دغه درمل مونږ په بدن او جسم کښې په اثر کولو کښې مستقل او خپلواکه وګڼو او یو بل موجود یعنې «الله» ته یې په دې کار کښې اړمن او محتاج وَنهٔ ګڼو نو په دې صورت کې مونږ دغه «اېنټي بیوټېک» ورکوټے خدا ے ګڼلے د ے چې په خپل کارونو کښې استقلال او خپلواکي لري او که په جنون سره مو د هغه مخې ته تعظیم او احترام وکړ نو داسې ده لکه هغه مو خدا ے ګڼلے وي او زمونږ دا

عمل هم د هغه عبادت بللے شي(او شرک دے) خو که دغه «اېنتېي بيوټيک» مو يو ممکن موجود وګڼۀ چې په خپل وجود او تاثير او کار کښې د خپل ځان د پاسه يو بل طاقت سره تړلے دے او بې د خداے پاک له حکمته نه څه په وجود کښې راولي او نه بې حکمته څه کار کولې شي نو په داسې حال کښې زمونږه دا عقيده د پوخ توحيد عقيده ده. (لامُؤَثّر في الْوُجود الاّ هُو) او له هغه نه د څه شي غوښتنه له شرک او عبادت نه پاک او خالي ده.

نو بس له همدې امله يادونه کوو چې د دې لانجې او ستونزې بشپړه حل په ډېرو هغو مسائلو کښې چې چورليز يې «توحيد» او «شرک» دے، د عبادت په سم تحليل او د « الوهيت» او «ربوبيت» د معنې په پيژندلو او په تېره بيا د خداے پاک د افعالو په پيژندلو کښې دے.

بالکل همدغه شان د جاهلو عربو ټول عملونه، د بتانو د الوهيت او ربوبيت په عقيدې سره وو او هغه ټول بتان يې د خداے پاک په ځينو کارونو کښې تام الاختيار او خپلواک تصور کول چې خداے پاک د دې کارونو واک دوي ته سپارلے دے چې هر چا ته يې زړۀ غواړي شفاعت يې کوي او چا ته چې يې زړه نه غواړي د هغه شفاعت نه کوي.

دا د دې بحث لنډيز او اجمال دی هغه کسان چې غواړي دا بحث په تفصيلي توګه ولولي نو هغوي دې دوو کتابونو «معالم التوحيد» او «التوحيد و الشرک في القرآن» ته مراجعه وکړي.

*****

# يولسم باب

## د خدای د ولیانو په ژوندون کښې له هغو څخه مرسته غوښتل

دخداے پاک له ولیانو څخه د څه شي درخواست کول څو قسمه کېدې شي:
۱ ـ لکه دا چې له ژوندي سړي وغواړو چې د کور په جوړولو کښې زما مرسته وکړي یا د اوبو له هغه لوښي نه چې د هغهٔ په څنګ کښې دے مونږ ته اوبهٔ راکړي.
۲ ـ له ژوندي کس نه وغواړو چې زمونږ لپاره دعا وکړي او زمونږ لپاره له خدایه د ګناهونو بخښنه وغواړي. دواړه قسمونه په دې شي کښې شریک دي چې غوښتنه له سړي شوې ده له هغه نه مونږ داسې یو کار غواړو چې سل فیصده د هغهٔ په واک کښې دے خو فرق دا دے چې وړومبۍ غوښتنه دنیاوي چارو سره تړل ده او دویمه له دیني او اخروي چارو سره تړلې ده.
۳ ـ له ژوندي سړي وغواړو چې له عادي او مادي سببونو نه بغېر څه کار تر سره کړي مثلا بې له درملو ناروغه ته شفا ورکړي، یا ورک شوے کس پېدا کړي یا زمونږ قرض ادا کړي او په نورو ټکو کښې به داسې ووایو چې دا ترې وغواړو چې معجزې او کرامت سره بې له څه مادي او عادي سببونو زمونږ حاجت پوره کړي.
٤ ـ مسؤول او هغه کس چې ترې درخواست کوو هغه ژوندے نهٔ دے خو دا عقیده لرو چې په بل جهان کښې ژوندے دے او روزي خوري، له داسې کس څخه غواړو چې زمونږ لپاره دعا وکړي.
٥ ـ له داسې کس نه درخواست کوو چې د هغه معنوي طاقت په وسیله چې خداے پاک هغه ته ورکړے دے زمونږ مریض او بیمار ته شفا ورکړي یا ورک شوے کس پېدا کړي وغېره

دغه دوه صورتونه د دویم او دریم صورتونو په شان له ژوندي کس نه حاجت غوښتل دي خو فرق يې دا دے چې په دویم او دریم صورت کښې مسوول او چې له چا درخواست کیږي هغه ژوندے دے خو په دې مادي جهان کښې او په دغو اخیري دوو صورتونو کښې په ظاهره خو مړهٔ دي خو په بل جهان کښې ژوندي دي.
له داسې کس نه بالکل درخواست نه کیږي کوم کس چې د حاجت پوره کولو لپاره له مادي او عادي سببونو استفاده کوي ځکه چې مونږ دا فرض کړے دے چې هغه له دې دنیا تلے دے او له عادي او ظاهري سببونو يې

لاس لنډ شوے دے پس په دې صورت کښې ټول قسمونه پنځه دي چې په دريو صورتونو کښې درخواست له داسې کس دے چې په دې مادي جهان کښې موجود دے او ژوندے دے او دوه صورتونه داسې کسانو سره تړلي دي چې هغوي ژوندي دي خو په بل جهان کښې دي.
مونږ په دې جهان کښې موجود له ژوندي کس نه د درخواست او غوښتنې حکم په دې برخه کښې بيانوو او د خدا ے پاک له اولياؤ څخه د مرستې غوښتلو حکم (هغه اولياء چې په بل جهان کښې ژوندي دي) په بلې برخې کې بيانوو.

اوس د وړومبۍ برخې د هر درې واړو حکمونو بيان:

وړومبے صورت

له يو ژوندي کس نه د مرستې غوښتل په داسې چارو کښې، چې طبيعي او عادي اسباب لري، د انسان د تمدن اساس دے ځکه چې په دې خاکې جهان کښې د انسان ژوند په تعاون او همکارۍ سره پياوړے دے او د دنيا ټول عاقلان د ژوند په مختلفو چارو کښې له يو بل مرسته او مدد اخلي او د دې صورت حکم خو داسې څرګند او واضح دے چې هيڅوک هم په دې کښې شک او شبهه نۀ لري او لپاره د دې چې زمونږ بحث قراني او حديثي دے د يو ايت په نقلولو بسنه کوو:

«ذوالقرنين» د ياجوج او ماجوج د تېري او تجاوز په مقابل کښې د مانع او خنډ جوړولو لپاره د سيمې خلقو ته مخه کړه او ورته يې وويل:

«فَأَعِينُونِي بِقُوَّةٍ اَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْماً»[1]
«کوم طاقت چې د ستاسو په اختيار کښې دے، له هغۀ سره زما مرسته وکړئ چې ستاسو او د هغوي په مينځ کښې څه ديوال او خنډ جوړ کړم»

دويم صورت
په مادي جهان کښې ژوندي کسانو نه د ګناهونو د مغفرت يا د خېر دعا غوښتل او خواست کول، له ژوندو کسانو څخه د داسې درخواست ټينګتيا او سموالے د قران شريف له ضروورياتو څخه دي اوکوم يو کس چې د قران شريف په حقله لږه شان اشنايي هم لري پوهيږي چې د پيغمبر اکرم صلی الله عليه واله وسلم طريقه او روش هم دا ؤ چې د خپل امت په حقله يې د بخښنې خواست کوۀ او يا امت په خپله له پيغمبرانو داسې درخواست کوۀ. اوس هغه ټول ايتونه چې په دې اړه راغلي دي دلته يې راوړو:

---

[1] . سوره کهف : ۹۵ ايت

۱ ـ کله کله خدا ے پاک خپل پیغمبر ته داسې حکم ورکوي چې د امت لپاره د بخښنې سوال او خواست وکړه، لکه:

«فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ»[۱]
«هغوي (امتیان) وبخښه اود هغوي لپاره د گناهونو مغفرت وغواړه او په خپلو چارو کښې له هغو سره سلا مشوره وکړه.»

«فَبايِعْهُنَّ وَاَسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اِنَّ اللهَ غَفُورٌ رَحيمٌ»[۲]

«ښځو سره بیعت وکړه او د هغوي لپاره له خدا ے پاک نه بخښنه وغواړه، بې شکه چې خدا ے پاک بخښوونکے، رحیم او مهربان د ے.»

«خُذْ مِنْ اَمْوالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكيهِمْ وَصَلِّ عَلَيْهِمْ اِنَّ صَلاتَکَ سَکَنٌ لَهُمْ وَاللهُ سَميعٌ عَليمٌ»[۳]
«د هغوي له مالونو څخه صدقه واخله او هغوي په دې عمل سره پاک کړه د هغوي په حق کښې دعا وکړه ځکه چې د هغوي په حقله ستا دعا د هغوي د ارامښت سبب ده او خدا ے اووریدونکے او پوهېدونکے د ے.»

په دې مبارک ایت کښې، خدا ے پاک خپل رسول ته حکم ورکوي چې د هغوي لپاره دعا وکړه او د پیغمبراکرم صلی الله علیه واله وسلم د دعا اثر دومره زر د ے چې د پیغمبر اکرم دعا نه پس خلق په باطن او زړونو کښې د ارامښت او خوشالۍ احساس کوي.

۲ ـ کله به داسې وو چې پیغمبرانو به په خپله گناه گارانو ته ژمنه او وعده ورکوله چې په مخصوص وخت کښې به د هغوي لپاره د گناهونو د بخښنې دعا کوي ؛ لکه دا چې فرمایي :

«اِلاّ قَوْلَ اِبْراهيمَ لِأَبيهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَکَ»[۴]
«خو دا چې ابراهیم خپل پلار (یعني خپل ترۀ) ته د بخښنې وعده ورکړې وه.»

«سَأَسْتَغْفِرُ لَکَ رَبّي اِنَّهُ کانَ بي حَفِيّاً»[۵]

«(حضرت ابراهیم علیه السلام وفرمایل) زۀ به ډیر زر ستا لپاره مغفرت وغواړم ځکه چې زمونږ خدا ے ډیر نیک کار کوونکے د ے.»

---

۱ . سوره آل عمران : ۱۵۹ ایت
۲ . سوره ممتحنه : ۱۲ ایت
۳ . سوره توبه : ۱۰۳ ایت
۴ . سوره ممتحنه : ٤ ایت
۵ . سوره مریم : ٤۷ ایت

«وَما كانَ اسْتِغْفارُ اِبْراهيمَ لاَِبيهِ إلاّ عَنْ مَوْعِدَة وَعَدَها اِيّاهُ»[1]
«خپل پلار (يعني ترۀ) لپاره د ابراهيم د مغفرت غوښتل، د هغې وعدې او ژمنې په وجه وو چې ابراهيم ورته ورکړې وه»

دا ايتونه د دې خبرې ځرګندونه کوي چې پېغمبرانو به ګناه کارو کسانو ته د استغفار زيرے ورکوۀ ان تر دې چې ابراهيم عليه السلام هم خپل ترۀ آذر ته داسې زيرے وکړے ۀ خو کله چې يې هغه په بت پرستۍ کښې پياوړے وليد، نو د هغۀ له مغفرت غوښتلو يې لاس واخېست؛ ځکه چې د دعا د قبلېدو په شرطونو کښې يو شرط دا هم دے چې کوم کس لپاره دعا کيږي هغه بايد موحد (د يو خدا ے منوونکے) وي نه دا چې مشرک وي.

۳ ـ خداي پاک دا حکم کوي چې هغه ايمانداره کسان چې ګناهکاره دي د خدا ے تعالى د مغفرت حاصلولولپاره د پېغمبر اکرم صلى الله عليه واله وسلم درګاه ته لاړ شي او له هغه حضرت وغواړي چې ورله مغفرت وغواړي او که پېغمبر اکرم (ص) د هغوي لپاره د بخښنې او مغفرت سوال او خواست وکړي نو خدا ے به د هغوي ګناهونه وبخښي. لکه دا ايت:

وَلَوْ أَنَّهُمْ اِذْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ جاءوكَ فَاسْتَغْفَروُا اللّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُوا اللّهَ تَوّاباً رَحيماً.[2]
«که هغو خلقو چې کله يې په خپلو ځانونو باندې ظلم وکړ(يعني ګناه يې وکړه) تا ته راغلي وې او له خدايه يې بخښنه غوښتې وې او رسول هم د دوي لپاره بخښنه غوښتې وې نو هغوي به خدا ے توبه قبلوونکے او مهربان موندۀ.»

ايا له دې نه بل روښانه ايت کېدې شي چې خدا ے پاک ګناه ګار امت ته حکم ورکوي چې د خپلو ګناهونو د بخښنې لپاره د پېغمبر اکرم لمنه ونيسئ او له هغه وغواړئ چې ستاسو د ګناهونو د مغفرت دعا وکړي؟ د پېغمبر اکرم صلى الله عليه واله وسلم درګاه ته رسېدل او د استغفار کولو غوښتنه دوه روښانه فايدې او ګټې لري:

الف: د خدا ے د ګران رسول (ص) ځخه د استغفار خواست په ګناه ګار کښې د پيروۍ او اطاعت روح ژوندے کوي او د دې سبب کيږي چې هغه د پېغمبراکرم (ص) د مقام په خاطر چې د ګناهونو د بخښنې سبب شو ے (شفيع) دے د هغۀ د لا زياتې پيروي سبب وګرځي او په هغۀ باندې د ايمان د پخلي سبب هم ګرځي په نتيجه کښې د پيغمبر په نسبت د انسان د خشوع او د خضوع سبب هم جوړيږي او انسان دې ته جوړوي او تياروي چې په «اَطيعُوا اللّهَ وَاَطيعُوا الرَّسُولَ»[3] ايت باندې د زړۀ له کومي عمل وکړي.

---

[1] . سوره توبه : ۱۴ ايت
[2] . سوره نساء : ٦٤ ايت
[3] . سوره نساء : ۵۹ ايت

ب: دا کار د امت د خلقو په ذهنونو کښې د پېغمبراکرم صلی الله علیه واله وسلم مقام او منزلت په ښهٔ توګه روښانه کوي او دا خبره ثابتوي چې هماغه شان لکه چې مادي فیوضات له خاصو اسبابو په وسیله د خدا ے پاک بندګانو ته رسي، معنوي فېض هم چې هماغه د خدا ے تعالی مغفرت د ے له مقرر او معینو اسبابو په وسیله، لکه د پیغمبر اکرم (ص) د دعا او یا د خدا ے پاک د نورو اولیاؤ د دعاګانو په ذریعه، انسانانو ته رسي.

که د اسمان نمر، د ګرمۍ، تودیدو او د انرجۍ باعث او سبب د ے او دا فیض خلقو ته د نمر په وسیله رسي نو همدا رنګ د معنوي فېض او د خدا ے لطف وسیله هم د رسالت نمر (پېغمبر) د ے او د هغهٔ په وسیله د خدا ے پاک بندګانو ته د خدا ے لطف او مهرباني رسي او دا جهان په دواړو مرحلو کښې د سبب او مسبباتو جهان د ے (یعنې بې سببه څۀ کار نه کیږي) او د خدا ے پاک مادي او معنوي لطف او فېض په دواړو جهانو کښې په سبب سره انسان ته رسي او بې سببه نه.

٤ ـ له ځینې ایتونو څخه دا استفاد کیږي چې مسلمانان به تل د پېغمبر اکرم صلی الله علیه واله وسلم خدمت ته ورتلل او د دعا کولو خواست به یې ترې کوۀ او کله چې به مسلمانانو هم دغه وړاندیز منافقاتو ته وړاندې کوۀ نو هغوي به دې وړاندیز ته پام نه کوۀ او مخ بې یې ترې اړوۀ لکه په دې ایت کښې چې فرمائي:

«وَاذا قیلَ لَهُمْ تَعالَوا یَسْتَغْفِرْ لَکُمْ رَسُولُ اللهِ لَوّوا رُؤُسَهُمْ وَرَأَیْتَهُمْ یَصُدُّونَ وَهُمْ مُسْتَکْبِرونَ»[١]
«کله چې هغوي ته ووئیلې شي چې راشئ چې د خدا ے پاک ګران پېغمبر ستاسو لپاره د ګناهونو مغفرت وغواړي، نو خپل سرونه (د نخرې په توګه) اړوي، او تاسو هغه ګورئ چې په تکبر سره د (حق په لار کښې) خنډ کیږي.»

٥ ـ ځینې ایتونه په دې خبرې ګواهي ورکوي چې پخپله خلق هم د خپل پاک فطرت لخوا په دې پوهیدل چې د خدا ے پاک په بارګاه کښې د پېغمبر اکرم صلی الله علیه واله وسلم دعا د هغو په حق کښې یو خاص اثر لري او خامخوا او سل فېصده قبلیږي له همدې امله به هغه حضرت ته ورتلل او د خپل ځان د مغفرت غوښتنه به یې له هغه څخه کوله چې هغه له خدایه وغواړي چې زمونږ ګناهونه معاف کړي او مونږ وبخښي.
د انسان سپېڅلے او پاک فطرت د هغه لپاره د دې الهام ورکوونکے د ے چې الهي فېض د پېغمبرانو علیهم السلام په لاس عامو خلقو ته رسي، هماغه شان لکه چې د خدا ے پاک هدایت هم د پېغمبرانو علیهم السلام په لاس د ے، له همدې امله به پېغمبرانو علیهم السلام ته ورتلل او له هغوي څخه به یې د دعا خواست کوۀ چې زمونږ لپاره له خدا ے پاک څخه ، د ګناهونو د مغفرت غوښتنه وکړي.

اوس د دې برخې ځینې ایتونه وړاندې کوو

«قالُوا یا أبانَا اسْتَغْفِرلَنا ذُنُوبَنا اِنّا کُنّا خاطِئینَ قالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَکُمْ رَبّي اِنّهُ هُو الْغَفُورُ الرَّحیمُ»[١]

---

[١] . سوره منافقون: ٥ ایت

«د یعقوب علیه السلام زامنو وویل: اے زمونږ پلاره، مونږ چې کوم ګناهونه لرو د هغه د بخښنې خواست له خدا ے څخه وکړه ځکه چې مونږ ډېر خطا کار وو (پلار یې) وویل: ډېر زر به زهٔ ستاسو لپاره له خپل رب څخه د مغفرت غوښتنه وکړم او هغه ډېر بخښوونکے او رحیم دے.»

٦ ـ ځینې ایتونه پېغمبراکرم (ص) ته دا خبردارے ورکوي چې د منافقانو او ځینې هغو خلقو لپاره د مغفرت غوښتنې څخه ځان وساتي چې کوم اوس هم په بت پرستۍ باندې باقي پاتې دي، او (اے پیغمبره) که هغو لپاره دې دعا وکړه نو قبلیږي به نه او دا ایتونه یو ډول استثنا دي له وړاندې ایتونو څخه او لازمه یې دا ده چې دې مورد نه علاوه د پېغمبر اکرم دعا یو خاص اثر لري لکه دلته فرمایي:

«اِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَنْ يَغْفِرَ اللهُ لَهُمْ»[2]
«که د هغوي په باره کښې اویا (۷۰) ځل د مغفرت غوښتنه وکړې (یعنې استغفار وکړې) نو بیا هم خدا ے هغوي نهٔ بخښي»

«سَواءٌ عَلَيْهِمْ اَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ اَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ لَنْ يَغْفِرَ اللهُ لَهُمْ»[3]
«برابره ده چې د هغو په حقله دعا وکړې یا یې ونهٔ کړې، خدا ے هغوي نهٔ بخښي»

«وَلَمّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ الرِّجْزُقالُوا يا مُوسَي ادْعُ لَنا رَبَّكَ بِما عَهِدَ عِنْدَكَ لَئِنْ كَشَفْتَ عَنّا الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَني اِسْرائيلَ»[4]
«او کله چې په هغوي عذاب راغے نو وې ویل: اے موسی! خدا ے ته زمونږ لپاره دعا وکړه په هغې وعدې سره چې له تا سره یې لري (چې دعا دې قبلوي)که زمونږ نه دې دا عذاب لرې کړ نو خامخا به په تا ایمان راوړو او خامخا به درسره بني اسرائیل ولیږو»

دلته ځینې ګناه ګار کسان له حضرت موسی بن عمران علیه السلام څخه د دعا درخواست کوي او د دې جملې «بِما عَهِدَ عِنْدَكَ» په ګواهۍ سره هغوي پوهیدل چې خدا ے پاک موسی علیه السلام سره دا رنګ عهد لري.

که د «اُدْعُ لَنا رَبَّكَ» جمله دا بیانوي چې هغوي له موسی علیه السلام غوښتل چې عذاب برطرف او لرې کړي او هغه یې د دې کار وړ ګڼهٔ نو په دې صورت کښې دا ایت د دریم قسم ( چې ایا دا صحیح ده چې له پیغمبرانو څخه د غیر عادي کار یا معجزې خواست او غوښتنه وشي چې د خدا ے په اذن سره تر سره کړي یا نه صحیح نه ده) له دلیلونو څخه دے خو د «اُدْعُ لَنا رَبَّكَ» جمله دا احتمال ډېر کمزورے دے؛ ځکه چې د دې جملې ظاهره معنا او

---

[1] . سوره یوسف : ۹۸-۹۷ ایتونه
[2] . سوره توبه : ۱۹ ایت
[3] . سوره منافقون : ٦ ایت
[4] . سوره اعراف : ۱۳٤ ایت

مفهوم دا دے چې د موسی علیه السلام کار «دعا کول» وو او بس، نه دا چې د جهان په چارو کښې یا د عذاب په لرې کولو کښې لاس ووهي، له همدې امله دا ایت هم له دې قسم سره تعلق لري. هو، په دې مبارک ایت کښې دا خبره څرګنده شوې ده چې: د حضرت ابراهیم کلیم الله علیه السلام د مشرکانو په حق کښې دعا قبلیږي نه، بلکې داسې نور ایتونه هم شته چې په دې خبرې ګواهي ورکوي.

۷ـ د قران پاک له ځینو ایتونو څخه دا استفاده کیږي چې یوې ایماندارې ډلې، تل د یوې بلې ډلې لپاره دعا کوله، هلته چې فرمایې:

«وَالّذینَ جاءوُا مِنْ بَعْدِهِمْ یَقُولُونَ رَبّنا اغْفِرْ لَنا وَلاِ خْوانِنَا الّذِیْنَ سَبَقُونا بِالاْیمانِ.»[1]
«هغه ټولے چې له هغوي وروسته راغلے، ویل یې: اے زمونږ ربه! مونږ او زمونږ هغه ورونه چې په ایمان راوړلو کښې له مونږ څخه مخکښې اوورومبي وو، وبخښې»

۸ـ دا ټولې یوازې ایماندارو کسانو لپاره دعا نه کوي بلکې د عرش حاملان او هغه ډلې چې د عرش څنګ ته دي هغوي هم د ایماندارو کسانو لپاره د ګناهونو د مغفرت دعا کوي لکه چې فرمایې:

«اَلّذینَ یَحْمِلُونَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَولَهُ یُسَبّحُونَ بِحَمْدِ رَبّهِمْ وَیُؤْمِنُونَ بِهِ وَیَسْتَغْفِرُونَ لِلّذِینَ آمَنُوا رَبّنا وَسِعْتَ کُلّ شَیْءٍ رَحْمَةً وَعِلْماً فَاغْفِرْ لِلّذِینَ تابُوا وَاتّبَعُوا سَبِیلَکَ وَقِهِمْ عَذابَ الْجَحِیمِ»[2]
« یوه ډله چې د عرش حاملان دي او هغه کسان چې د هغهٔ په خواوشا کښې شتون لري، د خدا ے په ستائینې سره هغه له عیب او نیمګړتیا څخه پاک بیانوي ، او د ایماندارو کسانو لپاره بخښنه غواړي (او وائي) زمونږ ربه ! ستا رحمت او علم په هر ځا ے کښې خپور دے نو بس هغه کسان چې توبه یې وېستې ده او ستا د لارې پېروي کوي وبخښې او د دوزخ له اور څخه یې وساتې. »

له همدې امله څومره ښه خبره ده چې مونږ هم د خدا ے پاک د خوښې لارې پیروي وکړو او ایماندارو کسانو لپاره تل د مغفرت دعا وکړو.
دې ځا ے پورې مو له خدا ے پاک نه علاوه له بل چا نه د حاجت غوښتلو د پنځو صورتونو نه دوه صورتونه د قران پاک د ایتونو په رڼا کښې روښانه کړل او له ژوندیو کسانو سره تړلیو درې صورتونو څخه یو صورت باقي پاتې کیږي چې اوس یې دلته څېړو

دریم صورت

---

[1] . سوره حشر : ۱۰ ایت
[2] . سوره مؤمن : ۷ ایت

اوس له هغه کس څخه چې په غېرعادي او خارق العاده کارونو باندې قدرت لري مرسته غواړو چې يو کار په غېر عادي طريقې سره تر سره کړي لکه دا چې په معجزې سره يو بيمار ته شفا ورکړي او ناروغه روغ کړي يا دا چې وچه چينه بيا ژوندی کړي او اوبۀ پکښې راولي وغېره .....
ځينې مسلمانو ليکوالانو دا رنګ غوښتنه له دويم صورت سره تړلې ده او داسې وائي: چې مراد دا دے چې له خدايه وغواړي چې خدا ے تعالی دا بيمار او ناروغه روغ او شفا ياب کړي يا د چا پور ادا کړي او داسی نورکارونه... ځکه چې دا ډول کارونه د خدا ے پاک کارونه دي خو په دې وجه چې وسيله يې د پېغمبراکرم (ص) يا د معصوم امام دعا ګرځي نو له همدې امله په مجازي توګه د دې کار نسبت دعا کوونکي ته ورکولے شي.[1]

خو د قران شريف ايتونه په ډاګه ددې ګواهي ورکوي چې د داسې حاجت غوښتنه له پېغمبرانو څخه صحيح ده او مجاز ګوئي نه ده يعنې له زړۀ سره دا غواړو چې معصوم دې دا کرامت وکړي او يا له معجزې کار واخلي او لا علاجه بيمار دې د خدا ے په طاقت سره شفاياب کړي.
که څه هم قران شريف شفا ورکولو نسبت خدا ے تعالی ته ورکوي او داسې فرمايې:

«وَاِذا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ»[2]
«کله چې زۀ ناروغه شم نو هغه (خدا ے) ما ته شفا راکوي.»

خو ځينې نور ايتونه شته چې د شفا نسبت «شاتو» او «قرآن پاک» ته ورکوي او داسې فرمائي:

«يَخْرُجُ مِنْ بُطُونِها شَرابٌ مَخْتَلِفٌ أَلْوانُهُ فيهِ شِفاءٌ لِلنّاسِ»[3]
«د شاتو د مچيو له ګېډو څخه يوه مائعه په مختلفو رنګونو سره بهر راځي چې پکښې د خلقو لپاره شفا ده.»

«وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرآنِ ما هُوَ شِفاءٌ وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنينَ.»[4]
«له قران څخه يو څه نازلوم چې د ايماندارو کسانو لپاره شفا او رحمت دے.»

«قَدْ جائَتْكُمْ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَشِفاءٌ لِما فِي الصُّدُورِ»[5]
«د خدا ے لخوا ستاسو د پروردګار لخو ستاسو په لور يوه موعظه راغله او شفا ده د هغه څه لپاره چې ستاسو په سينو کښې دي.»
ددغو دوه قسمونو ايتونو (چې ځينې ايتونه د شفا نسبت خدا ےپاک ته ورکوي او ځينې ايتونه د شفا نسبت قران پاک او شاتو او د خدا ے پاک نصيحتونو ته ورکوي) حل دا دے چې خدا ے تعالی په استقلال او خپلواکی سره

---

[1] . کشف الارتياب ، ۲۷٤ مخ
[2] . سوره شعراء : ۸۰ ايت
[3] . سوره نحل : ٦٩ ايت
[4] . سوره بني اسرائيل ۸۲ ايت
[5] . سوره يونس : ۵۷ ايت

په دغو څيزونو کښې موثر دے او په اثر اچولو کښې په بل چا اعتماد نه کوي خوچې کوم دغه نور سببونه يا عوامل دي دا هم د خدا ے تعالی په اجازې سره سبب جوړيږي او اصلی اثر اچوونکے خدا ے پاک دے.

د نړۍ کتنې په اسلامي او فلسفي تعليماتو کښې ټول عوامل او کارکوونکي د خدا ے تعالی کارونه دي او علتونه له خپلې خوا هيڅ خپلواکي او استقلال نه لري نوبس له همدې امله د قران د ايتونو او د عقل له نظره هيڅ منعې نشته چې هماغه خدا ے پاک چې شاتو ته يې د شفا قدرت ورکړے دے او نورو دارو او درملو او کيمياوي څيزونو ته يې د شفاورکولو طاقت ورکړے دے نو هماغه طاقت او قدرت پيغمبرانو او امامانو ته هم ورکړے دے، لکه څرنګه چې مرتاضان او جوګيان په خپل رياضت او چېلو سره لوې لوې روحي طاقتونه تر لاسه کړي نو په داسې حال کښې څه فرق کوي که الله تعالی په خپل فضل او کرم سره يا د بنده لخوا د بندګۍ په وجه هغه مومن ته داسې قدرت او طاقت ورکړي چې هغه په خاصو حالاتو کښې عقل حيرانوونکي کارونه تر سره کړي او بې د څرګندو سببونو غير عادي کارونه وکړي ايا داسې نۀ شي کېدې؟ بالکل کېدې شي د خدا ے پاک لپاره دا ګران کار نۀ دے.[1]

د پيغمبراکرم (ص) ، معصوم امام (ع) يا د خدا ے تعالی د خاصو وليانو شفا ورکول او ياد غير عادي کارونو کول له دې خبرې سره تضاد نۀ لري چې حقيقي شافي او شفا ورکوونکے د الله تعالی ذات دے چې هغۀ دغو عواملو ته قدرت او طاقت ورکړے دے او د هغۀ په اذن سره د ځينو مصلحتونو له امله د نړۍ په کارونو کښې لاس وهي.

بلکې د قران پاک ايتونه په څرګنده د دې خبرې ګواهې ورکوي چې خلقو به دا ډول کارونه له پيغمبرانوعليهم السلام او کله کله به يې له نورو کسانو غوښتل. اوس ځينو تاريخي پېښو ته اشاره کوم:

لاندې بيان شوي ايت څخه دا خبره په ډاګه معلوميږي چې بني اسرائيلو په اوچکلۍ کښې له خپل پيغمبره اوبۀ غوښتې دي هغه هم له عادې لارې نه بلکې وې غوښتل چې په معجزې سره اوبۀ راوړي اودا يې هم ورته ونۀ ويل چې له خدايه دعا وکړه چې خدا ے پاک زمونږ لپاره اوبۀ راوليږي بلکې وې ويل چې مونږ په اوبو سره خړوب کړه او زمونږ لپاره اوبۀ راوړه لکه چې قران پاک داسې نقلوي:

«وَأَوْحَيْنا اِلي مُوسي اِذِاسْتَسْقاهُ قَوْمُهُ اَنِ اضْرِبْ بِعَصاکَ الْحَجَرَ»[2]
«او کله چې ترې قوم اوبه وغوښتې نو موسی ته مو وحي وکړه چې امسا دې په کاڼي ووهه نو له هغې دولس چينې راوخوټکېدلې، هرې يوې قبيلې خپل د اوبو څښلو ځاي وپيژنده»

---

[1] . د دې برخه له زيات تفصيل لپاره او له قران پاک ايتونو نه د استفادې لپاره د حقير بنده (جعفر سبحاني) ليکلے کتاب ((نيروي معنوي پيامبران)) ته مراجعه وکړئ.په دې کتاب کښې د هغوي د روحي طاقت دليلونه د قران له ايتونو څخه بيان شوي دي.
[2] . سوره اعراف : ۱٦۰ ايت

له دې ایته روښانه ایت دا دے چې حضرت سلېمان (ع) له حاضرو کسانو غوښتنه وکړه چې د بلقیس ملکې تخت چې په سلګونو فرسخه او په سلګونو خنډونه یې لرل، دلته راوړي او داسې یې وفرمایل:

«أَیُّکُمْ یَأْتِینِي بِعَرْشِها قَبْلَ اَنْ یَأْتُونِي مُسْلِمینَ»[1]
«له تاسو څخه کوم یو کس به له دې مخکښې چې زما په خدمت کښې د تسلیم په حالت کښې راشي تخت حاضر کړي؟»
له دې کاره یې مقصد دا ؤ چې د بلقیس تخت په غیر عادي طریقې سره راوړي، لکه دا خبره د «عفریت» او «آصف برخیا» د ځوابونو نه هم څرګندیږي چې د سوره نمل په ۳۹ او ۴۰ ایتونو کښې راغلي دي.

اصلی خبره دا ده چې ځینې خلق دا سوچ کوي چې اسان او عادي کارونه د خلقو په لاس کښې دي یعني غیر الهي دي او غیر عادي او ګران کارونه چې د انسان له طاقت نه بهر دي د خدا ے تعالی کارونه دي.
حال دا چې د خدائي کار او غېر خدایي کار معیار استقلال (خپلواکي) او غیر استقلال دے د خدا ے تعالی کارونه دا دي چې فاعل (کار کوونکے) د نورو له لاسوهنې، ملاتړ او له بل چا نه د مرستې له غوښتلو نه بغېر یو کار وکړي، په نورو ټکو کښې داسې ویلې شو چې د خدا ے پاک کارونه هغه دي چې کار کوونکے (فاعل) د هغه کار په تر سره کولو کښې مکمل او پوره پوره خپلواک او مستقل وي او له ځانه بغېر بل چا ته اړمن نه وي.
خو غیر خدائي کارونه که هغه اسان کارونه وي او که هغه سخت، که هغه عادي کارونه وي او که غېر عادي او مشکل دا دي چې فاعل (کار کوونکے) د دې کار په تر سره کولو کښې مستقل او خپلواک نه وي بلکې دا کار د بل طاقت او خپلواک فاعل په ملاتړ سره وکړي.
نو بس له همدې امله هیڅ باک نه لري چې خدا ے تعالی خپلو اولیاؤ ته د غېر عادي یا مشکلو کارونو کولو چې د انسان له قدرت نه بهر دي، قدرت ورکړي او مونږ بیا له هغوي وغواړو چې دا ډول کارونه وکړي.
قران پاک په پوره پوره وضاحت سره حضرت عیسی علیه السلام ته فرمایې:

«وَتُبْرِئُ الْأَکْمَهَ وَالْأَبْرَصَ بِاِذْنِي وَاِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتي بِاِذْنِي»[2]
«(اے عیسی) ته، زما په اجازې سره ړندو او د برص بیمارانو ته شفا ورکوې او هم زما په اجازې سره مړي ژوندي کوې»
دا ټول ایتونه په دې خبرې ګواه دي چې د خدا ے پاک خاصو اولیاؤ دا قدرت او طاقت لرۀ او له هغوي څخه د غېر عادي کارونو غوښتنه د معمول خبره وه او قران پاک هم د داسې غوښتنو په سموالي ګواهي ورکوي.

---

[1]. سوره نمل: ۳۸۸ ایت

[2]. سوره مائده: ۱۱۰ ایت

دلته پورې مو له ژوندو نه د غوښتنې د درې واړو صورتونو حکم د قران پاک له نظره روښانه کړ او وموليدل چې د قران پاک ايتونه دا کار صحيح بولي.
اوس د هغو دوو قسمونو وخت رارسيدلے دے چې دواړه له دې سره متعلق دي چې له پاکو ارواګانو څخه درخواست او له هغوي نه مدد او مرسته غوښتل د قران پاک او حديث له نظره روښانه کړو او دا خبره به راتلونکي باب کښې بيان کړو.

*****

# دولسم باب

## د اولياؤ له روحونونه مرسته غوښتل

د خدا ے پاک له اولياؤ څخه د مرستې غوښتلو په حقله مهمه مسئله له دنيا څخه د هغوي له پرده کېدو وروسته له هغوي څخه د مرستې غوښتل دي په نورو ټکو کښې به داسې ووايو چې له دې دنيا څخه د هغوي له انتقالېدو نه پس له هغوي مرسته غوښتل که هغه مرسته د دعا په شکل کښې وي او که د معجزې او غير عادي کار غوښتلو په شکل کښې وي ځکه چې نن سبا د مسلمانانو تر مينځ خو نۀ پيغمبراکرم او نه معصوم امام ظاهري او جسماني شتون لري چې د هغوي  در ته انسان ورشي او له هغوي څخه مخامخ خواست وکړي بلکې د مسلمانانو اکثر سوالونه او غوښتنې د انبياؤ (ع) او معصومو امامانو (ع) له روحونو څخه دي، له همدې امله ددې صورتونو د حکم تفصيل بيانول ډېر زيات اهميت لري.

د دې موضوع څېړنه له څلورو خبرو سره تړلې ده او کله چې مونږ له هغو څلورو مطلبونو څخه خبر شو نو بيا هله کېدې شي چې مونږ دغه رنګ مرسته او مدد سم او صحيح وګڼو او هغه څلور خبرې دا دي:

۱ ـ له مرګ نه پس د انسان د روح باقي پاتې کېدل.

۲ ـ د انسان حقيقت هم هغه د هغۀ روح دے.

۳ ـ له روحونو سره تعلق او رابطه ممکنه ده.

٤ ـ ډېر صحيح روايتونه او حديثونه چې اسلامي محدثانو نقل کړي دي، د داسې مرستې د غوښتلو په سموالي باندې روښانه ګواه دي او په ټولو زمانو کښې د مسلمانانو روش او طريقه همدغه شان وه او ده.

اوس په دغو ځلورو خبرو کښې د هرې يوې خبرې تفصيل بيانوو:

## ۱ ـ مړينه د انسان فنا او ختمېدل نهٔ دي.

د قران پاک ايتونه په دې خبرې روښانه ګواه دي چې مړينه د ژوند پاي او ختمېدل نهٔ دي، بلکې مړينه يو نوي ژوند ته کړکۍ ده او انسان له دې کړکي څخه په تېرېدو سره نوے ژوند او نوې دنيا بيامومي داسې جهان او دنيا چې له دې مادي او طبيعي دنيا نه ډېره ښه ده.

يوه ډله چې د انسان مړينه د هغه فنا او نابودېدل ګڼي دا عقيده لري چې په مړينې سره هر څه له منځه ځي. او د انسان يوه نخښه هم نهٔ پاتې کيږي بې د هغهٔ د بې روحه بدنه چې هغه هم څه موده پس په خاورو يا په نورو عناصرو کښې بدليږي دغه کسان د ماده پرستې فلسفې پيروي کوي.

دا ډول فکر د دې ښودنه کوي چې د دې نظريې لرونکي کسان ژوند او حيات د بدن له مادي اثارو او د مازغو او اعصابو د لړۍ له فېزيکي او کېميائي غبرګونونو نه علاوه بل څهٔ نه ګڼي او له بدن څخه له سا وتلو نه پس چې بدن يخ شي او د انسان د بدن ټول غړي حرکت ودروي او د وينې بهير ختم شي نو انسان بس د يو بې جانه څيز په څېر (لکه کاڼے) کيږي. د دې نظريې منونکي د روح په حقله وائي چې د هغهٔ کار د بدن چلولول او ورته حرکت ورکول وو او کله چې د هغهٔ د بدن حرکت او د وينې جريان ختم شو نو د روح هم څهٔ ضرورت نهٔ پاتې کېږي او هغه په کلي توګه نابود او باطليږي او بل جهان او د روحونو د دنيا په نامه څه څيز يا ځاے هډو وجود نهٔ لري.

د انسان د روح په اړه داسې نظر له مېټرياليز څخه جرړه اخلي او په دغه مکتب کښې انسان فقط يو ګاډے دے او مشين دے. چې له مختلفو څيزونو او اوزارو څخه جوړ شوے وي او د دغو ټولو اوزارو له يو بل سره د يو ځاے کېدو له امله لکه څنګه چې په ګاډي او مشين کښې حرکت راځي په انسان کښې هم د تفکر او درک کولو طاقت د هغهٔ په مازغو کښې جوړيږي. او کله چې دا بدن سست شي او بالکل ودريږي او د بدن د غړو رابطه او تعلق له يو بل سره غوڅ شي نو بيا د انسان ژوند او تفکر اثرات په کلي توګه ختميږي.

د روح په حقله د مېټرياليزم نظريه د نړۍ د سترو فلسفيانو او الهي پوهاندو په نظر کښې په کلي توګه مردوده ده او باطله ده. او د خداے منوونکي انسان لپاره، د بدن مادي نظام او د انسان د نفسياتو او د هغه له مادي عکس العمل نه علاوه د انسان لپاره د يو اصل او حقيقت قائل دي چې نوم يې ((روح)) دے چې دغه روح څه موده له دې بدن سره وي او بيا يې له بدن سره رابطه ختمه شي او په يو خاص چاپيريال کښې له يو بل لطيف بدن سره وي. د انسان له مرګ نه پس د هغهٔ د روح باقي پاتې کېدل څه داسې خبره نهٔ ده چې په ډېره اسانۍ سره ترې انکار وکړو. د انسان د روح بقاء د قران شريف له مبارکو ايتونو او د فلسفې له ژورو دليلونو او د ننني روح پيژاندو په يقيني تجربو سره ثابته شوې ده. اوس مونږ د قران پاک هغه ايتونه نقلوو چې د انسان له مرګ نه پس د هغهٔ د روح په باقي پاتې کېدو باندې ګواهي ورکوي:

الف ـ «وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللهِ اَمْوَاتٌ ، بَلْ اَحْيَاءٌ وَلٰكِنْ لَاتَشْعُرُونَ»[۱]

---

۱. سوره بقره : ۱٥٤ ايت

«او مړۀ مه وايئ هغه چا ته چې د الله په لار کښې ووژل شي (دوي مړۀ نۀ دي) بلکې دوي ژوندي دي خو تاسو نه پوهيږئ.»

ب ـ «وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا في سَبيلِ اللهِ اَمْواتاً بَلْ اَحْياءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ.»[1]
«او څوک چې د خدا ے په لار کښې وژل شوي دي هغوي هيڅ کله مړۀ مۀ ګڼئ بلکې هغوي له خپل رب سره ژوندي دي او رزق ورته ورکولې شي.»

« فَرِحينَ بِما آتاهُمُ اللهُ مِنْ فَضْلِه، وَيَسْتَبْشِرونَ بِالَّذينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِمْ. . .»[2]
«خدا ے چې له خپل فضل نه هغوي ته څه ورکړي دي په هغو خوشحاله دي. او هغو خلقو ته چې لا وروستو (په دنيا کښې) دي او لا له هغوي سره (په برزخ کښې) نۀ دي يوځا ے شوي زيرے ورکوي...»

«يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَة مِنَ اللهِ وَفَضْل. . .»[3]
« هغوي د الله تعالى په نعمت او فضل ډېر خوشحاله دي....»

ج ـ «اِنّي آمَنْتُ بِرَبِّكُمْ فَاسْمَعُونِ، قيلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ، قالَ يالَيْتَ قَوْمي يَعْلَمُونَ، بِما غَفَرَلي رَبّي وَجَعَلَني مِنَ الْمُكْرَمينَ»[4]
«هغۀ ووېل چې ما ستاسو (د ليږل شويو) په خدا ے باندې ايمان راوړۀ (د همدې ايمان په وجه) هغه ته ووېل شول چې جنت ته ننوځه، هغه ووېل چې ا ے کاش که زما قوم هم خبر وې چې خدا ے زۀ وبخښلم او زما قدرونه يې وکړه»

له هغه جنت څخه مراد چې هغۀ ته ووېل شول چې ورته ننوځه برزخي جنت د ے نه دا چې د اخرت جنت، په دې دليل چې هغه ارمان کوي چې کاش زما قوم خبر وې چې زۀ خدا ے وبخښلم او زما درناو ے اوقدرونه يې وکړه. د اخېرت له دنيا سره د داسې اګاهې ارزو چې کله د انسان له سترګو څخه پردې او حجابونه څنګ ته شي او هغه وخت بيا هر يو کس د بل کس حالت ګوري او ترې خبريږي سمون نۀ خوري، بلکې داسې نااګاهي له دنيوي جهان سره سمون خوري ځکه چې د دې نشات (دنيوي عالم) خلق د بل نشات (د برزخ د عالم) د انسانو له حالت څخه نه خبريږي. او د قران پاک ايتونه هم په دې مطلب ګواهي ورکوي.
له دې ورتېر، وروستي ايتونه دا خبره جوته کوي چې له مرګ، بخښلو او جنت ته د هغه کس له ننوتلو نه پس د هغۀ د قوم د ژوند ځراغ په يو اسماني تندر سره خاموش شو لکه چې قران فرمائي:

---

[1] . سوره آل عمران : ۱۶۹ ايت
[2] . سوره آل عمران : ۱۷۰ ايت
[3] . سوره ـ آل عمران : ۱۷۱ ايت
[4] . سوره ياسين : ۲۵-۲۷ ايتونه

د ـ «وَما اَنْزَلْنا عَلي قَوْمِهِ مِنْ بَعْدِهِ مِنْ جُنْد مِنَ السَّماءِ وَما كُنّا مُنْزِلينَ اِنْ كانَتْ اِلاّ صَيْحَةً واحِدَةً فَاِذا هُمْ خامِدُونَ»[1]

«اود هغهٔ په قوم باندې مو له اسمانه لښکريان نهٔ دي نازل کړي او هيڅکله به مو داسې نهٔ کول، بلکې دا يوه ناڅاپه اسماني تندرۀ چې ټول يې غلي کړل (او ټول په سترخوب کې ډوب شول)»

له دې دوو ايتونو څخه دا استفاده کيږي چې جنت ته د ننوتلو نه پس د هغهٔ د قوم خلق په دې دنيا کښې اوسيدل چې ناڅاپه مرګ په هغوي راغی او دا ډول جنت يوازې برزخي جنت کيداې شي (بل نه).

هـ ـ «اَلنّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْها غُدُوّاً وَعَشِيّاً وَيَوْمَ تَقُومُ السّاعَةُ اَدْخِلُوا آلَ فِرْعَونَ اَشَدَّ الْعَذابِ»[2]

«دوي (د فرعون آل) به سحر او مازيګر اور ته وړاندې کولې شي او په هغه ورځ چې قيامت راشي نو حکم به وشي چې د فرعون آل سخت عذاب ته داخل کړئ.»

د دغو دواړو مبارکو ايتونو مفهوم ته په پام سره د هغوي بقا او ژوند په عالم برزخ کښې څرګند دے ځکه چې د قيامت د رارسيدو نه مخکښې سحر او ماښام هغو ته د اوور عذاب ملاويږي خو کله چې قيامت راورسيږي نو بيا به سخت عذاب ته داخلولې شي.

که د دې ايت په پاې کښې (وَيَوْمَ تَقُومُ السّاعَةُ) نه وې، نو بيا به د وړومبې برخې مفهوم ډېر څرګند نهٔ وۀ نو د ايت پاې ته په پام سره روښانه کيږي چې مراد يې هماغه د برزخ مرحله ده ګني بيا به د دوو جملو تقابل صحيح نه وۀ.

له دې نه علاوه د سحراو مازيګر موضوع هم په دې خبرې باندې ګواهي ورکوي چې مراد ترې قيامت نه دے ځکه چې هلته سحر او مازيګر وغيره نشته. له څلورو واړو مطلبونو څخه وړومبے مطلب وۀ.

## ۲ ـ د انسان حقيقت، د هغه روح دے

انسان په وړومبي نظر کښې د جسم او روح مرکب دے، خو د انسان حقيقت هم هغه د هغهٔ روح دے چې له بدن سره يو ځاے شوے دے.

مونږ دا خبره د فلسفې له نظره نهٔ څېړو او د يونان يا اسلامي فلسفې له نظرياتو سره څه کار نه لرو، بلکې يوازې د قران پاک له نظره دا موضوع څېړو.

له هغو ايتونوله څيړلو نه پس چې په قران پاک کښې د انسان په اړه راغلي دي دا حقيقت په لاس راځي چې د انسان حقيقت د هغهٔ روح دے او پکار دي د دې ايتونو په مفهوم کښې غور او فکر وکړو:

«قُلْ يَتَوَفاكُمْ مَلَکُ الْمَوْتِ الّذي وُكِّلَ بِكُمْ، ثُمَّ اِلي رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ.»[3]

---

[1] . سوره ياسين : ۲۹-۲۸ ايتونه

[2] . سوره غافر : ٤٦ ايت

[3] . سوره سجده : ۱۱ ايت

«ووایه چې د مرګ فرښته چې تاسو لپاره ټاکلې شوې ده، تاسو به راګیروي او بیا به د خپل خدا ے لور ته بېرته ګرځئ.»
د «تَوَفّی» لفظ، د هغه څه په اپوټه چې مشهور د ے د مړینې په معنا نه د ے بلکې د نیولو او اخېستلو په معنا د ے.[1]
نو بس د «یَتَوفّاکُم» جملې مفهوم دا د ے چې: ((تاسو رانیسي)) پس چې کله د انسان حقیقت د هغه روح وي، نو د ایت تعبیر سم د ے خو که روح د انسان د شخصیت یوه برخه وي او بله نیمه برخه یې د هغه خارجي بدن وي نو په داسې صورت کښې به داسې تعبیر جائز نه وي ځکه چې د مرګ فرښته زمونږ بدن او خارجي ماده نه نیسي، بلکې بدن په هم هغه حالت باقي پاتے کیږي او یوازې زمونږ روح اخلي.(لکه وائي چې روح یې قبض کړ)
هغه ایتونه چې د انسان په نسبت د روح مقام روښانوي یوازې دا ایت نه د ے خو مونږ د لنډیز په وجه په همدې یو ایت بسنه کوو.
دا حقیقت چې «د انسان حقیقت او د روحي او معنوي کمالاتو مرکز د هغه روح دی، او بدن داسې لباس او جامې دی چې روح اغوستلې دي» د مرګ نه پس، روح د بقا ته په پام سره چې په وړومبې مطلب کښې په تفصیل سره بیان شو او پوره پوره روښانه شوه چې قران پاک مرګ د انسانیت نابودي او ختمېدل او د ژوند پایان نه ګڼي. بلکې د «شهیدانو او صالحانو» او « مجرمانو»، لپاره د قیامت د ورځې رارسیدو نه مخکښې د یو بل ژوند عقیده لري. یو داسې ژوند چې یا د شهیدانو او نېکو خلقو لپاره له خوشحالۍ او زیرې او یا د مجرمانو لپاره له سخت عذاب وغېره سره مل د ے ...
خو که د انسان واقعیت او حقیقت همدغه مادي بدن وي، نو بې شکه چې دا بدن څه موده پس ختمیږي او په نورو عنصرو لکه خاورو وغیره کښې بدلیږي نو په داسې حالت کښې د انسان باقي پاتې کېدو خبره او یا برزخي ژوند بې مطلبه او چټې خبره کیږي.

## ۳ ـ له قرآن او بل عالم سره د تعلق امکان

له مادې نه د خالي روح د بقا ثابتول، له هغه څخه د حاجت غوښتلو او د استغاثې کولو د جایز والي لپاره ګټه ور او بس نهٔ دي، بلکې د هغهٔ له باقي والي نه علاوه، له هغهٔ سره د ارتباط د پېدا کولو امکان له علمي نظره او قران پاک له نظره ثابت شي.، چې مونږ په «اصالت روح» نومې کتاب کښې په پراخه توګه او تفصیل سره په دې حقله بحث کړ ے د ے او دلته یې په لنډه توګه بیانوو څو ایتونه په دې خبرې ګواهي ورکوي چې له وفات شویو او مړو کسانو سره د انسان تعلق باقي د ے او دا تعلق او رابطه غوڅه شوې نهٔ ده:

### الف ـ حضرت صالح (ع) د خپل قوم له ارواګانو سره خبرې کولې:

«فَعَقَرُوا النّاقَةَ وَعَتَوا عَنْ اَمْرِ رَبِّهِمْ وَقالُوا یا صالِحُ ائْتِنا بِما تَعِدُنا اِنْ کُنْتَ مِنَ الْمُرْسَلینَ.»[1]

---

[1] . اروانباد «علاّمه بلاغي» د کتاب «تفسیر آلاء الرحمان» په سریزې کښې په ۳٤ مخ، د « توفي» لفظ په حقله ډېر ارزښتناک تحقیق کړے د ے.

«نو اوښه یې نحرکړه (له مرۍ یې زخمي او ووژله کړه) او د خپل پروردګار له حکمه یې مخ واړوۀ او وې ویل: اے صالحه! که ته له مرسلانو یې نو مونږ ته دې چې (د عذاب) کومه وعده راکړې وه هغه راوله.»

«فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوا في دارِهِمْ جاثِمين»[2]
«هغوي زلزلې ونیول او (سحر) په کورونو کښې پړمخې مړۀ پراتۀ وو.»

«فَتَوَلّي عَنْهُمْ وَقالَ یاقَوْمِ لَقَدْ اَبْلَغْتُکُمْ رِسالَةَ رَبّي وَنَصَحْتُ لَکُمْ وَلکِنْ لاتُحِبُّونَ النّاصِحِينَ.»[3]
«نو(صالح) له هغوي مخ واړوۀ او وې فرمایل: اے زما قومه! په تحقیق سره ما تاسو ته د خداے پېغام ورسوۀ او تاسو ته مې نصیحت وکړ خو تاسو نصیحت کوونکي نه خوښوئ.»

په تیرو ایتونو کې له غور او فکر څخه معلومیږي چې وړومبے ایت د دې ښودنه کوي چې هغوي چې کله ژوندي وو، له هغوي یې د عذاب غوښتنه وکړه.
دویم ایت د دې ښودنه کوي چې د خداے پاک عذاب راغے او هغوي ټول یې نابود کړل.
دریم ایت هم دا بیانوي چې حضرت صالح علیه السلام د هغوي د مرګ او نابودۍ وروسته، له هغوي سره خبرې کولې او داسې فرمایل:
«ما د خداے پېغامونه تاسو ته ورسول، خو تاسو نصیحت کوونکي نه خوښوئ.»
په دې خبرې، چې هغه(حضرت صالح) د هغوي له نابودۍ او مرګ نه پس له هغوي سره خبرې کولې، دوه څیزونه روښانه ګواه دي.

۱ ـ د ایتونو ترتیب په هغه شکل سره چې تېر شو.
۲ ـ د «فا» حرف په «فتولی» ټکي کښې په ترتیب باندې ګواه او دلیل دے؛ یعنې د هغوي له نابودۍ نه پس، هغوي ته مخ واړوۀ او ورته یې داسې وفرمایل:

او «ولکن لا تُحِبُّونَ النّاصِحينَ» جملې څخه دا معلومیږي چې د هغوي په زړونو کښې دومره زیاته کینه او دښمني وه چې پس له مرګه هم داسې وو چې نصیحت او وعظ کوونکي یې نه خوښول.
د قران پاک روښانه حکم دا دے چې هغۀ دخپل امت له روحونو سره په رښتیا خبرې کولې او هغوي یې مخاطب ګرځول او د هغوي له سختې کینې او دښمنۍ څخه چې پس له مرګه هم هغوي لرله مونږ ته خبر راکوي او داسې فرمائي: چې هغوي اوس هم نصیحت کوونکي نه خوښوي.

---

[1] . سوره اعراف ۷۷ ایت
[2] . سوره اعراف: ۷۸ ایت. په ځینو ایتونو کښې د هغوي د هلاکېدو سبب اسماني پړق او تندر ؤ(سوره هود: ٦ ایت) او په ځینو نورو کښې یوازې اسماني صاعقې سره نابود شول (سوره فصلت: ۱۷ایت) او په دغو دواړو پاسنیو ایتونو کښې د نابودۍ سبب زلزله بیان شوې ده. او د ایتونو مجموعي نتیجه په دا ډول ده چې له سخت اسماني پړق سره په تندر او زلزلې سره نابود شوی وو.
[3] . سوره اعراف ۷۹ ایت

### ب ـ حضرت شعيب عليه السلام هم خپل امت مړو سره خبري کولی:

«فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا في دارِهِمْ جاثِمينَ»[1]
« نو دوي زلزلې ونيول نو سحر په خپلو کورونو کښې پړمخې (مړۀ) پراتۀ وو.»

«اَلَّذينَ کَذَّبُوا شُعَيْباً کَأَنْ لَمْ يَغْنَوْا فيها اَلَّذينَ کَذَّبُوا شُعَيْباً کانُوا هُمُ الخاسِرينَ»[2]
« کومو کسانو چې شعيب دروغ وګڼه (داسې هلاک شول) لکه چې په دغه (کلي) کښې هډو وو نه، کومو کسانو چې شعيب دروغ ګڼۀ هم هغوي زيانکار وو.»

«فَتَوَلّى عَنْهُمْ وَقالَ يا قَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُکُمْ رِسالاتِ رَبّي وَنَصَحْتُ لَکُمْ فَکَيْفَ آسي عَلي قَوْمٍ کافِرينَ»[3]
« نو له هغوي يې مخ وګرځوۀ او وې ويل: اے زما قومه! په تحقيق سره ما تاسو ته د خپل پروردګار پېغام رسولے دے او تاسو ته مې پند درکړے دے نو څنګه به په کافر قوم خفه شم.؟»
د دې ايتونو د استدلال طريقه هم هغو ايتونه په شان ده چې کوم ايتونه د حضرت صالح عليه السلام په باره کښې وو.

### ج ـ پيغمبر اکرم (صلی الله عليه واله وسلم هم د تېرو انبياؤ عليهم السلام له روحونو سره خبرې کولې:

«وَسْئَلْ مَنْ اَرْسَلْنا مِنْ قَبْلِکَ مِنْ رُسُلِنا اَجَعَلْنا مِنْ دُونِ الرَّحْمنِ الِهَةً يُعْبَدُونَ»[4]
«له مخکښنيو پېغمبرانو پوښتنه وکړه چې ايا بې له رحمان او مهربان خداے بل خداے مو ټاکلے دے چې د هغۀ عبادت وشي.؟»
د ايت ظاهر دا دے چې پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم کولی شي له هم دې دنيا څخه،له هغو پيغمبرانو سره چې په بل عالم (لکه عالم برزخ) کښې دي تعلق او رابطه پېدا کړي او دا خبره روښانه شي چې تېرو ټولو پېغمبرانو ته د خداے حکم همدغه ؤ چې بې له خدايه د بل چا عبادت ونه کړئ.

### د ـ قرآن شريف هم په پېغمبر اکرم (ص) درود ليږي:
قران پاک په مختلفو ځايونوکښې په خپلو پېغمبرانو درود او سلام ليږلے دے او دا درودونه او سلامونه وچ او تشريفاتي او بې معنې او چټي نۀ وو.

---

[1] . سوره اعراف: ۹۱ ايت
[2] . سوره اعراف: ۹۲ ايت
[3] . سوره اعراف : ۹۳ ايت
[4] . سوره زخرف : ٤٥ ايت

ډیره بې انصافي ده چې مونږ وغواړو د قران پاک لوړ رتبه معانې په داسې ځایونو کښې فټ کړو چې ترې لوبه جوړه شي دا صحیح ده چې نن سبا د نړۍ مېښریالېزم چې د روح لپاره د هیڅ حقیقت قائل نۀ دے په خپلو خبرو کښې د خپلو مشرانو او رهبرانو او د خپلو مادي مکتبونو د بنسټګرو د درناوي لپاره درود او سلام لیږي خو ایا دا صحیح ده چې د قران پاک لوې او پراخ مفهومونه چې د یو حقیقت ښودنه کوي، په داسې ځایونو کښې فټ کړو او ووایو چې دا ټول درودونه، چې خدا ے پاک په خپلو پېغمبرانو باندې لیږلي او مونږ ټول مسلمانان یې هم شپه ورځ لولو نو دا تش ست او تشریفات او چټې دي؛ لکه قران پاک چې فرمایې:

۱ ـ سَلامٌ عَلی نُوحٍ فِي الْعالَمین
۲ ـ سَلامٌ عَلی اِبْراهیم
۳ ـ سَلامٌ عَلی مُوسی وَ هارُون

٤ ـ سَلامٌ عَلی آلْ یاسین
٥ ـ سَلامٌ عَلَی الْمُرْسَلینَ.[۱]
هـ په تشهد حالت کې په پېغمبر باندې درود:

مونږ د نړۍ ټول مسلمانان، که څه هم د فقهې په فرعی مسائلو کښې اختلاف لرو، هره ورځ سهار، ماښام د نمونځ په تشهد کښې په بزرګوار پېغمبر اکرم (ص) باندې درود لیږو او داسې وایوو:

«السّلامُ عَلَیْکَ اَیُّها النّبيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکاتُهُ»
خو یو فرق دا دے، چې شافعي او ځینې نور، دا جمله په تشهد کښې لازم او واجب بلي. او د نورو مذهبونو منوونکي یې مستحب او سنت بولي. خو ټول په دې اتفاق لري چې پېغمبر اکرم (ص) مسلمانانو ته دا تعلیم ورکړے دے.[۲] او د پېغمبراکرم (ص) سنت د هغۀ په ژوند او پس له رحلته باقي دے (بلکې تر قیامت پورې باقي دے)
که له پېغمبر اکرم (ص) سره زمونږ رابطه په رښتیا سره غوڅه وې او کټ وې، نو داسې سلام کول هغه هم داسې چې د مخاطب ضمیر هم لري، څه فائده لري؟
د رابطې د ممکن والي او د هغې د رامنځته کېدو دلیلونه، یوازې هغه نۀ دي چې تېر شول بلکې په دې مورد کښې نور ایتونه هم شته چې د لنډیز په وجه مطرح نه شو خو مینه وال کولې شي د دې برخې تفصیل په «اصالت روح از نظر قرآن» نومې کتاب کښې ولولي او هلته هم ځینې ایتونه ذکر شوي دي.

---

۱. سوره صافات: ۷۹ او ۱۰۹ او ۱۲۰ او ۱۳۰ او ۱۸۱ ایتونه
۲. کتاب تذکرة الفقها، ۱ ټوک او کتاب خلاف، ۱ ټوک، ٤٤۷ مخ ته مراجعه وکړئ. په کتاب «خلاف» کښې له عمر بن خطاب او عبدالله بن مسعود څخه تشهد په څو صورتونو نقل کړے دے چې ټول همدارنګ سلام لري او د اهل سنتو د فقهې مشرانو لکه ابوحنیفه او مالک او شافعي د دې تشهدونو یو قسم راخستے دے او هغۀ په باره کښې یې فتوا ورکړې ده.

په اخېر کښې یادونه کوو چې د نمانځهٔ په تشهد کښې له سلام کولو سره استدلال، په دې وجه ده چې د ایتونو په ترځ کښې د دې دلیل یقیني والے او پوخوالے ثابت دے.

**د بحث نتیجه**

په وړومبي مطلب کښې دا خبره ثابته شوه چې مرګ د ژوند خاتمه او پایان او د انسان ختمېدل نهٔ دي، بلکې بل عالم ته د هغهٔ منتقلېدو لپاره یوه کړکۍ ده.

په دویم مطلب کښې دا روښانه شوه چې د انسان واقعیت او حقیقت، د هغهٔ روح دے او بدن د یو داسې لباس او جامو په شان دے چې روح اچولې وي او که د هغهٔ روح باقي وی نو خامخا به د هغهٔ حقیقت او شخصیت او ټولې توانمنۍ (بې له هغو توانمنیو چې له مادي بدن سره تړاؤ لري او تعلق او ورسره وابسته وي) هم باقي دي.

نو بس که په دې جهان کښې د هغهٔ شخصیت په دعا او راز و نیاز قدرت لرلے وي، یا د خدا ے پاک په اجازې سره یې غېر عادي کارونه (معجزې) تر سره کولې شوې نو په هغه عالم کښې هم د هغه پاک روح د خدا ے پاک په اجازې سره دا قدرت او توان لري او بې له هغو کارونو چې مادي بدن ته اړمن دي، نور ټول کارونه کولې شي او ورباندې قادر دے.

په دریم مطلب کښې مو دا ثابته کړه چې د دې دنیا او عالم د انسانو رابطه له بل عالم یعنې په عالم برزخ کښې له اوسېدونکو کسانو سره ممکنه ده او پاک روحونه زمونږ خبرې اوري.

دغو درې واړو مطلبونه ته په پام سره، د مطلب فلسفي امکان ثابتېږي، یعنې دا ثابته شوه چې د خدا ے پاک اولیاء کولې شي چې زمونږ خبرې واوري او د خدا ے پاک په اجازې سره مونږ ته ځواب راکړي خو ایا دا ډول کارونه د اسلامي قانون له نظره جائز او روا دي او که نه؟ د دې ځواب به په څلورم مطلب کښې بیان کړو چې لاندې راځي:

## ٤ ـ مسلمانان او له پاکو روحونو څخه حاجت غوښتل:

۱ ـ «ابن تیمیه» او د هغهٔ منونکي په خپلو عقیدو کښې د دې منکر دي چې د پېغمبر اکرم (ص) صحابه او له هغوي وروسته راغلي کسان چې ورته (تابعین) ویلې شي له پېغمبراکرم (ص) څه حاجت غوښتے وي او په دې حقله داسې وائي:

«په تېرو کسانو کښې به نهٔ صحابه نهٔ تابعین او نهٔ تبع تابعین، هیڅ کله د دعا او نمانځه لپاره د پېغمبرانو قبرونو ته راتلل او نهٔ یې له هغوي څخه څه حاجت غوښتهٔ او نهٔ یې له هغوي سره څه رازو نیاز نه کوهٔ او نهٔ څه استغاثه کوله نهٔ د هغوي په غیبت کښې او نهٔ د هغوي د قبرونو تر څنګه»[1]

[1] .«ولم يكن أحدٌ مِنْ سَلَفِ الأمة في عصر الصحابة ولا التابعين ولا تابعي التابعين يَتَخَيّرون الصلاة والدُّعاء عِنْدَ قبور الأنبِياء ويسألونهم ولا يستغيثون بهم لا في مغيبهم ولا عند قبورهم» (رساله «الهدية السنيه»، مخ ١٦٢، منار مصر خپرندويه).

که له تاریخ نه ناخبره کس دا واوري نو هغه گومان کوي چې کېدې شي دا رښتیا وي خو کوم کسان چې تاریخ ته مراجعه کوي نو گوري چې بالکل داسې نه ده بلکې تاریخ د دې په اپوټه بیانوي چې د بېلگې په توگه څو واقعاتو ته اشاره کوو:

«د حضرت عمر د خلافت په زمانه کښې اوچکلي راغله نو هغه کال یو کس د پېغمبر اکرم (ص) د قبر څنگ ته راغے او وې ویل: اے د خدا ے رسوله! د خپل امت لپاره له خدایه باران وغواړه گني امت دې نابودیږي. پېغمبر اکرم (ص) یې په خوب کښې ولید او وې فرمایل: حضرت عمر (رض) ته ورشه او هغه ته سلامووایه او خبر یې کړه چې ټول به سیرابه شئ»[1]

بیا «سمهودي» وائي:

«دا واقعه په دې خبرې گواه ده چې په داسې حال کښې چې پېغمبراکرم (ص) په عالم برزخ کښې ؤ له هغه څخه حاجت غوښتل او دعا کول روا دي او دا خبره څه اشکال نه لري؛ ځکه چې هغه د خلقو حاجت اوري او ځواب ورکوي؛ په دې وجه څه منعې نۀ لري چې د هغۀ د ژوند په شان له هغه څخه حاجت وغوښتل شي او یا دعا وکړې شي»[2]

۲ ـ ښاغلے «سمهودي» او همدا رنگ ښاغلے «حافظ ابوعبدالله محمد بن موسي بن النعمان» په داسې سند سره چې سند یې «علي بن ابي طالب ـ علیه السلام ـ» ته رسیدلے دے نقلوي چې د پېغمبر اکرم (ص) له دفن کېدو تېرې شوې وې له مدینې له بهره یو عرب راغے او د پېغمبر اکرم (ص) د قبر خاورې یې په سر واچولې او وې ویل: «یا رَسُولَ الله قُلْتَ فَسَمِعْنا قُولَکَ وَوَعَیْتَ عنِ الله سبحانَهُ ما وَعَیْنا عَنْک،وکانَ فیما اَنْزَلَ عَلَیْکَ (ولَوْ أنّهُمْ اِذْ ظَلَمُوا اَنْفُسَهُمْ جاءُوکَ فَاَسْتَغْفَرُوا اللهَ. . . ) وَقدْ ظَلَمْتُ وَجِئْتُکَ تَسْتَغْفِرْلي. . . .»[3]

«اے و خدا ے رسوله! تا وویل او مونږ ستا خبرې واورېدې، څه مو چې له تا څخه واخېستل تا هم له خدا ے پاک څخه راخېستي وو له هغو څیزونو چې په تا نازل شوی دي دا ایت دے:«اوچې هغوي کله په ځان ظلم وکړ تا ته درغلي وې او له خدا ے یې بخښنه غوښتې وې او رسول هم د هغوي لپاره بخښنه غوښتې وې نو خدا ے به یې ښه توبه قبلوونکےاو مهربان موندلے ؤ» ما هم په خپل نفس او ځان ظلم کړے دے او ستا درگاه ته راغلے یم زما لپاره د گناهونو د مغفرت دعا وکړه وغېره . . .»

---

۱ . «أصاب الناس قحطٌ في زمان عمر بن الخطاب فجاء رجلٌ الي قبر النبي فقال یا رسول الله استسق الله لأمتک فانّهم قد هلکوا فأتاه رسول الله ـ صلّي الله علیه [وآله] وسلّم ـ في المنام فقال ائت عمر، فاقرئه السلام، وأخبره إنهم مسقون.» (وفاءالوفا، ۲ ټوک، ۱۳۷۱ مخ)

۲ .«وَمَحَلّ الاستشهادِ طلبُ الإستسقاء منه ـ صلّي الله علیه [وآله] وسلّم ـ وَهُو في البرزخ ودعاؤهُ لرَبّه في هذه الحالة غیرُ ممتنِع وعلْمُه بسؤالِ مَنْ یَسأله قَدْ ورَد فَلا مانِعَ مِنْ سؤالِ الإستسقاء وغیرهِ منْه کَما کانَ في الدُنیا» (وفاء الوفا، ۲ ټوک ، ۱۳۷۱مخ)

۳ . وفاء الوفا، ۲ ټوک ، ۱۳۶۱ مخ ؛سوره نساء: ٦٤ ایت

د «وفاء الوفا لاخبار دارالمصطفی» کتاب لیکوال د شپږم باب په اخېر کښې، ډیرې پېښې نقل کړې دي او ټولې پېښې د دې ښودنه کوي چې له پېغمبر اکرم (ص) څخه د حاجت غوښتل په مسلمانانو کښې یوه رائجه چاره وه او د مسلمانانو «سیره مستمره» دائمي سیرت ؤ ، او دومره پورې چې لیکي: امام محمد بن موسي بن نعمان د دې موضوع په حقله یو کتاب د «مصباح الظلام في المستغیثین بخیرالانام» په نوم لیکلی دی.

۳ ـ «محمد بن منکدر» وائي:
«یو کس اتیا دیناره زما له پلار سره د امانت په توګه کېښودل او ورته یې وویل که چرې دې دینارو ته اړمن شوې نو استعمال یې کړه او خپله جهاد ته لاړ. یو وخت داسې راغی چې ګراني شوه او پلار مې هغو دینارو ته محتاج شو او هغه یې خرچ کړل، نو یوه ورځ هغه کس راغی او خپل دینار یې وغوښتل، پلار مې هغه ته وویل چې سبا راشه او د شپې جومات ته راغی. په داسې حال کښې چې د پېغمبراکرم قبر او منبر مبارک ته یې اشاره کوله، اوتر سحره پورې یې استغاثه او فریادونه کول په همدې وخت کښې د جومات په تیارو کښې یو کس څرګند شو او وې ویل: ای ابا محمده واخله، هغه یوه کڅوړه زما پلار ته ورکړه. چې پکښې اتیا دیناره وو»[1]

٤ ـ «ابوبکر بن مقري» داسې وائي:
«یوه ورځ زهٔ او طبراني او ابوالشیخ د پېغمبر اکرم قبر څنګ ته ناست وو نو وږي شوکله چې شپه شوه نو د حضرت قبر ته مو مخونه تاؤ کړل او وومو ویل چې: «یا رسول الله الجوع . . اے د خدا ے ګران رسوله! وږي یوو . .» لږ ساعت پس د جومات د دروازې اواز راغی چې چا ډبوله ، یو د علوي کس له دوو ځوانانو سره راننوت او د ټولو په لاسونو کښې خواړه وو . . . کله مو چې ډوډۍ وخوړه نو هغه علوي ( د امام علي منسوبنکي) وویل .... چې پېغمبر اکرم صلی الله علیه واله مو په خوب کښې ولید ، او ماته یې حکم راکړ چې تاسو لپاره ډوډۍ راوړم»[2]

٥ ـ «ابن جلاّد» وائي :
«په داسې وخت کښې مدینې منورې ته راغلم چې لاس مې تش ؤ او ناداره ؤم نو د خدا ے د ګران رسول (ص) قبر ته راغلم او داسې مې وویل چې: اے رسوله د خدا ے! زهٔ ستا مېلمه یم .... ناڅاپه اوودهٔ شوم نو په خوب کښې مې پېغمبر اکرم (ص) ولید چې یوه روټۍ یې لاس کښې راکړه. . . .»[3]
اوس مونږ دلته د دې پېښو د سموالي یا د څېړنې په حقله خبرې نه کوو او هیڅ کار ورسره نه لرو خو زمونږ خبره دا ده چې که دا پېښې یا رښتیا وي او یا دروغ وي په دې خبرې ګواهي ورکوي چې داسې کارونه یو رائج عمل ؤ. او که چرې دا عملونه بدعت او حرام وي یا شرک او کفر وي، نو پېښه ورو جعل کوونکو وضع کوونکو کسانو به هیڅ کله داسې روایتونه نه نقلول چې هغوي د خلقو له نظر څخه وغورزوي.

---

[1] . وفاء الوفا، ۲ ټوک، ۱۳۸۰ مخ ( د مصر چاپ) هغه تر ۱۳۸۵ مخ پورې داسې ډیرې نمونې بیان کړې دي.
[2] . وفاء الوفا، ۲ ټوک، ۱۳۸۰ مخ ( د مصر چاپ) هغه تر ۱۳۸۵ مخ پورې
[3] . وفاء الوفا، ۲ ټوک ، ۱۳٦۱ مخ (د مصر چاپ)

ما د «اصالت روح» کتاب په «ارتباط ارواح» برخه کښې، داسې روایتونه او حدیثونه نقل کړل چې ټول په دې دلالت کوي چې له پاکو روحونو څخه څه غوښتل او دعا کول صحیح دي.

دلته هم مجبور یم چې څوټکي ذکر کړم:
۱ـ دا پېښې او واقعات د ځینو خلقو له طبیعت او مزاج سره سمون نهٔ خوري نود همدې امله د روایاتو د سندونو له څېړنې نه بغېر یې ټول واقعات جعلي او دروغ ګڼلي دي نو ایا د دا ډول ناوړه انکار زمونږ د استلال لپاره څه ضرر لري؟
د دې په ځواب کښې باید ووایو: له تاریخي پېښو سره دا ډول سلوک، د تاریخ د بربادېدو سبب جوړیږي. ځکه چې د دا ډول حاجت غوښتلو شمیر دومره زیات دے چې نشو کولې ټول له بېخه بې بنیاده یا دروغ وګڼو. که څوک د دا ډول پېښو د راټولو په لټه کښې شي نو یو غټ کتاب لیکلے شي.
اوس که مونږ دا فرض کړو چې دا ټول تاریخي واقعات او پېښې بې بیناده دي خو دا بې بنیاده دعوې د تاریخ په اووړېدو کې د یو داسې حقیقت چې مونږ یې په لټه کښې یو ښودنه کوي او هغه دا چې که دا ډول غوښتنې او استغاثې د شریعت په خلاف وې نو بیا د ویاړ په توګه به هډو با چا نه جعل او نقلولې ځکه چې په دې صورت کښې به دا چاره نهٔ یوازې دا چې د هغوي د مقام د اوچتولو سبب نهٔ جوړېده بلکې په معاشره کښې به د بې عزتۍ او سپکاوي سبب جوړیده.
د دروغو حدیثونو او تاریخ جعل کوونکي دا کوشش کوي چې داسې څیزونه ولیکي چې د معاشرې د عمومي افکارو د قبلېدو وړ وي او که دا عملونه او حدیثونه د قران پاک او سنت په خلاف وې نو بالکل به یې لیکل ځکه چې دا کار به د هغوي په ګټه نهٔ ؤ بلکې په معاشره کښې به د هغوي د سپکاوي سبب جوړېدهٔ.

۲ـ له پاکو روحونو څخه مرسته غوښتل، که هغه د دعا په شکل کښې وي او که د څه کار د تر سره کولو په شکل کښې وي (لکه د ناروغه کس شفا غوښتل، یا د ورک شوي کس د پېدا کېدو وغېره دعا غوښتل .....) هغو څلورو اصلونو ته په پام سره چې بیان مو کړل، روا دي.
له پاکو روحونو سره د توسل په وخت کښې د مسلمانانو تر مینځ رائج همدغه چارې دي چې دعا ترې وغواړي یا دا چې د پېغمبر اکرم (ص) پاک روح له خدا ے پاک څخه وغواړي چې خدا ے پاک د هغهٔ ګناهونه وبخښې او یا دنیوي او اخروي حاجت یې پوره کړي سره له دې د ټولو کارونو لکه د بیمار کس شفا، د ورک شوي کس د پېدا کېدو او یا د قیدي کس د ازادۍ دعا غوښتل د دلیل له نظره هیڅ فرق نه لري.

۳ـ دا ډول غوښتنې او حاجتونه، هغه میزان ته په پام سره چې د «عبادت» په حقله مو بیان کړ، د پاکو روحونو عبادت او پرستش نه دے؛ ځکه چې غوښتوونکی د (روحونو په باره کښې) نه د هغو د الوهیت او ربوبیت عقیده لري او نهٔ هغوي خدا ے ګڼې او نهٔ یې د دنیا د چارو چلوونکي بولي او نهٔ دا عقیده لري چې خدا ے پاک خپل کارونه هغه ته سپارلي دي بلکې هغوي د خدا ے تعالی نېک او پاک بندګان ګڼي چې په خپل ژوند کښې یې یو ډېر لږ حرامه کار هم نهٔ دے کړے.

د قدرت او قوت څلورو بنیادونو او له هغو څخه د د متوسیلینو د غوښتنو په پوره کولو کښې ځینو توانمنیو ته په پام سره، په دې هیڅ شک نشته چې هغوي ژوندي دي او مونږ ورسره رابطه پیدا کولې شو خو خبره دا ده چې د هر کار تر سره کول؛ که هغه دعا وي او که غېر دعا د خداے پاک له اذن او اجازې سره تړاؤ لري. او هغوي و قران مجید د دې وېنا «وماتَشاءُونَ إلاّ أنْ یَشاءَ اللهُ». روښانه مصداقونه دي

لکه څنګه چې حضرت عیسی علیه السلام په خپل دنیوي ژوند کښې د خلقو لپاره له خداے پاک څخه غوښتنه کولې شوه او یا دا چې د خداے په اذن سره یې له موره پیدا ړندو او د برص بیمارانو ته شفا ورکولې شوه نو بل عالم ته له انتقال نه پس هم د خداے پاک په حکم سره دا قدرت او توان لري او دا توان او طاقت د هغهٔ له روح سره تړلے دے نه د هغهٔ له بدن سره، اوس هم د دواړو کارونو د ترسره کولو توان او طاقت لري خو په دواړو ځایونو کښې د کارونو تر سره کول د خداے پاک له مشیت او اجازې سره تعلق لري.

۵ ـ د معصومو پیشوایانو په حقله دا ډول خشوع او خضوع که څه هم په ظاهر کښې خپله هغوي ته توجه کول ښکاري خو په حقیقت کښې حقیقي مراد او مطلوب په خپله د خداے پاک ذات دے، او حقیقت دا دے چې اسبابو او عواملو ته پام او توجه هم په حقیقت کښې مسبب الاسباب (یعنې دالله ذات) ته پام او توجه ده او کوم کسان چې په عرفاني لاره او د سېر او سلوک په مسائلو کښې ټینګ او مستحکم ګامونه لري له دې حقیقت څخه د زړهٔ په سترګو آګاه او واقف دي.

د دغو اسبابو او وسائلو معرفت لرونکي متوسلین نۀ د دغو اسبابو او وسائلو د اصالت قائل دي او نۀ یې د استقلال او خپلواکۍ قائل دي بلکې هغوی دغه سببونه وسیله ګڼي چې د خداے پاک سبب ساز ذات هغوي د خپل فېض اجرا کوونکي او د خپل رحمت د حصول لاره ګرځولي دي او خپله یې هم مومناتو د حاصلولو حکم په دا ډول کړے دے چې فرمایي:

«یا أَیُّهَا الّذینَ آمَنوا اتّقُوا اللهَ وَابْتَغوا اِلَیْهِ الوَسِیلَةَ وَجاهِدُوا في سَبِیلِهِ لَعَلَکُمْ تُفْلِحُون»[1]

« اے هغو کسانو چې ایمان مو راوړے دے له خدایه ووېرېږئ او هغه ته (د نزدېکت لپاره) وسیله ولټوئ[2] او د هغه په لاره کښې جهاد وکړئ دې لپاره چې کامیاب شئ.»

که چرې نمونځ او روژه او ټول واجبات وسیله دي نو د پاک نبي او اولیاؤ دعا هم د تېرو ایتونو(د مغفرت غوښتنې سره مربوط ایتونه) په رڼا کښې وسیله ده او دغو وسیلو ته پام او توجه کول په حقیقت کښې د دغو وسیلو پېدا کوونکي ته پام او توجه ده او د داسې حکم تعمیل دے چې په دغه وروستي مبارک ایت کښې راغلے دے.

*****

---

[1] . سوره مایده: ۳۵ ایت

[2] . خداے پاک ته د نزدېکت وسیله په خداے او د هغهٔ په رسول (ص) باندې ایمان او د هغه حضرت او د هغهٔ د پاکو اهلبیتوعلیهم السلام پیروي کول، د خدای په لار کښې جهاد کول او نور عبادتونه دي.

# دیارلسم باب

## د خدا ے پاک له ولیانو څخه د شفاعت غوښتنه

مونږ ټول د «شفاعت» (یا سفارش) له لفظ سره اشنا یو، کله چې د یو کس د جرم او ګناه او د هغهٔ محکومېدو خبره راشي او بل کس وسیله جوړه شي چې هغه کس د دې جرم کوونکي له مرګه او پانسۍ یا بند او قېد یا هر ډول سزا نه بچ کړي نو وسیله کوونکي ته ویلې شي چې فلانکي د هغه کس په حق کښې شفاعت یا د هغهٔ لپاره سفارش وکړ.

«شفاعت» «شفع» له مادې څخه د جفت په معنا او د «وتر» په مقابل کښې د طاق په معنا د ے،ګناهګار سړي ته نجات ورکوونکي ته د شفیع ویلو علت دا د ے چې د شفاعت کوونکي مقام او موقعیت او د هغهٔ د اثر کولو طاقت له هغو نورو نجاتي عواملو سره چې په شفاعت کېدونکي کس په وجود کښې(که څه هم لږ او کم وي) موجود دي له دغه اثر سره یوځا ے او ضمیمه کیږي او د دغه کس د خلاصون سبب ګرځي.

د خدا ے پاک د اولیاؤ شفاعت د ګناهګارانو لپاره ظاهراً دا د ے چې د خدا ے پاک نزدې او نازلي کسان چې له خدا ےپاک سره مقام لري (البته د خدا ے پاک په اجازې سره او یو لړ خاصو قاعدو ته په پام سره په کلي توګه نه په فردي توګه) کولې شي چې د مجرمانو او ګناهکارانو لپاره وسیله او واسطه جوړه شي. او د دعا له لارې له لو ے خدا ے څخه وغواړي چې د مجرمانو ګناهونه وبخښي. البته د هغوي شفاعت کول او همدارنګ د هغوي د شفاعت قبلېدل له څو شرطونو سره تړلي دي چې ځینې شرطونه له ګناهګار سړي سره تړلي دي او ځینې له هغه څهٔ سره تړلي دي چې د څه په حقله شفاعت کیږي (یعنې ګناه)

په نورو ټکو کښې ویلې شو چې شفاعت هماغه د خدا ے پاک د ولیانو مرسته او مدد کول دي خو البته د خدا ے پاک په اذن او اجازې سره، په داسې حال کښې چې که څه هم ګناهګار د ے خو خپل تعلق او رابطه او معنوي رشته یې له خدا ے پاک او د هغۀ له اولیاؤ سره غوڅه کړې نۀ ده. او داسې تعلق او رشته پکار دي تل محفوظه پاتې شي.

لنډه دا چې شفاعت دا د ے چې یو داسې لاندې موجود چې د پرمختګ قدرت پکښې موجود وي خو له ځانه له یو پاس بل موجود څخه د یوې قانوني چارې په صورت کښې مرسته او مدد غواړي، البته مرسته غوښتونکے له روحي کماله دومره غورځېدلے نه وي چې د تکامل قدرت یې له لاسه ورکړے وي او بیا له هغۀ څخه یو نېک بنده او انسان جوړېدل ګران وي.

د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم راهسې تر وروسته وختونو پورې د مسلمانانو طور او طریقه له حقیقي شافعانو څخه د شفاعت خواست او غوښتنه وه او ده، او تل به یې د هغوي په ژوندون کښې او هم پس د هغوي له وفاته له هغوي څخه شفاعت غوښتۀ او داسې غوښتنه یو مسلمان دیني عالم او دانشور د اسلام د اصولو او تعلیماتو مخالف نۀ ګڼله.

ان تر دې چې په اوومې اسلامي پیړۍ کښې ابن تیمیه وزیږید او خپل خاص تفکر سره یې له دې مسئلې او له داسې نورو سنتونو د مسلمانو ترمېنځ له جاري سیرت سره مخالفت وکړ او له هغۀ نه درې پیړۍ وروسته محمد بن عبدالوهاب نجدي بیا د دغه مخالفت بېرغ پورته کړ او د ابن تیمیه مذهب یې په کلکه بیا ژوند ے او احیا کړ.

له نورو اسلامي فرقو سره د وهابیانو د اختلاف یو ټکے دا د ے چې که څه هم هغوي د نورو مسلمانانو په شان شفاعت یو اسلامي اصل بولي او وائي چې د قیامت په ورځ به شافعان د دې امت د ګناهکارانو شفاعت کوي او په دې کار کښې پېغمبراکرم ډېره برخه لري، خو بیا هم داسې وائي: چې حق نه لرو چې په دې دنیا کښې له هغوي شفاعت وغواړو او په دې موضوع کښې دومره مخکښې لاړ دي چې د هغوي د خبرو نقلول د انسان د روح د خفګان سبب ګرځي، د هغو خبرو لنډیز دا د ے چې:

پېغمبر اسلام صلی الله علیه و آله وسلم، نور پیغمبران علیهم السلام ، فرښتې او اولیاء کرام د قیامت په ورځ د شفاعت حق لري خو بیا هم شفاعت پکار نۀ دي له هغوي وغواړو بلکې پکار دي د شفاعت له اصلي مالک څخه چې خدا ے پاک د ے وغواړو او داسې باید وویل شي:

« أَللّهُمّ شَفِّعْ نَبِيّنا مُحمداً فينا يَوْمَ الْقيامة أَوْ أَللّهُمّ شَفّعْ فينا عبادکَ الصّالحينَ أَوْ مَلائکَتَکَ أَوْ نَحْوُ ذلکَ ممّا يُطْلَبُ مِنَ اَللهِ لا مِنْهُمْ فَلا يُقالُ: يا رَسُولَ اَللهِ أَوْيا وَلِيّ اَللهِ أَسْأَلُکَ الشّفاعَةَ أَوْ غَيْرَها مِمّا لا يَقْدِرُ عَلَيْهِ الاّ اَللهُ فَإِذا طَلَبْتَ ذلِکَ في أَيّامِ الْبَرْزَخِ کانَ مِنْ أَقْسامِ الشّرْکِ. »[1]

« ا ے خدایه! خپل پېغمبر او نور نېک بندګان د قیامت په ورځ زما شافعان وګرځوې خو مونږ دا حق نه لرو چې داسې ووایو چې: ا ے د خدا ے پېغمبره یا ا ے د خدا ے ولي زمونږ په حق کښې شفاعت وکړه؛ ځکه چې شفاعت

[1] . الهدیة السنیه ، دویمه رساله ، ۴۲ مخ

داسې څيز دے چې بې له خدا ے نه په هغه باندې څوک قدرت نه لري کله هم که څوک له پېغمبر اکرم (ص) څخه (چې په برزخ کښې دے) دغه څيز وغواړي نو شرک دې کړے دے.»

وهابيانو يولړ باطلو او ناوړه افکارو سره له حقيقي شافعانو څخه شفاعت غوښتنه هم حرام بللې او شفاعت غوښتنونکے يې مشرک او د هغۀ عمل هم شرک گڼلے دے.

مونږ مخکښې له دې چې يې دليلونه وڅېړو د شفاعت مسئله د کتاب او سنت او د مسلمانانو د سيرت له نظره جاجوو او بيا د هغو دليلونه څېړو.

### د شفاعت په سموالي باندې زمونږه دليلونه:

د شفاعت په جائزوالي باندې زمونږ دليلونه له دوو څيزونو څخه جوړيږي او د هغو دوو په ثابتيدو سره، خبره بالکل روښانيږي:

الف - د شفاعت غوښتل، هماغه د دعا غوښتنه ده:

ب ـ له غوره کسانو څخه د دعا غوښتل يوه مستحبه چاره ده..

### د شفاعت غوښتل، هماغه د دعا غوښتنه ده

د پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم او د نورو حقيقي شافعانو شفاعت بې دخدا ے پاک له درگاه څخه د دعا له غوښتلو نه بل څه نۀ دي او د خدا ے په نزد د هغوي د مقام او نزديوالي له امله د گناهگار سړي په حقله د هغوي د دعا په غوښتلو سره خدا ے پاک په خپلې ډېرې مهربانۍ او لطف وکرم سره گناهکاران بخښي او پېغمبر خو لا پريږده له مومن ورور څخه د دعا غوښتل يو هم ښه او مستحب کار دے او له اسلامي عالمانو څخه يو کس هم که هغه شيعه وي او که سني وي او که وهابي وي او که غېر وهابي د دې چارې په سموالي کښې شک نه کوي.

البته دا نۀ شو ويلې چې: د شفاعت حقيقت د قيامت په ټولو مواقفو کښې هماغه د خدا ے پاک په درگاه کښې دعا کول دي بلکې دا ويلې شو چې د شفاعت يوه معنا همدغه دعا ده او هغه کسان چې وائي: «يا وَجيهاً عِنْدَاللهِ اشْفَعْ لَنا عِنْدَاللهِ»[1] د همدې معنې اراده کوي. «نظام الدين نيشابوري» د دې ايت: «مَنْ يَشْفَعْ شَفاعَةً سَيِّئَةً يَكُنْ لَهُ كِفْلٌ مِنْها»[2] په تفسير کښې له مقاتل څخه نقلوي چې:

«الشّفاعَةُ اِلَي اللهِ اِنّما هِيَ الدّعْوةُ لِمُسْلِم»
«د شفاعت حقيقت، هماغه د مسلمان ورور لپاره دعا کول دي.»

---

[1] . اے هغه هستۍ چې د خدا ے په نزد مقام او درناوے لرې، د خدا ے پاک په درگاه کښې زما شفاعت وکړه

[2] . سورۀ نساء ۸۵ ايت

او له پیغمبر اکرم صلّي الله علیه وآله وسلم نقل څخه شوي دي چې هر کس چې یو مسلمان ورور لپاره دعا وکړي هغه قبلیږي او یوه فرښتنه وائي: «ستا لپاره هم دغه رنګ دعا وشوه او قبوله شوه.»
ابن تیمیه له هغو کسانو څخه دے چې له ژوندي کس څخه دعا غوښتل صحیح بولي. نو بس له همدې امله د شفاعت غوښتنه له پیغمبر اکرم صلّي الله علیه وآله وسلم او اولیاؤ سره خاصه نه ده بلکې له هر هغه یو مومن څخه چې د خداے پاک په نزد درناوے لري داسې غوښتنه کېدې شي.
علامه فخر رازي هم له هغو کسانو څخه دے چې د شفاعت معنا او تفسیر یې د خداے پاک په درګاه کښې دعا کول بیان کړي دي او د دې ایت «وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ آمَنوا رَبَّنا وَسِعَتْ كُلَّ شَيءٍ رَحْمَةً»[1] په تفسیر کښې وایې:
«دا ایت ګواهي ورکوي چې د عرش حمل کوونکي یو ازې د ګناهکارانو شفاعت کوي.»[2]
د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم شفاعت او هم دا رنګ د نورو پیغمبرانو شفاعت هم د همدې خلقو په حقله دے ځکه چې خداے پاک داسې حکم کوي: «وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِناتِ»[3]

«د خپلو ګناهو په باره او د ایماندارو خلقو په حق کښې مغفرت وغواړه.»

حضرت نوح علیه السلام هم د خپل ځان، مور او پلار او هغو کسانو لپاره چې ایمانداره دي او د هغو ټولو ایمانداره کسانو لپاره چې د قیامت تر ورځې پورې راځي، د ګناهونو مفغرت غوښتے دے او له دې لارې یې د شفاعت رسالت او ذمه واري ادا کړې ده.[4]

د علامه فخر رازي دا خبره په دې ګواه ده چې هغه شفاعت، د ګناهکار په حقله هماغه د شفیع دعا بیانوي او د شفاعت خواست او غوښتنه هماغه دعا غوښتنه بولي.
په ډېرو اسلامي روایتونو او حدیثونو کې راغلي دي چې د یو مسلمان دعا د بل مسلمان لپاره، شفاعت دے.

ابن عباس له پیغمبر اکرم صلی الله علیه و اله وسلم څخه نقلوي:
«ما مِنْ رَجُل مُسْلِم يَمُوتُ فَيَقُومُ عَلي جَنازَتِهِ اَرْبَعُونَ رَجُلا لايُشْرِكُونَ بِالله شَيئاً الاّ شَفَّعَهُمُ اللهُ فيه»[5]
«کله چې یو مسلمان مړ شي او د هغه په جنازې باندې څلویښت کسان چې مشرکا نه وي نمونځ وکړي نو خداے پاک د هغه مړي په حق کښې د دوي شفاعت قبلوي.»

---

[1] . د الهي عرش حاملان ایماندارو کسانو لپاره د مغفرت غوښتنه کوي او داسې وائي: اے پاکه خدایه: ستا رحمت په هر څه خپور شوے دے (غافر ایت ۷)
[2] . ځکه چې د ایت په اخر کښې راغلي دي «وقهم عذاب الجحیم» «او هغوي به د جهنم له اووره ژغوري»
[3] . سوره محمد ۱۹ ایت . لکه څنګه ډېر یقیني دلیلونه د پیغمبر اکرم او د نورو پیمغبرانو په عصمت او معصومیت باندې لرو ، نو معلومیږي چې له «ذنب» نه مراد د هغوي په حقله بله معنا لري او د دې برخې تفصیل د تفسیر «منشور جاوید» په پنځم ټوک کښې (چې د فارسي ورومبنے موضوعي تفسیر دے) بیان شوے دے.
[4] . سوره نوح ۲۸۸ ایت. «ربّ اغْفِرْلي وَلِوالدَيّ وِلَمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِناً وَلِلمُؤْمنينَ والمُؤْمِناتِ.»
[5] . صحیح مسلم، ۳ ټوک ، ٥٤ مخ

په دې مبارک حدیث کښې دعا کوونکي د شافع په توګه پېژندلي شوي دي. نو که اوس څوک په خپل ژوند کښې له خپلو څلوېښتو وفادارو ملګرو څخه وغواړي چې زما له مرګ نه وروسته په ما باندې د جنازې لمونځ وکړئ او زما لپاره دعا وکړئ نو دا کار یې داسې دے لکه چې په حقیقت کښې یې له هغوي څخه شفاعت غوښتے وي او د خدا ے بندګانو د شفاعت سریزې یې برابرکړې دي.

په صحیح بخاري کښې یو باب دے چې عنوان یې داسې دے:

«اِذا اسْتَشْفَعُوا اِلي الْإمامِ لَيَسْتَسْقِيَ لَهُمْ لَمْ يَرُدَّهُمْ»
«کله چې خلق له خپل امامه د شفاعت غوښتنه وکړي چې د هغوي لپاره له خدایه باران وغواړي، نو الله تعالی د هغه غوښتنه نه ردوي.»
همدا رنګ یو بل باب هم شته چې عنوان یې دے :

«اِذا اسْتَشْفَعَ الْمُشْرِكُونَ بِالْمُسْلِمينَ عِنْدَ الْقَحْطِ »
«کله چې مشرکین د اوچکلۍ په حقله شفاعت وغواړي.»[1]

د دې دوو بابونو حدیثونه ګواهي ورکوي چې د شفاعت غوښتنه، هماغه دعا غوښتنه ده او پکار نۀ دي چې په بل ډول یې تفسیر کړو.
دې ځا ے پورې د دلیلونو یوه برخه روښانه شوه او هغه دا چې د «شفاعت طلب» حقیقت، یوازې دعا غوښتنه ده. اوس د دلیلونو دویمه برخه بیانوو او هغه دا چې «له مومن وروره څخه د څه څیز غوښتنه ـ څه لا دا چې د خدا ے پاک له اولیاؤ څخه وي- په کامله توګه یوه مطلوبه، غوره او مستحب چاره ده..

## له غوره کسانو څخه دعا غوښتل یو مستحب کار دے

* قرآن او له غوره او نېکو کسانو څخه دعا غوښتل:
د قران پاک ایتونه په دې ګواهي ورکوي چې د خلقو لپاره د پېغمبراکرم مغفرت غوښتل په بشپړه توګه موثر او ګټوره چاره ده لکه په لاندینو ایتونو کښې راغلي دي:

۱ ـ «وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ»[2]
«دخپلې ګناه او ایماندارو کسانو لپاره مغفرت وغواړه.»

۲ ـ « وَصَلِّ عَلَيْهِمْ اِنَّ صَلاتَكَ سَكَنٌ لَهُمْ »[3]

---

[1] . صحیح بخاري، ۱. ټوک
[2] . سوره محمد ۱۹ ایت
[3] . سوره توبه ۱۰۳ ایت

«د هغوي په حق کښې دعا وکړه ځکه چې ستا دعا د هغوي د ارامښت سبب دے.»

کله چې د انسان لپاره د پېغمبراکرم دعا دومره ګټه وره وي نو بيا څه منعې لري چې له هغهٔ وغوښتل شي چې د يو انسان لپاره دعا وکړي او له بلې خوا دعا هم هغه له شفاعت غوښتلو نه علاوه بل څه نه دي.

۳ ـ «وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَلَمُوا اَنْفُسَهُمْ جاءوکَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُوا اللّهَ تَوّاباً رَحيماً»[۱]
«او چې کله هغوي په ځان ظلم وکړ تا ته درغلي وې او له خدا ے يې بخښنه غوښتې وې او رسول هم د هغوي لپاره بخښنه غوښتې وې نو خدا ے پاک به يې ښه توبه قبلوونکے او مهربان موندلے وې..»

له «جاءوکَ» ؛ «تا ته درغلي وې» نه مراد دا دے چې: راغلي وې او د دعا غوښتنه يا مغفرت غوښتنه يې له پيغمبراکرم (ص) څخه کړې وې که مقصد او مراد بل څه وې نو د هغوي راتلل چټي وو او د پيغمبراکرم (ص) په خدمت کښې حاضرېدل او دعا غوښتل پخپله په دې خبره ګواه دي چې د يو روحي بدلون لپاره د دعا د قبليدو لاره اواره کړي.

٤ ـ قرآن شريف د حضرت يعقوب عليه السلام له زامنو نقلوي چې هغوي له خپل پلاره وغوښتل چې زمونږ لپاره استغفار وکړه او يعقوب عليه السلام هم د زامنو خبره ومنله او په خپلې وعدې او ژمنې يې عمل وکړ.

«قالُوا يا أَبانَا اسْتَغْفِرْ لَنا ذُنُوبَنا اِنّا كُنّا خاطِئينَ قال سَوفَ اَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبّي»[۲]
«زامنو يې وويل: اے پلاره! زمونږ لپاره مغفرت وغواړه ځکه چې مونږ ګناهکار يوو، او هغهٔ وفرمايل: ډير زر به ستاسو لپاره مغفرت وغواړم.»

دا ټول ايتونه، د دې ښودنه کوي چې له پيغمبر اکرم (ص) يا نورو نېکو کسانو څخه دعا غوښتل چې هم هغه د شفاعت غوښتل دي د اسلامي احکامو او اصولو له نظره هيڅ مشکل نه لري او له نېکو کسانوڅخه د دعا د غوښتلو په اړه روايتونه ډېر موجود دي خو د لنډيز په وجه مو نقل نه کړل.

** اسلامي حديثونه او د صحابهٔ سيرت
مشهور محدث ترمذي، چې د سنيانو له صحاح سته کتابونو څخه د يو کتاب ليکوال دے، له انس (رض) څخه نقلوي:
«سَأَلْتُ النَّبِيّ اَنْ يَشفَعَ لِي يومَ القِيامَةِ فَقالَ أَنَا فَاعِلٌ، قُلْتُ فَأَيْنَ اَطْلُبُکَ ؟ فَقالَ : عَلَي الصِّراطِ....»[۳]

---

۱. سوره نساء ٦٤ ايت
۲. سوره يوسف ۹٦ ايت
۳. سنن ترمذي، ٤ ټوک، ٤۲ مخ باب ماجاء في شأن الصراط.

«انس (رض) وائي:) له پېغمبراکرم (ص) څخه مې وغوښتل چې د قيامت په ورځ زما په حق کښې شفاعت وکړي نو هغه حضرت زما خبره قبوله کړه او وې فرمايل چې شفاعت به دې کوم ما ورته وويل زۀ به (په قيامت کښې) تا چرته وينم؟ هغۀ وفرمايل د صراط په خوا کښې.»

انس (رض) په ډېرې ټينګې سره له پېغمبر اکرم (ص) څخه د شفاعت غوښتنه کوي او هغه حضرت يې هم قبلوي او هغه ته د خپل عمل زيرے ورکوي.
سواد بن قارب (رض) چې د پيغمبراکرم (ص) صحابي ؤ، د يو شمېر شعرونو په ترڅ کښې له پېغمبراکرم (ص) څخه د شفاعت غوښتنه کوي او داسې وائي:

فَكُنْ لي شَفِيعاً يَوْمَ لاذُوشَفاعَة *** بِمُغْنٍ فَتِيلا عِنْ سَوادِ بنِ قارب [1]
«اے ګرانه پېغمبره، د قيامت په ورځ زما شفيع شه. هغه ورځ چې د نورو شفاعت د سواد قارب لپاره مفيد او ګټور نۀ.»
د حمير قبيلې د تبع په نامه يو کس د پېغمبر اکرم (ص) له نېمګرغه پېدائش نه مخکښې اوريدلي وو چې په عربستان کښې به ډېر زر يو پېغمبر د خدا ے پاک له لوري راولېږلے شي نو هغه کس (تبع) له خپل مرګه مخکښې يو خط وليکۀ او له خپلوانو څخه يې وغوښتل چې که کله داسې يو پېغمبر دنيا ته راغے نو زما دغه خط ورته ورسوئ چې په هغه خط کښې يې داسې ليکلي وو:

«وِانْ لَمْ اُدْرِكْكَ فَاشْفَعْ لي يَوْمَ القِيامَةِ وَلاتُنْسِني»
«که ما سره زما عمر وفا ونۀ کړه او ستا له زيارت کولو او ليدلو نه مخکښې مړ شوم نو د قيامت په ورځ زما شفاعت وکړه او ما هېر نۀ کړې.»
کله چې دا خط د پيغمبراکرم (ص) لاس ته ورسېد نو درې ځل يې وفرمايل:

« مرحباً بِتُبَّعِ اَلأَخِ الصَالِحِ »[2]
«مرحبا دې وي زما په نېک ورور تبع باندې.»
نوبس که د شفاعت غوښتل شرک وې نو پېغمبراکرم (ص) به هغۀ ته د ورور لفظ بالکل نۀ استعمالوۀ او په هغۀ باندې به يې درې ځل مرحبا نۀ ويله.

## د مرګ په وخت کښې شفاعت غوښتل

د دې برخې حديثونه دا ښودنه کوي چې له حقيقي شفيعانو څخه شفاعت غوښتل که هغه د هغوي په ژوند کښې وي او که د هغوي له ژوند نه پس وي بې له شکه سم او صحيح کار دے.

---

[1] . قاموس الرجال د «سواد» د مادې تر لاندې.
[2] . مناقب ابن شهر آشوب، ۱ ټوک ، ۱۲ مخ ؛ بحار الانوار، ۱۵ ټوک ، ۳۱٤ مخ

له ځينو روايتونو اوحديثونو دا استفاده کيږي چې د پېغمبراکرم (ص) اصحابان د هغه بزرګوار له وفات نه پس د هغهٔ له پاک روح څخه د شفاعت غوښتنه کوله. د نمونې په توګه:

۱ ـ ابن عباس (رض) وائي: کله چې امير المومنين علي عليه السلام پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم ته غسل او کفن ورکړ نو ورته مخاطب شو او وې ويل:

« بِأَبِي أَنْتَ وأُمّي طِبْتَ حَيّاً وطِبْتَ مَيّتاً . . . وَاذکرنا عَنْدَ رَبِّکَ . . . »[۱]
«زما مور او پلار له تا نه ځار شه،د ژوند او مرګ په دواړو حالتونو کښې پاک او پاکيزه يې دخپل خدا ے په درګاه کښې زمونږ يادونه هم وکړه ....»

۲ ـ کله چې پېغمبر له دې دنيا څخه پرده وکړه او ( لا په کفن کښې ؤ) نو ابوبکر (رض) د هغه مخ خلاص کړ او ښکل يې کړ او وې ويل چې زما مور او پلار له تا ځار شه د ژوند او مرګ په دواړو حالاتونو کښې پاک او پاکيزه يې د خپل خدا ے په نزد مونږ ياد کړه او هير مو نۀ کړې.[۲]
له ذکر شويو حديثونو څخه دا خبره معلوميږي چې د شفاعت په غوښتلو کښې په دې کښې هيڅ فرق نشته چې شفاعت کوونکے ژوندے وي او که ژوندے نۀ وي (يعنې وفات وي) په دغو مبارکو ايتونو او حديثونو او په ټولو وختونو او زمانو کښې د مسلمانانو په ټولنو کښې جاري سنت ته په پام سره، د شفاعت غوښتلو موضوع يوه ساده او څرګنده او اسانه مسئله ګڼلې شي چې دهغې په حقله لږ شک او شبهه کول هم صحيح نه دي. له دې نه ورتېر د پېغمبر اکرم (ص) صحابه ؤ به د هغه حضرت له وفات نه پس هم له هغهٔ څخه دعا غوښتله که د هغه وفات نه پس له هغه دعا کول صحيح وي نو شفاعت غوښتل هم چې يو ډول دعا ده، صحيح دي.[۳]

*****

---

[۱] . نهج البلاغه، ۲۳۰ خطبه
[۲] . کشف الارتياب، ۲٦٥ مخ له خلاصة الکلام څخه په نقل سره.
[۳] . په دې حقله د لا ډېرو معلوماتو لپاره د ليکوال بل کتاب شفاعت د عقل، قران پاک او سنت له نظره ته مراجعه وکړئ چې په هغه کتاب کښې به په دې حقله له سلو حديثونو سره اشنا شئ (پنځه څلوېښت حديثونه د سنيانو په کتابونوکښې نقل شوي او پنځه پنځوس حديثونه هم له شيعه کتابونو څخه نقل شوی دي (البته اوس د شفاعت په نوم يو بل کتاب هم په پښتو ژبه کښې ډېر زر چاپ شي انشاءالله.

# څوارلسم باب

## د شفاعت د ممنوع کېدو په حقله د وهابیانو د دلیلونو څېړنه

په تېر باب کښې د شفاعت د غوښتلو د رواولي په حقله له دليلونو سره اشنا شو اوس به دا کوشش کوو چې د دې عقيدې د مخالفينوله دليلونو څخه ځان خبر کړو. مخالفې ډلې(وهابيانو) په بد ګومانۍ سره د خدا ے پاک له اولياؤ څخه د شفاعت غوښتل ممنوع بللي دي چې دلته يې په ډېره لنډه توګه څيړو:

### ۱ـ د شفاعت غوښتل شرک دے!

له شرک نه د دې ډلې مراد په عبادت کښې شرک دے او داسې څرګندونه کوي چې د شفاعت غوښتل د شفيع عبادت دے.

د کتاب په نهم باب کښې مو په پراخه توګه او تفصيل سره د عبادت په حقله بحث وکړ او روښانه موکړه چې د انسان د هر ډول پرستش او يا په داسې صورت کښې د شفاعت غوښتل عبادت ګڼلے شي چې مخاطب طرف «اله»، «خدا ے»، «رب»، «د خلقت د جهان چلوونکے» او يا «د خدائ د کارونو مبدا او څښتن» وبلو او که داسې نه وي نو هر ډول حاجت غوښتلو او هم دا رنګ هر ډول تعظيم او خضوع او درناوي ته عبادت نۀ شو ويلې

د خدا ے پاک د درگاه له حقیقي شفیعانو (یعنې له هغو کسانو څخه چې ورته د خدا ے پاک له لورې د شفاعت اذن او اجازه ورکړې شوې وي) څخه شفاعت غوښتل شرک نه د ے ځکه چې شفاعت غوښتونکے له هغه کسان د خدا ے پاک د درگاه مقرب او نزدې کسان بلي، او بالکل هغوي نه خدا ے بلی او نۀ دا چې گڼې د خدا ے پاک کارونه لکه مغفرت او شفاعت وغېره هغوي ته حواله کړې شوي دي او هغوي په خپل سر او خپلواکه توگه او بې له الهي اذن و اجازې چا ته چې يې زړۀ غواړي شفاعت يې کوي او چا ته چې يې زړۀ غواړي گناه ورته بخښي.
دغه ډله د «الهي اذن» په دائره کښې کولې شي چې د هغو خاصو کسانو په حقله د گناهونو د بخښنې او د مغفرت غوښتنه وکړي چې د کومو کسانو له خدا ے پاک سره معنوي رابطه ټینگه وي او د خدا ے پاک له شفیعانو سره يې روحي پیوستون سست شو ے نه وي نو داسې غوښتنه هیڅکله عبادت نۀ گڼل کیږي.
البته یادونه کوو چې که داسې درخواست د شفیع له وفات نه پس د شفیع عبادت وگڼلې شي نو پکار دي همدغه درخواست او غوښتنه د شفیع په ژوند کښې هم عبادت وگڼلې شي.
په تیر بحث کښې مو دا خبره په گوته کړه چې قران او سنت دا حکم کوي چې مسلمانان پکار دي د پېغمبر اکرم (ص) در ته ورشي او له هغۀ څخه خواست وکړي چې د هغوي په حق کښې استغفار وکړي. او دا عمل د هغه حضرت په ژوند کښې د شفاعت له غوښتلو نه بغېر بل څه نۀ دي. او دا ممکنه نۀ ده چې يو عمل دې په يو ځا ے کښې شرک وي او په بل وخت کښې دې هماغه عمل سوچه توحید وي.
په واضحو او روښانه ټکو کښې به داسې ووایو چې هغوي وائي: شفاعت د خدا ے فعل (کار) د ے او په لا غوره تعبیر سره د هغۀ حق د ے او د له غېر خدا څخه د خدا ے پاک د کار غوښتل د غیر خدا عبادت د ے هماغه شان لکه چې هغوي دا خبره د یو ناروغه او بیمار کس لپاره له اولیاإلله او د هغوي په شان له نورو نه د روغتیا او شفا دغوښتلو په باره کښې تکراروي او وائي چې دا ډول غوښتنی له غیرخدا ے څخه د خدا ے د فعل او کار غوښتنه ده غواړي او په طبیعي توگه د دا ډول غوښتنې د غیر خدا ے عبادت او پرستش وي.
تېرو بحثونو ته په پام سره د دې استدلال ځواب پوره پوره روښانه د ے او هغه دا چې: په کلي قانون او عمومي قاعده کښې، يو مسلمان هم اختلاف نۀ لري او ټول داسې وائي چې د خدا ے پاک فعل له غیر خدا نه غوښتل د غېر خدا عبادت د ے او د هغۀ د الوهیت او ربوبیت د عقیدې د لازموالي ښودنه کوي، خو د مطلب بنیادي ټکے دلته د ے چې د خدا ے له فعل نه مراد څه د ے؟ تر اوسه پورې د دې دريو پېړيو په دوران کښې وهابي لیکوالانو د خدا ے پاک د فعل لپاره څه قاعده او ضابطه نۀ ده بیان کړې،نو بس څرگنده ده چې د داسې يوې ضابطې او قاعدې له ټاکل کېدو نه بغېر به يې استدلال چټې او پوچ وي.
د عبادت دتعریف په بحث کښې مو یادونه وکړه چې په ډېرو قراني ایتونو کښې د خدا ے پاک مخصوص افعال، غېر خدا ته نسبت ورکړی شوی د ے لکه مړۀ کول چې د خدا ے پاک ځانگړ ے فعل د ے او په قران پاک کښې فرمائي: «وهُوَ الّذي يُحيِي وَيُميتُ»[1] غیر خدا ته يې نسبت ورکړ ے شو ے د ے لکه چې فرمائي:

«حَتّي إذَا جاءَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ تَوَفّتْهُ رُسُلُنا»[2]

---

[1] . سوره مؤمنون : ۸۵ ایت «هغه (الله) د ے چې ژوندي کوي او مړۀ کوي.»
[2] . سوره انعام : ٦١ ایت

«تر دې چې په تاسو کښې د يو کس مرګ راورسي نو زمونږ ليږلې شوې (د مرګ ملائيکې) (د) هغه (روح) اخلي.»
يوازې دا «مړۀ کول» نه دي چې د خدا ے مخصوص فعل دے او غير خدا ته يې نسبت ورکړے شوے دے بلکې ډې د خدا ے پاک فعلونه او نور څيزونه شته چې يوازې پکار دي له خدا ے پاک څخه وغوښتل شي، خو اجازه ورکړې شوې ده چې له غېر خدا هم غوښتلې شی د مثال په توګه:
قران پاک مسلمانانو ته حکم ورکوي چې په پينځه وخته نمونځ کښې ووائۍ «وَاِيّاکَ نَسْتَعِينُ» ؛ «او يوازې له تا مرسته غواړو» حال دا چې په نورو ايتونو کښې يې حکم ورکړے دے چې له غير خدا لکه له نمونځ او صبر څخه هم مرسته وغواړئ لکه فرمايي:

«وَاسْتَعينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلوةِ وَانّها لَکَبيرةٌ الاّ عَلَي الْخاشعِينَ»[1]
«اوله صبر او نمانځۀ څخه (يا دصبر او نمانځۀ په وسيله) مرسته وغواړئ. بېشکه چې دا (نمونځ) ګران دے مګر دهغو کسانولپاره چې خشوع او ويره لري»
او که مونږ وغواړو چې هغه ايتونه چې پکښې د خدا ے پاک د مخصوصو کارونو او فعلونو نسبت غېر خدا ے ته ورکړے شوے دے دلته بيان کړو نو خبره به ډېره اوږده شي.[2] هغه څه چې لازم دي دا دي چې د قران شريف د تعليماتو په رڼا کښې اختلافات څنګ ته کيږدوو او د قرا ن پاک حقيقي مراد تر لاسه کړو او هغه دا چې:
په دې کارونو کښې هر يو کار، دوه صورتونه لري:
۱ ـ د کار او فعل کوونکے ( فاعل) په خپلواکه توګه او بې د دې چې له بل چا اجازه واخلي او له بل چا څخه مرسته واخلي او د چا د رضا نه علاوه (يعنې د خدا ے پاک له اذن نه بغېر)، يو کار وکړي؛ مثلاً څوک يا څه مړۀ کړي او يا د چا مرسته وکړي.
۲ ـ همدغه فعل او کار کوونکے ( فاعل) په بل برتر موجود باندې په تکيه کولو او د هغۀ له خوا په ورکړې شوي قدرت سره او د هغه په رضا او اجازې سره يو کار کوي (يانې د خدا ے پاک په اذن سره).
وړومبے کار او فعل، د خدا ے پاک مخصوص کار دے، او دويم کار انساني او بشري او غير الهي فعل دے.
د الهي کار او انساني کار په دغو دواړو صورتونو کښې دا خبره څرګنديږي او دا د الهي او غېر الهي کار د پېژندلو يوه کلي ضابطه ده.
د خدا ےپاک فعل او کار، لکه: مړۀ کول او ژوندې کول، شفا ورکول او روزي ورکول داسې فعلونه دي چې فاعل د دې کار په تر سره کولو کښې بل چا ته اړمن نۀ دے.
د دې په مقابل کښې غېر الهي فعل دے چې فاعل د دغه کار په تر سره کولو کښې بل چا ته اړمن او ضروتمن دے او د هغۀ د قدرت او رضايت نه بغېر دا کار نۀ شي کولې.
دې اصل ته په پام سره دا خبره په ډاګه کيږي چې شفاعت د خدا ے پاک مخصوص حق او کار دے او د هغه شفاعت په اپوټه چاره ده چې مونږ يې له نېکو بندګانو څخه غواړو.

---

[1] . سوره بقره : ۴۵ ايت
[2] .له زياتو معلوماتو لپاره منشور جاويد کتاب، ۲ ټوک ، د « عبادت تعريف» برخې ته مراجعه وکړئ.

خدا ے پاک د دې کار په تر سره کولو کښې هيڅ کله بل چا ته اړمن او محتاج نه د ے، حال دا چې که د خدا ے پاک نېک او نيازبين بندګان او اولياء کرام که دا کار تر سره کوي نو د خدا ے پاک له مرستې او اجازې نه بغېر يې شي تر سره کولې.
دې قاعدې او ضابطې ته په پام سره د وهابي ليکولانو مغالطې په دې حقله څرګندېږي او دا هم په ډاګه کيږي چې دا ډول غوښتنې که هغه شفاعت وي او که بل څه لکه شفا غوښتل او داسې نور څيزونه په دوو صورتونو کښې کېدې شي او يو موحد او يو خدا ے منونکے کس هيڅ کله د وړومبي صورت په معنا له نېکو بندګانو څخه غوښتنه نۀ کوي. که څه هم د اسلام په حقله يې معلومات لږ وي، هځکله هم د خدا ے پاک نيازبين او اولياء د دنيا چلوونکي او د تکوين، تشريع د مرکز اداره کوونکي نۀ بولي، او نۀ هغوي داسې کسان ګڼي چې ګنې خدا ے پاک خپل فعلونه او کارونه هغوي ته سپارلي وي او د خلقو په شفاعت کولو کښې او همدا رنګ د ضرورت منو د ضرورت په پوره کولو کښې له هر ډول محدوديت او شرائطو څخه پاک دي.(نه هيڅکله داسې نه ده)
لنډيز: د محدود او ماذون شفاعت غوښتنه، د انسان د کار غوښتنه ده، خپله له انسان څخه د انسان د فعل غوښتنه ده، نه دا چې د خدا ے پاک د فعل غوښتنه له غېر خدا ے څخه ده.
د خدا ے پاک په مرستې سره به انشاءالله د خدا ے پاک د فعل او د هغه د ځانګړتياؤ په حقله خبرې وکړو.

۲- د مشرکانو شرک له بتانو نه د شفاعت دغوښتنې په وجه د ے
د خدا ے پاک له اولياؤ نه د شفاعت په حرام والي باندې د وهابيانو دويم دليل دا د ے چې خدا ے پاک د حجاز بت پالونکي په دې وجه مشرک ګڼلي دي چې هغوي له بتانو څخه د شفاعت غوښتنه کوله او د هغو په مخکښې به يې ژړا او فريادونه کول او هغوي به يې د خپلو حاجتونو وسيله جوړول لکه څنګه چې لاندينے مبارک ايت په دې خبره باندې ګواهي ورکوي:
«وَيَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللهِ ما لا يَضرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُم وَيَقُولُونَ هؤُلاءِ شُفَعاؤُنا عِنْدَ اللهِ»[۱]
«او د خدا ے پاک په ځا ے د هغه څه عبادت کوي چې نه ورته څه نقصان رسولې شي او نه ورته څه ګټه او وائي: د دوي خدا ے په نزد زمونږ شفاعت کوونکي دي.»
نوبس د دې مبارک ايت په رڼا کښې له غېرخدا ے څخه د هر ډول شفاعت غوښتل شرک د ے او د شفيع عبادت د ے.
ځواب: وړومبي دا چې دا مبارک ايت د هغوي په مراد باندې لږ شان دلالت هم نه لري او که قران پاک هغوي مشرکان ګڼي نو په دې وجه نۀ دي چې هغوي له بتانو شفاعت غوښتۀ بلکې د هغوي د مشرک والي علت دا د ے چې هغوي د بتانو عبادت کوۀ او بيا يې له هغۀ وروسته له هغوي څخه شفاعت غوښتۀ.
که له بتانو څخه شفاعت غوښتل، د هغوي عبادت وې نو بيا څه دليل نه ؤ چې خدا ے پاک د «وَيَعْبُدُونَ» ايت نه پس داسې جمله «وَيَقُولُونَ هؤُلاءِ شُفَعاؤُنا» راوړې.

---

۱ . سورۀ يونس ۱۸ ايت

دا چې په دې ایت کښې دوه جملې په یو بل عطف شوې دي، دا جوته کوي چې د بتانود عبادت خبره د شفاعت خبرې نه جدا ده. د بتانو عبادت د شرک نخښه ده او له کاڼي او لرګي څخه شفاعت غوښتل د لیوانیانو کار دے او له منطقه او علمه لرې چاره ده.
دا ایت په دې خبره باندې هېڅ دلالت نه کوي چې له بتانو شفاعت غوښتل د هغوي عبادت دے نو بیا په دې څنګه دلالت کوي چې د خدا ےپاک له نیازبینو، اولیاؤ او پاکو کسانو څخه شفاعت عوښتل د هغوي عبادت دے؟
دویمه داچې؛ که دا فرض کړو چې د هغوي د «شرک» علت له «بتانو» څخه د هغوي د «شفاعت غوښتنه» ده. خو د هغوي د شفاعت په غوښتلوکښې او د مسلمانانو د شفاعت په غوښتلو کښې د زمکې او اسمان فرق دے. هغوي به بتان د ګناهونو له بخښنې او د شفاعت له کولو سره په اړوندو مسائلو کښې د شفاعت حقیقي خاوندان او د الهي درګاه خپلواکه موجودات ګڼل. تۀ به وائې چې خدا ے پاک په دغو مسائلو کښې له دغو چارو څخه بېل شوے دے او د دا ډول چارې یې بتانو ته سپارلې دي، په طبیعي توګه به داسې شفاعت غوښتل، د بتانو عبادت وي. ځکه چې د هغوي په «الوهیت»، «ربوبیت» او «په الهي کارونو کښې د هغوي په مبداء» باندې په عقیدې سره به له هغوي څخه شفاعت غوښتلے شو، حال دا چې یو مسلمان د خدا ے پاک نیازبین شخصیتونه او اولیاء د خدا ے پاک د درګاه مقرب او د خدا ے په نزد عزتمن بندګانو په توګه او د داسې کس په توګه له هغۀ شفاعت غواړي چې خدا ے پاک هغوي ته د شفاعت اجازه ورکړې ده او په دې دواړو شفاعتونو غوښتلو کښې د پرتلې ګڼول ډېره بې انصافي او له حقیقته لرې خبره ده.

۳ـ له غیر خدا ے څخه حاجت غوښتل حرام دي
له الهي اولیاؤ څخه د شفاعت د غوښتلو په حرامېدو باندې د وهابیانو دریم دلیل دا دے چې د قران شریف په ښکاره حکم سره د دعا په حالت کښې پکار نۀ دي چې له غېر خدا ے څخه دعا وغواړو او همدا رنګ له غیر خدا ے څخه شفاعت غوښتل یو ډول له غېرخدا ے څخه حاجت غوښتل دي.
قرآن شریف داسې فرمائي: «فَلا تَدْعُوا مَعَ اللهِ أحَداً»؛[۱] «له خدا ے سره غېر خدا ےمۀ رابولئ» کله هم چې وویل شي چې د غېرخدا ے رابلل حرام دي او بل خوا د شفاعت غوښتل د هغۀ د اولیاؤ لپاره ثابت دي. د دې دواړو جمع کولو لاره هماغه ده چې د اولیاؤ شفاعت له خدا ے پاک څخه وغواړو نه پخپله له اولیاؤ څخه.
په دې خبرې باندې چې دا ډول بلنې عبادت دے ګواه دا ایتونه دي:

«اُدْعُوني اَسْتَجِبْ لَکُمْ اِنَّ الّذِینَ یَسْتَکْبِرُونَ عَنْ عِبادَتي سَیَدْخُلُونَ جَهَنّمَ داخِرین»[۲]
«ما رابولئ چې زۀ ستاسو دعا قبلوم، هغه کسان چې زما له عبادت نه مخ اړوي ډېر زر به دوزخ ته داخل شي.»
په لږ غور سره معلومېږي چې د ایت په سر کښې د «دعوت او بلنې» لفظ او په آخېر کښې د «عبادت» لفظ استعمال شوے دے او دا په دې ګواه دي چې د دعوت او عبادت مفهوم یو دے.

---

۱ . سوره جن ۸ ایت
۲ . سوره غافر ۶۰ ایت

په اخلاقي کتابونو کې راغلي دي چې: «الدُّعاءُ مُخُّ العِبادَةِ»؛ «دعا کول د عبادت مغز دے.»

ځواب:
وړومبې دا چې په «فَلاتَدْعُوا» جمله کښې د غېرخدا ے د رابللو له حراموالي نه مراد د هر ډول بلنه او غوښتنه نه ده بلکې د رابلنې او دعوت له حراموالي نه مراد دا دے چې د غېرخدا ے عبادت حرام دے، د دې خبرې دليل او ګواه مخکښينے ايت دے چې فرمائي: «وَاَنَّ الْمَساجِدَ للهِ» دا جمله د دې ښودنه کوي چې په دې ايت کښې له دعوت او رابللو نه مراد يو خاص دعوت دے چې لازمه يې عبادت دے او هغه دا چې له ذلت او خضوع سره د داسې کس په مخکښې رکوع او قيام کول چې يې الله، د نړۍ خدا ے، رب الارباب او د نړۍ مطلق واکمن وګڼو.[1]
او دا شرطونه، په هغه شفاعت کښې چې د خدا ے پاک له داسې بنده يې کوو چې خدا ے پاک ورته داسې حق ورکړے وي او د شفاعت اجازه يې هم ورکړې وي، وجود نۀ لري.
بله دا چې؛ هغه څه چې دا ايت يې حراموي، دا دي چې خدا ے پاک ته د خواست په وخت بل څوک هم له هغۀ سره شريک کړو او هغه هم د خدا ے پاک په مرتبه کښې وګڼو ځکه چې د «مع الله» لفظ د دې خبرې څرګندوونکے دے. خوکه يو کس له پېغمبراکرم (ص) څخه وغواړي چې د هغۀ په حق کښې دعا وکړي چې خدا ے پاک د هغۀ ګناهونه وبخښي يا د هغۀ څه حاجت پوره کړي نو دې کس هرګز له خدا ے پاک سره بل څوک نۀ دي شريک کړي بلکې د دې دعوت او رابللو حقيقت يوازې د خدا ے پاک رابلل دي.
که په ځينو ايتونو کښې له بتانو څخه د حاجت د پوره کېدو غوښتنه شرک معرفي شوے دے په دې وجه دے چې هغوي به واړۀ خدايان، د خدا ے پاک د ټولو کارونو يا د ځينو کارونو واکمن ګڼل او له همدې امله قران پاک په دا ډول افکاروباندې په نيوکې سره فرمائي:
«وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِه لا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَكُمْ وَلا أَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُونَ.»[2]
«اوهغه (معبودان) چې تاسو يې له هغۀ (الله) نه بغېر رابولئ، هغوي نۀ ستاسو مرسته کولې شي او نۀ له ځان سره مرسته کولې شي.»

او په بل ځا ے کښې فرمائي:
«اِنّ الذّينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللهِ عِبادٌ أَمْثالُكُمْ»[3]
« بېشکه کوم کسان چې تاسو د خدا ے په ځا ے رابلئ هغوي ستاسو په شان بندګان دي!»

لنډيز: مشرکينو به بتان واړۀ خدايان ګڼل او هغوي به يې مطلق تصرف کوونکي او د الهي افعالو اختيارمن بلل خو هغه کسان چې خدا ے پاک هغوي ته د شفاعت او دعا اجازه ورکړې دغه شرائط نۀ لري.

---

[1] . په حقيقت د ايت معنا داسې ده: «فَلا تَعْبُدُوا مَعَ اللهِ اَحَداً» لکه په بل ايت کښې داسې فرمايي: «وَالَّذينَ لايَدْعُونَ مَعَ اللهِ اِلهاً آخر» سوره فرقان : ٦٨ ايت
[2] . سوره اعراف ١٩٧ ايت
[3] . سوره اعراف ١٩٤ ايت

دريم دا چې د «دعوت او رابللو» معنا ډېره پراخه او ستره ده او کله کله د مجاز په توګه د «عبادت» لپاره هم استعمالیږي؛ لکه ایت[1] او حدیث[2] چې استدلال کوونکي ورسره استدلال کړے دے په داسې صورت کښې داسې جزئي استعمالونه د مجاز په توګه دلیل نۀ شي جوړېدې چې دعوت دې تل د عبادت په معنا تفسیر کړو او په معقوله توګه دې له یو کس څخه حاجت دې شرک وګڼو.
حال دا چې د «دعوت» حقیقي معنا رابلل دي چې کله کله د عبادت په صورت کښې راځي خو زیاتره د نورو د دعوت کولو په معنا استعمالیږي نه د عبادت لپاره.
مونږ به یو باب په قران پاک کښې د «دعوتونو» په حقله ولرو او دا به ثابتوو چې د هر ډول دعوت او بلنې لازمه عبادت او پرستش نۀ دے.

٤ ـ شفاعت د خدا ے پاک ځانګړے حق دے.
لاندینۍ ایت د دې ښودنه کوي چې شفاعت د خدا ے پاک حق دے، په دې صورت کښې له بل کس نه شفاعت غوښتل څه معنا نۀ لري؟
«اَم اتّخَذُوا مِنْ دونِ اللهِ شُفَعاءَ قُلْ اَوَلَوْ کانُوا لا یَمْلِکُونَ شَیْئًا وَلا یَعْقِلُونَ قُلْ للهِ الشّفاعَةُ جَمیعاً»[3]
«بلکې هغوي بې له خدایه نور شفیعان جوړ کړي دي ووایه چې که هغوي د څه څیز څښتن او مالکان نه دي او په څه نه پوهیږي(نو څرنګه ستاسو شفیعان جوړیدې شي؟) ووایه چې شفاعت یوازې د خدا ے له لوري دے او بس.»

ځواب:
له « للهِ الشّفاعَةُ جَمیعاً» جملې څخه مراد دا نۀ دے چې یوازې خدا ے پاک شفاعت کوي او بس او بل کس د شفاعت حق نۀ لري؛ ځکه چې په دې کښې هیڅ شک نشته چې خدا ے پاک د هیچا لپاره د بل کس په درګاه کښې شفاعت نه کوي، بلکې مراد یې دا دے چې یوازې خدا ے پاک د شفاعت حقیقي مالک او څښتن دے. نه دا چې بتان هم کېدې شي ځکه چې هغه کس د شفاعت مالک جوړیدې شي چې د هغۀ عقل او شعور وې او د څه څیز مالک جوړېدې شي او هغه بتان چې پرستش یې کیږي دا دوه شرطونه نه لري لکه خداي فرمایې: «قُلْ اَوَلَوْ کانُوا لا یَمْلِکُونَ شَیْئاً....»
نو بس په دې بنیاد د دې ایت د بحث چورلیز او محور دا دے چې یوازې خدا ے پاک د شفاعت مالک دے او بتان نۀ دي. او چې په هر چا کښې یې د شفاعت قابلیت او وړتیا ولیده نو هغه ته د شفاعت اجازه ورکوي چې د نورو کسانو شفاعت وکړي. نو په دې صورت کښې دا ایت زمونږ له بحث سره هډو تعلق نۀ لري، ځکه چې مسلمانان یوازې خدا ے پاک د شفاعت حقیقي مالک بولي نه دا چې د خدا ے پاک انبیاء او اولیاء، بلکې دا عقیده لري چې یوازې هغه کس شفاعت کولې شي چې هغۀ ته د خدا ے پاک لخوا اذن او اجازه حاصله وي او

[1] . «أدْعُوني أسْتَجِبْ لَکُمْ اِنّ الّذینَ یَسْتَکْبِرُونَ» .
[2] . «الدعاء مخّ العبادة» .
[3] . سوره زمر ٤٤ ایت

همدارنګ عقیده لري چې د ایتونو او حدیثونو له نظره، خدا ے پاک خپل پیغمبر (ص) ته د شفاعت اجازه ورکړې ده، په دې وجه هغه یو داسې کس بولي چې ورته د خدا ے پاک لخوا د شفاعت اذن ورکړے شوے وي نه دا چې دا د شفاعت حقیقي مالک. نو اوس دا خبره د ایت له محتوا سره څه تعلق لري؟.

۵ـ له مړي نه شفاعت غوښتل چټی او فضول دي

د وهابیانو اخري استدلال دا دے چې له اولیاء الله څخه په دې دنیا کښې شفاعت غوښتل له مړي څخه حاجت غوښتل دي چې مړي زمونږ دعا او حاجت نه اوري.

قران پاک په ډاګه مړي داسې ګڼي چې په هیڅ نه پوهیږي او هیڅ نه اوري هلته چې فرمایي

الف ـ «اِنَّکَ لاتُسْمِعُ الْمَوْتي وَلاتُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعاءَ اِذا وَلَّوا مُدْبِرينَ»[1]

«ته مړي او هغه کسان چې کاڼهٔ دي او ستا خبرو ته غوږ نه ایږدي، نهٔ شې پوهولې (هدایت کولې)»

قران پاک په دې ایت کښې، مشرکان له مړو سره تشبیه کړي دي او د دې خبرې ښودنه کوي چې لکه څنګه چې مړي نه پوهیږي همدارنګ مشرکین هم نهٔ پوهیږي او د مړو په شان دي که مړو خبرې کولې شوې او د اوریدو حس یې لرلې، نو مړو سره به د مشرکانو تشبیه کول صحیح نهٔ وو.

ب ـ «اِنَّ اللهَ يُسْمِعُ مَنْ يَشاءُ وَما أَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِي الْقُبُورِ»[2]

«خدا ے چې څوک غواړي پوهوي یې، او هغه کسان چې په قبرونو کښې پراتهٔ دي تاسو یې نه شئ پوهولې»

په دې ایت سره استدلال هم د تېر ایت د استدلال په شان دے.نو بس له مړي نه د شفاعت غوښتنه، داسې ده لکه څوک له یو کاڼي نه غوښتنه کوي.

ځواب:

دا ډله تل د نورو اسلامي فرقو د خطا کولو لپاره، د شرک له دروازې څخه داخلیږي او د «توحید د طرفدارو!» په نوم د نورو فرقو د کافر ثابتولو هڅه کوي خو په دې استدلال کښې یې د خپل استدلال شکل بدل کړے دے او د خدا ے پاک اولیاؤ ته د توجه کول لغو او چټی ګڼلو موضوع مطرح کړې ده. خو هغوي له څیز څخه په کلي توګه غافل دي چې: «د خدا ے پاک اولیاء د عقلي[3] او نقلي دلیلونو[4] په برکت سره حیات او ژوندي دي» او د دې ایتونو مقصد دا نهٔ دے چې هغه بدنونه چې په خاورو کښې ارام کوي نهٔ پوهیږي او هر بدن چې روح ترې جدا شي له هغو څخه دې د عقل او فهم قوت هم ختم شي او د یو جماد او کاڼي په په شان دې شي.

---

[1] . سوره نمل ۸۰ ایت

[2] . سوره فاطر ۲۲ ایت

[3] . له بدن څخه دروح له جدائي او له مادې ډانچې څخه د هغهٔ له بې نیازۍ نه پس له مادي څخه د نفس د تجرد دلائل دا تقاضا کوي چې د انسان روح پس له مرګه هم باقي پاتې دے او یو خاص ډول ژوند او درک لري او ستروااسلامي فلسفیانو په لسګونو دلیلونو سره د روح بقا او له مادې د هغهٔ برتري ثابته کړې ده او هیڅ یو منصف کس ته یې د شک څخه ځا ے پرې نهٔ ښود

[4] .د قران پاک آیتونه؛ لکه د سوره آل عمران ۱۶۹ او ۱۷۰ ایتونه او د سوره نساء ۴۱ ایت او د سوره احزاب ۴۵ ایت او د سوره مؤمنون ۱۰۰ ایت او د سوره غافر ۴۶ ایت په دې ګواهي ورکوي چې پس له مرګه هم د انسان ژوند ادامه لري او په تېرو بحثونو کښې مو هم په دې حقله خبرې وکړې.

خو پکار دي پاملرنه وکړو چې زمونږ مخاطب، هغه بدنونه نهٔ دي چې په قبرونو کښې پراتهٔ دي بلکې مونږ له هغو پاکو او ژوندي روحونو سره، چې له برزخي بدنونو سره په برزخ کښې اوسيږي او د قران له نظره حی او ژوندي دي، رابطه پېدا کوو او له هغوي څخه د شفاعت غوښتنه کوو نهٔ له هغو بدنونو سره خبرې کوو چې په خاورو کښې په ارام پراتهٔ دي.

که مړي او هغه بدنونه چې په خاورو کښې پراتهٔ دي د تفهيم او پوهېدو له دائرې څخه لرې او په څنګ دي. په دې دليل نه شي کېدې چې ګنې د هغوي پاک او پاکيزه روحونه چې د قران پاک په نص سره په بل عالم کښې ژوندي دي او رزق خوري، د تفهيم قابليت نهٔ لري.

که مونږ هغوي ته سلام وايوو او يا له هغوي څخه شفاعت غواړو او يا ترې حاجتونه غواړو، نو په حقيقت کښې مونږ د هغوي له پاکو او ژوندي روحونو څخه دا هر څه غواړو نه له هغو بدنونو څخه چې په خاورو کښې پراتهٔ دي.

که چرې مونږ د هغوي د قبر زيارت يا د هغوي د کور د ليدو لپاره ځونو هغه په دې وجه دي چې له دې لارې مونږ غواړو په خپل ځان کښې دا تيارے پېدا کړو چې له هغوي سره روحي ارتباط پېدا کړو ان تردې چې که په دې خبر هم شو چې د هغوي بدنونه په خاورو باندې بدل شوی دی (که څه هم اسلامي روايتونه د دې په خلاف ګواهي ورکوي) نو بيا به هم دا ډول غوښتنې کوو چې له دې لارې د هغوي له پاکو روحونو سره د ارتباط او تعلق پېدا کولو ته تيار شو.

*****

# پنځلسم باب

## ایا په غیبي تسلط باندې اعتقاد د شرک سبب کیږي؟

په دې کښې شک نشته چې د حاجت غوښتنه په جدې توګه په هغه صورت کښې امکان لري چې غوښتونکے بل طرف یعنې هغه څوک چې ترې نه غوښتنه کوي د خپلې غوښتنې په پوره کولو باندې قادر او توانمن وګڼي.

کله کله دغه قدرت او طاقت ظاهري او مادي قدرت او طاقت وي لکه چې له چا نه اوبهٔ وغواړو او هغه یو لوښے له اوبو نه ډک کړي او مونږ ته یې راکړي. او کله دغه طاقت او قدرت غیبي او له طبیعي دنیا او مادي قوانینو څخه لرې یو غیبي قدرت وي، لکه یو انسان عقیده ولري چې امام علي علیه السلام کولې شي د خیبر دروازه چې د یو عام انسان له توان او وس نه لرې خبره ده راوباسي هغه هم په انساني قدرت او طاقت سره نه بلکې په غیبي قدرت سره؟

یا حضرت عیسی علیه السلام په خپل شفا بخښونکي دم سره یو لاعلاجه بیمار ته شفا ورکولې شي بې له دې چې بیمار څه دارو وخوري او یا یې اپریشن او جراحت وشي. په داسې یوغیبي قوت او طاقت باندې عقیده که د خدا ے پاک د قدرت، اذن او مشیت په استناد سره وي نو دغه عقیده یوه په مادي طاقت باندې د عقیدې په شان ده چې شرکورباندې لازم نهٔ راځي ځکه چې هم هغه خدا ے پاک چې دغه مادي قوت یې د یو کس په اختیار کښې ورکړ هم هغه خدا ے پاک یو غیبي قوت او طاقت یو بل انسان ته ورعطا کړے دے بې له دې چې داسې یو مخلوق خالق فرض کړې شي او له خدا ے پاک نه بې نیازه یو بشر تصور شي.

## د وهابیانو عقیده:

دوي وائي: که یو کس د خدا ے پاک له یو ولي څخه که هغه ژوندے وي یا مړ وي غوښتنه وکړي چې د هغهٔ بیمار ته دې شفاء ورکړي او یا دې ورک شوے کس یا څیز ورته راستون کړي او یا دې د هغهٔ قرض او پور ادا کړي او

داسې نور. نو دغه غوښتنه دا لازموالے رامنځته کوي چې هغه د هغه کس چې ترې سوال او غوښتنه کيږي په باره کښې د هغه تسلط او طاقت اعتقاد لري چې د خلقت په دنيا کښې په روانو قوانينو او طبيعي نظام باندې واکمن دے او له خدا ے نه بغېر د بل څه يا بل چا په داسې تسلط باندې اعتقاد عېن د هغه کس چې ترې سوال کيږي په خدائي باندې عقيده ده او په دې قېد سره د حاجت غوښتل به شرک وي.
په بيابان کښې يو تږے کس که له خپل نوکر او خادم نه اوبهٔ وغواړي نو هغهٔ د طبيعت په قوانينو باندې د حاکم نظام پېروي کړې ده نو داسې يوه غوښتنه به شرک نهٔ وي. خو که له پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم يا يو امام څخه چې د زمکې په زړهٔ کښې پټ دے يا په يو بل ځاے کښې ژوند کوي اوبهٔ وغوښتې شي نو داسې يوه غوښتنه د هغهٔ په غيبي تسلط باندې د اعتقاد لازموالے رامنځته کوي چې له مادي اسبابو او علتونو نه بغېر سوال کوونکي ته اوبهٔ ورکړي نو داسې يوه عقيده به عېن د هغهٔ په خدائي باندې عقيده وي.

ابولاعلی مودودي له هغو کسانو څخه دے چې د دې مطلب وضاحت يې کړے دے او وائي:
«د دې علت چې انسان خدا ے رابولي او ورته استغاثه کوي دا دے چې فکر کوي هغه د طبيعت په هغو قوانينو باندې واکمن او په هغو ځواکونو باندې واکمن تسلط لري چې د مادي قوانينو له حدودو او نفوذ نه بهر وي.[1]

## زمونږ نظريه:

د غلطۍ بنياد دا دے چې دوي دا خيال کړے دے چې په خلقو کښې په غيبي تسلط باندې اعتقاد په مطلقه توګه د شرک او د غېرخدا ے د پرستش سبب دے، او نور يې نهٔ دي غوښتي يا يې نهٔ دي کړې شوي د خدا ے پاک په تسلط باندې تکيه کوونکي تسلط باندې او له خدا ے پاک نه جدا او خپلواکه تسلط باندې د عقيدې ترمېنځ فرق وکړي. هغه څه چې د شرک سبب کيږي دويمه عقيده يعنې له خدا ے پاک نه جدا او خپلواکه تسلط باندې عقيده ده.
قران شريف په وضاحت سره د هغو ټولو کسانو نومونه اخلي چې ټولو غېبي تسلط لرلے دے او د هغو اراده د طبيعت په قوانينو باندې واکمنه وه او مونږ دلته د يو شمېر الهي اولياؤ عليهم السلام چې د قران شريف له نظره يې داسې يو قدرت لرلے دے اشاره کوو:

### ۱- د حضرت يوسف عليه السلام غېبي تسلط

حضرت يوسف عليه السلامخپلو ورونو ته وويل:
«اِذْهَبُوا بِقَمِيصِي هذا فَأَلْقُوهُ عَلي وَجْهِ أَبي يَأْتِ بَصيراً فَلَمّا اَنْ جاءَ الْبَشيرُ أَلقيهُ عَلي وجْهِهِ فَارْتَدَّ بَصِيراً»[2]

---

[1] -«انَ التَصَوُّرَ الذّي لأجْله يَدْعُوا الانْسانُ الْإِلهَ وَيسْتَغِيثُهُ وَيَتَضَرَّعُ اِلَيْهِ هُوَ لاجَرَمَ تَصَوّرُ كَوْنِه مالِكاً لِلسُّلْطَةِ المُهَيْمِنَةِ عَلَي قَوانينِ الطّبِيعَةِ»، المصطلحات الأربعه ، ۱۸ مخ.
[2] -سورۀ يوسف : له ۹۳ نه تر ۹۲ ايتونه.

((زما دا قميص يوسئ او زما د پلار په مخ يې وغورځوئ،نو د هغهٔ سترګې او نظر به روښانه شي.کله چې بشير راغے او قميص يې د هغهٔ په سترګو وغورځوهٔ نو د هغهٔ نظر روښانه شو.))
د دې مبارک ايت ظاهر دا دے چې د حضرت يعقوب عليه السلام نظر د حضرت يوسف عليه السلام د اکتسابي قدرت د غوښتنې او ارادې تر سيورې لاندې روښانه شواو دا کار هيڅکله نېغ په نېغه د خدا ے کار نۀ ؤ بلکې د ((تسبيب)) او سبب له لارې د خدا ے پاک کار ؤ ګنې هيڅ ضرورت نۀ ؤ چې خپلو ورونو ته حکم ورکړي چې د هغهٔ قميص يوسي او د پلار په مخ يې وغورځوي بلکې دا کافي وو چې دعا وکړي. نو بس معلومه شوه چې دا کار د خدا ے پاک په اذن سره د دنيا په يوه برخه کښې د خدا ے پاک د ولي له تصرف نه بغېر بل څه نۀ دي او فاعل يې د هغه غېبي تسلط لرونکے دے چې خدا ے پاک په يوه چاره کښې د هغهٔ په اختيار کښې ورکړے دے.

## ۲- د حضرت موسی عليه السلام غېبي تسلط

حضرت موسی عليه السلام د خدا ے پاک لخوا په دې باندې مامور کيږي چې خپله امسا په کاڼي باندې ووهي چې د بني اسرائيلود قبيلو په شمېر د اوبو دولس چينې رابهر شي، لکه چې فرمائي:
«اِضْرِبْ بِعَصاکَ الْحَجَرَ فَانْفَجَرَتْ مِنْه اثْنَتا عَشْرَةَ عَيْناً»[۱]
((موسی ته مو وويل: خپله امسا دې په کاڼي باندې ووهه چې ترې نه دولس چينې جاري شي.))
په يو بل ځا ے کښې په دې باندې ماموريږي چې خپله امسا په درياب کښې ووهي چې د اوبو هره برخه د يو غرهٔ په شان شي چې بني اسرائيل ترې نه تېر شي. لکه چې فرمائي:
«فَأَوْحَيْنا اِلي مُوسي اَنِ اضْرِبْ بِعَصاکَ الْبَحْرَ فَانْفَلَقَ فَکان کُلُّ فِرْقٍ کَالطَّودِ الْعَظيمِ.»[۲]
((موسی ته مو وحي وکړه چې خپله امسا دې په درياب کښې ووهي، هغهٔ خپله امسا د درياب په يوه برخه کښې ووهله نو د اوبو هره برخه د يوغرهٔ په شان شوه.))
دلته نۀ شو کولې د حضرت موسی عليه السلام غوښتنه او اراده او په درياب کښې د خپلې امسا وهل د اوبو د چينو په جاري کېدو او د غرونو په راڅرګندېد کښې بې دخالته وبولو.

## ۳- د حضرت سليمان عليه السلام غېبي تسلط

حضرت سلېمان عليه السلام د خدا ے پاک له هغو سترو انبياؤ او اولياؤ څخه دے چې پراخه غيبي تسلط يې لرلے ؤ، او دغه ستر الهي نعمت د «وَأُوتينا مِن کلِّ شيء»[۳] په جملې سره تعبير شوے دے. او د دغه نعمت تفصيل د سورهٔ نمل له ۱۷ نه تر۴۴ ايتونو، د سورهٔ سبا په ۱۲ ايت، د سورهٔ انبياء په ۸۱ ايت او د سورهٔ ص له ۳۲ نه تر ۴۰ پورې ايتونو کښې راغلے دے او د دغومبارکو ايتونو مطالعه مونږ د حضرت سلېمان عليه السلام د عطا کړے شوي قدرت له عظمت سره اشنا کوي.د دې لپاره چې قدرمن لوستونکي په کوټلې او اجمالي توګه

---

۱ - سورهٔ بقره : ۶۰ ايت
۲ - سورهٔ شعراء : ۶۳ ايت
۳ - سورهٔ نمل: ۱۶ ايت

له دغو قدرتونو څخه خبر شي د خداے له دغه عزتمن نبي او ولي سره د متعلقو مبارکو ایتونو څه برخې وړاندې کوو چې څرګنده شي چې د خداے پاک د بندګانو په غیبي قدرت باندې اعتقاد یوه داسې مسئله ده چې قران یې خبر ورکړے دے.

حضرت سلیمان علیه السلام د قران شریف له نظره په پیریانو او مارغانو باندې تسلط لرۀ او د مارغانو او حشراتو په ژبه باندې پوهېدۀ لکه چې فرمائي:

«وَوَرِثَ سُلَيْمانُ داوُدَ وَقالَ يا اَيُّهَا النّاسُ عُلِّمْنا مَنْطِقَ الطَّيْرِ وَاُوتينا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ اِنَّ هذا لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبينُ . وَحُشِرَ لِسُلَيْمانَ جُنُودُهُ مِنَ الْجِنِّ وَالإِنسِ وَالطَّيْرِ فَهُمْ يُوزَعُونَ . حَتّي اِذا أَتَوا عَلي وادِ النَّمْلِ قالَتْ نَمْلَةٌ يا اَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوا مَساكِنَكُمْ لا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمانُ وَجُنُودُهُ وَهُمْ لايَشْعُرُونَ . فَتَبَسَّمَ ضاحِكاً مِنْ قَوْلِها وَقالَ رَبِّ اَوْزِعْني أنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتي أنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلي والِدَيَّ»[1]

((او سلیمان د داؤد وارث جوړ شو او وې ویل: اے خلقو! ما ته د مارغانو ژبه رازدکړې شوه او د هر ډول نعمت راته راعطا کړے شو،دا یو لوے فضل او بخشش دے. له پیریانو، انسانانو او مارغانو څخه د سلیمان لښکریان په منظمه توګه د هغۀ په رکاب کښې حاضر شول او کله چې د مېږو وادۍ ته ورسېدل نو یو مېږي وویل: اے مېږو! ټول خپلو خپلو سوړو ته ننوځئ چې سلیمان او د هغۀ لښکریان مو په ناپوهۍ کښې تر پښتو لاندې نۀ کړي.سلیمان د مېږي په خبره مسکے شو او وې ویل: اے ربه! ما ته توفیق راکړې چې د هغه نعمت شکر دې ادا کړم چې ما او زما پلار ته دې عطا کړ.))

که څوک په قران شریف کښې د ((مولا چرګک)) یا (( هُدهُد )) داستان چې د حضرت سلیمان علیه السلام له خوا د سبا ملکې ته د پېغام د وړلو لپاره مامور ؤ ولولي نو د حضرت سلیمان (ع په غیبي قدرت باندې به له ډېر حېرانتیا نه ګوته په خوله شي، نو ځکه له تاسو قدرمنو څخه غواړو چې د سورۀ نمل له ۲۰ نه تر ۴۴ پورې مبارک ایتونه مطالعه کړئ او د ایتونو په ټکو کښې ښۀ غور او فکر وکړئ.

حضرت سلیمان علیه السلام د قران شریف د وضاحت مطابق غیبي تسلط لرۀ او هوا به د هغۀ په فرمان او د هغۀ د خوښې مطابق حرکت کوۀ، لکه چې فرمائي:

«وَلِسُلَيْمانَ الرِّيحَ عاصِفَةً تَجْري بِأَمْرِهِ اِلَي الْأَرْضِ الَّتي بارَكْنا فيها وَكُنّا بِكُلِّ شَيْءٍ عالِمين»[2]

((چلېدونکې او تېزه هوا مو د سلیمان لپاره رام کړه چې د هغۀ په فرمان به یې د زمکې په لور چې مو برکت ورکړے دے بهیر پیدا کوۀ او مونږ په هر څیز باندې خبره یو.))

د پام وړ ټکے د «تَجْري بِأَمرِهِ» جمله ده چې دا خبره په ګوته کوي چې هوا د هغۀ په فرمان باندې چلېده.

## ۴- د حضرت عیسی علیه السلام غیبي تسلط

---

[1] - سورۀ نمل : له ۱۲ نه تر ۱۹ ایتونه

[2] - سورۀ انبیاء: ۸۱ ایت

د قران شریف د مبارکو ایتونو په څېړنې سره د حضرت عیسی علیه السلام په غیبي طاقت او توان باندې پوهېدې شو. د هغه مقام او مرتبې ته د اشارې لپاره یو مبارک ایت ذکر کوو چې له حضرت عیسی علیه السلام څخه داسې نقلوي:

«انّي أَخْلُقُ لَكُمْ مّنَ الطّينِ كَهَيْئَةِ الطّيْرِ فَأَنْفُخُ فيه فَيَكُونُ طَيْراً باذْنِ الله . وَأُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالأَبْرَصَ وَأُحْيِ الْمَوْتي بِاذْنِ اللهِ وَأُنَبّئُكُمْ بِماتَأكُلُونَ وَماتَدّخِرُونَ في بُيُوتِكُمْ انّ في ذلكَ لَايَةً لَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُؤمنينَ»[1]

((عیسی هغوي ته وویل: زهٔ له خټو نه د مارغهٔ یوه مجسمه جوړوم او په هغهٔ کښې پوک وهم چې د خدا ےپاک په فرمان مارغهٔ شي او پیدائشي ړندو او د برګې (جذام) مرض بیمارانو ته د خدا ے په حکم شفاء ورکوم او مړي د خدا ے په حکم سره ژوندي کوم او تاسو له هغه څه نه چې یې خورئ او هغه څه نه چې په کورونو کښې یې ذخیره کوئ خبروم. په دغو کارونو کښې ستاسو لپاره زما د حقانیت او حجت ښې نښانې دي که د ایمان خاوندان یئ.))

که عیسی علیه السلام خپل کارونه د خدا ے په اذن او اجازې پورې تړي نو په دې خاطر دي چې هیڅ یو پېغمبر بې د خدا ے پاک له اذن او اجازې نه بغېر داسې تصرف نهٔ لري، لکه فرمائي:

«وَما كانَ لِرَسُول أنْ يَأتِيَ بِايَة الاّ بِاِذْنِ الله»[2]

((هیڅ یو رسول د خدا ے له اذن نه بغېر معجزه نهٔ شي راوړې.))

او په عین حال کښې حضرت عیسی علیه السلام د ځینو غیبي کارونو نسبت ځان ته ورکوي او وائي: زهٔ شفا ورکوم زهٔ ژوندي کوم ، زهٔ خبر ورکوم، لکه دا جملې: «أبرِئُ، أُحْيِي، أُنَبّئُكُمْ» چې ټولې د متکلم صیغې دي چې په دې خبره باندې دلالت کوي.

دا یوازې حضرت یوسف، حضرت موسی، حضرت سلیمان او حضرت عیسی علیهم السلام نهٔ دي چې غیبي قدرت او مافوق الطبیعي تسلط یې لرلے دے بلکې یو شمېر نور پېغمبران[3] او فرښتې غیبي تسلط لري او قران شریف جبرائیل علیه السلام د «شَدیدُ الْقُوي»[4] او فرښتې «وَالْمُدَبّراتِ أمْراً»[5] په تعبیر سره یادوي.

په قران شریف کښې فرښتې د نړۍ چلوونکې، د روح قبض کوونکې، د انسانانو ساتونکې او حفاظت کوونکې، د اعمالو لیکونکې، د عصیان کوونکو قومونو او ملتونو هلاکوونکې وغیره معرفي شوې دي او هر څوک چې د قران شریف له الف با سره اشنائي ولري پوهیږي چې فرښتې غیبي طاقتونه او ځواکونه لري او د خدا ے پاک په قدرت باندې په تکیې سره خارق العاده کارونه ترسره کوي.

که په غیبي تسلط باندې عقیده د یو کس د خدائۍ لازموالے رامنځته کوي نو پکار دي دغه ټول د قران له نظره خدایان معرفي شي.

---

[1] -سورهٔ آل عمران : ٤٩ ایت

[2] -سورهٔ رعد: ٣٨ ایت

[3] - د خدا ے پاک د پېغمبرانو او اولیاؤ علیهم السلام د غیبي تسلط په حقله بحث ځانته یو کتاب ته ضرورت لري او مونږ په دې حقله (( د پېغمبرانو معنوي قوت )) نومې کتاب کښې په پراخه توګه تفصیل ورکړے دے چې دغه کتاب څو ځل چاپ شوے دے.

[4] - سورهٔ نجم: ٥ ایت

[5] - سورهٔ نازعات: ٥ ایت

حل لاره یې هم هغه ده چې وویلې شوه چې پکار دي د خپلواکه قدرت او طاقت او د اکتسابي قدرت او طاقت ترمېنځ د فرق قائل شو، په هر کار کښې په خپلواکه قدرت او طاقت باندې عقیده شرک دے په داسې حال کښې چې د هر عمل په حقله په اکتسابي قدرت او طاقت باندې عقیده د توحید متن دے.
تر دې ځایه پورې دا خبره څرګنده شوه چې په الهي اولیاؤ کښې په غېبي ځواک او طاقت باندې عقیده په داسې صورت کښې چې په الهي لایزال قدرت باندې تکیه لرونکي یو او هغوي هغه اسباب وګڼو چې خدا ے پاک یې رالېږي، نۀ یوازې د شرک لازموالے نۀ رامنځته کوي بلکې عېن توحید دے او د توحید معیار دا نۀ دے چې په طبیعي قوت باندې تکیه لرونکي او په غېبي قوت باندې تکیه لرونکي افعال له خدا ے پاک سره مستند وبولو او هغه د هر ډول قوت او ځواک او فعالیتونو او کوششونو مبداء وګڼو.
اوس د دې خبرې وخت رارسېدلے دے چې له اولیاء الله څخه د خارق العاده کارونو په غوښتنې باندې بحث او غور او فکر وکړو.

## ایا د خارق العاده کارونو غوښتنه شرک دے؟

د «علت او معلول» د قانون له مخې هره ښکارنده او راڅرګندېدنه د ځان لپاره یو علت لري چې وجود یې بې له علت نه امکان نۀ لري او په نتیجه کښې په نړۍ کښې هیڅ یوه ښکارنده او راڅرګندېدنه بې علته نۀ شي کېدې.د پېغمبرانو او اولیاؤ معجزې او کرامات هم بې له علت نه نۀ دي. هغه څیز چې شته، مادي او طبیعي علت نه لري او دا له دې نه جدا خبره ده چې ووایو د هغو لپاره څه علت نشته. که د حضرت موسی علیه السلام امسا په یوې اژدها بدلیږي او د حضرت عیسی علیه السلام په وسیله مړي راژوندي کیږي او د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په وسیله سپوږمۍ دوه ټوټې کیږي او د هغه حضرت په لاسو کښې کوتکانې ذکر کوي او داسې نور، هیڅ یو بې علته نۀ دي. هغه څیز چې په دغو مواردو کښې شته پکښې طبیعي علت، یا مادي پېژندل شوے علت نشته، نه دا چې ګڼې هډو څه علت نۀ لري.
کله کله دا خیال کیږي چې له یو انسان څخه د طبیعي کارونو غوښتنه شرک نۀ دے خو د خارق العاده کارونو غوښتنه شرک دے، نو اوس غواړو چې د همدې نظریې څېړنه وکړو:
**ځواب:** قران شریف د یو لړ چارو یادونه کوي چې په هغو کښې له پېغمبرانو علیهم السلام یا نورو کسانو څخه د یو لړ داسې خارق العاده کارونو غوښتنه شوې ده چې د طبیعي او مادي قوانینو له حدودو نه بهر وي او قران شریف بې له دې چې ورباندې نیوکه وکړي دغه غوښتنې نقلوي. لکه د قران شریف په قول د حضرت موسی علیه السلام دقوم خلق حضرت موسی علیه السلام ته راغلل او له هغۀ څخه یې د اوبو او باران غوښتنه وکړه چې د اوچکلۍ له مشلاتو څخه نجات پیدا کړي. لکه فرمائي:
«وَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى إِذِ اسْتَسْقَاهُ قَوْمُهُ أَنِ اضْرِبْ بِعَصَاكَ الْحَجَرَ...»[1]
«کله چې د موسی قوم له هغۀ څخه د اوبو غوښتنه وکړه نو هغۀ ته مو وحي وکړه چې خپله امسا په زمکه ووهه.....»

---

[1] - سوره اعراف ۱٦ ایت او سورۀ بقره ۲۰ ایت

کېدي شي دا وويلې شي چې له ژوندي کس نه د خارق العاده او غېر معمولي کارونو غوښتنه کول څه پروا نهٔ کوي او خبره له مرده څخه د داسې کار د غوښتنې په حقله ده. خو د دې خبرې ځواب هم څرګند دے، ځکه چې مرګ او ژوند په هغه عمل کښې چې د توحید له اصل سره مطابق وي څه فرق نهٔ شي پېدا کولې، په دا ډول چې يو ته دې شرک ووايو او بل ته دې عېن توحيد ووايو. مرګ او ژوند کولې شي په غوره والي او نه غوره والي باندې اثر وکړي نه په توحيد او شرک باندې.

## حضرت سليمان عليه السلام د بلقيس د تخت غوښتنه کوي

حضرت سليمان عليه السلام د بلقيس ملکې د تخت د راوړلو په باره کښې په خپل دربار کښې د يو خارق العاده کار غوښتنه وکړه او وې ويل:

«أَيُّكُمْ يَأْتِينِي بِعَرْشِها قَبْلَ أَنْ يَأْتُونِي مُسْلِمينَ قالَ عِفْريتٌ مِنَ الْجِنّ اَنَا آتيکَ بِه قَبْلَ أَنْ تَقُومَ مِنْ مَقَامِکَ وَاِنّي عَلَيْهِ لَقَوِيٌّ أَمينٌ قَالَ الّذي عِنْدَهُ عِلْمٌ مِنَ الْكِتابِ اَنا آتِيکَ بِهِ قَبْلَ أَنْ يَرْتَدّ اِلَيکَ طَرْفُکَ فَلَمّا رَآهُ مُسْتَقِراً عِنْدَهُ قَالَ هذا مِنْ فَضْلِ رَبّي»[1]

((سلېمان وويل: له تاسو څخه به څوک د هغې تخت له دې مخکښې چې ما ته د تسليم په حالت کښې شي ما ته راورسوي.؟ له پېريانو څخه يوکس وويل. زهٔ هغه تا ته راوړم له دې مخکښې چې له خپل ځايه پاڅې (يعنې د دربار له ختمېدو نه مخکښې) او زهٔ د دغه کار لپاره توانمن امانت لرونکے يم. هغه کس چې له کتاب څخه علم ورسره ؤ وويل: زهٔ به درته تخت د سترګو له رپ نه مخکښې حاضر کړم. کله چې سلېمان هغه تخت وليد نو وې ويل: دا زما د خدا ے فضل دے.))

که د وهابيانو دغه نظريه صحيح وي نو پکار دي چې په ټولو وختونو او زمانو کښې د نبوت له مدعيانو څخه د معجزو غوښتنه کفر او شرک وګڼلے شي. ځکه چې خلقو به معجزه چې يوخارق العاده کار ؤ د نبوت له مدعي نه غوښته نه د هغهٔ له رالېږونکي خدا ے څخه، او هغهٔ ته به يې داسې ويل:

«اِنْ كُنْتَ جِئْتَ بِآيَة فَأْتِ بِها اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّادِقِينَ»[2]

((که يوه نښه (معجزه) دې راوړې وي نو راوې‌ړه، که رښتونے يې.))

د دنيا ټول ملتونه به د رښتوني نبي او د نبوت د دروغو دعوا کوونکي ترمېنځ د فرق د پېژندلو لپاره له دې لارې څخه داخلېدل او پېغمبرانو عليم السلام به د نړۍ ټول ملتونه په متواتره توګه دعوت کول چې را دې شي او د هغوي معجزې دې ويني او قران شريف هم له انکار نه بغېر د اعجاز د غوښتنې په حقله چې يې د مقبول والي بيانوونکے دے د نبوت له دعوا کوونکو سره د ملتونو خبرې اترې نقلوي.

که يو لټوونکے قوم حضرت عيسى عليه السلام ته ورشي او ورته ووائي: که په خپله دعوا کښې رښتونے يې نو دغه پېدا ېشي ړوند کس يا د جذام بيمار ته شفا ورکړه، نو نهٔ يوازې مشرک کيږي نه ، بلکې د حق او حقيقت لټوونکو کښې شمېر کيږي او په دې کار کښې به يې ستائېنه کيږي. اوس که له دې دنيا نه د حضرت عيسى عليه

---

[1] - سورۀ نمل ۴۸۸ ايت.

[2] - سورۀ اعراف : ۱۰۶ ايت

السلام له پرده کېدو نه پس د هغۀ امت له هغۀ نه وغواړي چې د هغۀ بيمار ته شفاء ورکړې نو ولې دې مشرک وګڼلې شي، په داسې صورت کښې چې د انسان مرګ او ژوند په شرک او توحيد کښې مؤثر نۀ دے.[1]
لنډه دا چې د قران شريف د وضاحت مطابق د خدا ے پاک يو شمېر غوره او نازولي بندګان د خارق العاده کارونو په ترسره کولو باندې قادر وو او په ځينو موقعو به يې له دغه قدرت او قوت نه استفاده کوله او خلق به هم ورته ورتلل او له هغوي نه به يې غوښتل چې له دغه قدرت او طاقت څخه دې استفاده وکړي.که ((وهابي)) ووائي چې بې له خدا ے نه بل هيڅ کس د دغو چارو په ترسره کولو باندې قادر نۀ دے نو په داسې صورت کښې دغه مبارک ايتونه د دې خبرې په خلاف ګواهي ورکوي.
که ووائي چې له دې لارې د يوکار غوښتنه شرک دے نو ولې حضرت سلېمان او نورو يې غوښتنه وکړه. که ووائي په خارق العاده توګه له اولياؤ څخه د حاجت غوښتنه د هغوي په غېب باندې د تسلط اعتقاد لازموي، نو ځواب يې دا دے چې په غېبو باندې د تسلط اعتقاد په دوه ډوله دے يو ډول يې توحيد او بل يې د شرک سبب کېږي.
که ووائي چې له ژوندو اولياؤ څخه د کراماتو غوښتنه څه پروا نۀ لري نۀ له وفات شويو کسانو څخه، نو ځواب يې دا دے چې مرګ او ژوند د شرک او توحيد معيار نۀ دے.
که ووائي له غېر عادي لارې څخه د شفا او د قرض د اداکولو غوښتنه له غېرخدا ے نه د خدا ے د کار غوښتنه ده.. نو ورته به ووايو چې د شرک معيار دا دے چې له چا نه سوال کېږي هغه خدا ے يا د خدائي کارونو مبداء وګڼو، خو د غېر طبيعي کار غوښتنه له غېرخدا ے نه د خدائۍ د کار غوښتنه نۀ ده، ځکه چې د خدائۍ دکار ميزان دا نۀ دے چې د عادي قوانينو له حدودو نه برتر وي، چې د دا ډول غوښتنې دې د خدا ے پاک له بنده نه د خدا ے پاک د کار غوښتنه وي،بلکې د خدائۍ د کار ميزان دا دے چې فاعل په کار انجامولو کښې مستقل او خپلواکه وي.
او که يو فاعل يو کار د خدا ے پاک په قوت باندې په تکيې سره ترسره کړي نو د داسې کار غوښتنه له غېرخدا ے څخه د خدا ے د کار غوښتنه نۀ ده که هغه عام او عادي کار وي او که غېر عادي کار.
د خدا ے له بندګانو څخه د شفا په حقله د غوښتنې په باره کښې به ووايو: کله کله دا تصور کېږي چې له اولياؤ څخه د شفا او داسې نورو کارونو غوښتنه د خدائۍ دکار غوښتنه له غېر خدا ے څخه ده او قران شريف فرمائي: «وَاِذا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ»[2] ((هر کله چې زۀ بيمار شم نو هغه (خدا ے) ته شفا راکوي.))
نو د دې په موجودګۍ کښې څه ډول ويلې شو چې اے د خدا ے پېغمبره! زما بيمارۍ ته شفا ورکړې او همدا رنګ نورې هغه غوښتنې دي چې خارق العاده اړخ لري.

---

[1] - د حضرت عيسی عليه السلام له معجزو نه د آګاهۍ لپاره د سورۀ آل عمران ۴۹ او د سورۀ مائده ۱۰۰ او ۱۱۰ ايتونو ته مراجعه وکړئ.

[2] - سورۀ شعراء ۸۰ ايت

ځواب: دغې ډلې د الهي کارونو او بشري کارونو ترمېنځ بيا فرق نۀ دے پېژندلے او دا خيال يې کړے دے چې هر هغه کار چې له طبيعي مجرا نه بهر وي پکار دي هغۀ ته الهي کار ووايو او هر هغه کار چې طبيعي اړخ او مادي علت ولري پکار دي هغه بشري کار وګڼو.

دغې ډلې نۀ دي غوښتي يا نۀ دي کړې شوي چې د الهي او غېرالهي کارونو ترمېنځ ميزان وپېژني او په بشري او الهي کارونو کښې ميزان هيڅکله معمولي والے او غېر معمولي والے نۀ دے ځکه چې که داسې وي نو پکار دي د جوګيانو او رياضت او چله کوونکو کسانو غېرمعمولي کارونه خدائي کارونه وګڼو او هغوي ټول خدايان وګڼو، بلکې په خدائي کارونو کښې ميزان دا دے چې عمل کوونکے په خپل کار کښې په ځان باندې تکيه لرونکے وي او له ځانه بغېر له چا نه مرسته وانخلي، د داسې کس کار الهي او خدائي کار دے خو هغه عمل کوونکے چې خپل کار د خدائي قوت او قدرت په سيوري کښې انجام کړي نو هغه غېر الهي دے که هغه کار عادي ، معمولي او مادي اړخ ولري او يا د عادت له قلمرو نه بهر او غېر معمولي وګڼلې شي.

انسان د هر کار په ترسره کولو کښې که هغه يو عادي او د معمول مطابق عمل وي او که د عادت له حدودو او د طبيعت له قوانينو نه بهر وي په خدا ے پاک باندې په تکيې سره دے او د هغۀ له قدرت او قوت نه مرسته اخلي او هر کار چې ترسره کوي د هغه توان او قوت په سيوري کښې ترسره کوي چې له خدا ے پاک نه اخېستے شوے وي. په داسې صورت کښې د داسې قدرت او قوت لرل او د مقصدونو په ترسره کولو کښې يې عمل کول او يا د هغو د عملي کولو غوښتنه کول هيڅ يو د شرک سبب نۀ شي جوړېدې، ځکه چې په ټولو مراحلو کښې ويلې شو چې خدا ے پاک دغه قوت او طاقت هغۀ ته وربخښلے دے او ورته اجازه ورکړې شوې ده چې له هغۀ څخه استفاده وکړي.

حضرت امام خمېني (رح) د خدائي کار د پېژندلو په باره کښې فرمائي:

((خدائي کار له هغه کار څخه عبارت دے چې فاعل يې بې له ځانه د بل چا له دخالت نه بغېر او له بل قوت نه د مرستې له اخېستلو نه بغېر خپل کار انجام کړي او په بله معنا خدائي کار هغه دے چې کوونکے يې په ترسره کولو کښې په خالص توګه خپلواکه او له بل چا څخه بې نيازه وي او غېر خدائي کارونه بالکل د دې په اپوټه دي. خدا ے پاک نړۍ پېدا کوي ورته روزي ورکوي، صحت او شفا ورته ورکوي، نو د هغۀ ټول کارونه له بل قوت نه له مرستې اخېستو نه بغېر عملي کيږي او هيڅ ثوک د هغۀ په کارونو کښې لاس او دخالت نۀ په کلي توګه او نۀ په جزئي توګه لري او د هغۀ قدرت او قوت له بل چا نه حاصل کړے شوے نۀ دے. خوله خدا ے نه بل کس که يو کار ترسره کوي که هغه عام او اسان کار وي او که غېر معمولي او مشکل کار وي د هغۀ قوت او طاقت خپل نۀ وي او په خپل قدرت او طاقت سره يې نۀ ترسره کوي.))[1]

په بله معنا هر کله چې د يو موجود لپاره د وجود يا تاثير له نظره د خپلواکۍ او مستقل والي قائل شو نو د توحيد له لارې څخه به منحرف شو ، ځکه چې په خپلواکۍ باندې عقيده د هستۍ په اصل کښې له خدا ے پاک څخه په هستۍ کښې د هغۀ له بې نيازۍ سره مساوي دے او داسې يو وجود بې له خدا ے پاک نه په هستۍ کښې چې څه څيز ته نياز او ضرورت نۀ لري او د هغۀ وجود په خپل ځان پورې اړوند دے ، بل ثوک نۀ دے.

---

[1] - کشف الاسرار **۵۱** مخ.

همدا رنګ که د هغهٔ وجود د خدا ے مخلوق وګڼو خو دا عقیده ولرو چې د خپلو کارونو منجمله عادي، اسان یا مشکل او غېر عادي او غېر معمولي کارونو په ترسره کولو کښې خپلواکي لري نو په داسې صورت کښې له یو ډول شرک سره مخامخ شوي یو، ځکه چې په کار او فعل کښې خپلواکي به بالاخره د وجود او هستۍ په اصل کښې خپلواکي هم وي او که مونږ د جاهلیت د دور عربو ته مشرک وایو نو په دې خاطر دي چې هغوي عقیده لرله چې د نړۍ د چارو او یا د بندګانو د چارو چلول یې د هغوي خدایانو ته حواله کړي او سپارلي دي. او هغوي د نړۍ او بندګانو د چارو په تدبیرولو کښې خپلواکي لري.

د جاهلیت په دوران او د اسلام د څرګندېدو په وخت د زیاترومشرکانو عقیده همدغه وه. هغوي په دې باندې اعتقاد لرلو چې فرښتې یا ستوري چې مخلوقات دي د دنیا تدبیروونکي دي[1] او لږ تر لږه د شفاعت او مغفرت په شان ځینې کارونه دوي ته حواله کړې شوي دي او دوي په دغو کارونو کښې په کامله توګه خپلواکي او اختیار لري. د معتزله عقیده لرونکي کسان چې انسان د هستۍ له نظره مخلوق ګڼي خو د تاثیر او د کار د ترسره کولو په وړاندې د هغهٔ لپاره د خپلواکۍ قائل دي. که خپلې خبرې ته کافي غور او فکر وکړي نو و به وینې چې د دا ډول عقیده یو خفي شرک دے چې ترې نه غفلت کوي، که څه هم په شدت او ډول کښې د مشرکانو شرک نهٔ دے. د دغو دواړو شرکونو فرق ډېر څرګند دے. یو د دنیا د چارو په تدبیر او الهي کارونو کښې خپلواکه دے او بل په خپلو کارونو کښې د انسان د خپلواکۍ مدعي دے.

*****

[1] - کله چې عمروبن لحيّ د شام له خلقو څخه د بت پرستۍ د علت پوښتنه وکړه نو هغوي وویل: مونږ له دوي څخه د باران غوښتنه کوو، دوي زمونږ لپاره باران رالېږي، چې مرسته ترې غواړو مرسته راسره کوي او هغهٔ په دې عقیدې سره د هبل نومې بت له ځان سره مکې ته راوړهٔ. (سیره ابن هشام ۱ ټوک ۷۷ مخ.)

# شپاړسم باب

## خدا ے پاک ته د اولیاء کرامو په حق او مقام باندې قسم ورکول

له نورو اسلامي مسلکونو سره د وهابي او سلفي فرقې د اختلاف يو ټکے دا دے چې دوي دوه ډوله قسمونه او سوګندونه حرام او کله کله په عبادت کښې شرک ګڼي او دغه دواړه قسمونه او سوګندونه په دا ډول دي:

١- خدا ے پاک ته د اولیاء کرامو او د هغهٔ د نازولو په حق او مقام باندې سوګند او قسم ورکول.

٢- له خدا ے پاک نه بغېر د بل څه قسم خوړل

اوس غواړو چې دا دواړه موضوع ګانې وڅېړو:

## ١- خدا ے پاک ته د اولیاء کرامو په مقام او منزلت باندې قسم ورکول

قران مجید د «اَلصّابِرِینَ وَالصّادِقِینَ وَالْقانِتِینَ وَالْمُنْفِقِینَ وَالْمُسْتَغْفِرِینَ بِالاْسْحارِ»[1] تر عنوان لاندې کسان ستائي. اوس که يو کس د شپې په زړهٔ کښې د تهجدو له نمونځ نه پس د خدا ے پاک درګاه ته متوجه شي او ورته د دغو ذکر شويو کسانو په مقام او منزلت باندې قسم ورکړي او ووائي:

«أللّهُمّ اِنّي أسْألُکَ بِحَقِّ المُستغْفِرِینَ بِالاْسْحارِ اِغْفِرْ لي ذُنُوبِي»

---

[1] ـ سورهٔ آل عمران:١٧ ايت«دوي صبر کوونکي، رښتيني، فرمانبردار، انفاق کوونکي او د پېشمننيو په وخت استغفار کوونکي دي.»

یعنې «اے خدایه! ستا دې د پښیمنیو په وخت استغفار کوونکوباندې قسم وي چې ما وبخښې.»
اوس څه رنګ دې عمل ته «په عبادت کښې د شرک» نوم ورکولې شو؟ په عبادت کښې شرک دا دے چې له خدا ے پاک نه د غېر پرستش وکړو یا یې خدا ے وګڼو او یا یې د خدائی د کارونو مبداء وبولو. په داسې صورت کښې چې مونږ په دغه دعا او رازونیاز کښې له خدا ے نه بغېر بلې خوا ته توجه نۀ وي کړې او بې له هغه ذات نه مو له بل چا نه څه نه وي غوښتې. نو که په دې بنیاد داسې یو عمل حرام وي نو باید چې بې له « شرک » نه یو بل علت ولري او مونږ دلته د وهابي لیکوالانو لپاره یو ټکے راوړو او هغه دا چې قران مجید له «موحد» څخه د «مشرک» « البته په عبادت کښې له شرک کوونکي څخه » د بیولولو لپاره د یو کسوټې او معیار یادونه کړې ده او په دې طریقه یې د «مشرک» په معنا کښې د هر ډول «تفسیر بالراې» لاره تړلې ده او هغه کسوټې او معیار په دا ډول دے:

«وَاِذا ذُكِرَ اللهُ وَحْدَهُ اشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ الَّذينَ لا يُؤْمِنُونَ بِالْاخِرَةِ وَاِذا ذُكِرَ الَّذينَ مِنْ دُونِه اِذا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ»[1]
«کله چې یوازې د خدا ے یادونه وشي نو د هغوکسانو زړونه چې د اخېرت په ورځ ایمان نۀ لري بدیږي او که له خدا ے نه د غېرو کسانو یادونه وشي نو خوشحالیږي.»
او په بل ایت مبارک کښې «مجرمان» چې هم هغه مشرکان دي داسې معرفي کوي:

«اِنَّهُمْ كانُوا اِذا قيلَ لَهُمْ لااِلهَ الاّٰاللهُ يَسْتَكْبِرُونَ وَيَقُولُونَ أَئِنّا لَتارِكُوا آلِهَتِنا لِشاعِرٍ مَجْنُون.»[2]
«دوي هغه کسان دي چې هر کله ورته وویل شي چې له «اَلله» نه بغېر بل خدا ے نشته نو غاوره کیږي او وائي ایا مونږ خپل خدا ے د یو لیوني شاعر په خاطر پرېږدو؟»
نو اوس د دغو دواړو مبارکو ایتونو مطابق:
مشرک هغه څوک دے چې زړۀ یې د خدا ے پاک په یاد سره غمجن کیږي او د نورو (د دروغو د خدایانو) په یادولو سره خوشحالیږي او یا د واحد خدا ے پاک په اعتراف باندې د کبر او غرور څرګندونه کوي.
نو د دې معیار او کسوټې مطابق ایا هغه کس چې د شپې په زړۀ کښې د تیارې په پرده کښې بې له خدایه بل څوک نۀ رابولي او د هغه پاک ذات له یاد څخه په دومره اندازه خوند اخلي چې خپل خوږ خوب په ځان باندې حراموي او د هغۀ په مناجاتو باندې لګیا کیږي او هغۀ ته د هغو موحدانو بندګانو چې د هغۀ د درګاه نازولي دي په مقام او منزلت باندې قسم او سوګند ورکوي څه ډول مشرک کېدې شي؟ هغه کله د خدا ے پاک په یادولو سره خفه کیږي او د خدا ے پاک د وحدانیت له اعتراف کولو څخه کبر کوي؟!
ولې وهابي لیکوالانو په مجهولو او خیالي ضوابطو سره ټول موحدان او یو خدا ے منونکي مشرک بللي او ځانونه یې د خدا ے پاک د درګاه نزدې کسان بللي دي؟!
د دا ډول کسوټې او معیار ته په پام سره د قبلې۹۹٪ ( نهۀ نوي فېصده ) خاوندان مشرکان نۀ شو بللې او یوازې یو شمېر نجدیان او وهابیان موحدان نۀ شو ګڼلې.

---

[1] ـ سورۀ زمر: ٤٥ مخ
[2] ـ صافات: ٣٦-٣٥ مخونه

خدا ے پاک په عبادت کښې د شرک تفسير زمونږ په اختيار کښې نۀ د ے ګرځولې چې هر څنګه مو زړۀ غواړي تفسير يې وکړو او هره ډله چې وغواړو مشرکه وګرځوو!

## دحضرت علي عليه السلام لخوا خدا ے ته د اولياء کرامو د مقام قسم ورکول

د اميرالمومنين عليه السلام په دعاګانو کښې داسې قسمونه په واضحه توګه مومو چې هغه حضرت به د تهجدو له نمونځ نه پس دا دعا له ځان سره ويله:

«أللّهُمّ انّي أسألُکَ بِحُرْمَةِ مَنْ عَاذَ بِکَ مِنْکَ، وَلَجَأ اِلي عِزّکَ واسْتَظَلّ بِفَيْئِکَ، وَاعْتَصَمَ بِحَبْلِکَ، وَلَمْ يَثِقْ إلاّ بِکَ»[1]

((ا ے خدايه! زۀ له تا نه سوال کوم د هغه کس په حرمت سره چې له تا نه يې تا ته پناه وړې ده (بې له تا يې د بل پناه ځا ے فکر نۀ د ے کړ ے) او ستا په عزت سره زاري کوونکے شو ے او ستا تر سيوري لاندې يې قرار موندلے د ے او ستا په رسۍ باندې يې منګولې لګولې دي او بې له تا نه يې په بل پورې زړۀ نۀ د ے تړلے.))

همدا رنګ هغه حضرت په يوه دعا کښې خپل يو اصحابي ته ورزده کړل چې ووايه:

«وَبِحَقّ السّائِلينَ عَلَيکَ، وَالرّاغِبينَ اِلَيْکَ، وَالمُتعَوّذينَ بِکَ، والمُتَضَرّعِينَ اِليکَ، وبِحَقّ کُلّ عَبْد مُتَعبّد لَکَ في کلّ بَرّ أو بَحْر أو سَهْل أو جَبَل أدْعُوکَ دُعاءَ مَنِ اشْتَدّتْ فاقَتُهُ. . .»[2]

((ا ے خدايه! تا ته د سوال کوونکو، تا ته د پام ګرځوونکو، تا ته د پناه وړونکو او تا ته د زاري کوونکو په خاطر او د هغه هر پرستش کوونکي بنده په خاطر چې په زمکه، سمندر، بيابان او يا غرۀ کښې ستا پرستش کوي، تا رابولو د هغه کس د رابللو په شان چې يې بې چارې اخيري حد ته رسېدلې وي.))

داسې روح لړزونکي مناجات او د حق ذات په درګاه کښې د تذلل څرګندونه د توحيد د تحکيم او د خدا ے له دوستانو سره د مينې له څرګندلو نه بغېر چې خپله خدا ے پاک ته يو ډول توجه ده، نوره څه نتيجه لرلې شي؟

په دې بنياد پکار دي د کفر او شرک له تور لګونې څخه چې د وهابيانو په دوکان کښې له هر ډول څيز نه زيات موندل کيږي تېر شو او مسئلې ته په بلې زاويې سره وګورو.

د دې بنياد له مخې په وهابيانو کښې ځينو اعتدال پسندو ((خدا ے پاک ته د اولياؤ د قسم ورکولو)) موضوع د تحريم او کراهت په حدودو کښې مطرح کړې ده او د اورپکي (( صنعاني)) بر خلاف چې مسئله يې د کفر او شرک په دائره کښې ګرځولې ده، د کفر او شرک خبره نۀ ده رامنځته کړې.

نو اوس چې د خبرې محور څرګند شو نو پکار دي چې په موضوع باندې د حرام او مکروه په چوکاټ کښې بحث وکړو، او پکار دي چې د داسې توسل د صحيح والي دليل روښانه کړو:

---

[1] ـصحيفه علويه ، ۳۷۰ مخ
[2] - صحيفه علويه ، ۵۱ مخ

## په اسلام کښې د دا ډول سوګندونو رامنځته کېدل

په روایتونو کښې داسې سوګندونه او قسمونه راغلي دي چې د دا ډول مضبوطو روایتونو په شتون سره چې یوه برخه روایتونه یې د خدا ے له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم څخه او یوه بله برخه روایتونه یې د هغه حضرت له اهلبېتو علیه السلام څخه رارسېدلي دي دغه قسمونه حرام یا مکروه نهٔ شوګڼلې.

د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم یو په سترګو معذور کس ته داسې تعلیم ورکړ:

«أللهُمّ اِنِي أسْألُکَ وأتَوَجّهُ اِلیْکَ بِنَبِیّکَ مُحمّد نَبِيّ الرّحْمَة»[1]

ابو سعید خدري (رض) د خدا ے له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم څخه داسې دعا نقل کړې ده:

«اَللهُمّ اِنّي أسْألُکَ بِحَقِ السّائِلینَ عَلَیْکَ وَأسْألُکَ بِحَقِّ مَمْشايَ هذا»[2]

حضرت آدم علیه السلام داسې توبه وکړه:

«اَسْألُکَ بِحَقِّ مُحَمّد اَلاّ غَفَرْتَ لِي.»[3]

د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم چې کله د حضرت علي علیه السلام مور بي بي (فاطمه بنت اسد) دفن کړه نو د هغې په حقله یې داسې دعا وکړه:

«إغْفِرْ لأُمّي فَاطِمَةَ بِنْتَ أسَد وَوَسّعْ عَلَیْها مَدْخَلَها بِحَقّ نَبِیّکَ وَالأنْبِیاءِ الّذینَ مِنْ قَبْلي. . . .»[4]

((اے خدایه! زما مور فاطمه (بنت اسد) وبخښې او ستا د پېغمبر (صلی الله علیه و آله وسلم) او د تېرو پېغمبرانو (علیهم السلام) په خاطر ورته پراخه مقام عطا کړې (او د قبر له دباؤ نه یې په امان کښې وساتي)

په دا ډول جملو کښې که څه هم د قسم لفظ نهٔ د ے راغلے خو حقیقي مفهوم یې د (( باء )) په حکم سره د اولیاؤ په خاطر خدا ے پاک ته قسم ورکول دي. لکه چې وائي:

اے خدایا له تا سوال کوم د سوال کوونکو په خاطر، یعنې تا ته د هغوي په خاطر قسم درکوم.

هغه دعا چې په ((صحیفه سجادیه)) کښې له امام زېن العابدین علیه السلام نه نقل شوې ده د داسې توسل په صحیح والي او مضبوطوالي باندې یوه روښانه ګواهي ده. د صحیفه سجادیه د دعاګانو د معنې عظمت، د کلمې فصاحت او د معنې بلاغت مونږ له امام سره د هغو د منسوب والي په صحیح والي کښې له هر ډول خبره کولو څخه بې نیازه کوي.

امام سجاد (زېن العابدین علیه السلام) د عرفې په ورځ له خدا ے پاک سره داسې راز و نیاز کوي:

---

[1] ـ سنن ابن ماجه ، ۱ ټوک ، ٤٤١ مخ ؛ مسند احمد ، ۳ ټوک ، ۱۳۸۸ مخ ؛ مستدرک حاکم ، ۱ مخ ، ص ۳۱۳ ؛ التاج ، ۱ ټوک ، ۲۸٦ مخ

[2] ـ سنن ابن ماجه ، ۱ ټوک ، ۲٦۲ و ۲٦۱ مخونه ؛ مسند احمد ، ۳ ټوک ، ۲۱ حدیث

[3] ـ الدر المنثور ، ۱ ټوک ، ۵۹ مخ ؛ مستدرک حاکم، ۲ ټوک ، ٦۱۵ مخ؛ روح المعاني، ۱ ټوک ، ۲۱۷ مخ ( د توسل په برخه کښې د دا ډول ګڼ شمېر حدیثونو له متنونو سره اشنا شوئ. )

[4] ـ الفصول المهمه ، ۳۱ مخ ، تألیف ابن صباغ مالکي ، وفات ۸۵۵

بِحَقّ مَنْ انْتَجَبْتَ مِنْ خَلْقِکَ، وبِمَنْ اصْطَفَيْتَهُ لِنَفْسِکَ، بِحَقّ مَنِ اخْتَرْتَ مِنْ بَرِيَّتِکَ، ومَنِ اجْتَبَيْتَ لِشَأنِک، بِحَقّ مَنْ وَصَلْتَ طاعَتَهُ بِطاعَتِکَ . . . وَمَنْ نُطْتَ مُعاداتَهُ بِمُعاداتِکَ»[1]

((اے خدايه! د هغو کسانو په خاطر چې څوک دې له خپلو نورو مخلوقاتو څخه انتخاب کړل او د ځان لپاره دې غوره کړل، د هغو کسانو په خاطر چې د خلقو ترمېنځ دې اختيار کړل او هغوي دې له خپل مقام سره د اشنائۍ لپاره پېدا کړل، د هغو پاکانو په خاطر چې د هغوي اطاعت دې د خپل اطاعت په شان وګڼلو.....او د هغوي دښمني دې د خپلې دښمنۍ برابره او يو شان وبلله.))

امام جعفر صادق عليه السلام چې کله د خپل نيکۀ حضرت علي عليه السلام د قبر مبارک زيارت وکړ نو په اخېر کښې يې داسې دعا وکړه:

«اَللهُمّ اِسْتَجِبْ دُعائي وَاقْبَلْ ثَنائي وَاجْمَعْ بَيْني وبَيْنَ أولِيائي بِحَقّ مُحَمّد وَعَلِيٍّ وفاطِمَةَ وَالْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ»[2]

(( اے خدايه! زما دعا قبوله کړې او زما ثنا ومنې او زما او ستا د اولياؤ ترمېنځ جمع وګرځوې د محمد، علي، فاطمه، حسن او حسېن عليهم السلام په خاطر. ))

دا يوازې امام زېن ا لعابدين عليه السلام او امام جعفرصادق عليه السلام نۀ دي چې په خپلو دعاګانو کښې خداے پاک ته د خپلو نازولو په حق سره قسم ورکوي بلکې د خداے د ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم له پاکو اهلبېتوڅخه د نورو امامانو عليهم السلام په دعاګانو کښې هم چې په مختلفو موقعو نقل شوي دي د دا ډول توسل موجود دے.

سيدالشهداء حضرت امام حسېن عليه السلام په يوه دعا کښې د خداے پاک په درګاه کښې داسې عرض کوي:

«اَللهُمّ اِنّي أسْأَلُکَ بِکَلِماتِکَ وَمعاقِد عِزّکَ وَسُکّانِ سَماواتِکَ وَأَرْضِکَ وأنْبِيائِکَ وَرُسُلِکَ أنْ تسْتَجِيبَ لِي فَقَدْ رهِقَنِي مِنْ أمْرِي عُسْرٌ ، فأَسْأَلُکَ أنْ تُصَلِّيَ عَلي مُحَمّد وآلِ مُحَمّد وَأنْ تَجْعَلَ مِنْ أمْرِي يُسراً»

((اے خدايه! تا ته سوګند درکوم ستا په کلماتو باندې او ستا د عزت په مراکزو باندې او ستا د اسمانونو او زمکې په اوسېدونکو باندې او ستا په پېغمبرانو او ستا په فرښتو باندې چې زما دعا قبوله کړې، ځکه چې زما کار سختيو پټ کړے دے. له تا څخه سوال کوم چې په محمد او آل محمد صلى الله عليه و آله وسلم باندې درود ولېږې او زما کار اسان کړې. ))

د دا ډول دعاګانې په دومره اندازه دي چې نقلول يې د خبرې داوږدېدو سبب کيږي. نو ځکه په همدې ځاے کښې د خبرې لمن راغونډوو او د مقابل طرف د دلائلو او اعتراضاتو په بيانول شروع کوو:

## وړومبے اعتراض:

---

[1] ـصحيفه سجاديه ، ٤٧ دعا

[2] ـزيارت امين الله

د اسلام علماء د نظر اتفاق لري چې په مخلوق او يا د مخلوق په خاطر خدا ے پاک ته قسم او سوگند ورکول حرام دي.[1]

## ځواب:

د اجماع معنا دا ده چې په هره زمانه کښې او يا په ټولو زمانو کښې د اسلام علماء له احکامو څخه په يو حکم باندې د نظر اتفاق پيدا کړي. په داسې صورت کښې خپله د سني عالمانو له نظره «د نظر اتفاق» يو الهي حجت دے او د شيعه عالمانو له نظره له دې نظره حجت دے چې د هغه معصوم امام چې د امت ترمېځ ژوند کوي د راې او موافقت بيانوونکے وي. اوس دا پوښتنه کوو چې ايا د دې مسئلې په باره کښې داسې د نظر اتفاق وجود لري؟ مونږ دلته شيعه عالمان او نور سني عالمان يوې خوا ته ابږدو او يوازې د څلورو واړو مذهبونو د مشرانو په نظر باندې استناد کوو. ايا دغو څلورو واړو مشرانو د داسې کار په حراموالي باندې فتوا ورکړې ده؟ که يې ورکړې وي نو پکار دي چې د فتوو متن دې د کتاب د نوم او د مخ په ذکر سره بيان کړي.
په اصولي توگه د سني علماؤد فقهې او حديث په کتابونو کښې د دا ډول توسل نۀ دے عنوان شوے چې په حقله يې نظر ورکړي، نو په داسې صورت کښې د نظر هغه اتفاق او اجماع چې د «الهدية السنيّه» کتاب ليکوال يې دعوا کوي چرته ده؟ يوازېنے کس چې له هغۀ څخه تحريم نقلوي د «العز بن عبدالسلام» نومې يوه ناشنا څېره ده، لکه چې اسلام د العز بن عبدالسلام په الهديه السنيه کتاب کښې خلاصه شوے وي!
بيا له امام ابو حنيفه او د هغۀ له شاگرد ابو يوسف څخه يې نقل کړي دي چې د دغو دواړو له نظره د «فلاني په خاطر او په حق» ويل مکروه دي.
لنډه دا چې په دې مسئله کښې د اجماع نومې هيڅ دليل موجود نۀ دے او د خدا ے له گران رسول صلی الله عليه و آله وسلم او د هغوي له پاکو اهلبېتو عليهم السلام څخه چې د سني محدثانو په اتفاق سره «ثقلِ اصغر» دي او قول يې حجت دے[2] د نقل شويو مضبوطو روايتونو په وړاندې څه ارزښت لرلې شي؟ او بله دا چې د دغې فتوې نسبت امام ابوحنيفه ته ثابت نۀ دے.

## دويم اعتراض:

«انّ الْمَسْأَلَةَ بِحَقِّ الْمَخْلُوقِ لاَتجُوزُ لا؟نَّهُ لا حَقّ لِلْمَخْلُوقِ عَليَ الْخالِقِ»[3]
«له خدا ے نه د مخلوق په حق او خاطر باندې دعا او سوال کول جائز نۀ دي ځکه چې مخلوق د خالق په ذمه هيڅ حق نۀ لري.»

---

[1] ـ کشف الارتياب ، ۳۲ مخ ، له الهدية السّنية څخه په نقل سره
[2] - د ثقلين حديث په دې خبره باندې گواه دے چې اکثرو محدثينو نقل کړے او منلے دے او بې له څو کنيه ورو کسانو نه ترې چا انکار نۀ دے کړے
[3] ـ کشف الارتياب ، ۳۳۱ مخ ، له « قدوري » نه په نقل سره.

ځواب:
داسې استدلال د ښرګند نص په وړاندې له اجتهاد نه بغېر بل څه نۀ دي. که مخلوق په خالق باندې څه حق نه لري نو بيا ولې په تېرو مبارکو حديثو کښې حضرت ادم عليه السلام او د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم خداے پاک ته په داسې حقوقو باندې قسم ورکړے دے او له پاک ربه يې د همدغو حقوقو په خاطر سوالونه کړي دي؟ له دې نه په تېرېدو سره به د قران مجيد د ايتونو څنګه توجيه وکړو؟ ځکه چې قران مجيد په ځينو مواردو کښې په خداے پاک باندې د خپل بندګانو يو لړ حقوق معرفي کړي دي او همدا رنګ په مبارکو حديثونو کښې هم.

ايتونه:
«وكانَ حَقّاً عَلَيْنا نَصْرُ الْمُؤْمِنينَ»[1]
((د مومنوکسانو مرسته کول په مونږ باندې د هغوي حق دے.))

«وَعْداً عَلَيْهِ حقّاً فِي التّوراةِ وَالْإِنْجيلِ»[2]
((او دا وعده په هغۀ (خداے) باندې حق دے چې په تورات او انجيل کښې راغلے دے.))

«كَذلِكَ حَقّاً عَلَيْنا نُنْجِ الْمُؤْمِنينَ» [3]
((مومنانو ته نجات ورکول په مونږ باندې د هغوي حق دے.))

«اِنّما التّوْبَةُ عَلَي اللهِ لِلّذينَ يَعْلَمُونَ السُّوءَ بِجَهالَة»[4]
((په رښتيا چې د هغو کسانو د توبې قبلول او منل په خداے باندې حق دے چې د ناپوهۍ په وجه بد کوي او بې له څه ځنډه توبه وباسي.))
ايا دا صحيح ده چې په خپل سر د يو بې بنياده ګمان په خاطر د دغو ټولو مبارکو ايتونو تاويل وکړو؟

حديثونه:
١ ـ «حَقٌ عَلَيَ اللهِ عَوْنُ مَنْ نَكَحَ اِلْتِماسَ الْعِفاف مِمّا حَرّمَ اللهُ»[5]
((له هغه چا سره مرسته په خداے باندې حق دے چې له محرماتو څخه د خپل عفت او پاکلمنۍ په خاطر وادۀ وکړي.))

---

[1] ـ سورۀ روم: ٤٧ ايت
[2] ـ سورۀ توبه: ١١١ ايت
[3] ـ سورۀ يونس: ١٠٣ ايت
[4] ـ نساء: ١٧ ايت
[5] ـ الجامع الصغير سيوطي، ٢ ټوک، ٣٣ مخ

۲ ـ قالَ رسولُ اللهِ: «ثَلاثَةٌ حَقٌ عَليَ اللهِ عَونُهُم: الغازي فِي سَبِيلِ اللهِ، وَالْمُكاتَبُ الّذي يُريدُ الأداءَ، وَالنّاكِحُ الّذي يُريدُ التّعَفُّفَ» [۱]

((په خدا ے پاک باندې د دريو ډلو حق د ے چې مرسته يې وکړي، د خدا ے د لارې مجاهد ، هغه غلام چې له خپل مالک سره يې تړون کړ ے وي چې د څه رقم په ادا کولو سره به ازاد شي او هغه ځوان چې غواړي د وادهٔ له لارې د خپل عفت او پاک لمنۍ حفاظت وکړي.

۳ ـ «أتَدْرِي ما حَقُ الْعِبادِ عَليَ اللهِ. . . .» [۲]

((ايا په خدا ے باندې د بندګانو حق پېژنې؟))

هو دا خبره ده چې هيڅ يو کس په ذاتي توګه په خدا ے پاک باندې څه حق نهٔ لري، که څه هم په پېړيو پېړيو د خدا ے پاک عبادت او پرستش وکړي او د هغهٔ په وړاندې خشوع او خضوع وکړي.ځکه چې د خدا ے پاک بنده چې هر څه لري د خدا ے پاک لخوا يې لري او هيڅ څيز يې له خپله ځانه د خدا ے پاک په لار کښې نهٔ د ے خرچ کړ ے چې په لذاتو سره د اجر مستحق شي.

نو په دې بنياد په دې مواردو کښې له ((حق)) نه مراد هم هغه الهي اجر، حسنات، مقام او منزلتونه دي چې خدا ےپاک د خپلو خاصو عناياتو له مخې له هغوي سره مهرباني کړې او هغه يې په خپله غاړه اخېستي دي او د خدا ے پاک په ذمه د داسې حق کېدل د هغهٔ د عظمت او لو ے والي نښه ده.

هيڅ بنده په خدا ےپاک باندې څه حق نهٔ لري مګر دا چې خدا ے پاک له لطف او مهربانۍ له مخې هغه حق په ځان باندې روا ولري او مخلوق پورغوښتونکے او ځان پورورے وښئ.

دا مسئله چې مخلوق په خدا ے پاک باندې څه حق لري له فقير بنده څخه د غني خدا ے د پور غوښتلو په شان دي. [۳] او دا د هغه لطف او کرامت له مخې دي چې وعده يې کړې ده او په ډېره مهربانۍ سره يې ځان د صالحو او نېکو بندګانو پورورے ښودلے د ے او هغوي يې د حق خاوندان او ځان يې ژمن او پورورے بيان کړے د ے.

## ۲ - په غېر خدا ے باندې قسم خوړل

په غېر خدا ے باندې قسم خوړل له هغو مسائلوڅخه دي چې وهابيان ورسره خاص حساسيت لري. د دغې ډلې صنعاني نومې يو ليکوال په ((تطهير الاعتقاد)) کتاب کښې دغه چاره د شرک سبب ګڼلې ده. [۴]

د «الهدية السنيه» مولف هم په غېر خدا ے باندې قسم خوړل وړوکے شرک بللے د ے. [۵] خو مونږ د خدا ے پاک په فضل سره له تعصب نه په لرې ماحول کښې دا مسئله څېړلې ده او د خدا ے پاک کتاب او د خدا ے د ګران رسول

---

۱ ـ سنن ابن ماجه ، ۲ټوک ، ۸٤۱ مخ

۲ ـ «نهايه» ابن اثير ، ماده حق .

۳ ـ مَنْ ذَا الّذي يُقْرِضُ اللهَ قَرْضاً حَسَناً فَيُضاعِفَهُ لَهُ اَضْعافاً كَثيرةً ( بقره : ۲٤٥ )

۴ ـ كشف الارتياب ، ۳۳٦ مخ، له «تطهير الإعتقاد» ۱٤ مخ څخه په نقل سره.

۵ -کتاب «الهديّة السّنيه»، ۲۵ مخ

صلی الله علیه و آله وسلم له اهلبېتو څخه د معصومو امامانو علیهم السلام صحیح سنت مو د لارې څراغ ګرځولے دے.

## په غېر خدا ے باندې د قسم خوړلو په حقله زمونږ دلائل:

### وړومبے دلیل:

قران مجید له ټولو اعلی پېشوا، لوے ثقل او د هر مسلمان لپاره یوه ژوندۍ نمونه ده. په دې الهي کتاب کښې په غېر خدا ے باندې په لسګونو قسمونه راغلي دي چې د ټولو راغونډول د بحث د اوږدېدو سبب کیږي.
خدا ے پاک یوازې په سورۀ شمس کښې له خپلو مخلوقاتو څخه په نهو څیزونو باندې قسمونه خوړلي دي چې په دا ډول دي: ((نمر، د نمر رڼا، سپوږمۍ، ورځ، شپه، اسمان، زمکه او انساني نفس))[1]
همدا رنګ په سورۀ نازعات کښې یې په دریو څیزونو[2] او په سورۀ مرسلات کښې یې په دوو څیزونو[3] باندې قسم خوړلے دے او په سورۀ بروج، سورۀ طارق، سورۀ قلم، سورۀ عصر او سورۀ بلد کښې یې هم قسمونه خوړلي دي.
او همدا رنګ له دغو مبارکو ایتونو څخه څو نمونې ملاحظه کړئ:

«وَالتّینِ وَالزَّیْتُونِ وَطُورِ سینینَ وَهذا الْبَلَدِ الأَمینِ»[4]
((قسم دے په اینځر او زېتون باندې، قسم دے په طورِ سینا باندې، قسم دے د امن او امان په دې ښار (مکه معظمه) باندې.))

«وَاللّیْلِ اِذا یَغْشی وَالنّهارِ اِذا تَجَلّی»[5]
((قسم دے په تیارۀ شپې باندې کله چې نړۍ په خپله توره تپه کښې پټه کړي او قسم دے په ورځ باندې چې کله عالم په خپلې رڼا سره روښانه کړي.))

«وَالْفَجْرِ وَلَیالٍ عَشْرٍ وَالشّفْعِ وَالْوَتْرِ وَاللّیْلِ اِذا یَسْرِ»[6]
((قسم په سهار باندې او په لسو شپو باندې او قسم دے په جفت (د عالم په ټولو موجوداتو) باندې او (خپله د خدا ے) په واحد ذات باندې او قسم دے په تیارۀ شپه باندې کله چې په ورځ باندې بدلیږي.))

---

[1] ـ سورۀ شمس: ۷ـ ۱ ایتونه
[2] ـ سورۀ نازعات: ۳ـ۱ایتونه
[3] ـ سورۀ مرسلات: ۳ـ ۱ ایتونه
[4] ـ سورۀ تین: ۳ـ ۱ ایتونه
[5] ـ سورۀ ضحی: ۲ و ۱ ایتونه
[6] ـ سورۀ فجر: ٤ـ ۱ ایتونه

«وَالطّوُرِ وكتاب مَسطُور في رِقٍّ مَنْشُور وَالْبَيْتِ الْمَعْمُورِ وَالسّقْف الْمَرفُوع وَالْبَحْرِ الْمَسْجُورِ»
((قسم دے د طور په غرۀ باندې او په خلاصه صفحه کښې په لیکل شوي کتاب باندې او قسم دے په بیت المعمور (اباد کور) باندې، قسم دے د اسمان په غوړیدلي چت باندې او قسم دے په غورځنګناک سمندر باندې.))

«لَعَمْرُكَ اِنّهُمْ لَفي سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ»[1]
((اے پېغمبره! ستا په ځان مې دې قسم وي چې دوي د خپلو شهوتونو په نشه کښې سرګردانه دي.))
ایا په دغو متواترو قسمونو او سوګندونو سره چې په قران مجید کښې راغلي دي ویلې شو چې په غېر خدا ے باندې قسم خوړل شرک دے او حرام دي؟!
قران مجید د هدایت ، سیرت او نمونې کتاب دے. که داسې ځیزونه د خدا ے په بندګانو باندې حرام وې نو ضرروي وه چې یادونه شوې وې او ویلې وې چې د دا ډول قسمونه خوړل له خدا ے پاک سره مخصوص دي.
ځېنې بې ذوقه کسان چې د قران مجید له اهدافو نه خبر نۀ دي داسې ځواب ورکوي چې: کېدې شي له خدا ے پاک څخه د یو ځیز صادرېدل ښۀ او ښکلي چاره وي او هم هغه ځیز له غېر خدا ے نه یو ناغوره چاره وي. خو د دې خبرې ځواب څرګند دے ځکه چې که واقعي په غېر خدا ے باندې قسم خوړل شرک او په خدا ے باندې د غېر خدا ے تشبیه کول دي نو ولې داسې علی الاطلاق شرک او یا وړوکے شرک خپله خدا ے کړے دے؟ ایا دا خبره صحیح ده چې خدا ے پاک په عملي توګه د ځان لپاره د شرک قائل شي او غېر خدا ے دې له داسې شرک څخه منعې کړي؟!

## دویم دلیل:

د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په یو شمېر موقعو په غېر خدا ے باندې قسمونه خوړلي دي، لکه:

۱- د صحیح مسلم یو حدیث:
«جاءَ رجلٌ الَي النّبيِّ فَقالَ يا رَسُولَ الله أيُ الصّدَقَةِ أعْظَمُ أجْراً ؟ فَقالَ اَما وَأبيک لتُنَبّأنّهُ اَنْ تَصدّقَ وَأنْتَ صَحيحٌ شحيحٌ تَخشَي الْفَقْرَ وتَأمُلُ الْبَقاءَ»[2]
((یو کس د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په خدمت کښې حاضر شو او وې ویل: اے د خدا ے پېغمبره! د کومې صدقې ثواب زیات دے؟ وې فرمایل: ستا په پلار مې دې قسم وي چې له دې خبر شه او هغه دا چې په داسې حال کښې صدقه ورکړې چې روغ یې او ورته حرص لرې او له فقر او غریبۍ نه ویرېږې او په راتلونکي وخت کښې د ژوند کولو په فکر کښې یې.))

---

[1] ـ سورۀ حجر: ۷۲ ایت
[2] ـ صحیح مسلم کتاب الزکات ، دریمه برخه ، أفضل الصدقه باب ۹٤ مخ

۲- د صحیح مسلم یو بل حدیث:

«جاءَ رَجُلٌ الي رَسُول الله منْ نَجْد ، يَسْأَلُ عَن الاسْلام ، فَقالَ رَسُولُ الله ـ صلّي الله عليه [وآله] وسلّم ـ : خَمْسُ صَلَوات في الْيَوْمِ وَاللّيْلِ ، فَقالَ : هَلْ عَلَيّ غَيْرُهُنّ ؟ قالَ : لا ، الاّ اَنْ تَطَوّعَ ، وَصِيامُ شَهْرِ رَمَضانَ ، فَقالَ : هَلْ عَلَيّ غَيْرُهُ ؟ قال لا ، الاّ اَن تَطَوّع ، وَذَكَرَ لَهُ رَسُولُ الله ـ صلّي الله عليه [وآله ]وسلّم ـ الزكاةَ فَقالَ : هَلْ عَلَيّ غَيْرُهُ ؟ قال لا ، إلاّ اَنْ تَطوعَ ، فَأَدْبَرَ الرّجُلُ وَهُوَ يَقُولُ : والله لا أَزيدُ عَلي هَذا ولا اَنْقُصُ منه ، فَقالَ رَسُولُ الله أَفْلَحَ وأَبِيه اِنْ صَدَقَ ، وَدَخَل الْجَنّةَ وَأَبِيه اِنْ صَدَقَ»[1]

((د نجد یو اوسېدونکی د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په خدمت کښې حاضر شو او د اسلام په حقله یې پوښتنه وکړه،د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم وفرمایل: د اسلام ستنې عبارت دي له:

الف- په شواروز کښې پنځه نمونځونه، نجدي سړي وویل: ایا له دې نه علاوه هم څه نمونځ شته؟ وې فرمایل: نه البته مستحب.

ب- د رمضان د مبارکې میاشتې روژه، هغه سړي پوښتنه وکړه:ایا له دې نه علاوه هم روژه شته؟ وې فرمایل: نه، مګر په مستحبه توګه.

ج- زکات، هغه سړي پوښتنه وکړه ایا له دې نه علاوه بل زکات هم شته؟ وې فرمایل: نه، البته په مستحبه توګه.

هغه سړی د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له خدمت څخه لاړ په داسې حال کښې چې له ځان سره ویل چې نه به کم کوم او نهٔ به زیات، د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم وفرمایل: د دهٔ په پلار مې دې قسم وي چې کامیاب به شي که یې رښتیا وویل، او د دهٔ په پلار مې دې قسم وي جنت ته به داخلیږي که یې رښتیا وویل.))

۳- د مسند احمد بن حنبل یو حدیث:

«فَلَعَمْرِي لاَنْ تَكَلّمَ بِمَعْرُوف وَتنهْي عَنْ مُنكَر خيرٌ مِنْ أَنْ تَسْكُتَ.»[2]

((زما دې په خپل ځان قسم وي چې که امر بالمعروف او نهي عن المنکر وکړې نو له خاموشۍ نه بهتره ده.))

همدا رنګ په دې حقله نور هم ډېر مبارک حدیثونه راغلي دي چې نقلول یې د بحث د اوږدېدو سبب کیږي.[3]

امیرالمومنین حضرت علي بن ابیطالب علیه السلام چې د اسلامي تربیت یوه اعلی نمونه دی په خپلو خطبو، خطونو او اقوالو کښې په متواتره توګه په خپل ځان باندې قسمونه خوړلي دي.[4] او وړومبي خلیفه هم حتی په خپلو خبرو کښې د مخاطب کس د پلار په سر قسمونه خوړلي دي.[5]

## څلور واړه مذهبونه او په غیر خدای باندې قسم خوړل

---

[1] ـ صحیح مسلم ، وړومبۍ برخه ، «ما هو الإسلام او بیان خصاله» باب ۳۲ مخ

[2] ـ مسند احمد حنبل ۵ ټوک ۲۲۵ مخ

[3] ـ د نمونې په توګه مسند احمد ۵ ټوک ۲۱۲ مخ او سنن ابن ماجه ٤ ټوک ۹۹۵ مخ او ۱ ټوک ۲۵۵ مخ ته مراجعه وکړئ.

[4] ـ نهج البلاغه (ترجمه و شرح محمد عبده) ، ۲۳ ، ۲۵ ، ۵٦ ، ۸۵ ، ۱٦۱ ، ۱٦۸ ، ۱۸۲ و ۱۸۷ خطبې او ٦ ، ۹ و ٥٤ خطونه

[5] ـ موطأ امام مالک «د زرقاني له شرحې سره» ٤ ټوک ۱۵۹ مخ

د وهابیانو د دلائلو له څېړنې نه مخکښې ضروري ده چې د څلورو واړو سني مذهبونو د مشرانو له فتوو نه خبر شو.[1]

حنفیان عقیده لري: د ((ستا په پلار باندې قسم))، ((ستا په ژوند باندې قسم)) او داسې نور قسمونه خوړل مکروه دي.

شافعیان عقیده لري: که په غیر خدا ے باندې قسم خوړل چې نهٔ د تعظیم لپاره، نهٔ د شریک جوړولو په توګه او نهٔ د امانت په توګه وي مکروه دي.

مالکیان وائي: د پېغمبراکرم، کعبې او په داسې نورو بزرګانو او مقدساتو باندې په قسم خوړلو کښې دوه قوله دي: ((مکروه)) او ((حرام)) او مشهور یې تحریم دے.

حنبلیان په دې باندې عقیده لري چې په غیر خدا ے او د هغهٔ په صفاتو باندې قسم خوړل حرام دي که څه هم دغه قسم د هغهٔ په پېغمبر یا یو ولي باندې وي.

له دې نه به تېر شو چې دا ټولې فتوې د قران مجید د ایتونو او د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم او د الهي اولیاؤ د سنتو د نصوصو په وړاندې یو ډول اجتهاد دے او د سنیانو ورونړو په نزد د اجتهاد د دروازې د بندېدو له کبله اوسني عالمان د هغوي له رایو څخه له پېروۍ نه بغیر بله چاره نهٔ لري.

او له دې نه به هم تېر شو چې قسطلاني د ارشاد الساري کتاب د **۹** ټوک په **۳۵۸** مخ کښې له امام مالک څخه د مکروه والي قول نقل کړے دے او له دې نه به هم تېر شو چې حنبلیانو ته د حراموالي دغه نسبت ورکول صحیح نهٔ دي ځکه چې ابن قدامه په المغني کښې چې د حنبلي فقهې د احیاء له مخې لیکل شوے دے لیکي: (( زمونږ د اصحابو یوې ډلې ویلي دي چې د خدا ے په ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم باندې قسم هغه قسم دے چې ماتول یې کفاره لري. له احمد بن حنبل نه نقل شوي دي چې هغهٔ ویلي دي: هر چا چې د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په حق سره قسم وخوړهٔ او هغه یې مات کړ نو کفاره لري. ځکه چې د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم حق د شهادت یوه ستنه ده او د دغه قسم په بنیاد په هغهٔ باندې قسم خوړل په خدا ے پاک باندې قسم خوړل دي او دواړه قسمونه کفاره لري.))[2]

له دغو نقلونو څخه چرګندېږي چې هیڅکله دا نهٔ شو ویلې چې له څلورو واړو مذهبونو څخه به یو امام په قطعي توګه د حراموالي فتوا ورکړې وي.

نو د څلورو واړو مذهبونو د فقیهانو له نظریاتو او رایو څخه له خبرېدو نه پس اوس هغه دوه حدیثونه څېړو چې وهابیانو د ځان لپاره دتساویز ګرځولي او د هغو په وسیلې سره یې د بېګناه خلقو وینې بیولې دي.[3] او په میلینونو مسلمانان یې د کفر او شرک په غشو سره هدف ګرځولي دي.

---

[1] ـ الفقه علي مذاهب الاربعه ، کتاب الیمین ۱ ټوک ۷۵ مخ، چاپ مصر .

[2] ـ المغني ۹ ټوک ۵۱۷ مخ

[3] ـ وهابیانو یو ځل په **۱۲۱۶** هجري قمري کال کښې او بیا په **۱۲۵۹** هجري قمري کال کښې په کربلا معلی باندې حمله وکړه او لوے او ماشوم باندې یې رحم ونکړ او په دریو ورځو کښې یې شپږ زره تنه قتل عام کړل او د یزید د لښکر په شان یې د حرم ټول قیمتي سامانونه ولوټل. ولې؟ دا په دې خاطر چې دغو خلقو به د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په فرزندانو باندې قسمونه خوړل او له هغوي سره یې مینه کوله.

* «انّ رَسُولَ اللهِ سَمِعَ عُمَرَ وَهُوَ يَقُولُ : وَأَبي فَقالَ انّ اللهَ يَنْهاكُمْ أَنْ تَحْلِفُوا بِآبائِكُمْ ومَنْ كَانَ حَالِفاً فَلْيَحْلِفْ باللهِ أو يَسْكُتَ»[1]

«د خدا ے گران پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم واورېدل چې حضرت عمر (رض) په خپل پلار باندې قسم وخوړهٔ نو یې وفرمایل: خدا ے تاسو په پلارانو باندې له قسم خوړلو نه منعې کړي یئ. هر څوک چې قسم خوري نو په خدا ے پاک دې قسم وخوري او یا دې خاموش پاتې شي.»

وړومبې خو دا چې د پلارانو په سر باندې له قسم خوړلو څخه منعې په دې وجه وه چې د هغوي اکثرو پلاران مشرکان او بت پرست وو او داسې کسانو څه احترام او سپېڅلتیا نهٔ لرله چې انسان دې درباندې قسمونه وخوري. لکه چې په ځینو حدیثونو کښې راغلي دي چې «مه په پلارانو باندې او مه په طاغوتانو (د عربو په بتانو) باندې قسمونه خورئ.»

دویمه دا چې په پلار باندې له قسم خوړلو نه منعې نه مراد د داورۍ او قضاوت په مقام کښې او د دښمنۍ د روغې جوړې په حقله د ے ځکه چې د مسلمانو علماؤ په اتفاق سره د دښمنۍ د روغې جوړې لپاره بغېر په خدا ے پاک او د هغهٔ په صفاتو باندې له قسم نه بل هیڅ قسم کافي نهٔ د ے. »

دغو روښانه قرائنو ته په پام سره څه ډول ویلې شو چې د خدا ے گران رسول صلی الله علیه و آله وسلم دې د انبیاؤ او اولیاؤ په شان مقدساتو باندې له قسم خوړلو نه منعې او مخنیو ے کړ ے وي ، په داسې حال کښې چې د هغوي نهي او منعې په یو خاص موقع وه.

* * «جاءَ ابنَ عُمَرَ رَجُلٌ فَقالَ: أَحْلِفُ بِالْكَعْبَةِ، قَالَ لا وَلكِنْ احْلِفْ بِرَبِّ الْكَعْبَةِ، فَانّ عُمَرَ كانَ يَحْلِفُ بِأَبِيهِ فَقالَ رَسُولُ اللهِ ـ صلّي الله عليه [وآله] وسلّم ـ لاتَحْلِفْ بِأَبيكَ فَإنّ مَنْ حَلَفَ بَغَيْرِ اللهِ فَقَدْ اَشْرَكَ».[2]

« یو سړ ے د دویم خلیفه زو ے ته راغـ ے او ورته یې وویل په کعبه باندې قسم خورم، د خلیفه زو ے ورته وویل: د کعبې په خدا ے باندې قسم وخوره، ځکه چې زما پلار په خپل پلار باندې قسم وخوړ نو پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم ورته وفرمایل: چې په پلار باندې دې قسم مهٔ خوره ځکه چې هر چا چې په غېر خدا ے باندې قسم وخوړهٔ نو د خدا ے لپاره یې شریک وگرځوهٔ.»

تېرو دلائلو ته په پام سره چې په غېر خدا ے باندې د قسم خوړل تجویز کوي، پکار دي دا حدیث په یو بل ډول سره توجیه شي او هغه دا چې:

دا حدیث په دریو برخو باندې مشتمل د ے:

۱- یو سړ ے د خلیفه زو ے ته راغـ ے چې په کعبه باندې قسم وخوري خو هغهٔ دغه سړ ے له داسې قسم خوړلو څخه منعې کړ.

[1] ـ سنن ابن ماجه ۱ ټوک ۲۷۷ مخ ؛ سنن ترمذي٤ ټوک ۱۰۹ مخ؛ سنن نسائي ۷ ټوک ٥ ـ ٤ مخ ؛ السنن الکبري ۱۰ ټوک ۲۹ مخ

[2] ـ السنن الکبري ۱ ټوک ۲۹ مخ. له صحیح مسلم و سنن نسائي ۷ ټوک ۷۷ مخ ؛ سنن ابن ماجه ۱ ټوک ۲۷۸ مخ څخه په نقل سره په یو بل حدیث کښې راغلي دي: «لاتحلفوا بآبائکم ولا بأمّهاتکم ولا بالأنداد» (سنن نسائي ۷ ټوک ٦ مخ )

۲- خلیفه د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم په وړاندې په خپل پلار (خطاب) باندې قسم وخوړ او د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم هغه له داسې قسم خوړلو څخه منعې کړ او ورته یې وفرمایل چې په غېر خدا ے باندې قسم خوړل شرک د ے.

۳- د دویم خلیفه د زو ے اجتهاد د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم دا وېنا چې وې فرمایل: «مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللهِ فَقَدْ أَشْرَکَ» اورېده کړې ده او هغه خبره چې په یو مشرک (خطاب) باندې د قسم خوړلو په اړه راغلې ده پراخه کړې او حتی د کعبې په شان مقدساتو باندې د قسم خوړل یې هم د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم په وېنا کښې شامل ګڼلې دي.

په دې حقله د دې روایت او د تېرو روایتونوچې د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم او نورو بې له څه اندېښنې په غېر خدا ے باندې قسمونه خوړل ترمېنځ د جمع لار دا ده چې د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم فرمان د یو محدود مورد په اړه د ے چې هغه کس یا هغه څیز چې ورباندې قسم خوړل کېدۀ مشرک وي نه مسلمان او نۀ د قران، کعبې او پېغمبر وغېره په شان مقدس وي. د خلیفه د زو ے اجتهاد چې د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د کلام معنا یې اورېده کړې ده خپله د هغۀ لپاره حجت د ے نه د نورو لپاره.

او د دې علت چې په مشرک پلار باندې قسم خوړل یو ډول شرک د ے دا د ے چې داسې قسم خوړل په ظاهره د هغو کسانو چې ورباندې قسم خوړل کیږي د لارې او طریقې تصدیق کول دي.

د حدیث او د هغۀ د اساس لپاره دا یوه شننه د خلیفه د زو ے غلطي ده چې له هغه حدیث څخه چې په مشرک باندې د قسم خوړلو په حقله راغلے د ے یوه پراخه معنا وګڼلې شي حتی په مقدساتو باندې یې هم تطبیق کړې ده.

## لا واضحه شننه

د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم دا وېنا چې فرمائي: «مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللهِ فَقَدْ أَشْرَکَ» د «لات» او «عزّی» په شان طاغوتو باندې له قسم خوړلو سره تعلق لري نه په مشرک پلار باندې له قسم خوړلو سره څه لا دا چې د کعبې په شان مقدساتو باندې قسم خوړلو سره . او دا د دویم خلیفه د زو ے خپل اجتهاد د ے چې له بتانو سره متعلق قانون یې په دوو څیزونو یعنې په مشرک او کعبې باندې قسم خوړلو باندې تطبیق کړ ے د ے. ګنې د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم وېنا دومره پراختیا نده لرلې. په دې ګواهۍ سره چې د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په بل یو مبارک حدیث کښې فرمائي:

«مَنْ حَلَفَ فَقالَ فِي حَلْفِه بِاللاّت وَالْعُزّي ، فَلْيَقُل : لا الهَ الاّ الله. . .»[1]

«هر څوک چې قسم وخوري او پکښې ووائي چې په لات او عزی مې قسم نو فوراً دې ووائي: لا اله الا الله.»

دا مبارک حدیث دا خبره ذهن ته رسوي چې د مسلمانانو په ذهنونو کښې لا د جاهلیت د دوران هغه رسوب باقي ؤ او وخت نا وخته به یې د پخواني عادت له مخې حتی په طاغوتو باندې قسمونه خورل، او د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د دغه بد او ناروا عمل د ختمولو او له منځه وړلو لپاره دغه کلي جمله وفرمایله. خو د

---

[1] ـ سنن نسائي ۷ ټوک ۸ مخ

خلیفه صاحب زوے دغه جمله هم په مقدساتو باندې په قسم خوړلو او هم په مشرک پلار باندې په قسم خوړلو باندې تطبیق کړه.

په دې باندې ګواه چې د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم وینا نه په مقدساتو باندې له قسم خوړلو سره متعلق وه او نه په مشرک پلار باندې له قسم خوړلو سره متعلق وه او د خلیفه زوے دے چې د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم وینا له دوو موردو حتی په خپل پلار باندې د خلیفه له قسم خوړلو سره جمع کړې ده، دا خبره ده:

د حنبلیانو امام د خپل مسند د ۲ ټوک په ۳۴ مخ کښې دویم حدیث په یو بل شکل کښې نقلوي چې دا خبره ترې ثرګندیږي چې تطبیق د خلیفه د زوے لخوا ؤ.

د دغه حدیث متن دا دے:

«كانَ يَحلِفُ أبي فَنَهاهُ النَّبِيُّ قالَ مَنْ حَلَفَ بِشَيْءٍ دُونَ اللهِ فَقَدْ أشْرَكَ»

((عمر (رض) په خپل پلار باندې قسم خوړۀ نو د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم هغه منعې کړ او وې فرمایل: هر چا چې بغیر له خداے نه په بل څیز باندې قسم وخوړۀ نو شرک یې کړے دے.))

هم هغه ډول چې ګورئ د «مَنْ حَلَفَ . . .» جمله د عاطفې له (( واو )) یا « فاء » نه بغیر راغلے ده او که دویم حدیث په پلار باندې د قسم په ذیل کښې ؤ نو لازمي وه چې دویم حدیث د عطف په حرف سره راشي.

د مسند مولف بیا د دویم ټوک په ۲۷ مخ کښې د«مَنْ حَلَفَ. . .» حدیث د خلیفه د قسم له واقعې نه بغیر نقل کړے دے او داسې وائي:

«مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللهِ قالَ فِيهِ قَوْلاً شَدِيداً»

((چا چې په غیر خداے باندې قسم وخوړۀ نو هغه کس په دې حقله ناروا خبره کړې ده یا د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د هغۀ په باره کښې سخته خبره کړې ده، (مثلاً ویلي یې دي چې شرک یې کړے دے.))

*****

# اولسم باب

## د قبرونو په خاوندانو باندې نذر

په مصیبت کښې ګېر او دردمن کسان منښته یا نذر مني چې که خدا ے پاک یې له مصیبته خلاص کړي او کار یې روان شي نو یو مقدار پېسې به د خدا ے پاک د یو نیازبین د مزار په ضریح کښې اچوي یا به یو ګډ یا پسۀ وغېره په زائرانو باندې د خوړلو لپاره هغه ځا ے کښې حلالوي او داسې وائي:

«للهِ عَلَيّ کَذا انْ کان کذا»

او دا کار د دنیا د ټولو مسلمانانو ترمېنځ په کامله توګه رواج لري، په خاصه توګه په هغو مرکزونو کښې چرته چې د اولیاء کرامو او صالحانو قبرونه او مزارونه وي: وهابیان او سلفیان له دا ډول نذرونو سره حساسیت لري او د هغوي یو بد ژبے لیکوال عبدالله قصیمي لیکي: ((شیعه ګان د علي او د هغۀ د اولاد په الوهیت (په خدائی) باندې په اعتقاد سره د قبرونو او د هغو د خاوندانو پرستش کوي او په همدې وجه یې د هغوي د دفن ځایونه اباد کړي دي او د دنیا له ګوټ ګوټ نه د هغوي زیارتونو ته ورځي او نذرونه او قربانیانې ورته وړاندې کوي او وینه او اوښکې د هغوي په قبرونو باندې شیندي.))[1]

---

[1] ـ الصراع، ۱ ټوک، ٥٤ مخ

دغه بې شرمه ، بې حياء او بد زبانه ليکوال چې د کتاب له نوم[1] او له خپل ادب او تهذيب نه معلوم دے، مسئله له شيعه مسلمانانو سره تړلې ګڼلې ده. په داسې حال کښې چې د وهابيت جرړې او باني ابن تيميه په مسئله باندې په عامه توګه بحث کړے دے او دا مسئله يې په يو ډول په عامه مسلمانانو پورې تړلې ده (او د يو خاص مذهب نوم يې نۀ دے اخېستے) لکه چې وائي:

«مَنْ نَذَرَشَيْئاً للنَّبِيِّ أَوْ غَيْرِه منْ أَهْلِ الْقُبُورِ أَوْ ذَبَحَ ذَبِيحَةً کانَ کَالْمُشرِکِينَ الَّذينَ يَذْبَحُونَ لا وْثانِهِمْ وَيَنْذُرُونَ لَها فَهُوَ عابِدٌ لِغَيْرِ اللهِ فَيَکُونُ بِذَلِکَ کافِراً»[2]

((هر چا چې د پېغمبر اکرم صلى الله عليه و آله وسلم او يا د نورو پېغمبرانو او وليانو لپاره څه څيز نذر او قرباني کړو نو د هغو مشرکانو په شان ګرځي چې د خپلو بتانو لپاره به يې نذرونه منل او يا به يې د هغوي لپاره حلالې کولې او د غېرخدا ے پرستش به يې کوۀ او په دې طريقه به کافران کېدل.))

استاد او شاګرد دواړه په ظاهر باندې غولېدلي دي او د ((ظاهري يو شان والي)) په سوباړې سره يې دواړه وهلي دي. په داسې حال کښې چې په يو شان اعمالو کښې معيار او ملاک ظاهر قضاوت نۀ دے بلکې معيار او ملاک د زړۀ نيت دے. ځکه که په قضاوت او فېصلې کولو کښې ظاهري شباهت کافي وي نو د حج زياتره اعمال د بت پرستانو د هغو اعمالو په شان دي چې له کاڼو او خاورو لوټو نه چاپېره به يې طواف کوۀ او د خپلو د لرګي او اوسپنو د بتانو پرستش به يې کوۀ او د هغو په شان اعمال مونږ هم تر سره کوو او له کعبې نه ګېر چاپېره چې له کاڼو لوټو نه جوړه ده تاويږو او کاڼے او تيګه (حجر اسود) ښکلووو او په ((منا)) کښې وينه توېوو وغېره...

په ظاهره په مشترکو کارونو کښې د قضاوتونو او فېصلو کولو معيار، اهداف، نيتونه او ارادې دي او هيڅکله نۀ شو کولې چې په دې حکم سره چې د عمل ظاهر له يو بل سره يو شان والے لرې نو ځکه حکم يې هم يو شان وګڼو.

په دې حقله د ((صلح الاخوان)) کتاب ليکوال يو خبره کوي چې نقلول يې د مسئلې څرګندونه کوي لکه چې وائي:

«انّ الْمَسْأَلَةَ تَدُورُ مَدارَنِيّات الناذرينَ وَإنّما الْأعْمالُ بالنِّيّات، فَانْ کَانَ قَصْدُ النّاذر الْمَيّتَ نَفسَهُ وَالتّقَرُّبَ الَيْه بذَلِکَ لَمْ يَجُزْ قَولا واحداً وَانْ کانَ قَصْدُهُ وَجْهَ اللهِ تَعالي وَانْتِفاعَ الْأحْياءِ بِوَجْه منَ الْوُجُوهِ وَثَوابَهُ لِذلِکَ الْمَنْذُورِ لَهُ الْمَيّتِ ، فَيَجِبُ الْوَفَاءُ بِالنَّذْرِ»[3]

دغه سني عالم او مفکر چې خپله د وهابيانو د عقائدو نقد کوونکې دے په دې لنډ عبارت کښې مسئله د نيتونو او غرضونو له نظره څېړي او وائي:

---

[1] ـ هغۀ د خپل کتاب نوم چې تش په نامه يې د علامه سيد محسن امين د ((کشف الارتياب)) کتاب په رد کښې ليکلے دے، ((الصراع بين الاسلام والوثنيه)) نوم اېښودے دے يعنې د اسلام او بت پرستۍ ترمېنځ جنګ. او له دې لارې يې شيعه مسلمانان چې د نړۍ د مسلمانانو څلورمه برخه ده بت پرست بللي دي.

[2] ـ فرقان القرآن، ۱۳۲ مخ ، ليک «عزامي» ، نقل له ابن تيميه څخه.

[3] ـ صلح الاخوان ۱۰۲ مخ وغېره .....

«دلته مسئله د نذر منونکو د نیت د مدار ده. او د «إنّما الْأعْمالُ بالنِّيّات» له مخې په هر عمل کښې معيار او ملاک هم هغه نیت دے. که له نذر څخه مقصد مړي ته نزدېکت وي نو شک نشته چې دا کار جائز نۀ دے (ځکه چې نذر پکار دي د خدا ے پاک لپاره او هغۀ ته د نزدیکت لپاره وي.) او که نذر د خدا ے پاک لپاره وي او هغۀ ته د نزدې کېدو لپاره وي او نتيجه يې د خلقو د يوې ډلې له هغۀ نه ګټه اوچتول او ثواب يې مړي ته وربخښل وي نو څه اشکال نۀ لري او پکار دي منل شو ے نذر خا مخا پوره کړ ے شي.»

حق خبره همدا ده چې دغه سني مفکر په دې وېنا کښې راوړې ده او د مسلمانانو ترمېنځ د نذر مقصد او غرض هم هغه دے چې د هغۀ په وېنا په دويمه برخه کښې راغلے دے او همدلته کښې د بت پرستانو له عمل سره د مسلمانانو د عمل اصلي فرق څرګندېږي. د هديو له وړاندې کولو او د حېوان له حلالو څخه د هغوي نيت او هدف له بتانو سره د نزديکت حاصلول وو او حتی ذبيحه به يې د هغوي په نوم سره حلالوله او له بت او له هغۀ سره له نزديکت نه يې بغېر بل څه کار نۀ لرۀ، په داسې حال کښې چې د مسلمانو نيت او هدف د خدا ے پاک د رضا حاصلول او ثواب يې د هغه قبر خاوند ته ډالۍ کول دي او په خپلو نذرونو کښې د «الله» جل جلاله لفظ راولي او وائي:

«للهِ عَلَيّ اِنْ قُضِيَتْ حاجَتِي أنْ أفْعَلَ كَذا» په حقيقت کښې له نذر څخه هدف او مقصد يې د خدا ے پاک د درګاه تقرب او نزدېکت حاصلول، د هغۀ ثواب د قبر خاوند ته بخښل او د نذر مصرف يې عريبانان، بې وزله خلق او مسافران وي نو په داسې صورت کښې څه ډول دا عمل شرک ګڼلې او د مشرکانو له عمل سره يې په يو قطار کښې راوستلے شو؟

په اصل کښې په دې بنياد داسې نذرونه د پېغمبرانو، اولياؤ او صالحانو لخوا يو ډول صدقه ورکول دي چې ثواب يې هغوي ته وروګرځي او د اسلام هيڅ يو عالم او پوه کس د وفات شويو کسانو لخوا د صدقې په ورکولو باندې څه اعتراض او نيوکه نۀ ده کړې.

د دې لپاره چې قدرمن لوستونکي د وهابيانو د مغالطې له طريقې سره اشنا شي په دې حقله به خبره لږه په تفصيل سره وکړو:

په عربۍ ژبه کښې د صدقې په اړه مطلب په «لام» سره ادا کيږي خوکله کله له دې حرف څخه مقصد هدف، مقصد او غرض وي لکه: «للهِ عَلَيّ» کله کله ترې مقصد د مصرف بيان وي لکه: «انّما الصّدَقاتُ لِلْفُقَراء» او د نذر د صيغې د اجرا په مقام کښې دواړه «لامونه» استعماليږي او وائي:«نَذرْتُ للهِ اِنْ قُضِيَتْ حاجَتي اَنْ اَذْبَحَ لِلنّبِيّ»

وړومبنے لام «لله» هم هغه د غرض او مقصد لام دے او مراد ترې دا دے چې له نذر څخه هدف د خدا ے پاک د رضا او د هغۀ درګاه ته نزديکت حاصلول دي په داسې حال کښې چې له دويم لام نه مراد هم هغه موردي بيان دے چې له دې نذر نه فائده اوچتوي او ثواب يې هغه کس ته ډالۍ کيږي.

لنډه دا چې په «صَلّيْتُ للهِ» او يا په «نَظرْتُ للهِ» کښې لام غرض او مقصد دے يعنې د خدا ے پاک د فرمان د اطاعت، د هغۀ د رضا او نزدېکت د حاصلولو په خاطر مې نمونځ ادا کړو او نذر مې ورکړ.په داسې حال کښې چې په «اَذْبَحُ لِلنّبِيّ، أوْلِوالِدَيّ، أوْلِوالِدَتي» کښې لام د انتفاع (ګټه اوچتونې) د مورد د بيانولو لپاره دے او دا چې دا عمل د هغۀ له خوا ترسره کيږي او له ثواب څخه يې برخورکيږي او داسې نذرونه نۀ يوازې د هغه کس عبادت

نۀ دے بلکې د خداے پاک د مخلوق د انتفاع او ګټې اوچتونې لپاره د خداے پاک عبادت دے.او په اسلامي احاديثو کښې په مطلب باندې زيات نظائراو مثالونه شته چې ځينې پکښې دلته راوړو:

۱- د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم يو صحابي سعد (رض) له هغه حضرت څخه پوښتنه وکړه: مور مې وفات شوې ده او که هغه ژوندۍ وې نو صدقه به يې ورکوله، که زۀ د هغې لخوا صدقه ورکړم ايا د هغې د حال لپاره څه ګټه لري؟ د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم وفرمايل: هو، هغۀ بيا پوښتنه وکړه کومه صدقه زياته ګټوره ده؟ وې فرمايل: اوبۀ، سعد (رض) يو کوهې وکنستو او وې ويل: «هذه لِأُمّ سَعْد» هم هغه ډول چې مو وليدل د دې جملې ((لام)) له هغه ((لام)) نه بيل يو لام دے چې په «نَذَرْتُ لِلّه» جملَه کښې راغلے دے. وړومبنے لام د مقصد او هدف د بيانولو لپاره او دويم لام د انتفاع او ګټې اوچتولو بيانوونکے دے.[1]

۲- د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم په زمانه کښې يو سړي نذر ومنۀ چې په ((بوانه)) سيمه کښې به يو اوښ قرباني کوي، د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم خدمت کښې حاضر شو او هغه حضرت يې له قيصې نه خبر کړ، د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم ورته وفرمايل: ((ايا په هغه ځاے کښې د جاهليت د دور څه بت وجود لرۀ چې خلقو به يې پرستش کوۀ؟)) هغه سړي عرض وکړ: نه، هغه حضرت وفرمايل: ((ايا په هغه ځاے کښې به د جاهليت د دور په يو اختر کښې غونډه جوړېده؟)) عرض يې وکړ: نه، هغه حضرت بيا وفرمايل: « أوفِ بِنَذْرِکَ فَاِنَّهُ لا وَفاءَ لِنَذْرٍفي مَعْصِيَةِ اللهِ وَلا فِيما لا يَمْلِکُ ابْنُ آدَمَ» ((خپل نذر دې عملي کړه ځکه چې نذر په دوو حالتو کښې صحيح نۀ دے يو د خداے پاک د نافرمانۍ په حقله او بل په داسې څيزکښې چې انسان د هغۀ مالک نۀ وي.))[2]

۳- يوې ښځې د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم ته عرض وکړ: نذر مې منلے دے چې په يو خاص ځاے کښې به يو حېوان قرباني کوم. هغه حضرت وفرمايل: ايا د بت لپاره دې نذر منلے دے؟ وې ويل: نه ، وې فرمايل: په خپل نذر دې عمل وکړه.

۴- د مېمونې (رض) پلار وويل نذر مې منلے دے چې په ((بوانه)) سيمه کښې پنځوس ګډان حلال کړم، د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم پوښتنه وکړه: ايا هلته څه بت شته؟ عرض يې وکړ:نه، وې فرمايل: خپل نذر دې پوره کړه.

په تېرو وختونو او حال کښې د بت د موجودګۍ يا په هغه سيمه کښې د جاهليت د دور د يو اختر په توګه د يوې اجتماع د شتون په حقله د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم پرله پسې پوښتنې د دې لپاره دې چې

[1] ـ فرقان القرآن ۱۳۳ مخ د الغدير ۵ ټوک ۱۸۱ مخ په نقل سره
[2] سنن ابي داود ۲ ټوک ۸۰ مخ

په داسې زمینو کښې ذبیحه او قرباني د هغه بت لپاره او هغهٔ ته د نزدېکت لپاره او حتی د هغهٔ په نامه حلالیږي، په داسې حال کښې چې حلاله پکار دي د خدا ے پاک لپاره وي نه د بت یا د قران له نظره د حرام مورد لپاره، داسې څیز دے چې د بت په نامه حلالیږي لکه چې فرمائي: «وَمَا ذُبِحَ عَلَي النُّصُبِ»[1] ((هغه څیزچې د بت په نامه او د هغهٔ د رضا د حاصولو لپاره حلال شي.))

د خدا ے له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم څخه پوښتنه کوونکو به د فقیرانو، مسکینانو او د حاجتمنو د شتون او یا په اسانۍ سره د کار د ترسره کولو په خاطر د حلالولو د ځا ے ټاکنه کوله.

هغه کسان چې د یو مزار له زائرانو سره سروکار لري په ښهٔ توګه پوهیږي چې د خدا ے پاک لپاره نذر د هغهٔ د رضایت د حاصلولو لپاره دے او د هم هغه پاک ذات په نامې سره حلالیږي، خو له ثواب څخه د الهي اولیاؤ د انتفاع د فائدې حاصلولو او له مادي فائدو څخه فقیرانو ته یا خپله د مزار ته ګته رسونه یې هدف وي.

*****

# اتلسم باب

## د خدا ے پاک اولیاؤ ته نداء (غږ کول)

د وهابي یا سلفي ډلو او نورو اسلامي مسلکونو ترمېنځ یوه لانجې ماره مسئله د ژوند د سختیو، مصیبتونو او ګډوډیو په وخت د خدا ے پاک انبیاؤ، نازولو اولیاؤ او نېکو او صالحو کسانو ته د استغاثې او نداء (غږ) کولو مسئله ده.

په اسلامي مسلکونو کښې د خدا ے پاک له پېغمبرانو، اولیاؤ او نېکو او صالحو انسانانو څخه د هغوي د قبرونو په خوا کښې د مرستې او مدد غوښتننه او استغاثه او ندا کول په کامله توګه یوه رائجه چاره ده او مسلمانان دغه کار نه شرک ګڼي او نهٔ د اسلامي اصولو په خلاف کار. په داسې حال کښې چې وهابي او سلفي ډلو په سختۍ سره دغه کار منعې کړے او په مخالفانو باندې د رعب اچولو لپاره یې یو شمېر هغه ایتونه چې د هغوي له مدعا سره لږ تعلق هم نهٔ لري د بحث مېدان ته راوړي او تل دا شعار ورکوي چې:

[1] ـ سورهٔ مائده : ۳ ایت

«وَأَنّ المَساجِدَ للهِ فلا تَدْعُوا مَعَ اللهِ أحَداً»[1]
((او جوماتونه يا د سجدې ځايونه خاص خدا ے لره دي نو بس له خدا ے سره څوک راونهٔ بلئ.))
د دې لپاره چې قدرمن لوستونکي له هغو ټولو قراني ايتونو سره چې د وهابيانو په لاسو کښې تر ټولو لويه حربه او وسيله ده اشنا شي دلته کښې د مبارکو ايتونو دغه برخه راوړو او بيا به يې د مضمونونو په تشريح لاس پورې کړو. دغه ډله د تېر مبارک ايت نه علاوه په لاندې ذکر شويو مبارکو ايتونو باندې هم استدلال کوي:

«لَهُ دَعْوَةُ الْحَقِّ وَالّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِه لا يَسْتَجِيبُونَ لَهُمْ بِشَيْءٍ»[2]
((رابلل د هغه حق ذات لپاره دي، او هغه کسان چې غېر له هغهٔ نه رابولي هيڅکله هغوي ته ځواب نهٔ ورکوي.))

«وَالّذينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِه لا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَكُمْ وَلا اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُونَ»[3]
((هغه کسان چې تاسو يې خدايان بولئ، بې له واحد خدا ے نه هيڅ يوستاسو د مرستې بلکې د خپل ځان د مرستې توان او طاقت نهٔ لري.))

«وَالّذينَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُونِه ما يَمْلِكُونَ مِنْ قِطْمِير»[4]
((او له هغهٔ نه بغېر هغه معبودان چې تاسو يې په خدائی سره رابولئ، په دنيا کښې د خرما د زړي پوستکے هم په اختيارکښې نهٔ لري.))

«اِنّ الّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللهِ عِبادٌ أَمْثالُكُمْ»[5]
((له خدا ے نه بغېر هغه کس چې تاسو يې په خدا ے سره رابولئ ستاسو په شان بندګان دي.))

«قُلِ ادْعُوا الّذين زَعَمْتُمْ مِنْ دُونِه فَلا يَمْلِكُونَ كَشْفَ الضُّرِّ مِنْكُمْ وَلا تَحْوِيلا»[6]
(((اے زمونږ رسوله دوي ته) ووايه هغه کسان چې تاسو يې له خدا ے نه بغېر رابولئ، هيڅکله له تاسو څخه د يو ضرر په لرې کولو اود هغهٔ په راستنولو باندې قادر نهٔ دي.))

«أُولئِكَ الّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ اِلي رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ»[7]
((هغه کسان چې (کافران يې په خدائی سره) رابولي، خپله د خدا ے په لور د وسيلې غوښونکي دي.))

---

[1] ـ سورهٔ جن: ۱۸ ايت
[2] ـ سورهٔ رعد: ١٤ايت
[3] ـ سورهٔ اعراف: ۱۹۷ايت
[4] ـ سورهٔ فاطر: ۱۳ ايت
[5] ـ سورهٔ اعراف: ١٩٤ايت
[6] ـ سورهٔ اسراء: ٥٦ ايت
[7] ـ سورهٔ اسراء: ٥٧ ايت

«وَلا تَدْعُ مِنْ دُونِ اللهِ ما لا يَنْفَعُکَ وَلا يَضُرُّکَ»[1]
((بغېر له خدايه بل کس مهٔ رابوله چې نهٔ درته څه ګټه در رسولے شي او نهٔ تاوان.))

«اِنْ تَدْعُوهُمْ لا يَسْمَعُوا دُعاءَکُمْ»[2]
((که هغوي رابولئ، (نو له دې امله چې کاڼي دي) نهٔ اوري.))

«وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنْ يَدْعُوا مِنْ دُونِ اللهِ مَنْ لا يَسْتَجِيبُ لَهُ اِلي يَوْمِ القِيامَةِ»[3]
((له هغه کس نه به بل کوم کس زيات ګمراه وي چې له خدا ے نه بغېر رابولي، چې هغهٔ ته هيڅله د قيامت تر ورځې پورې ځواب نهٔ شي ورکولې.))

وهابيان او سلفيان له داسې مبارکو ايتونو څخه دا نتيجه اخلي چې د الهي اولياؤ او صالحانو انسانو د وفات نه پس د هغوي رابلل او ورته ندا کول د هغوي عبادت او پرستش ګڼل کيږي. که يو کس د خدا ے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د روضې مبارکې په خوا کښې او يا له يو لرې ځا ے نه ووائي: ((يا محمد)) ، يا ((يا رسول الله)) نو دا ندا او رابلل د هغه حضرت عبادت او پرستش د ے.
صنعاني په تنزيه الاعتقاد کتاب کښې د کشف الارتيات کتاب په نقل سره په ۲۷۴ ليکي:
«وَقَدْ سَمّي اللهُ الدُّعاءَ عِبادَةً بِقَوْلِه: (أُدْعُوني أَسْتَجِبْ لَکُمْ، إنّ الّذينَ يَسْتَکْبِرُونَ عَنْ عِبادَتي) وَمَنْ هَتَفَ بِاسْمِ نَبِيٍّ أَوْ صالِحٍ بِشَيْءٍ اَوْ قالَ إشْفَعْ لي اِلَي اللهِ في حاجَتي اَوْ اَسْتَشْفِعُ بِک الي اللهِ في حاجَتي أَوْ نَحْوَ ذلک أَوْ قالَ إقْضِ دَيْني اَوْ إشْفِ مَريضي اَوْ نَحوَ ذلک فَقَدْ دَعا النَّبِيّ وَالصّالِحَ ، وَالدُّعاءُ عِبادَةٌ بَلْ مُخُّها فَيَکُونُ قَدْ عَبَدَ غَيْرَاللهِ وصارَمُشْرِکاً إذْ لايُتِمُّ التّوحيدُ الاّ بِتَوْحيده تَعالي في الإلهِيّةِ باعْتقاد أنْ لا خالِقَ وَلا رازِقَ غيرُهُ وَفِي الْعِبادَةِ بِعَدَمِ عِبادَةِ غَيْرِهِ وَلَوْ بِبَعْضِ الْعِباداتِ، وعُبّادُ الْأَصْنامِ إنّما أشْرَکُوا لِعَدَمِ تَوحيدِ اللهِ فِي الْعِبادَةِ» .
((قران مجيد له خدا ے نه بغېر چا ته په مطلقه توګه ندا کول او هغه رابلل عبادت ګڼلے د ے، په دې ګواه سره چې د ايت په شروع کښې وائي: «اُدعُوني اَسْتَجِبْ لَکُمْ» او د دې په ترڅ کښې وائي: «يَسْتَکْبِرُونَ عَنْ عِبادَتي» نو په دې بنياد هر چا چې يو پېغمبر يا صالح کس راوبالهٔ او يا ووائي چې زما د حاجت لپاره خدا ے پاک ته شفاعت او سپارښتنه وکړه، يا ووائي چې له تا څخه د خپل حاجت په باره کښې د شفاعت او سپارښتنې غوښتنه کوم، يا ووائي زما پور ادا کړه ، يا زما بيماري جوړه کړه او داسې نور، نو په داسې صورت کښې دغه کس په دې خبرو سره د هغهٔ عبادت کړےد ے او د پرستش حقيقت له رابللو نه بغېر بل څه نهٔ دي، نو د داسې رابللو په نتيجه کښې

---

[1] ـ سورهٔ يونس: ۱۰۶ ايت
[2] ـ سورهٔ فاطر: ۱۴ ايت
[3] ـ سورهٔ احقاف: ۵ ايت

يې د غېرخدا ے پرستش او عبادت کړے او مشرک شوے دے، ځکه چې پکار دي الوهي توحيد[1] چې (بې له خدايه ځوک خالق او رازق نشته) د عبادت له توحيد سره چې له هغهٔ نه بغېر نه پرستش کول دي مل وي. د بت پرستانو شرک يوازې همدا ؤ چې د غېرخدا ے پرستش به يې کوهٔ. ))

ځواب:
په دې کښې شک نشته چې د ((دَعا)) لفظ په عربي لغت کښې ((د ندا او رابللو)) په معنا او د ((عبادت)) اصطلاح د ((پرستش)) په معنا ده او هيڅکله دا دواړه لفظونه په خپلو کښې مترادف او هم معنا نهٔ شو ګڼلې، يعنې دا نهٔ شو ويلې چې هره ندا او درخواست عبادت او پرستش دے. ځکه چې:
وړومبې، په قران مجيد کښې د دعوت لفظ په داسې مواردو کښې استعمال شوے دے چې هيڅکله نهٔ شو ويلې چې مراد ترې عبادت دے. لکه چې فرمائي:

«قالَ رَبِّ اِنّي دَعَوْتُ قَوْمي لَيْلا وَنَهاراً»[2]
((وې ويل: اے ربه! ما شپه او ورځ خپل قوم (ستا لور ته) راوبالهٔ.))
نو ايا دا ويلې شو چې د حضرت نوح عليه السلام مراد دا دے چې ما شپه او ورځ د خپل قوم عبادت وکړ؟

«وَما کانَ لي عَلَيْکُمْ مِنْ سُلْطانٍ اِلاّ اَنْ دَعَوْتُکُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لي»[3]
(((شيطان وائي) ما په تاسو باندې تسلط نهٔ لرهٔ بې له دې نه چې تاسو مې (د بدوکارونو په لور) راوبللئ او تاسو هم ومنل.))
ايا ځوک داسې احتمال ورکولې شي چې له دې نه چې شېطان هغوي راوبلل مراد دا دے چې شېطان د خپلو پېروکارو پرستش وکړ؟ په داسې صورت کښې که پرستش وي نو د شېطان د پېروکارو لخوا دے نه خپله د شېطان لخوا.
په دغو ايتونو او په لسګونو هغو نورو مبارکو ايتونو کښې چې د نقلولو حاجت يې نهٔ محسوسوو د ((دعوت)) لفظ د پرستش او عبادت نه بلکې د بل څه په معنا کښې استعمال شوے دے، له دې امله نهٔ شو ويلې چې دعوت (رابلل) او عبادت د يو بل مترادف دي او که يو کس له پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم يا له يو نېک بنده نه د مرستې غوښتنه وکړه او هغه يې راوبالهٔ نو په دې صورت کښې يې د هغوي عبادت کړے دے ځکه چې رابلل د پرستش په څېر دي.[4]

---

[1] ـ صنعاني د وهابيانو د اصطلاح برخلاف د «الوهي» لفظ استعمال کړے دے په داسې صورت کښې چې پکار دي د هغوي له نظره يې د ((ربوبي)) لفظ استعمال کړې وې.
[2] ـ سورهٔ نوح : ٥ ايت
[3] ـ سورهٔ ابراهيم : ٢٢ ايت
[4] ـ د ((رابللو)) او ((پرستش)) ترمېنځ د نسبت اخېستنې له نظره عموم او خصوص ((من وجه)) دي. په خدا ے پاک باندې د تکيه لرونکي په توګه له غېر نه د مرستې غوښتو په اړه دعوت صدق کوي نه عبادت. خو د رکوع او سجود په شان په فعلي او عملي ستائېنو کښې

بله دا چې په دغو ټولو مبارکو ایتونو کښې له ((دَعا)) نه مراد مطلق رابلل نهٔ دي بلکې یو خاص دعوت دے چې د پرستش له لفظ سره مترادف کېدې شي، ځکه چې دغه ټول مبارک ایتونه د بت پرستانو په باره کښې نازل شوي دي چې خپل بتان به یې واړهٔ خدایان ګڼل چې ځینې الهي چارې ورته سپارلې شوې دي او په خپل کار کښې یو ډول خپلواکي لري نوڅرګندنه خبره ده چې د لوے خدا ے یا وړوکي خدا ے په توګه د یو موجود او مخلوق په وړاندې خضوع او تذلیل او د هر ډول داسې ګفتار او کردار له دې نظره چې هغه الله، رب او د شفاعت او مغفرت مالک دے، عبادت او پرستش به وي.

په دې کښې شک نشته چې د بت پرستانو خضوع، دَعا (رابلل) او استغاثه د هغو بتانو په وړاندې وه چې هغوي به یې د شفاعت د حق مالکان وغېره ګڼل او هغوي به یې له دنیا او اخېرت سره په متعلقو چارو کښې خپلواکه پېژندل او څرګنده خبره ده چې په داسې حالاتو کې له دغو مخلقوقاتو او موجوداتو څخه د هر ډول غوښتنه او د هغوي رابلنه به عبادت او پرستش وي. په دې باندې تر ټولو څرګند ګواه چې د هغوي دعوت او رابلل د هغو بتانو په الوهیت (خدائي) باندې له اعتقاد سره مل وو، لاندېنے مبارک ایت دے چې فرمائي:

« فَما اَغْنَتْ عَنْهُمْ آلِهَتُهُمْ الّتي يَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللهِ مِنْ شَيْءٍ » [1]

((هغو خدایانو چې دوي یې له خدایه بغېر پرستش کوهٔ دوي بې نیازه نکړل.))

نو په دې بنیاد د بحث وړ ایتونه زمونږ د بحث له موضوع سره تعلق نهٔ لري. زمونږ د بحث موضوع د یو بنده درخواست له بل بنده څخه دے چې نهٔ هغه خپل اِله او رب ګڼي او نهٔ یې د دنیا او اخېرت په چارو کښې خپلواکه مالک او تصرف کوونکے ګڼي بلکې هغه د خدا ے پاک داسې قدرمن او نازولے بنده بولي چې هغه یې د رسالت ،امامت او ولایت د مقام لپاره غوره کړې دے او وعده یې ورکړې ده چې د خپلو بندګانو په حقله به یې دعا قبلوي. لکه چې فرمایلي یې دي.

«وَلَوْ أَنّهُمْ إِذْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ جاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرّسُولُ لَوَجَدوا اللهَ تَوّاباً رَحِيماً» [2]

((که دوي کله په ځان باندې ظلم کړے او تا ته راغلي وې او له خدا ے نه یې بخښنه غوښتې وې او پېغمبر هم د دوي لپاره مغفرت غوښتې وې نو یقیناً چې خدا ے به یې توبه قبلوونکے او رحم کوونکے بیا موندهٔ.))

دریمه خبره دا چې هغه ذکر شوے مبارک ایت خپله په دې خبره څرګند ګواه دے چې له دعوت او رابللو څخه مراد د کار او حاجت مطلقه غوښتنه نهٔ ده بلکې عبادتي او پرستشي رابلل او دعوت دے، په دې وجه په یو مبارک ایت کښې د ((دعوت)) له لفظ نه پس یې بې له څه ځنډه هم هغه معنا د عبادت د لفظ په تعبیر سره راوړے ده لکه چې فرمائي:

---

چې د هغه کس په خدائي او اولوهیت باندې له اعتقاد سره ملې وي ، عبادت صدق کوي نه دَعا ، او همدا رنګ د نمونځ په حقله دواړه صدق کوي.

[1] ـ سورهٔ هود : ۱۰۱ ایت

[2] ـ سورهٔ نساء: ٦٤ ایت

«وَقالَ رَبُّكُمْ أُدْعُوني اَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذينَ يَسْتَكبِرُونَ عَنْ عِبادتي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ داخِرينَ»[۱]
هم هغه ډول چې يې وينئ چې د ايت مبارک په شروع کښې د «ادعوني» لفظ او د هغدغه ايت په ترڅ کښې د «عبادتي» لفظ استعمال شوے دے او دا په دې خبره باندې ځرګند ګواه دے چې له دې مبارک ايت څخه مراد د هغو موجوداتو او مخلوقاتو په وړاندې يو خاص درخواست، ندا او استغاثه ده چې هغوي يې په الهي صفاتو سره پېژندلي وو.
سيدالساجدين امام زېن العابدين په خپله يوه دعا کښې وائي:

«فَسَمَّيْتَ دُعاءکَ عِبادَةً، وَتَرکَهُ اِسْتِكْباراً، وَتَوَعَّدْتَ عَلي تَرکِه دُخُولَ جَهَنَّمَ داخِرينَ»[۲]
«او خپله رابلنه دې خپل پرستش او د هغې ترک کول دې کبرکول ونومول او د هغه ترک کوونکو ته دې په اور کښې د ذلت په حالت کښې د شتون وعده ورکړه.»
او کله کله په دوو هغو ايتونو کښې چې مضمون يې يو وي په يو ځاے کښې د عبادت لفظ او بل ځاے کښې د دعوت لفظ راغلے لکه چې فرمائي:

«قُلْ أَتَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللهِ مالا يَمْلِکُ لَكُمْ ضَرّاً وَلا نَفْعاً»[۳]
«ايا بغېر له خدايه د هغه څه پرستش کوئ چې ستاسو لپاره د څه ګټې او تاوان مالک نۀ دے.»
په بل يو مبارک ايت کښې فرمائي:

«قَلْ اَنَدْعُوا مِنْ دُونِ اللهِ مالا يَنْفَعُنا وَلا يَضُرُّنا»[۴]
«ايا له خدايه بغېر داسې موجود راوبلوچې زمونږ لپاره څه ګټه او تاوان نۀ لري؟»
او د سورۀ فاطر په ۱۳ مبارک ايت کښې فرمائي:

«وَالَّذينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِه ما يَمْلكُونَ مِنْ قِطْمير»
«او له هغۀ نه بغېر هغه معبودان چې په خدائی يې رابولئ، په دنيا کښې د يوې خرما د زړي پوستکے(جلی) هم نلري.»
په دې مبارک ايت کښې د «تدعون» لفظ استعمال شوے دے په داسې حال کښې چې په بل مبارک ايت کښې چې په همدې مضمون سره دے د «تعبدون» لفظ استعمال شوے دے، لکه چې فرمائي:

«اِنَّ الَّذينَ تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللهِ لا يَمْلِكُونَ لَكُمْ رِزْقاً»[۱]

---

۱ ـ سورۀ غافر: ٦٠ ايت
۲ ـ صحيفه سجاديه ٤٥ دعا او د سورۀ غافر د ۲۰ ايت مراد دے..
۳ ـ سوره مائده :٧٦ ايت
۴ ـ سورۀ انعام: ٧١ ايت

((بغېر له خدا ے نه هغه کسان چې تاسو يې په خدائی سره پرستش کوئ، ستاسو د رزق مالکان نهٔ دي.))
کله په يو مبارک ايت کښې دواړه لفظونه راغلي دي او په يوې معنا کښې استعمال شوي دي، لکه چې فرمائي:

«قُلْ اِنّي نُهيتُ اَنْ أَعْبُدَ الّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللهِ»[2]
((وو ايه زهٔ منعې کړے شوے يم چې د هغو پرستش وکړم چې تاسو يې رابولئ (پرستش يې کوئ)))[3]
له قدرمنو لوستونکو څخه دا غواړو چې په ((المعجم الفهرس)) کتاب کښې د (( عبد)) او (( دَعا )) مادو ته مراجعه وکړئ چې درته معلومه شي چې څه ډول يو مضمون په يو مبارک ايت کښې د ((عبادت)) په لفظ سره او په بل يو مبارک ايت کښې د ((دعوت)) په لفظ سره راغلے دے او دا چاره خپله په دې خبرې باندې ګواه ده چې په دغو ايتونو کښې له دعوت نه مراد عبادت او پرستش دے نه مطلقه ندا او اواز کول دي.
تاسو که د قران مجيد هغه ټول مبارک ايتونه چې په کښې د ((دعوت)) لفظ د ((عبادت)) په معنا استعمال شوے دے په ډېرې توجه سره يې وګورئ نو و به وينئ چې دغه مبارک ايتونه يا د خدا ے پاک په حقله دي چې ټول موحدان يې په الوهيت، ربوبيت او مالکيت باندې اعتراف کوي، يا د هغو بتانو په حقله دي چې د هغو پرستش کوونکو به هغوي واړهٔ خدايان او د شفاعت د مقام خپلواکه مالکان ګڼل. نو په داسې صورت کښې د بحث وړ موضوع لپاره چې له اولياء کرامو څخه د يو رابلل او ورته ندا او استغاثه کول چې له دغو څخه له يو صفت سره هم سمون نهٔ خوري په دغو مبارکو ايتونو سره استدلال کول واقعاً د حېرانتيا خبره ده!

*****

# نولسم باب

## د حج سياسي او اجتماعي اړخونه

د وهابيت مکتب د ((مارکسېزم)) په شان له داسې پېښو او حوادثو سره په مخامخېدنه کښې چې د هدف له نظره له مکتب سره په کامله توګه مخالفې دي تکامل ته د مخې کولو ښودنه کوي او د وخت له تېرېدو سره سره د مسلمانانو لپاره نوې نوې نقشې جوړوي او نوي نوي احکام جاري کوي.

---

[1] ـ سورهٔ عنکبوت : ۱۷ ايت
[2] ـ سورهٔ انعام : ۵٦ ايت
[3] - د سورهٔ غافر ۶۶ ايت په همدې مضمون سره دے

په ایران کښې «د دونیم زر کلن بادشاهت او استبدادي شهنشاهي نظام په نسکورېدو او د امریکې او نورو استعاري قوتونو له غلامۍ نه د دغه هېواد په ازدېدو سره» د اسلامي انقلاب کامیابۍ د وهابیت د مکتب په سیاسي مشرانو کښې یو غېر معمولي وحشت پېدا کړ او په ګاونډي سیموکښې د دغه انقلاب له نفوذ څخه سخت اندېښمن شول ځکه چې د ولسونو او ملتونو بېداري تل دوي ته تکلیف او رنځ ورکوي.
د حج په ورځو کښې چې د ایران شریف او انقلابي ولس د انقلابي دندې په حکم په مظاهرو لاس پورې کړ او د دنیا مسلمان ولسونه یې د نړۍ خورې امریکې ، نړیوال کمیونزم او صهیونزم په مقابل کښې وحدت او یووالي ته راوبلل نو د سعودي عرب سیاسي چارواکو د حج په ورځو کښې د مظاهرو د حرام والي لپاره د خپل مکتب د ملایانو په لور لاس اوږد کړ چې په دې حقله فکر وکړي او دا مظاهرې حرامې وګرځوي.
د سعودي عرب مفتي عبدالعزیز بن باز د هر ډول مظاهرې په دې بهانه چې «(حج)» یو عبادتي عمل دے او پکار نۀ دي له نورو مسائلو سره ګډ شي حرامې اعلان کړې او په نتیجه کښې یې د سعودي وهابیانو ډنډې مار شرطان په وسلو او اصطلاحاً په شورش ضدو وسائلو سره سنبال کړل او د بیت الله شریف په مېلمنو او حاجیانو پسې ولګېدل او هغوي ته د بدو ردو په ویلو ، وهلو ټکولو او د هغوي په خلاف د خلقو د جذباتو په راپارولو سره یې د هغوي مېلستیا شروع کړه او د سعودي عرب د بادشاهت دغه حساسیت هم هغه شان دوام لري.
د کتاب دا باب د سعودي د مفتي د فتوې په ځواب کښې لیکل شوے دے او د مبارکو ایتونو او روایتونو له مخې د دغې لوے فریضې «حج» سیاسي او اجتماعي اړخونه پکښې تشریح شوي دي.
د حج د فریضې شرعي هدف د خدا ے پاک په وړاندې خضوع او عاجزۍ ته دعوت دے او دا خبره د حج اعمالو ته په پام سره په کامله توګه څرګنده ده. د حق عبادت او د هغۀ د غېر له پرستش نه انکار او مخ ګرځونه د حج له وړومبنیو اعمالو نه واخلې تر اخیري اعمالو پورې څرګنده او ښکاره ده او یادونې ته هیڅ حاجت نۀ لري، په تېره بیا دا چې دغه اعمال له مستحبو دعاګانو او ذکرونو سره چې د دغې فریضې په حقله راغلي دي مل او ملګري شي نو له د غو ټولو اعمالو څخه داسې نتیجه اخېستل کېږي:

حج ، د حق عبادت او پرستش دے، په تر ټولو ممکنه ښۀ او ښکلي شکل کښې.
حج ، د عظمت لرونکي خدا ے په وړاندې حضوع او عاجزي ده، په تر ټولو غوره شکل کښې.
حج ، د حق په درګاه کښې منت زاري ده د هغې په تر ټولو ژور صورت کښې.
حج، هغه عبادت دے چې پکښې د عبودیت او بندګۍ د اظهار ټول عناصر راغونډ شوي دي او خضوع، عاجزي، عبودیت ، تقوا ، له شهواتو څخه مخ ګرځونه او له دنیا نه پرېکېدل پکښې په کامله توګه ښکاري.
د خدا ے پاک د کور زائرانو د دوو ټکړو جامو په اغوستلو سره له مادي مظاهرو څخه خپله لاس اخېستنه څرګنده کړې ده او داسې ښودنه کوي چې بې له خدایه هر څیز حتی اولاد ، کورنۍ او وطن ټول هر څه یې هېر کړي دي او هغه څیز چې د خدا ے د کور د زائر د فکر محیط مشغول ساتي د واحد خدا ے ندا ته د لبیک له ویلو نه بغېر بل څه نشته. او د حج د فریضې اعمالو او هغو ځایونو ته چې دا اعمال پکښې ترسره کېږي او هغو مواقفو ته چې پکار دي حاجي هلته توقف وکړي په پام سره دا مسئله په کامله توګه څرګنده او په ډاګه کېږي نو ځکه پکار دي حج له ټولو ستر عبادي او تر ټولو لویه مذهبي فریضه وبولو.

خو د دې مسئلې ترڅنګه یوه بله خبره هم شته او هغه دا چې ایا دا عبادتي عمل له عبادت سره سره سیاسي او اجتماعي اړخ هم لري یا نه؟ یا دا چې د تهجدو د نمونځ په شان یوازې او یوازې د حق ذات په پرستش کښې بې له دې نه چې له عامو اسلامي مسائلو سره څه ارتباط ولري خلاصه شي؟
او هغه بله خبره دا ده چې ایا خداے پاک حج په ټولو (استطاعت لرونکو) مسلمانانو باندې منجمله ښځې، سړي، بوډا او ځوان باندې د دې لپاره فرض کړ چې په دې عمل سره د خپل خداے پرستش وکړي او له عبادتي جز نه بغیر سیاسي جز یې په نظر کښې و نۀ نیسي؟ یا دا چې دا فریضه له سیاست سره د عبادت د یو ځاے کېدو نقطه او له نورو اجتماعي او اقتصادي مسائلو سره د خداے پاک د پرستش د ګنډلو مرکز دے؟ نو بس دا هغه خبره ده چې مونږ غواړو په دې بحث کښې یې اصلي حقیقت ولټوو.
د قران مجید مبارک ایتونه، اسلامي حدیثونه او د سلفِ صالحینو عمل دویمه خبره تائیدوي چې اوس یې دلته بیانوو:

## ۱- د حج ګټې

قران مجید ابراهیمي حج په دې شکل کښې بیانوي:

«وَاَذِّنْ فِي النّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوکَ رِجالاً وَعَلي کُلِّ ضامِرٍ يَأْتينَ مِنْ کُلِّ فَجٍّ عَميق لِيَشْهَدُوا مَنافِعَ لَهُمْ وَيَذْکُرُوا اسْمَ اللهِ في اَيّامٍ مَعْلُوماتٍ عَلي ما رَزَقَهُمْ مِنْ بَهيمَةِ الأَنْعامِ فَکُلُوا مِنْها وَاَطْعِمُوا الْبائسَ الْفَقيرَ. ثُمَّ لْيَقْضُوا تَفَثَهُمْ وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتيق. ذلِکَ وَمَنْ يُعَظِّمْ حُرُماتِ اللهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَهُ عِنْدَ رَبِّهِ وَاُحِلَّتْ لَکُمُ الْأَنْعامُ اِلاّ ما يُتْلي عَلَيْکُمْ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الأَوْثانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ. حُنَفاءَ للهِ غَيْرَ مُشْرِکينَ بِهِ. وَمَنْ يُشْرِکْ بِاللهِ فَکَاَنَّما خَرَّ مِنَ السَّماءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ اَوْ تَهْوي بِهِ الرّيحُ في مَکانٍ سَحيق. ذلِکَ وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعائِرَ اللهِ فَاِنَّها مِنْ تَقْوَي الْقُلُوبِ. لَکُمْ فيها مَنافِعُ اِلي اَجَلٍ مُسَمًّي ثُمَّ مَحِلُّها اِلَي الْبَيْتِ الْعَتيق»[1]
((مونږ ابراهیم علیه السلام ته وویل چې ټول خلق حج ته راوبله چې پیاده او په کمزورو سورلیو باندې سوارۀ له لرېو لرېو ځایونو څخه راشي چې (په دې ژوند بخښونکي پروګرام کښې) د خپلو مختلفو ګټو کتونکي وي او په ټاکل شویو ورځو کښې په خپلو څارویو باندې چې په اختیار کښې یې ورکړې شوي دي (د هغو د قرباني کولو په وخت) د خداے نوم واخلي، د هغو غوښه وخوري او په فقیرو او مسکینو خلقو یې هم وخوروي.
له دې وروسته دې ککړتیاوې او ګندګۍ له ځانه لرې کړي او خپلې منښتې او نذرونه دې پوره کړي او د زوړ پخواني کور چاپېره دې طواف وکړي. دا دي د حج مناسک. او هر چا چې د الهي دین نښې نښانې بزرګې وګڼلې نو د خپل رب په نزد د هغۀ لپاره بهتره ده، څاروي په تاسو باندې حلال کړې شول، مګر هغه چې به یې بیا بیان کړو، له هغو څخه ډډه وکړئ او له باطلو او د زور له خبرو نه ډډه وکړئ، ټول په خالصه توګه د خداے پرستش وکړئ او ورسره څه شریک نۀ کړئ، هر څوک چې د خداے لپاره د شریک قائل شو نو د هغه چا په شان دے چې

---

[1] ـ سورۀ حج : ۳۱ـ۲۷ ایتونه

له اسمانه زمکې ته غورزېږي او مارغان يې په نيمه لار کښې وتښتوي او يا دا چې تيز باد يې په يو لرې وطن کښې وغورزوي. دا دي د حج مناسک او هر چا چې الهي شعائر بزرگ وګڼل نو د زړونو د پاکۍ نښه ده. د قربانۍ په دغو حېواناتو کښې ستاسو لپاره ګټې دي د هغو د حلالو تر ورځ پورې، بيا د هغو د حلالو د ځاے په خوا کښې يو پخوانے کور دے (په داسې صورت کښې چې احرام د مفرده عمرې لپاره وي.)))
تاسو په دغو مبارک ايتونو کښې يوازې دويم ايت په نظر کښې ونيسئ او د دې جملې «ولِيَشْهَدُوا مَنافِعَ لَهُمْ» په مضمون کښې ښۀ غور وکړئ چې درته څرګنده شي چې:
وړومبۍ خبره دا چې له دغو ګټو څخه مراد چې حاجيان يې پکار دي کتونکي وي څه دي؟ له دې امله چې دا جمله د «وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللهِ» جملې په مقابل کښې راغلے ده يو ډول دا خبره ذهن ته رسوي چې حج دوه اړخه لري، يو عبادتي اړخ دے چې د خداے پاک په ذکر او يادولو کښې تجسم پېدا کوي او بل اجتماعي اړخ دے چې د ګټو د ليدو په مسئله کښې خلاصه کيږي.
دويمه خبره دا چې په مبارک ايت کښې د ((منافع)) لفظ چې د اجتماعي او سياسي اړخونو بيانوونکے دے په ((ذکرالله)) لفظ باندې چې د هغۀ د عبادتي اړخ بيانوونکے دے مقدم ګڼلے شوے دے.
دريمه خبره دا چې قران مجيد د ((منافع)) لفظ په مطلق صورت کښې او بې له څه قېده راوړے دے چې پکښې ټولې اقتصادي، سياسي او اجتماعي ګټې شاملېږي او هيڅکله حق نۀ لرو چې دا جمله په يوې خاصې ګټې باندې تطبيق کړو او په هر حال که يې اقتصادي ګټې پورې منحصره کړو او يا يې پکښې شامله وګڼو، دا جمله له وروستۍ جملې«وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللهِ» سره په مقابلې قرينې سره د دې بيانوونکې ده چې حج له عبادت نه بغېر يو بل قلمرو هم لري چې پکار دي له هغۀ نه هم ګټه واخلو او پکار نۀ دي چې حج بې له دې نه چې د مسلمانانو له ژوند سره څه تړاو ونۀ لري يو اوچ کړس عبادت وګڼو.
ښه به دا وي چې دلته د جامعه الازهر پخواني مشر اروابناد شېخ محمود شلتوت خدمت ته حاضر شو چې وګورو هغه دا جمله څه ډول تفسيروي؟ هغه وائي:
((هغه ګټې چې حج د هغو د څرګندېدو او حاصلولو وسيله ده او د حج د وړومبۍ فلسفې په صورت کښې مطرح شوې دي يو پراخه او جامع مفهوم لري چې هيڅکله په يو ډول يا يو خصوصيت کښې نۀ خلاصه کيږي بلکې دا جمله په هغو عموميت او شمول سره چې يې لري ټولې انفرادي او اجتماعي ګټې په ځان کښې ځاے کوي، که د نفس تذکيه او د خداے پاک په لور نزديکت ګټه وي نو د علم او تهذيب او ثقافت د لارو چارو په برابرولو کښې صلاح مشوره هم ګټه ده، که دا دواړه ګټې ګڼل کيږي نو دې چارې ته د مسلمانانو رابلل چې ټول دې د اسلام د پراختيا لپاره خپلې هلې ځلې او کوششونه متمرکز کړي هم ګټه ګڼل کيږي او داسې نورې ګټې....... نو له دې امله دا ګټې د وخت د تفاضې او په هره زمانه کښې د مسلمانانو د حالاتو د تقاضې مطابق فرق کوي.))[1]
اروابناد شېخ محمود په يو بل ځاے کښې وائي:
(( د حج هغه خاص مقام ته په پام سره چې په اسلام کښې يې لري او هغو هدفونو ته په پام سره چې پکښې د فرد او معاشرې لپاره په نظر کښې نيول شوي دي ښه دا ده چې د پوهې او فکر خاوندان، علمي، ثقافتي او ادبي

---

[1] ـ الشريعة والعقيده ۱۵۱ مخ

شخصیتونه، سیاسي او اداري مشران، د اقتصادي او مالي مسائلو ماهران، د شرعي او دین عالمان او د جنګ او جهاد په مسائلو پوهه کسان ورته خاصه توجه وکړي (او هره ډله کسان ترې خپله ګټه اوچته کړي.))

غوره دا ده چې پکار دي د هرې طبقې خلق دې الهي حرم ته راشي،د فکر، تفکر، نظر، اجتهاد، ایمان او د لوړو اهدافو خاوندان دغلته راغونډ شي چې ولیدې شي چې مکې مکرمې څه ډول د خپل رحمت وزرې په هغوي باندې غوړولې او د توحید کلمې هغوي د خدای پاک د کور چارچاپېره راټول کړي دي او په نتیجه کښې د یو بل په پېژندګلو، په خپلو کښې په صلاح مشورې او د یو بل د مرستې په کولو باندې لګیا کیږي او بیا ټول د یو واحد امت په توګه خپلو خپلو وطنونو او سیمو ته ستانهٔ شي په داسې حال کښې چې زړونه یې هم یو وي او شعور او احساسات یې هم یو وي....))[1]

د غور وړ خبره ده چې قران مجید له ذکر شویو مبارکو ایتونو نه پس چې ټول د حج د مناسکو او ګټو په باره کښې دي خبره د اسلام له حریم څخه د دفاع او جهاد په ایتونو سره سر ته رسوي لکه چې فرمائي:

«انّ اللهَ یُدافعُ عَن الّذینَ آمَنُوا انّ اللهَ لا یُحبُّ کُلّ خَوّان کَفُور. اُذنَ للّذینَ یُقاتَلُونَ بأنّهُمْ ظُلمُوا وَانّ اللهَ عَلي نَصرهمْ لَقَدیرٌ. الّذینَ اُخْرجُوا منْ دیارهمْ بغَیْر حَقّ الاّ أنْ یَقُولُوا رَبُّنَا اللهُ وَلَولَا دَفْعُ الله النّاسَ بَعْضَهُمْ ببَعْض لَهُدّمَتْ صَوامعُ وَبیَعٌ وَصَلَواتٌ وَمَسجدُ یُذْکَرُ فیهَا اسْمُ الله کَثیراً، وَلَیَنْصُرَنّ اللهُ مَنْ یَنْصرُهُ انّ الله لَقَويٌ عَزیزٌ. اَلّذینَ انْ مَکّنّاهُمْ فِي الأَرضِ أقامُوا الصَّلوةَ وَآتَوُا الزکوةَ وَاَمَرُوا بالْمَعْرُوف وَنَهَوا عَنِ الْمُنْکَرِ وَللهِ عاقبَةُ الأمُور.»[2]

(( هغو کسانو ته چې د جنګ له لارې پرې تېرې شوې دې اجازه ورکړې شوې ده چې له ځان څخه دفاع وکړي، ځکه چې ظلم وربادې شوې دې او خدای پاک د هغوي د مرستې لپاره کافي دی، هغه کسان چې په ناحقه له خپلو کورونو څخه وېستل شوي دي (څه جرم یې نهٔ لرهٔ) بې له دې چې یې ویل: خدای زمونږ رب دی او که خدای ځینې کسان د ځینو په وسیلې سره دفع نهٔ کړي نو د دېرونو، صومعو، معابدو او جوماتونو په شان د عبادت مرکزونه به وران ویجاړېدل او خدای د هغو کسانو مرسته کوي چې د هغهٔ مرسته کوي، خدای توانمن او قدرتمن دی.(او د خدای مرسته کوونکي) هغه کسان دي چې هر کله په زمکه باندې اقتدار حاصل کړي نو نمونځ قائموي، زکات ادا کوي او امر بالمعروف او نهي عن المنکرکوي او د کارونو عاقبت د خدای په اختیار کښې دی.))

ایا د حج له ایتونو نه پس له جهاد او دفاع سره د اړوندو ایتونو راوړل او د حج او جهاد د مبارکو ایتونو په خپلوکښې ګنډل بې وجې او یواتفاقي کار دی؟ دا ناممکنه ده چې قران مجید په خپلو کښې سمون نهٔ خوړونکي مبارک ایتونه یو ځای ته راجمع کړي او د هغو په خپلو کښې د تعلق خیال ونهٔ ساتي.

د مبارکو ایتونو د دغو دواړو ډولو ترمېنځ د ارتباط لازموالی او د سیاق یووالی مونږ دې ته جوړوي چې دا خبره ومنو چې د حج او جهاد ترمېنځ او د فکري کانفرنس او د دفاع او عمل د مېدان ترمېنځ یوه خاصه رابطه وجود لري او هغه دا چې د حج زمکه هغه تر ټولو غوره زمکه ده چې مسلمانان په دغه زمکه کښې د خپل اقامت په

---

[1] ـ الشریعة والعقیده ۱۵۰ مخ

[2] ـ سورهٔ حج : ۴۸ ـ ۴۱ ایتونه

دوران کښې د فکري او روحي زعماؤ له لارې دومره فکري او روحي تياري پيدا کړي چې وکړې شي د کبر او استکبار پوزه په زمکې پورې راکاږي او استعمار او استعمارگر په گوډو کړي.
نو بس دغه ستره الهي غونډه چې د دنيا له هرې سيمې نه استازي هلته راغونډيږي يو تر ټولو غوره موقع ده چې د هغوي مفکران په خپلو کښې راغونډ شي او په خپلو سياسي او دفاعي موقفونو باندې بحث وکړي او د دښمنانو په مقابل کښې يو واحد پليټ فارم جوړ کړي او دښمن ته يوداسې درس ورکړي چې هيڅکله يې هېر نۀ کړي. که څه هم دا دنده او وظيفه يوازې د حج په ورځو پورې منحصره نۀ ده بلکې مسلمانانو ته پکار دي چې د هر ډول زماني او مکاني حدودو په ختمولو سره د اسلام او مسلمانانو له دښمنانو سره مقابله وکړي خو د حج موسم او په دغو وختونو کښې د مسلمانانو ستره غونډه د دغې الهي وظيفې او ذمه وارۍ د پوره کولو لپاره تر ټولو غوره موقع ده.
دا يوازې شيخ محمود شلتوت نۀ دے جې په مبارک ايت کښې راغلے د منافع لفظ په عمومي توگه تفسيروي بلکې د سني مکتب پخوانے مفسر ((طبري)) د دغه مبارک ايت په حقله د يو لړ قولونو له نقلولو نه پس د ايت په تفسير کښې تر ټولو غوره قول دا گڼي چې وو ايو: خدا ے پاک له دې جملې نه د يوې کلي معنې مراد لرلے دے او هغه دا چې مسلمانان پکار دي هغه ټولې منافعې او گټې چې دغه وخت لري درک کړي او په بله معنا د هر ډول دنيوي او اخروي گټې دې تر لاسه کړي او هيڅ عقلي حکم او روايت دې جملې ته د هغې له وسيعې معنې څخه په خاصې معنې سره اختصاص نۀ دے ورکړے.[1]

## ۲-کعبه د ژوند قوام (ستنه)

قران مجيد کعبه او بيت الله شريف د « قياماً لِلنّاس » په جملې سره توصيفوي لکه چې فرمائي:

«جَعَلَ اللهُ الْکَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرامَ قِياماً لِلنّاسِ وَالشّهْرَ الْحَرامَ وَالْهَدْيَ وَالْقَلائِدَ ذلِکَ لِتَعْلَمُوا اَنّ اللهَ يَعْلَمُ ما فِي السّموات وَما فِي الأَرْضِ وَاَنّ اللهَ بِکُلِّ شَيء عَليمٌ.»[2]
((خدا ے کعبه د خلقو د ژوند قوام (بنياد او ستنه) گرځولې ده او همدا رنگ شهر الحرام او نشان لرونکې او نشان نۀ لرونکې قربانۍ. دا احکام د دې لپاره دي چې پوه شئ چې خدا ے په هغه څه چې په اسمانونو او زمکو کښې دي او په ټولو څيزونو باندې خبر او آگاه دے))
د قيام کلمه چې په دې مبارک ايت کښې راغلې ده په يو بل ايت کښې هم راغلې ده، هلته چې فرمائي:

« وَلا تُؤتُوا السُّفَهاءَ أَمْوالَکُمْ الّتي جَعَلَ اللهُ لَکُمْ قِياماً.»[3]
((او هيڅکله خپل مالونه چې خدا ے ستاسو د ژوند د قوام وسيله گرځولي دي بې وقوفو کسانو ته مۀ سپارئ.))

---

[1] ـ تفسير طبري ۱۷ ټوک ۱۰۸ مخ چاپ بيروت.
[2] ـ سورۀ مائده: ۹۷ ايت
[3] ـ سورۀ نساء: ۵ ايت

دلته (( قيام )) د (( قوام )) په معنا دے او په حقيقت کښې د ((عماد)) او ((سناد)) له الفاظو سره مترادف دے او د ايت مبارک معنا دا شوه چې: ((د حج او د کعبې د زيارت مراسم او د کعبې تر څنګه د خلقو شتون د اسلامي ټولنې د دنيوي او اخروي ژوند قوام او ستنه ده. ))

د حج په موسم کښې اجتماع نۀ يوازې د مسلمانانو د معنوي ژوند ضرورتونه پوره کوي بلکې د هر ډول هغه عنصر د پوره کولو سبب کيږي چې زمونږ په انفرادي او اجتماعي ژوند کښې عمل دخل لري، د ايت په معنا کښې غور او فکر مونږ د يوې وسيعې معنې په لور لارښوونه کوي او هغه دا چې هغه څه چې د مسلمانانو له ګټو او فائدو سره تعلق لري او د هغوي د ژوند او حيات قوام او ستنه ګڼل کيږي په دې مراسمو کښې پوره کيږي. ايا په دا ډول اطلاق او پراختيا سره ځاے لري چې مونږ يې يوازې له عبادت سره په متعلقو مصلحتونو کښې خلاصه کړو؟

له يو داسې سياسي عمل نه کوم مصلحت زيات اوچت دے چې د استعمار او استثمار په مقابل کښې مسلمانانو ته تشکل، انسجام، يووالے او بيا ورته مقاومت او ټينګ اودرېدنه ورکړي او هغوي په واحد صف کښې راولي او هغوي د دښمن په وړاندې يو مشترک پليټ فارم او محاذ تشکيل کړي. قران مجيد د بې وقوفو او سفيهانو اولياؤ او سرپرستانو ته اجازه نۀ ورکوي چې خپل مالونه چې د هغوي د ژوند د قوام او بنياد ذريعه ده بې وقوفانو او سفيهانو ته وسپاري او فرمائي:

((او هيڅکله خپل مالونه چې خداے ستاسو د ژوند د قوام وسيله ګرځولي دي بې وقوفو کسانو ته مۀ سپارئ.))

ايا د دې مبارک ايت مضمون ته په پام سره دا صحيح ده چې د حج موسم دې د داسې کسانو په اختيار کښې راشي چې په هغۀ باندې نۀ پوهيږي او د مسلمانانو په متحرکه ژوند کښې د هغۀ له کردار ادا کولو څخه په کامله توګه غافل دي؟

د دې لپاره چې قدرمن لوستونکي د هغو مفسرانو له نظر څخه چې ټول له يکي يو محور څخه تاويږي خبر شي د «قِياماً لِلنّاس» د جملې په حقله د هغوي ځينې وضاحتونه دلته کښې راوړو:

طبري وائي: ((خداے پاک کعبه او بيت الحرام د خلقو لپاره د ژوند قوام او ستنه ګرځولې ده.)) بيا وائي:

«وَجَعَلَها مَعالِمَ لِدينِهِمْ وَمَصالِحَ أُمُورِهِمْ»

((کعبه يې د خلقو د دين د نښو نښانو ځاے او د هغوي د چارو د مصلحتونو مرکز ګرځولې ده.))[1]

د (( لمنار)) ليکوال د نوموړي مبارک ايت په تفسير کښې ليکي:

((خداے پاک کعبه د خلقو د ديني کارونو قوام او ستنه ګرځولې ده، په دا ډول چې د هغوي د اخلاق اصلاح کوونکې او د هغوي د نفسونو روزونکې ده ، هغه هم د حج د فريضې له لارې چې زمونږ د دين تر ټولو لوے رکن دے او هغه معنوي عبادت چې اقتصادي او اجتماعي اړخونه هم له ځان سره لري.))

دغه ليکوال بيا زياتوي:

---

[1] ـ تفسير طبري ۷ ټوک ۴۹ مخ

په «جَعَلَ اللّه....» ايت کښې دا «جعل» هم تکويني او هم تشريعي جعل دے چې د خلقو د ټولو ديني او دنيوي مصلحتونو او ګټو ضمانت ورکوونکے دے.[1]

## ۳- د حج په موسم کښې بېزاري

که تاسو د «لِيَشْهَدُوا منافِعَ لهم» يا «قِياماً للنّاس» جملو په عموميت کښې شک او شبه لرئ نو هيڅکله د حج په موسم کښې د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د نمائنده په عمل کښې چې سل په سلو کښې يو سياسي عمل ؤ هيڅ شک او شبه نۀ شئ پېدا کولې. ځکه چې د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د هجرت په نهم کال حضرت علي عليه السلام په دې وګمارلو چې هغه پرېکړ ليک چې له مشرکانو سره د بېزارۍ د اعلان ضمانت ورکونکے ؤ د حج په ورځو کښې قرائت کړي او دا هغه وخت ؤ چې د سورت له شروع نه تر شپاړسم پورې ايتونه د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم په زړۀ مبارک باندې نازل شول چې شروع يې داسې ده:

«بَراءَةٌ مِنَ اللهِ وَرَسُولهِ اِلَي الّذينَ عاهَدْتُمْ مِنَ الْمُشْرِكينَ . فَسيحُوا فِي الْأَرْضِ اَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَاعْلَمُوا اَنّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللهِ وَاَنّ اللهَ مُخْزِي الْكافِرينَ . وَاَذانٌ مِنَ اللهِ وَرَسُولهِ اِلَي النّاسِ يَوْمَ الحَجِّ الْأكْبَرِ اَنّ اللهَ بَريءٌ مِنَ الْمُشْرِكينَ وَرَسُولُهُ فَاِنْ تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَاِنْ تَوَلّيْتُمْ فَاعْلَموُا اَنّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللهِ وَبَشّرِ الّذينَ كَفَرُوا بِعذابٍ اَليم»[2]

«د بېزارۍ اعلان دے د خداے او د هغۀ د رسول لخوا د مشرکانو هغې ډلې ته چې له دوي سره يې تړون وکړ (هغوي ته ورسوئ چې) کولې شئ په زمکه باندې څلور مياشتې په ازادۍ سره وګرځئ او په دې باندې پوه شئ چې تاسو به خداے عاجز نۀ کړې شئ او خداے به کافران خوار او ذليل کړي. دا اعلان دے د خداے او د هغۀ د رسول لخوا د حج په ورځ خلقو ته چې خداے او د هغۀ رسول له مشرکانو څخه بېزار دي. که مو توبه وکړه نو ستاسو لپاره غوره ده او که مو مخ وګرځوۀ نو پوه شئ چې خداے به عاجز نۀ کړئ او د کافرانو ډلې ته د سخت عذاب زېرے ورکړه.»

اميرالمومنين حضرت علي عليه السلام د دې مبارک ايت له قرائت نه وروسته هغه پرېکړ ليک چې د څلورو موادو ضمانت ورکونکے ؤ په دا ډول وړاندې کړ او وې ويل: آګاه وسئ اے مشرکانو:

۱- بت پرستان حق نۀ لري چې خانه کعبې ته ننوځي.

۲- په بربنډ بدن سره طواف منعې دے.

۳- له دې وروسته به هيڅ بت پرست د حج په مراسمو کښې ګډون نۀ کوي.

۴- هغه کسان چې د خداے له ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم سره يې په يو بل باندې د تيري نۀ کولو تړون لاس ليک کړے ؤ او له شروع نه په خپل تړون باندې ټينګ ولاړ وو د هغوي تړون محترم دے او د تړون د وخت تر ختمېدو پورې يې سر او مال محترم دي خو هغو مشرکانو ته چې له مسلمانانو سره څه تړون او لوظنامه نۀ لري او يا يې په عملي توګه تړون مات کړے دے له نن تاريخ (د ذی الحجې له لسم تاريخ) نه څلور مياشتې مهلت

---

[1] ـالمنار ۷ټوک ۱۱۹ مخ

[2] ـسورۀ توبه : ۳ـ۱ ايتونه

ورکړے کیږي چې له اسلامي حکومت سره دې خپل تعلق څرګند کړي، یا پکار دي د موحدانو او یو خدا ے منونکو له ډلې سره یو ځاے شي او د شرک او دوګانه پرستۍ د هر ډول مظاهر دې ختم کړي او یا دې جنګ او مقابلې ته تیار شي.[1]

له دې نه بل کوم یو زیات سیاسي عمل کېدې شي چې د حج د مراسمو د جوبن په وخت کښې او هغه هم په داسې وخت کښې چې مشرکان او مسلمانان په طواف او یا رمي جمرات کښې مشغول وو ناڅاپه امام علي علیه السلام په یو اوچت ځاے کښې ا ودریږي او د تړون د ځینې برخو د لغو کولو خبره کوي او د جزیرت العرب مشرکانو ته څلور میاشتې مهلت ورکوي چې یا دې شرک پرېږدي او د موحدانو له صفونو سره دې یو ځاے شي او یا دې جنګ او مقابلې ته تیار شي.

## ۴- په مسجدالحرام کښې د فرزدق سیاسي قصیده

یوه ورځ د حج د مراسمو په دوران کښې چې پکښې د عبدالملک باچا زوے هشام هم موجود ؤ او د خانه کعبې د طواف په دوران کښې ډېر لوے رش غوبل جوړ ؤ ، هشام څو ځل وغوښتل چې حجر اسود ته ګوتې یوسي خو د خلقو څپو به په مخه یوړو او لاس به یې ورونۀ رسېد نو مجبوراً یوې خوا ته کښېناست او د خلقو تماشا یې کوله چې ناګهانه یې نظر په یو نري ،نروچکي خو د یوې ښکلي او نوراني څېرې لرونکي سړي باندې پرېوت چې ورو ورو د ((حجر)) اسود په لور ګام اوچتوي او ټول خلق ورته احتراماً لار پرېږدي او وروستو کېږي چې حجر اسود ته لاس ورسوي. د شام خلق چې د عبدالملک د زوے خواو شا ولاړ وو له هشام نه پوښتنه وکړه چې دا سړے څوک دے؟ هشام په داسې حال کښې چې هغه یې ښۀ پېژندۀ د امام له معرفي کولو څخه ډډه وکړه او په دروغه یې وویل: نۀ یې پېژنم.

دغه وخت ((فرزدق)) نومې شاعر چې یوه خاصه ازادي او حریت یې لرۀ او هلته ولاړ ؤ چې د هشام دا خبره یې واورېده نو ټینګ نۀ شو او فوراً یې څو في البدیه شعرونه وویل او امام زېن العابدین علیه السلام یې په ښۀ توګه معرفي کړ. د فرزدق اور لرونکي څو شعرونه داسې دي:

هَذا الذي تَعرِفُ البطحاءُ وَطْأتَهُ *** وَالْبَيْتُ يَعْرِفُهُ وَالْحِلُّ والْحَرَمُ

هذا بنُ خَيْرِ عِبادِ اللهِ كلِّهِمُ *** هذا التّقِيُّ الطّاهرُ العَلَمُ

هذا بنُ فاطِمَةَ اِنْ كُنْتَ جاهِلَهُ *** بِجَدّه أنبياءُ اللهِ قَدْ خُتُم

يَكادُ يُمْسِكُهُ عِرفانُ راحَتِهِ *** رُكْنُ الْحَطيمِ اِذا ما جاءَ يَسْتَلِمُ[2]

---

[1] ۱ـ تفسیر طبري ۱۰ ټوک ۴۷ مخ سیره ابن هشام ۴ ټوک ۵۴۵ مخ

[2] ـ الأغاني ۵ ، ۲۱ ټوک ، ۳۷۶ و ۳۷۷ مخونه؛ مناقب ابن شهر آشوب ۴ ټوک ۱۶۹ مخ د فرزدق دا ذکر شوې قصیده په زیاتو تاریخي او ادبي کتابونو کښې راغلې ده او څوک هم پکښې شک نۀ شي کولې ځکه چې له متواترو اخبارو څخه ده.

«دا هغه کس دے چې د بطحاء خاورې يې د پښو اېښودو ځاے پېژني او کعبه شريفه،حرم او بهر سيمې ورسره په ښهٔ ډول اشنا او بلدې دي»

«دې د خداے د ټرټولو غوره بنده بچے دے، دې يو پرهېزګار، ښکلے او پاک شخصيت پېژندل شوے دے.»

«که يې نهٔ پېژني (نو درته وايم چې) دې د خداے د هغه ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم چې د نبوب دروازه د هغهٔ په وسيله د تل لپاره بنده شوې ده د قدرمنې لور حضرت فاطمه زهرا سلام الله عليها فرزند دے»

«نزدې ده چې «حجر اسود» هغه وخت چې دې ورته لاس يوسي نور نو د دهٔ اشنا لاس له ځانه لرې کېدو ته پرېښږدي.»

د فرزدق شاعر شعرونو دومره اثر وکړ چې هشام وريت پريت شو او فوراً يې د هغهٔ د نيولو حکم جاري کړ. چې کله امام زين العابدين عليه السلام د فررزدق له دې مينې او جرات څخه خبر شو نو د هغهٔ يې ډېره ستائېنه وکړه او ډاډګيرنه يې ورکړه.

## ۵- په اسلامي روايتونو کښې د حج اجتماعي او سياسي اړخونه

تردې ځايه پورې د قران له مبارکو ايتونو او د پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم له سنت او طريقه کار څخه څرګنده شوه چې حج په داسې حال کښې چې يو عبادتي عمل دے مهم سياسي اړخونه هم لري چې دغه سياسي اړخونه به د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم عملي کول او د هغه حضرت په احاديثو او وېناؤ کښې هم دغو اړخونو ته اشاره شوې ده چې ځينې دلته نقلوو:

د خداے له ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم څخه يو شمېر وېناوې په دې ترتېب سره په «التاج الجامع للاصول» کتاب د ۲ ټوک په ۹۸ او ۹۹ مخونو کښې نقل شوې دي:

۱- تر ټولو غوره جهاد هغه حج دے چې قبول او منظور شي.[۱]

۲- حج او مفرده عمره يو هر اړخيز جهاد دے او په هغهٔ کښې ښځې، سړي، ناتوانه او توانمن کسان ګډون کوي[۲]

۳ – ايا د ښځو لپاره جهاد شته؟ هو، د ښځو لپاره يو جهاد شته چې پکښې جنګ او قتال نهٔ کيږي او هغه د حج او عمرې په مراسمو کښې ګډون دے.[۳]

۴- د خداے پاک په نزد غوره کسان درې ډلې دي: مجاهد، د حج لپاره د خداے دکور زائر او د عمرې لپاره د خداے د کور زائر.[۴]

په دغو مبارکو حديثونو کښې «حج» ته يو «هراړخيز جهاد» او يا «د ښځې جهاد» ويلي شوي دي او په وروستي حديث کښې جهاد کوونکے د خداے د کور له زيارت کوونکي سره د غوره ډلې په توګه معرفي شوے دے چې

---

۱ ـ اَفْضَلُ الْجَهادِ حَجٌ مَبْرُورٌ.

۲ ـ جِهادُ الْکَبِير والصّغير والضّعيف وَالْمَرأة ، وَالْحَجُّ وَالْعُمْرَةُ.

۳ - نَعَم عَلَيْهِم جَهادٌ لا قِتالَ فيه ، الحَجُّ وَالْعُمْرَةُ.

۴ ـ وَفْدُ اللهِ ثَلاثَةَ : الغازِي والحَاجُّ وَالمُعْتَمِرُ.

خدا ےپاک ورته دعوت ورکړے دے. نو په دغو روايتونو کښې چې حج ته جهاد ويل شوي دي پکار دي چې د دواړو ترمېنځ څه نښه نښانه او يو رنګي وجود ولري چې بيا په «حج» باندې د «جهاد» د نوم اطلاق وکړې شو. حج ته د جهاد د نوم ورکولو يو علت دا دے چې حج په اثارو او اهدافو کښې د جهاد په شان دے او دا الهي فريضه په عېن عبادت کښې د يو ټاکل شوي دريځ او هدف لپاره خاص کوشش دے او د عملي جهاد او له يو بل سره د مسلمانانو د ارتباط او ملګرتيا د څه رنګوالي نقشې په همدې مراسمو کښې پلان کيږي.

## ۲- د حج په مراسمو کښې د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم سياسي وېنا

په مسجدالحرام کښې د خدا ے دکور چاپېره يوه شانداره غونډه جوړه شوې وه، مسلمانانو، مشرکانو، دوستانو او دښمنانو د يو بل ترڅنګ شتون لرۀ او د اسلام د عظمت او د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د بزرګوارۍ يوې هالې د جومات احاطه نيولې وه. دغه وخت د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم وېنا شروع کړه او د خپل دعوت حقيقي څېره يې چې تقريباً شل کاله يې له شروع کېدو څخه تېرېدل خلقو ته وښودله. د دغې تاريخي وېنا ځينې برخې دلته د مطالعې لپاره وړاندې کوو:

الف: اے خلقو! خدا ے پاک د اسلام په رڼا کښې د جاهليت د دور فخرکونې او په نسبونو باندې وياړکونې ختمې کړي، تاسو ټول له حضرت ادم علیه السلام نه په وجود کښې راغلي يئ او له خټو نه پېدا کړې شوي يئ. په تاسو کښې تر ټولو غوره هغه څوک دے چې له ګناه او نافرمانۍ څخه ډډه وکړي.[۱]

ب: اے خلقو! عرب والے ستاسو د ذات جزء نۀ دے بلکې دا يوازې يوه ژبه ده او هر چا چې د خپلې ذمه وارۍ په پوره کولو کښې کوتاهي وکړه نو پلارني وياړونه او افتخارونه هغه څه ځا ے ته نۀ شي رسولې او د هغۀ د کار د کمښت تلافي نۀ شي کولې.[۲]

ج- په تېر او اوسني وخت کښې ټول خلق د ږمنځې د غاښونو په شان مساوي او برابر دي او عرب په عجمو باندې او سور په تور باندې برتري او اوچتوالے نۀ لري. د فضيلت معيار تقوا او پرهېزګاري ده.[۳]

د: ما د تېر جاهليت د دور د ځان او مال متعلق ټولې دعوې او ټول خيالي افتخارات نن د خپلو پښو لاندې کړل او هغه ټول کارونه نن بې بنياده اعلانوم.[۴]

هـ: يو مسلمان د بل مسلمان ورور دے او ټول مسلمانان د يو بل وروڼه دي او د اغيارو په مقابل کښې د يو لاس حکم لري، د هر يو وينه د بل د وينې برابره ده، له مسلمانانو څخه تر ټولو وړوکے هم ژمنه او تعهد کولې شي.[۵]

و: له دې دين نه پس بيا پخواني دين ته ونګرځئ چې ځينې، نور ځينې ګمراه کړئ او د يو بل مالکان جوړ شئ.[۱]

---

۱ ـ أيُّها النّاسُ إنّ اللهَ قد أذْهَبَ عَنكُم نَخْوَةَ الجاهليّة وتَفاخُرَها بابائها اَلا إنّكُمْ منْ آدَمَ وآدَمُ مِنْ طين اَلا إنّ خيرَ عباد اللهِ عبد إتّقاهُ .

۲- ألا انّ الْعَرَبيّةَ ليست بأب والد وَلكنّها لسانٌ ناطقٌ فَمَن قَصّرَ عَمَلُهُ لَمْ يَبلُغْ به حَسَبُهُ .

۳ ـ إنّ اَلنّاسَ مِنْ لَدُن آدَمَ إلي يومِنا هذَا مثْلُ اَسْنانِ الْمُشْط لا فَضْلَ لِلعَرَبيّ عَلَي الْعَجَمِيّ وَلا لِلأحْمَرِ عَليَ الْأسْوَدِ الاّ بِالتَقوي .

۴ ـ اَلا إنّ كُلّ مال وَمَأثُرَة وَدَم في الْجاهلّيَة تَحْتَ قَدَمَيّ هاتَيْنِ .

۵ ـ اَلْمُسْلِمُ أخُ الْمُسْلِمِ وَالْمُسْلِمُونَ اِخْوَةٌ ، وَهُمْ يدٌ واحدةٌ عَلي مَنْ سِواهُمْ ، تَتَكافَؤُدِمائُهُمْ يَسْعي بِذِمّتِهِمْ أدْناهُمْ .

ز: ستاسو وينې او مالونه په يو بل باندې حرام او محترم دي او د نن ورځې، د دې مياشتې او د دې ښار په شان محترم دي.[2]

ح: هغه وينې چې په جاهليت کښې توې شوي دي ټولې بې اثره اعلانيږي. او وړومبۍ وينه چې تر پښو لاندې يې کوم د حارث د زوے ربيعه وينه ده.[3]

ط:هر مسلمان د بل مسلمان ورور دے او مسلمانان په خپلو کښې ورونه دي خو د يو مال په بل باندې نۀ حلاليږي مګر دا چې په خوښه يې ورته وبخښي.[4]

ي: درې څيزونه داسې دي چې د مومن زړۀ په هغو کښې خيانت نۀ کوي يو د خداے پاک لپاره د عمل اخلاص، دويم د حق د پيشوايانو خيرخواهي او دريم د مومنانو په راغونډېدو باندې لازموالے.[5]

## ۷- د مکې د فتحې په وخت سياسي نعرې

د مکې د فتحې په وخت مسلمانانو ته حکم ورکړې شو چې د مشرکانو د حيرانو پريشانو سترګو په وړاندې دې د حج د فريضې د ادا کولو ترڅنګه دا دعا هم په اوچت اواز سره لولي چې دغه ټوله دعا توحيدي او حماسي نعرې دي:

«لااله الاالله وحده لاشريک له وله الملک وله الحمد يُحيي ويميت وهو على کل شيء قدير.»

«لااله الاّ الله وحده وحده ، أنجز وعده ، ونصر عبده وهزم الاحزاب وحده.»[6]

((له هغۀ نه بغير بل خداے نشته، د هغۀ لپاره شريک نشته،حکومت بس د هغۀ دے او ستائينه هم هغۀ سره مختص ده، هغه ژوندي کوي او مړۀ کوي او په هر څيز باندې توانمن دے.))

((له هغۀ نه بغير بل خداے نشته، هغه يکي يو واحد ذات دے، خپله وعده يې پوره کړه او د خپل بنده مرسته يې وکړه چې په يوازې ځان يې ټول يو ځاے شوي طاقتونه تس نس کړل.))

## ۸- نغوتې او اشارې

د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د حج د سياسي اړخ د ټاکلو لپاره د بيان په دغه اندازه باندې بسنه نۀ ده کړې بلکې کله کله په نغوتو او اشارو سره دا خبره په ګوته کوي چې د حج حتى يو جز هم له سياسي اړخ نه خالي نۀ دے، ان تردې چې په يو خاص ځاے کښې د صفا او مروه ترمينځ په سعي کولو کښې يې د خپل تګ

---

[1] ـ لا تَرْجِعُوا بَعْدي كُفّاراً مُضلّين يَمْلکُ بعضُکُمْ رقابَ بعْض .

[2] ـ إنّ دِمائَکُمْ وَأمْوالَکُمْ عَلَيْکُمْ حَرامٌ کَحُرْمَةِ يَوْمِکُمْ هذا في شَهرِکُمْ هذا ، في بِلَدِکُم هذا .

[3] ـ وَدِماءُ الْجاهلية مَوْضُوعٌ وَأوّلُ دَم اَضَعُهُ دَمُ رَبيعة بْنِ حارث .

[4] ـ إنّ کُلّ مُسْلم أَخُ الْمُسْلِمِ وَإنّ الْمُسْلمينَ اخْوَةٌ ، فَلاَ يَحلُّ لِإمْرِيء منْ أخيه الاّ ما اَعْطاهُ ، عَنْ طيب نَفْسه منْهُ .

[5] ـ ثَلاثٌ لا يَغُلُّ عَلَيْهِنّ قَلْبُ امْرِيء مُسْلم؛ اِخْلاصُ الْعَمَل للهِ وَالنّصيحَةُ لأَئِمّةِ الْحَقّ وَاللُّزُومُ لِجَماعَةِ الْمُؤْمِنينَ. د دغو وينااو لپاره رجوع وکړئ :روضه الکافي ، ۲۴۶ مخ « سيره ابن هشام » ۲ ټوک، ۴۱۲ مخ، المناري واقدي ، ۲ ټوک ۸۸۲۶ مخ و غيره .

[6] ـ د صحيح بخاري او صحيح مسلم وغيره د حج کتابونو ته مراجعه وکړئ.

کولو طریقې ته ګړندي توب ورکړ چې په دې طریقې سره د مشرکانو دا اوازه او پروپېګنډه چې پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم او د هغهٔ ملګري د مدینې د آب و هوا د بدوالي په وجه کمزوري او ناتوان شوي دي دروغ ثابته کړي. په همدې وجه یې هم په سعي کښې او هم په طواف کښې حکم ورکړ چې په ګړندي توب او د منډې په حالت کښې طواف او سعي وکړئ چې مشرکانو ته خپل توان او طاقت وښائئ.[1]

د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د طواف په نمونځ کښې په وړومبي رکعت کښې سورهٔ توحید (اخلاص) او په دویم رکعت کښې سورهٔ کافرون تلاوت کړ. مونږ ته ول په دې پوهېږو چې دغه دواړه سورتونه په خپلو متنونو کښې کوم اړخونه لري او څه ډول هر غېر توحیدي فکر او د نړیوال کفر له یو بلاک سره د ملګري کېدو نظریه رد او منعې کوي؟

په تاریخ کښې راغلي دي چې مسلمانانو به په حجر اسود باندې د لاس لګولو او د هغهٔ د ښکلولو په وخت ویل:

«بِسْمِ اللهِ واللهُ اکبرُ علی ما هَدانا لا إلهَ الاّ اللهُ لا شَریکَ لَه آمنتُ بِاللهِ وکفَرْتُ بالطاغوت.»[2]

(چې پکښې په خدا ے پاک باندې د ایمان په ترڅ کښې له طاغوت څخه د انکار ذکر د ے چې طاغوت هر سرکش، باطل، ظالم، جابر واکمن او باچا ته ویل کیږي.)

## ۹- د معصومو امامانو په وېناؤ کښې د حج سیاسي اړخونه

۱- امام جعفر صادق علیه السلام د حج د فلسفې، اسرارو په حقله داسې فرمائي:

«وَجَعَلَ فیه الإجتماعَ منَ المَشْرِقِ والمَغْرِبِ لِیَتَعارَفُوا ولِتُعْرَفَ آثارُ رسولِ اللهِ وتُعْرَفَ أخبارُهُ ولا تُنْسي، ولو کانَ کلُّ قَوْمٍ إنّمَا یَتّکلُونَ عَلي بلادِهمْ وما فیها هَلَکُوا، وخَرِبَتِ الْبِلادُ وَسَقَطَ الْجَلْبُ وَالأَرْباحُ وعَمِیَتِ الْأخْبارُ وَلَمْ یَقِفُوا عَلي ذَلِکَ، وذلک عِلّةُ الْحَجّ.»[3]

((په مکه کښې له مشرق او مغرب څخه (مسلمانان) غونډه او اجتماع جوړوي چې یو بل وپېژني او د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم اثار (حدیثونه او وېناګانې) وپېژندل شي او هېر نکړې شي او که هرې ډلې په هغه څه باندې چې په خپلو سیمو کښې یې روان دي تکیه کولې نو هلاک شوي به وې او د زمکې په سر ښارونه به وران ویجاړ شوي وې او د تجارت او سوداګرۍ چاره به د تباهۍ په لور تلې وه او خبرونه او رپوټونه به د خلقو لاسو ته نهٔ رسېدل، دا ده د حج فلسفه.))

د امام دا جملې مونږ ته دا ښودنه کوي چې حج یو لړ علمي، اقتصادي او سیاسي اړخونه لري او په حقیقت کښې د حج موسم د مسلمانانو د یوځا ے کېدو د مېنځنۍ کړۍ حېثیت لري چې له دې لارې په نړۍ کښې له روانو حالاتو او د یو بل د سیمو له حالاتو او خبرونو نه یو بل خبر کړي په دغه ځا ے کښې چې له شرق او غرب نه پکښې مسلمانان او لو ے عالمان او پوهان راغونډ شوي دي د صحابهؤ، تابعینو او محدثانو په ذریعې سره د خدا ے له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم څخه نقل شویو حدیثونو او وېناؤ څخه یو بل خبر کړي او په دې

---

[1] ـ جامع الاصول ٤ ټوک کتاب حج.
[2] ـ تاریخ مکه ۱ ټوک ، ۳۳۹ مخ، لیک: ابو الولید ازرقي.
[3] ـ بحار الانوار ۹۹ ټوک ، ۳۳ مخ د شېخ صدوق د علل الشرائع په نقل سره.

ترڅ کښې هره ډله د خپل خپل هېواد او سيمې مالونه دغلته د نورو سيمو خلقو ته وړاندې کړي او د سوداګرۍ لارې چارې او د مسلمانانو له يو بل سره د سامانونو د تبادلې طريقې وپېژندلې شي.
۲- امام جعفر صادق عليه السلام په دې لړ کښې داسې هم فرمايلي دي:

«ما مِنْ بُقْعَة أَحَبُّ اِلَي اللهِ مِنَ المَسْعي لِأَنّه يُذَلُّ فيهِ كُلُّ جَبّار.»[1]
((د خدا ے پاک لپاره د صَفَا او مروه دَ سَعي له ځا ے نه د دنيا بله هيڅ سيمه زياته غوره نۀ ده ځکه چې په دې ځا ے کښې ټول جابران خوار او ذليليږي او د خپلې بندګۍ او عبوديت ښودنه کوي.))
۳- تاريخ په روښانه توګه دا حقيقت څرګندوي چې صحابه ؤ، تابعينو او سلف صالحينو به د حج له دې موسم څخه د اسلام او مسلمانانو په ګټه استفاده کوله او د ډېرو ازادي غوښتونکو غورځنګونو او خوزښتنو بنياد به د حج په دې ورځو کښې ايښودې شو او له ظالمو واکمنانو او طاغوتيانو سره د مقابلې او مبارزې لپاره به مسلمانان دعوت کېدل.. په دې اړه به کافي وي چې د منا د مراسمو په ورځ د امام حسېن عليه السلام وينا ته پام وکړو. هغه حضرت د حج په دغه موسم کښې له بني هاشمو، صحابه ؤ او ستروسترو مسلمانو شخصيتونو څخه ښځې او سړي چې له هغه حضرت سره يې مينه لرله د منا په مېدان کښې راغونډ کړل چې تاريخونو يې شمېرله زرو تنو نه زيات ليکلے دے. په دغه موقع د خدا ے د ګران رسول فرزند چې ټول خپلوان او صحابه ورته غوږ غوږ وو خپله وينا داسې شروع کړه:

«اَمّا بَعْدُ فانّ هذَا الطّاغيةَ قَدْ صَنَعَ بِنا ما قد عَلِمْتُم وَرأيتُمْ وَشَهدتُمْ وبَلَغَكُم وإنّي أُريدُ أنْ اَسْألَكُمْ عَنْ أشْياءَ فَانْ صَدَقْتُ فَصَدّ قُوني وإنْ كَذِبْتُ فَكَذِّبُوني اسمَعُوا مَقالَتي وَاكْتُمُوا قَولي ثُمّ ارْجعُوا إلي أمصارِكُمْ وقَبائلكُم مَنْ أمّنْتُمُوهُ وَوَثَقْتُمْ بِهِ فَادْعُوهُم إلي ما تَعْلَمُونَ فَإنّي أخافُ أنْ يَنْدَرِسَ هذَا الْحَقُّ وَيَذْهَبَ وَاللهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَو كَرِهَ الْكافِرون. . .»[2]
((د خدا ے پاک له ثنا صفت او د هغۀ په ګران پېغمبر باندې له درود او سلام نه پس، اے خلقو! پوه شئ چې دغه سرکش (معاويه) چې درته معلومه ده او ليدلي مو دي او درته رسيدلي دي زمونږ په باب څه څه بد کارونه وکړل. زۀ له تاسو نه د يو څو چارو په اړه پوښتنې کوم که رښتيا وايم نو تصديق يې وکړئ او که دروغ وايم نو دروغجن مې وبولئ. همدا اوس زما خبرې واورئ او دا په زړۀ کښې پټې ياد وساتئ او بيا چې خپلو خپلو وطنونو، سيمو او قبيلو ته لاړ شئ نو چې کوم کس امين ګڼئ او اعتماد پرې کوئ نو هغه، هغه څه ته چې پرې پوهېږئ (د شرعي وظيفې په توګه) دعوت کړئ. ما سره ويره ده چې حق دين به وروست او ختم شي،له دې سره چې خدا ے پاک د خپل نور نتېجې ته رسوونکے دے که څه هم په کافرانو باندې دا کار بد لګي.))
بيا امام حسېن عليه السلام ځينې هغه مبارک ايتونه چې د خدا ے د ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم د پاکو اهلبېتو عليهم السلام په فضيلت کښې نازل شوي دي تلاوت کړل او خلقو ته يې قسم ورکړ چې خپلو خپلو سيمو

---

[1] ـ بحارالانوار ۱۹ ټوک ۴۹ مخ
[2] ـ کتاب سليم بن قيس التابعي الکوفي الهلالي ۱۸ مخ

ته له ستنیدو نه پس د هغهٔ وېنا هغو خلقو ته ورسوي چې اعتماد پرې لرئ. او بیا د خطاب له ځا ے نه راکوز شو او خلق خواره وارهٔ شول.
دا یوازې امام حسېن علیه السلام نهٔ د ے چې د حج له دې سترې غونډې څخه فائده اوچتوي بلکې حتی هغو اهل کتابو به هم چې د اسلامي حکومت په سیوري کښې یې ژوند کوهٔ چې کله به ورباندې حمله کېده یا به ورسره زیاتے کېدهٔ نو په دغو مراسمو کښې به یې فریاد اوچتولو او د مسلمانانو له حاکم نه به یې خپل حق غوښتهٔ. او دا چاره هم په مسلمانانو کښې د داسې یو سنت په شتون باندې ګواه ده.
تاریخ لیکي چې د دویم خلیفه په دور کښې په مصر کښې د عمرو بن عاص د واکمنۍ په دوران کښې یو قبطي د د عمرو بن عاص له زو ے سره په یوه انعامي مقابله کښې ګډون وکړ او په مقابله کښې کامیاب شو. چې د حاکم له زو ے نه د یو قبطي د مقابلې ګټل د عمرو عاص او د هغهٔ د زو ے لپاره نهٔ زغمېدونکې چاره وه او بالاخره د عمرو عاص زو ے هغه قبطي سخت ووهۀ. چې کله د حج موسم راغے نو قبطي د حج په موقع د مسلمانانو په موجودګۍ کښې خپل فریاد د دویم خلیفه غوږو ته ورسوهٔ او د خپل مظلومیت او بېګناهۍ قصه یې ورته وکړه.
خلیفه د عمرو عاص زو ے راوبالهٔ او خپله مشهوره جمله یې ورته وویله:

«مَتي إسْتَعْبَدْتُمُ الناسَ وقَدْ وَلَدَتْهُمْ اُمّهاتُهُمْ أحْراراً.»[1]
«له کله نه دې خلق خپل غلامان ګرځولي دي په داسې حال کښې چې هغوي له خپلو مائېندو نه ازاد پېدا شوي دي؟» او بیا یې د عمرو عاص له زو ے څخه د قبطي بدله واخېسته.
په تاریخ کښې د حج له موسم سره متعلق داسې ډېرې واقعې نقل شوې دي چې خپله په دې خبره باندې ګواه دي چې دا موسم له نورو اړخونو نه بغېر یوازې د پرستش او عبادت لپاره نهٔ ؤ، هرکله چې حج د دا ډول شکایتونو د وړاندې کولو مرکز د ے نو ولې دې د شرق او غرب د سپر طاقتونو له لاسه د مظلومو مسلمانانو د شکایت ځا ے نهٔ وي.

## ۱۰- د حج د فلسفې په حقله د موجوده زمانې د مفکرانو وېناوې

اوس غواړو دا بحث د حج د فریضې په حقله د یو شمېر مسلمانو محققانو د وېناؤ په نقلولو ختم کړو چې په دې وروستۍ برخه کښې به له دریو معاصرو لیکوالانو څخه د دریو وېناګانو په نقلولو باندې بسنه وکړو چې له هغو څخه یو د سعودي عرب د عبدالعزیز پوهنتون (یونېورستۍ) سلاکار فرید وجدي د ے:
**الف:** فرید وجدي د دائرة المعارف اسلامي کتاب د حج په ماده کښې لیکي:
«په مسلمانانو باندې د حج د تشریع فلسفه داسې څیز نهٔ د ے چې په دې کتاب کښې بیان شي، هغه څه چې ذهن ته راځي دا دي چې که د اسلامي هېوادونو واکمنان له دې مراسمو څخه د مسلمانو ملتونو ترمېنځ د اسلامي وحدت او یووالي د رامنځته کولو لپاره ګټه واخلي نو په کامله توګه به نتیجې ته ورسي، ځکه چې د نړۍ له مختلفو سیمو څخه په یوه سیمه کښې د لکونو خلقو راغونډېدو او هغه څیز ته چې په دې ځا ے کښې هغوي ته

[1] ـ دائرة المعارف فرید وجدي ، ماده حج ، ۳ ټوک ۳۵۰ مخ

القاء کيږي د زړونو توجه د دې سبب کيږي چې له هغه څه نه چې ويل پکار دي يوه برخه وويل شي چې ټول په يو روح او يو زړۀ سره خپلو خپلو وطنونو او سيمو ته ستانۀ شي او هغه څه چې يې اورېدلي او ياد کړي دي د خپلو ورونړو ترمېنځ تبليغ کړي، د خلقو د دې ډلې مثال د يو ستر کانفرنس د غړيو دے چې د نړۍ له ټولو سيمو څخه په هغۀ کښې راغونډ شوي وي او د کانفرنس له ختمېدو نه پس د دنيا په ګوټ ګوټ کښې خوارۀ وارۀ شي او د کانفرنس د پېغام وړونکي وګرځي. د دغه ستر کانفرنس اثر چې هر څه وي په دغه موقف کښې اجتماع او بيا په هېوادونو کښې يې خپرېدل هم هغه اثر لري.))

ب: معاصر ليکوال ډاکټر قرضاوي په «العبادة فی الإسلام» کتاب کښې ليکي:

((تر ټولو لويه نتيجه چې له دې سترې اجتماع څخه اخېستې شو دا ده چې حج د غفلت له خوبه د اسلامي امت د رابېدارولو لپاره يو تر ټولو مهم عامل دے او په همدې وجه ځينې لاس پوسي (د سپر طاقتونو ابجنټان) حکومتونه يا د اسلامي هېوادونو نيواکګران د دې خنډ کيږي چې مسلمانان دې د بيت الله زيارت ته راشي، ځکه چې هغوي پوهېږي چې که د مسلمانانو ترمېنځ يو حرکت پېدا شي نو په هيڅ عامل سره هغوي له دې حرکت نه نۀ شو منعې کولې.)) (لکه نن سبا چې په ځينو عربو هېوادونو کښې يو عوامي اسلامي حرکت او غورځنګ را اوچت شوے دے ـــ مترجم)

هغه همدا رنګ په ((الذين والحج علي المذاهب الاربعه)) کتاب کښې په **٥١** مخ کښې ليکي:

((حج له يو بل سره د مسلمانانو د اشنا کېدو وسيله او د هغو مختلفو جنسيتونو ترمېنځ د رشتې او مېنې پېدا کېدو ذريعه ده چې د توحيد تر بېرغ لاندې ژوند کوي، ځکه چې په دغو مراسمو کښې د هغوي زړونه يوشوي او خبره يې يوه شوي وي او بيا د خپل حالت د اصلاح او د ټولنې د کړلېچونو د نېغولو لپاره قيام کوي.))

ج- د ((الملک الغزيز)) پوهنتون مشاور ډاکټر محمد مبارک داسې ليکي:

((حج يو نړيوال کانفرنس دے چې ټول مسلمانان په يو سطح کښې د خدا ے پاک د پرستش لپاره راغونډيږي خو دا خالصانه عبادت د هغوي له ژوند نه جدا نۀ دے بلکې د هغوي له ژوند سره يو خاص تعلق لري. قران مجيد په دې حقله فرمائي: «لِيَشْهَدوا منافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُروا اسْمَ اللهَ فِي اَيّام مَعْلُومات» چې د دغو ګټو له ليدو او د منافعو له درک کولو نه مراد له يوې عامې معنې څخه چې د مسلمانانو د مصلحتونو ټول اړخونه له ځان سره ولري بل څه نۀ دي.))

## نتيجه

په رښتيا د حج فريضه د داسې موقف او موقعيت لرونکې ده چې قران او سنت او د تېرو مسلمانانو سيرت او د معاصرو مفکرو ليکوالانو افکار مونږ دې ته لارښوونه کوي چې ولې دې له دې نه په ګټه اوچتولو کښې کوتاهي وکړو ؟ که حج د مسلمانانو لپاره د زړونو د تاليف، د کلمې د يووالي او د هغوي لپاره د واحد پلېټ فارم د پېدا کېدو وسيله ده نو بيا ولې پکار ندي چې له دې لارې اسلامي قوتونه او د مسلمانانو مخ په زياتېدو ځواکونه د فلسطين او افغانستان په شان په اسلامي هېوادونو باندې تيري او قبضې کوونکو په خلاف راجمع کړو؟ که

حج اقتصادي، ثقافتي او علمي اړخونه لري نو بيا ولې دي د حج په موسم کښې مسلمانان د خپلو اقتصادي تنګسو او بدو حالاتو د سمولو لپاره چاره ونه لټوي او اصلاح يې نکړي؟
اخېر ولې دې د فلسطين، عراق، افغانستان، افريقې او لبنان وغېره مظلومانو ته دا موقع ورنکړې شي چې خپل فرياد د نړۍ د مسلمانانو غوږو ته ورسوي او د خپلو حقو او روا حقوقو د حاصلولو لپاره له مسلمانانو څخه مرسته واخلي؟
ولې دې د حج په ورځو کښې د شرق او غرب د استعمارګرو او د هغوي د جهنمي پلانونو په خلاف سترې او پراخې غونډې او کانفرنسونه جوړ نهٔ شي چې مسلمانان په بېدارو افکارو او يو واحد پروګرام سره خپلو هېوداونو ته ستانهٔ شي او په ټولو معاشرو او ټولنو باندې يو منسجم فکر او تفکر واکمن شي؟
مونږ به اخېر تر کومې داسې سنهري او طلائي موقعې له لاسه ورکوو او داسې تاوانونه به زغمو؟

د هغې ورځې په اميد چې د اغيارو لاسونه چې د پردې شا ته کارکوي له حرمېنو شريفېنو څخه لنډ شي او د الهي سپېڅلو ځايونو او د اسلامي د نښو نښانو د چارو چلول او د اسلامي نړۍ په مسائلو او مشکلاتو باندې غور کول له اسلامي ټولنې څخه د يوې غوره شوې صحيح ډلې لاسو ته راشي. او د حج په شان د سترې اجتماع رغوونکي اهداف او اثار له هر نظره د عمل جامه واغوندي.

*****

بمنّه و کرمه